# د هجرت او پناه اخیستنې احکام

(د اسلامي فقهې او نړیوالو تړونونو په رڼا کې)

خیړونکی : لطیف الله قمري

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بســـم الله الـــرحمان الـــرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لنډيز

هجرت او پناه اخيستنه د انسانانو په ژوند کې د ډېر لوی اهميت څخه برخمند دي چې د هجرت او پناه اخيستنې له تصور سره انسان کولی شي چې خپل نظريات په ډاډ او اطمينان سره څرگند کړي او که د نظرياتو په اساس ورته مشکلات متوجه کيږي نو خپل مسکن پريږدي او بل هېواد ته هجرت کوي او هلته پناه اخلي او دا چې مسلمانان د مختلفو اسبابو له کبله نورو هېوادونو ته هجرت کولو ته مجبوريږي نو د دې لپاره چې پوه شو کله هجرت او پناه اخيستل جائز او کله ناجائز دي او کله مهاجرين او پناه اخيستونکي کولی شي خپل هېواد ته راستانه شي نو د دې څېړنې تر سره کولو ته ضرورت محسوس ؤ.

هجرت په لغوي لحاظ سره د جلا والي په معنی دی او شرعا هجرت د الله جل جلاله په لار کې له دار کفر څخه دار اسلام ته تلل او يا د هغه دار څخه تلل چې فتنة پکې ډيره سخته وي هغه دار ته چې فتنه پکې کمه وي تللو ته هجرت وايي او پناه اخيستنه هغه قانوني حمايه ده چې يودولت يې د بل دولت د اعمالو په مقابل کې يو شخص ته ورکوي ، د بشريت په تاريخ کې هميشه د هجرتونو لړۍ روانه وه چې قرانکريم هم مونږ ته د ډيرو انبياؤ او صالحاتو د هجرت قصې نقلوي ، د ابراهيم عليه السلام هجرتونه ، د موسی عليه السلام هجرتونه ، د اصحاب کهف او نور ډيرو هجرتونو څخه يادونه کوي.

که څوک په کفري هيواد کې نشي کولی چې ديني احکام تر سره کړي يا د دين اظهار وکړي او په هجرت قادر وي نو هجرت پرې واجب او دغسې يوه هېواد ته هجرت کول او هلته پناه اخيستل حرام دي ، دا چې نن

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ په ټوله نړۍ کې د دين ازادي ده نو نن ورځ د سوداګرۍ او تحصيل لپاره کفري هېواد ته تلل جائز دي. خو په ناقانونه لارو چې د مرګ خطر لري هجرت ناروا ګرځي ، په ناقانونه توګه بل هېواد کې استوګنه کول ناجائز دي ځکه دغه عمل د نړۍ امنيت له ګواښ سره مخ کوي ، مهاجر خپل هېواد ته تر هغې نشي راستنېدلی تر څو چې فتنه له منځه نه وي لاړه او هېواد کې امنيت برقرار نه وي، خو که فتنه له منځه لاړه د مهاجر او پناه اخېستونکي راستنېدل جائز دي ، د شوروي اتحاد د اشغال پر مهال په زيات شمېر کې افغانانو ايران او پاکستان ته هجرت وکړ ، چې دغه هجرت يې شرعا او قانونا مشروع ؤ ، دا چې اوس هم په افغانستان کې امنتي وضعه برقراره نده نو افغان مهاجرينو ته پکار دي چې پرته له فشار څخه افغانستان ته رستانه نشي ، مهاجرتونه او پناه اخېستنه زيات شمير سياسي ، اقتصادي او ديني سلبي او ايجابي تاثيرات لري خو مهاجر او پناه اخېستونکي ته پکار ده چې د تاثيراتو په اړوند له احتياط څخه کار واخلي او د مهاجر منونکي او پناه ورکوونکي هيواد لخوا تر اثر لاندې رانشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک


**موضوع** **مخ**

سریزه ........................................ 1

لومړی فصل ........................................ 11

د هجرت ، پناه اخیستنې او نړیوالو تړونونو پیژندنه او تاریخچه یې ........ 11

لومړی مبحث : د هجرت او پناه اخیستنې پیژندنه او د هجرت اقسام ........ 12

لومړی مطلب : د هجرت او پناه اخیستنې پیژندنه ........ 12

لومړی پراګراف : د هجرت پیژندنه ........ 12

دویم مطلب : د هجرت اقسام ........ 27

دویم مبحث : د نړیوالو تړونونو تعریف ، اقسام او د موضوع اړوند نړیوالو تړونونه 32

لومړی مطلب : د نړیوالو تړونونو تعریف ........ 32

دویم مطلب : د نړیوالو تړونونو اقسام ........ 36

دریم مطلب : د هجرت او پناه اخیستنې په رابطه نړیوالو تړونونو ته لنډه کتنه ........ 38

دریم مبحث : د هجرت تاریخچه ........ 43

لومړی مطلب : د بعثت څخه وړاندې د هجرت تاریخچه ........ 44

دویم مطلب : په نبوي دور کې د هجرت تاریخچه ........ 56

دویم فصل ........................................ 61

د هجرت او پناه اخیستنې مقام ، حکم او د مهاجر او پناه اخیستونکي راستنیدل .... 61

لومړی مبحث : په اسلامي شریعت او نړیوالو تړونونو کې د هجرت او پناه اخیستنې مقام ........ 62

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی مطلب : د هجرت او پناه اخيستنې مقام په اسلامي فقه کې ..... 62

دويم پراگراف : نبوي احاديثو کې د هجرت او پناه اخيستنې مقام...... 69

دويم مطلب : د هجرت او پناه اخيستنې مقام په نړيوالو تړونونو کې.... 73

مقارنة ............................................... 77

لومړی مطلب : د هجرت او پناه اخيستني اسباب ..................... 78

دويم پراگراف : د پناه اخيستنې اسباب ........................ 82

دويم مطلب : د هجرت او پناه اخېستنې حکم ...................... 84

د دويم نظر دلائل : .............................................. 106

د دلائلو ارزونه : ..................................................... 120

دويم پراگراف : د هجرت او پناه اخېستنې حکم د نړيوالو تړونونو په رڼا کې147

دريم مبحث : د مهاجر او پناه اخيستونکي د راستنيدلو حکم او اسباب يې ..... 158

لومړی مطلب : د مهاجرينو او پناه اخېستونکو راستنيدلو اسباب ......158

دويم مطلب : د مهاجرينو او پناه اخېستونکو راستنيدلو حکم ..........161

دريم فصل............................................................. 185

ايران او پاکستان ته د افغانانو هجرت او راستنيدل يې ....................... 185

لومړی مبحث : ايران او پاکستان ته د افغانانو هجرت ......................... 186

لومړی مطلب : ايران او پاکستان ته د افغانانو د هجرت عوامل........ 186

دويم مطلب : له ايران او پاکستان څخه د افغان مهاجرينو راستنيدلو حکم193

دويم مبحث : له ايران او پاکستان څخه د افغان مهاجرينو راستنيدل ...........208

لومړی مطلب : له ايران او پاکستان څخه د افغان مهاجرينو راستنيدلو اسباب .................................................................... 208

دويم مطلب : له ايران او پاکستان څخه د افغان مهاجرينو راستنيدلو حکم213

(c) ketabton.com: The Digital Library



 څلورم فصل ........................................................ 228
د مهاجر او پناه اخیستونکي حقوق او د هجرت او پناه اخیستنې تاثیرات........... 228
لومړی مبحث : د مهاجرینو او پناه اخېستونکو حقوق........................... 229
لومړی مطلب : په اسلامي فقه کې د مهاجرینو او پناه اخېستونکو حقوق229
دویم مطلب : په نړیوالو تړونونو کې د پناه اخېستونکي او مهاجر حقوق234
دویم مبحث : د هجرت او پناه اخیستنې تاثیرات ................................246
لومړی مطلب : کفري هیوادونو ته د هجرت او پناه اخیستنې تاثیرات 246
دویم مطلب : اسلامي هیوادونو ته د هجرت او پناه اخیستنې تاثیرات 256
دریم مبحث : د مهاجرینو او پناه اخیستونکو د راستنیدلو تاثیرات ............263
لومړی مطلب : له اسلامي هیوادونو څخه د مهاجرینو او پناه اخېستونکو د راستنیدلو تاثیرات ..................................................... 263
دویم مطلب : له کفري هیوادونو څخه د مهاجرینو او پناه اخېستونکو د راستنیدلو تاثیرات ..................................................... 268
پایله ........................................................ 271
د پایلې مناقشه........................................................ 274
وړاندېزونه........................................................ 276
مصادر او مراجع ........................................................ 278
انټرنیټي منابع ........................................................296

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

بسم الله ، الحَمْدُ للهِ عَلَى نِعْمَةِ التَّوحِيد، والصَّلاة والسَّلام على المبعوثِ رحمةً للعالمين، وعلى آله وأَصحابه ، ومن تبعهم بإِحسان إِلى يوم الدين.

أَمَّا بعد:

انسان د ازدایو څخه په ښه ډول د ګټې اخستلو لپاره مجبور دی کله کله خپل ټاټوبی ترک کړي او په بل هیواد کې پناه واخلي ، ډیر ځله مونږ ته قرانکریم د انبیاؤ قصې رانقل کوي چې هغوی د حق د دعوت له کبله مجبور شوي تر څو خپله خاوره ترک کړي او د دعوت لپاره بل ځای انتخاب کړي ، د دې په لړ کې نن ورځ مسلمانان تر هر وخت ډیر محتاج دي له خپلو هیوادونو څخه هجرت وکړي ، په نورو اسلامي او یا هم غیر اسلامي هیوادونو کې پناه واخلي ، کله خو د اقتصادي ګټو لپاره کفري هیوادونو ته پناه وړي چې هغې ټولنه کې اسلامي عقائد او اخلاق د ضعف حالت کې وي ، ټولنه په عقیدوي لحاظ وروسته پاتي او په اخلاقي لحاظ تباه کیدونکي ده ، نو دلته ده چې د مسلمانو پناه اخېستونکو په عقایدو ، افکارو او اخلاقو هم بدغه اغیزه کوي ، خو ډیر ځله هغه مهاجرین او پناه اخېستونکي چې له اسلامي عقیدې څخه په پوره ډول برخمن وي ؛ د علم په لحاظ د شبهاتو د دفع توان ولري او اسلامي عقیدې ته ژمن وي د اسلام په خپراوي کې هم پوره ونډه لري.

د هجرت په مقام او منزلت باندې ګڼ شمیر ایاتونه او احادیث دلالت کوي او اسلامي فقه کې د هجرت مختلف اسباب په ګوته شوي چې بعض اسباب یې د هجرت واجبوونکي او بعضي یې حراموونکي دي ، همدغه شان په بعضي اسبابو سره یې هجرت مستحب او په بعضو سره مباح ګرځي ، له

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله طرفه نړيوالوتړونونو کې هم د هجرت او پناه اخېستلو مختلف اسباب ذکر شوي چې بعضې اسباب يې هجرت قانوني او د پناه اخېستنې قانونيت په ګوته کوي خو بعضي نور بيا داسې ندي.

په عام ډول باندې په اسلامي فقه کې د هجرت کولو څخه ورسته د مهاجر بيرته خپل ټاټوبي ته د راستنيدل يو نا مشروع عمل ګڼل کيږي خو د بعضي حالاتو او سبابو د موجوديت په صورت کې د مهاجر راستنيدل مباح او ان مستحب ګرځي او په نړيوالو تړونونو کې هم د هجرت د پای لپاره مختلف اسباب ذکر شوي چې د هغې اسبابو د موجوديت په صورت کې هجرت پای مومي.

څو لسيزې پخوا افغانان د مختلفو اسبابو کبله پاکستان او ايران ته مهاجر شول او هلته يې پناه واخسته چې زيات شمير يې اوس هم په ايران او پاکستان کې د هجرت سختې ورځې او شپې صباح کوي ، او افغان مهاجرين بيرته خپل وطن ته راستنيدو ته مجبورول کيږي ، چې دغلته بعضي حالاتو کې د ميلمه هيواد لخوا څخه نړيوال تړونونه تر پښو لاندې کيږي او افغان مهاجرين مجبور دي چې خپل هيواد ته راستانه شي ، چې دغه راستنيدنه يې د اسلامي فقهې او نړيوالوتړونونو له نظره څيړل شوې.

او کله چې يو مهاجر يا پناه اخېستونکی کوم هيواد ته هجرت کوی يا پناه اخلي نو هلته د يو سلسله حقوقو لرونکی دی ، چې دغه حقوق هم په اسلامي فقه او هم په نړيوالو تړونونو کې بيان شوي ، چې ډير ځله افغان مهاجرينو ته دغه حقوق ندي ورکړل شوي او په عين حال کې دغه عمل هم د اسلامي شريعت او هم د نړيوالوتړونونو خلاف دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا هم باید ووایو چې د هجرت کول او له هجرت څخه راستنیدل ځانګړي ، دیني، سیاسي اقتصادي او اجتماعي تاثیرات لري ، چې دغه تاثیرات کله منفي او کله هم مثبت کیدلی شي.

چې پدې بحث کې کوښښ شوي تر څو ( د هجرت او پناه اخېستنې احکام د اسلامي فقهي او نړوالو تړونونو په رڼاء کې ) په تفصیل سره وڅیړل شي.

## د موضوع د اختیار لاملونه :

دا چې زه د ننګرهار پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د فقه او قانون څانګه کې د ماسترۍ محصل یم او د ماسترۍ علمي درجې د لاسته راوړلو لپاره علمي څیړنه ( تیزس ) لیکل شرط دي نو ځکه مجبور وم چې یوه موضوع وڅیړم تر څو د ماسترۍ علمي درجه لاسته راوړم.

په همدې سلسله کې ما د خپل ګران استاذ پوهنوال دوکتور مصطفی نیازي حفظه الله سره مشوره وکړه او هغه ځیني موضوعات چې څیړنې ته ضرووت ولري را په ګوته کړل چې یوه پکې همدا د ( هجرت او پناه اخېستنې احکام د اسلامي فقهې او نړوالوتړنونو په رڼاء کې ) وه ، کله چې ما نوموړې موضوع وکته نو ماته ډیره جالبه وه ځکه چې :

1. له یوه طرفه مسلمانان د مختلفو اسبابو په سبب اسلامي او غیر اسلامي هیوادونو ته پناه وړي چې دغه پناه اخېستنه یې ځینې شرعي او قانوني جنبه لري خو ځینې یې بیا غیر شرعي دي چې د اسلامي امت بشري قوه له منځه وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


2. همدارنگه په عام ډول باندې د مهاجر او پناه اخېستونکی بیرته راستنیدل یو غیر شرعي امر گڼل کیږي چې په همدې اساس هغه افغان مهاجرین چې په ایران او پاکستان کې هستوگنه لري او په مختلفو اسبابو دې ته مجبوریږي چې بیرته افغانستان ته راستانه شي خو هغوی سره دا فکر موجود وي که بیرته خپل هیواد ته راستنیږي نو د هجرت ثواب خو به یې نه ختمیږي او ایا راختیا هم بیرته راستنیدل جرم دی؟.

3. په نړیوال لحاظ باندې د مهاجرینو او پناه اخېستونکو د حقوقو د خوندیتوب لپاره نړیوال تړونونه ترسره شوي چې د دې مقارنه له اسلامي فقهې سره زما لپاره یوه جالبه موضوع وه.

نو دا راته غوره ښکاره شوه تر څو پدې موضوع د ماستري تیزس ولیکم او د الله جل جلاله په توفیق او د خپل محبوب لارښود استاذ پوهنوال دکتور مصطفی نیازي حفظه الله په مرسته مې دغه رساله تکمیل کړه.

## د څیړنې اهمیت :

د دې څیړنې اهمیت پدې کې دی چې  د اسلامي امت بشري قوه د اسلامي امت د بیا ژوندي کولو په خاطر استعمال شي نه دا چې د اسلامي امت بشري قوه د نورو د گټو لپاره استعمال شي ، چې په خلص ډول یې اهمیت په لاندې نقطو کې خلاصه کولی شو:

1. د دې څیړنې اهمیت دا دی چې : شرعي او قانوني هجرتونه وپیژندل شي او په نتیجه کې له غیر شرعي او غیر قانوني هجرتونو څخه ډډه وشي او د اسلامي امت ځوانان په غیر شرعي او غیر قانوني ډول د نورو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اهدافو لپاره استعمال نشي او د اسلامي امت بشري قوه به د اسلامي امت د اهدافو لپاره استعمال شي.

2. افغان مهاجرين او پناه اخېستونكي په پاكستان او ايران كې له ګڼو ستونزو سره لاس او ګريوان دي او له بله پلوه په دې مهاجرينو كې داسې علمي غړي هم شته ، چې خپل وطن دوی ته ضرورت لري او بايد خپل وطن په فكري ، سياسي ، اقتصادي او اجتماعي ډول ورغوي خو دوی سره دا فكر موجود دی ، كه افغانستان ته راستنيږي نو د هجرت له ثوابونو څخه به محروم شي نو د دې څېړنې اهميت پدې كې دی چې د مهاجر ينو او پناه اخېستونكو د راستنيدلو اسباب بيان په كې بيان شوي او په نتيجه كې د راستنيدلو حكم هم څرګند شوی دی.

3. همدارنګه د دې څېړنې اهميت پدې كې دی چې : د هجرت او پناه اخېستنې تاثيرات په كې څرګند شوي او په نتيجه كې به مسلمانان پدې پوه شي چې كوم هجرت ښه او كوم بد تاثيرات لري نو د كومو هجرتونو چې تاثيرات ښه وي ؛ نو مسلمانان به هغې ته ترغيب شي او كوم چې بدې پايلې ولري له هغې به ډډه وكړي.

## د څېړنې اهداف :

1. د هجرت او پناه اخېستنې احكام د اسلامي فقهې او نړيوالو تړونونو په رڼاء كې څرګندول او د غير شرعي هجرتونو څخه ډډه كول او شرعي هجرتونو ته د ضرورت په وخت كې د مسلمانانو تشويق كول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. په عام ډول باندې د مهاجر او پناه اخېستونکی راستنیدلو اسباب او حکم څرګندول او په خاص ډول د افغانانو راستنیدلو حکم له پاکستان او ایران څخه.

3. د هجرت شرعي اصطلاح بیا راژوندئ کول ، پس له هغې چې د هجرت لفظ پاتې او مفهوم یې ورک دی.

4. د اسلامي فقهې او نړیوالو تړنونو په رڼاء کې د مهاجر او پناه اخېستونکي حقوق پیژندل ؟

5. په ټولنه کې د هجرت کولو او له هجرت څخه د مهاجر راستنیدلو تاثیرات پیژندل.

## د څېړنې فرضیه :

د څېړنې د روښانتیا لپاره څو فرضي وړاندې کیږي

1. کله چې یو مسلمان ونه شي کولی په خپل هېواد کې دیني مقدسات په څرګنده تر سره کړي نو په دغه حالت کې د هجرت حکم څه دی ؟

جواب : کله چې یو مسلمان ونه شي کولی په خپل هېواد کې دیني مقدسات په څرګنده تر سره کړي او په هجرت قادر وي نو هجرت پرې واجب دی ، البته که د هجرت کولو قدرت ونلري نو د هجرت وجوب ورڅخه ساقطیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. کله چې یو مسلمان د یو سلسله اسبابو له کبله هجرت وکړي ، بېرته ورته خپل هېواد ته راستنېدل څه حکم لري ؟

جواب : کله چې یو مسلمان د یو سلسله اسبابو لکه د دین عدم ازادي او یا د نفس عدم خوندي والي له کبله هجرت بل هیواد ته هجرت وکړي ، تر څو چې دغه اسباب له منځه نه وي تله لي دغه مهاجر ته خپل هیواد ته راستنیدل جائز ندي ، خو که دغه اسباب له منځه لاړ شي ، پدې معنی چې په دغه هېواد کې د دین ازادي او د نفس خوندیتوب تضمین شي نو بیا ورته راستنیدل جائز دي.

## د څېړنې حدود :

په دې څېړنه کې د هجرت تاریخي پس منظر په مختصر ډول څېړل شوی او بیا د هجرت د اسبابو پر مټ د هجرتونو احکام بیان شوي او همدارنګه د هجرت پای او د مهاجر راستنیدل هم پکې څرګند شوي او اسلامي او غیر اسلامي هیوادنو ته د هجرت تاثیرات هم په کې څرګند شوي.

دا چې د پناه اخېستنې په اړوند ګڼ شمیر تړونونه شوي خو ترټولو مهم او لومړنی یې د ۱۹۵۱ م کال د جینوا تړون دی او افغانستان په کې عضویت لري او د افغانستان عدلي وزارت په رسمي مجلة کې نشر شوې نو په همدې اساس دغه څېړنه د اسلامي فقه او د پناه اخېستنې په اړوند د نړوالو تړونو له جملې څخه د ۱۹۵۱م کال کې د جینوا تړون سره مقارنه شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په دې رساله کې د هجرتونو څخه راولاړ شوي حقوقي مسايل ، مثلا ، مفقود مسايل ، د تقادم او مرور الزمان مساله د ميراث د ويش يو شمير قضاياء او يو شمير نورو عقودو نو څخه بحث ندی شوی.

## د څيړنې کړنلاره :

١ - پدې څيړنه کې د کتابتوني ميتود څخه استفاده شوې.

٢ - دا څيړنه پرتليزه څيړنه ده پداسې شکل چې :

أ. د اسلامي فقهي قديمي او معاصرو مراجعو ته رجوع شوی تر څو د هجرت احکام د اسلامي نصوصو او معاصرو حالاتو سره سم څرګند شوي او څرګنده شوې چې د معاصرو هجرتونو او پناه اخيستنې ترمنځ څه رابطه ده؟.

ب. او د اسلامي فقهي د راجح نظر له څرګنديدو څخه ورسته بيا د نړيوالو تړونونو سره مقارنه شوی ، چې پدې مقارنه کې د ١٩٥١م کال د جينوا تړون کوم چې د پناه غوښتونکو د اوضاع په رابطه شوي او ترڅنګ يې نور نړيوال اصول په نظر کې نيول شوي.

٣ – د احايثو تخريج په کې شوی : که چيرته يو حديث په صحيحينو ( بخاري او مسلم ) کې موجود ؤ نو له نورو مصادرو څخه تخريج ندی شوی ، تر څو بې فايدې او سترې کوونکی اوږوالی رانشي ، ځکه امت د دې دواړو په صحت اتفاق کړی.

که چيرته پدې دواړو کې يو حديث موجود نه ؤ له نورو معتمدو کتابونو څخه تخريج شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه که په صحیحینو کې کوم حدیث نه ؤ نو د صحت او ضعف د څرګندولو لپاره د جرح او تعدیل علماؤ اقوال ذکر شوي خو دغه اقوال په لنډ ډول ذکر شوي د حدیث سند ندی څیړل شوی او یواځې د جرح او تعدیل د علماؤ د صحت او ضعف قول نقل شوی.

۴ – د قرانکریم د ایاتونو عزوه په دې شکل شوې ، سورت / ایات .

## مخکنۍ لیکنې :

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په هجرت باندې فقهاؤ مختلف کتابونه لیکلي چې اکثره یې تاریخي جنبه لري او بعضي علماؤ بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د هجرت درسونه او عبرتونه هم څرګند کړي .

خو ما په قدیمي فقه کې داسې کوم کتاب ونه مونده چې د هجرت فقهي احکام دې په کې څیړل شوې وي ، مګر پخوانیو فقهاؤ په خپلو کتابونو کې د هجرت احکام په شندلي ډول څیړلي ځکه هغه وخت فقهاؤ دې موضوع ته ضرورت نه احساسه ولو.

همدارنګه ما په معاصرو لیکنو کې هم داسې کومه څیړنه ونه موندله چې د هجرت او پناه اخېستنې موضوع باندې په فقهي او قانوني څیړنه کړې وي.

مګر د نن عصر خپل سري او غیر قانوني هجرتونو په رابطه دکتور ابراهیم بن عبدالله سلقیني د ( الهجرة واحكامها دراسة شرعية لواقع الهجرة العشوائية ) ، تر عنوان لاندې د ماسترۍ رساله لیکلې ، چې په نوموړې رساله کې د مسلمانانو عشوائي هجرتونو اسباب احکام او تاثیرات څیړل شوي ، نوموړي په خپله رساله کې د هجرت پاي او د مهاجر راستنیدلو د حکم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



رابطه چپ پاتې شوي ، چې دا يوه مهمه موضوع ده چې څېړنې ته ضرورت لرلو او همدارنگه د هجرت په رابطه نړيوالو حقوقو ته يې هيڅ توجه نده کړې.

او بله ليکنه چې د (حق اللجوء بين الشريعة الاسلامية والقانون الدولي للاجئين ) په عنوان د دکتور أحمد أبو الوفا له خوا شوي ، دغه ليکنه کې د پناه اخېستونکي د پناه قبلولو شروط او د پناه اخېستونکو حقوق او د هغه حالات چې پناه اخېستنه پرې له منځه ځي د اسلامي فقهي او نړيوال قانون له نظره څېړل شوي ، چې دغه ليکنه کې ندي په گوته شوي چې مسلمان په کومو حالاتو کې کفري هيوادونو کې پناه اخېستلی شي او په کومو کې نه ، همدارنگه په دغه ليکنه کې له هجرت څخه بحث ندی شوی بلکې يواځې د پناه اخېستنې موضوع د امان له عقد سره مقارنه شوې.

او همدارنگه په پښتو ژبه کې د شرعي او يا هم د غير شرعي هجرتونو احکامو باندې ما هيڅ کوم کتاب ونه مونده.

او په اخر کې له الله عزوجل څخه غوښتنه کوم چې دا ليکنه زما لپاره د اخرت توخه وگرځوي او په سبب يې مسلمانان د هجرت او پناه اخېستنې په سم مفهوم پوه شي او په نتيجه کې يې له غير شرعي هجرتونو څخه ډډه وکړي او شرعي هجرتونو تشويق شي ، وصلى الله على سيدنا محمد وآله وصحبه وسلم تسليما.

وبالله التوفيق وبه نستعين

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی فصل

## د هجرت ، پناه اخیستنې او نړیوالو تړونونو پیژندنه او تاریخچه یې

پدې فصل کې به د هجرت او پناه پیژندنه او د هجرت اقسام ، د نړیوالو تړونونو تعریف ، اقسام او د موضوع اړوند نړیوالو تړونونه او د دې ترڅنګ به د : د هجرت په تاریخچه بحث وشي.

په همدې اساس دا فصل په درې مبحثونو مشتمل دی

لومړی مبحث

د هجرت او پناه اخیستنې پیژندنه او د هجرت اقسام

دویم مبحث

د نړیوالو تړونونو تعریف ، اقسام او د موضوع اړوند نړیوالو تړونونه

دریم مبحث : د هجرت تاریخچه

چې لدې څو موضوعاتو څخه به جلا جلا بحث وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی مبحث : د هجرت او پناه اخیستنې پیژندنه او د هجرت اقسام

دا مبحث په دوه مطلبونو مشتمل دی :

لومړي مطلب کې به د هجرت او پناه اخیستني پيژندنه ذکر کيږي

دويم مبحث کې به د هجرت اقسام و پيژنو.

## لومړی مطلب : د هجرت او پناه اخیستنې پیژندنه

په دې مطلب کې به لومړی د هجرت لغوي تعريف وشي او بيا به د هجرت اصطلاحي تعريف د بشري جغرافيه ، اسلامي فقهي او د نړيوال قانون له نظره روښانه شي.

همدارنګه به د پناه اخيستني لغوي تعريف ذکر شي او بيا به د اسلامي فقهي او نړيوالو تړونونو له نظره د پناه اخيستني اصطلاحي تعريف وشي.

### لومړی پراګراف : د هجرت پیژندنه

لومړی جز : د هجرت لغوي پيژنه :

هجرت يوه عربي کلمة ده ، ( اصلي توري يې (هـ جـ ر ) دي چې په دوه معنی ګانو باندې راځي يو معنی يې قطع او جلا کول او بل معنی يې د يوه شي تړل دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې اول یې الهَجر د وصل ضد دی لکه الهِجْران او . « وهاجَرَ القومُ مِن دارٍ إلى دارٍ: تَرَكُوا الأولى للثانية، كما فَعَل المهاجِرُون حين هاجروا من مكة إلى المدينة ». : [ یوه قوم له یوه ځای څخه بل ځای ته هجرت وکړ یعني اول ځای یې د دویم ځای لپاره پریخود ، لکه مهاجرینو هم همداسې وکړل ، کله چې له مکې نه مدینې ته مهاجر شول [1]].

علامة ابن منظور هم وایي چې ( هـ جـ ر ) د وصل ضد دی « وَالْاسْمُ الهِجْرَةُ. وَفِي الْحَدِيثِ:

لَا هِجْرَةَ بَعْدَ ثلاثٍ ؛ يُرِيدُ بِهِ الهَجْر ضدَّ الوصلِ ...... والهِجْرَةُ والهُجْرَةُ: الْخُرُوجُ مِنْ أَرض إِلى أَرض» [ د هجر اسم یې هجرت راځي او په حدیث کې راځي له درې ورځو ورسته د مسلمان سره متارک روا نده یعني دلته هم هجر د وصل ضد دی ... او الهِجْرَةُ والهُجْرَةُ په فتحې او ضمې سره دواړه له یوه ځای څخه بل ځای ته وتلو ته وایي [2]]

الازهري وایي:« وأَصل المُهاجَرَةِ عِنْدَ الْعَرَبِ خروجُ البَدَوِيّ مِنْ بَادِيَتِهِ إِلى المُدنِ» [عرب اصلا د اترافیانو وتل ښارونو ته مهاجرة ګڼي ] [3].

---

1 - ابو الحسين ، أحمد بن فارس بن زكريا ( ١٣٩٩هـ ـ ١٩٧٩م ) : معجم مقاييسُ اللّغة : تحقيق : عبدالسلام محمد هارون ، بيروت ـ لبنان، دار الفكر لطباعة والنشر والتوزيع ٦ / ٣٤ .

2 - ابن منظور ، محمد بن مكرم ( ١٤١٩هـ ـ ١٩٩٩م ) : لسان العرب : تصحيح امين محمد عبدالوهاب و محمد الصادق العبيدي ، بيروت ـ لبنان ، دار احياء التراث العربي موسسة التاريخ العربي ، ١٥ / ٣١ – ٣٢ .

3 - هماغه مصدر ، ص ٣٢.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پورته تحقيق څخه څرګنديږي چې : هجرت په لغوي لحاظ سره د جلا والي په معنی دی او اصلا يي عربان د يوځای څخه جلا کيدل او بل ځای پورې پيوستون کې استعمالوي.

دويم جز : د هجرت اصطلاحي تعريف :

د هجرت کلمة د هر علم له نظره ځانګړې معنی او مفهوم لري ، د هجرت کلمه بشري جغرافيه کې جلا او په شرعي علومو کې جلا مفهوم لري.

الف : د هجرت تعريف په بشري جغرافيه کې :

په بشري جغرافيه کې د هجرت متعدد تعريفات ذکر دي ، چا د هجرت په تعريف کې د داخلي او خارجي هجرت خيال ساتلی ، چا د جبري او اختياري او چا هم د قانوني والي او غير قانوني والي له حيثه هجرت تعريف کړی او چا هم د دايمي او مؤقتي والي له حيثه هجرت راپيژندلی ، خو دلته هدف دا دی چې په سکاني علم کې د هجرت عام تعريف ذکر شي نو له همدې کبله په بشري جغرافيه کې دلته دوه تعريفات نقل کيږي :

الدکتور ابراهيم سعيد هجرت داسې تعريف کوي : هجرت د اوسيدونکو انتقالي عمليه ده چې له يوه ځای څخه بل ته ، برابره خبره ده چې د همدغې اقليم په حدودو کې وي او که خارج وي ، د لږ خت لپاره وي او که ډير ، مؤقت وي او که دائم ، مګر پدې شرط چې د دغه فرد او ډلې په خپل اختيار سره تر سره شي.[1]

[1] - سعيد ، ابراهيم (١٤١٨ه ـ ١٩٩٧م ) : أسس الجغرافية البشرية والاقتصادية ، حلب ـ سوريه ، منشورات جامعة حلب كلية الأدب والعلوم الانسانية ، (www.esraahussein.wordpress.com) ، ص ٧٧.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړي تعريف کې د ډله ايز او فردي هجرتونو خيال ساتل شوی ، همدارنگه پکې داخلي او خارجي هجرتونو ته اشاره شوې ، البته د هجرت يو سبب پکې په نظر کې نيول شوي چې هغه اختياري هجرت دی.

عيسا حنا يې داسې تعريف کوي : هجرت هغه سکاني حرکت دی چې په فردي يا ډله ايز ډول باندې د اصلي وطن څخه نوي ته د متعددو اسبابو په نتيجه کې صورت نيسي[1].

په دې تعريف کې د هجرت اسباب په گوته شوي ( د متعددو اسبابو په نتيجه کې ) خو داخلي هجرت پکې له پامه غورځول شوی ؛ همدارنگه پکې د هجرت د وخت خيال ندی ساتل شوی نو دا هم څرگنده نه شوه چې هجرت مؤقت دی او که دايمي .

چې د پورته تعريفاتو څخه يو جامع تعريف پداسې ډول په لاس راځي : (هجرت هغه انتقالي عمليه ده چې د يوه مکان اوسيدونکي پکې په ډله ايز او يا هم فردي شکل باندې د خپل اصلي وطن داخلي يا خارجي حدود پريږدي او يا يې پريخودلو ته مجبورول کيږي او په بل مسکن کې په دايمي او يا هم مؤقت ډول باندې د ديني ، اقتصادي ، امني ، علمي ، او سياسي اسبابو په وجه استوگنه اختياروي [2])

د تعريف شرح : (په ډله ايز او يا هم فردي شکل باندې ) چې دا جمله ډله ايز او فردي هجرتونو څخه ياونه کوي

---

[1] - حنا ، عيسى: هجرة المسيحين الفلسطينيين ، موقع الهيئة الاسلامية المسيحية لنصرة الأقصى والمقدسات

[2] - ابوعليان ، عبدالله يوسف (١٤٣٢هـ ـ ٢٠٠١م): الهجرة الى غير بلاد المسلمين وحكمها واثارها المعاصرة في الشريعة الاسلامية ، غزة ، جامعة الاسلامية ، ص ٥.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(داخلي او يا خارجي حدود ) چې دا جمله داخلي او خارجي هجرتونو ته اشاره کوي.

(پرېږدي او يا يې پرېخودلو ته مجبورول کيږي) چې پدې کې هجرت اختياري او جبري ته تقسيم شوي.

(چې په بل مسکن کې په دايمي او يا هم مؤقت ډول باندې ) چې پدې کې د دايمي او مؤقتي هجرتونو څخه يادونه شوي.

(د د ديني ، اقتصادي ، امني ، علمي ، او سياسي اسبابو په وجه ) پدې جمله کې د هجرت اسباب په خلص ډول باندې ياد شوي.

د تعريف د جامع والي وجه دا ده چې : په دغه تعريف کې د هجرت د ټولو اقسامو څخه يادونه شوې يعني پدغه تعريف کې د داخلي ، خارجي او اجباري هجرتونو څخه يادونه شوې او همدارنگه په دغه تعريف کې د هجرت اسباب هم په گوته شوي.

ب : د هجرت تعريف په شرعي اصطلاح کې :

په اسلامي فقه کې د هجرت مختلف تعريفات ذکر دي ؛ چا د هجرت تعريف د يوې معين وخت پورې منحصر کړی ؛ چا د دار په اساس د هجرت تعريف کړی او چا هم د هجرت څخه پراخه مفهوم اخستی ، چې په لاندې ډول د هجرت متعدد تعريفات د مختلفو ليد لورو څخه نقل کؤ:

۱ – د هجرت تعريف په اعتبار د مکې څخه مديني ته :

د دې تعريف څښتنانو له انده کله چې شرعي هجرت مطلق ذکر شي نو مراد ورڅخه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په دور کې له مکې څخه مديني ته هجرت کول دي ، دوی د هجرت تعريف داسې کوي : د مکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پريخودل او مديني ته انتقاليدل دي د رسول الله او مسلمانانو د تائيد ؛ تقويت او لدوی سره د کفارو پروړاندې جنګ کې مرستي کولو لپاره.[1]

چې پدې تعريف کې يواځې له مکې څخه مديني ته تللو ته هجرت ويل شوی.

۲ – د هجرت تعريف د دار په اعتبار سره :

د هجرت کلمة په پخوانيو او معاصرو کتابونو کې د هجرت اطلاق د دار کفر او دار حرب څخه دار اسلام ته انتقال باندې شوی او کله لا د هجرت اطلاق له دار حرب څخه انتقال باندې شوی .

خو بعضي فقهاؤ بيا د هجرت دايرة پراخه کړيده او ويلي يې دي : هجرت د الله جل جلاله په لار کې له دار کفر څخه دار اسلام ته تلل او يا د هغه دار څخه تلل چې فتنة پکې ډيره سخته وي هغه دار ته چې فتنه پکې کمه وي[2].

پورته تعريف پراخه مفهوم لري ، پدې تعريف کې هجرت د دار کفر او دار حرب څخه دار اسلام ته منحصر شوی ندی ؛ بلکې کله هجرت د هغه کفري هيواد څخه چې فتنه پکې ډيره وي بل کفري هيواد ته چې هغې کې فتنه کمه وي صورت نيسي : لکه حبشي ته هجرت ، چې حبشه خپله يو کفري هيواد ؤ او همدغه رنګه مکه هم په دغه وخت کې کفري هيواد ؤ نو له مکې

---

[1] - السيوطي ، جلال الدين(١٤٢٢ھ ـ ٢٠٠١م) : حاشية السيوطي والسندي على السنن ، بيروت ـ لبنان ، دار المعرفة للطباعة والنشر والتوزيع ، ٥ / ٤٦٥.

[2] - حليمة ،عبد المنعم مصطفى(ب.ت):الهجرة مسائل وأحكام ( **http://www.abubaseer.bizland.com/books.htm**، ص ١١

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه حبشي ته هجرت کول دا راپه ګوته کوي چې مکه کې مسلمانان په فتنه کې ښکیل وه او حبشه کې بیا مسلمانان له ظلم څخه مصؤن وه.

او یا کله د اسلامي هیواد څخه چې اسلامي مقدساتو ته پکې پاملرنه نه کیږي یا بدعات پکې موجود وي بل هغه اسلامي هیود ته چې اسلامي مقدسات او سنتو خیال پکې ساتل کیږي ؛ یا د دار کفر څخه دار عهد ته او یا د اسلامي هیواد څخه کفري هیواد ته هجرت کول.

ج : د هجرت تعریف په نړیوال قانون کې :

په نړیوال قانون کې هم د هجرت متعدد تعریفات ذکر شوي د مثال په ډول :

نظام الدین عبدالله د هجرت تعریف داسې کوي : کډوال یا مهاجر هغه اشخاص دي چې په دواطلبانه ډول خپل هیواد په بل ځای کې د اقامت په منظور ترک کوي.[1]

پورته تعریف باندې نیوکه دا ده چې دلته د اقامت اندازه نده مشخص شوې ، یعني د دایمي یا کم تر کمه ډیر وخت لپاره استوګنه باید ذکر شوې وه.

همدارنګه په ۱۹۵۲ میلادي کال د ملګرو ملتونو عمومي غونډې د بشر حقوقو د هئیت راپور له اوریدلو ورسته کډوال یا مهاجرو د حقوقو څخه د ملاتړ لپاره یو پریکړه لیک صادر کړ ، چې د هغې سند په اساس مهاجر داسې تعریف شوی : مهاجر اصطلاح په هغه اشخاصو اطلاق کیږي ، چې خپل پلارنی

---

[1] - عبدالله ، نظام الدین ( ۱۳۹۱هـ ش ) : حقوق بین المللي خصوصي ، کابل ـ افغانستان ، انتشارات سعید ، ص ۸۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټاټوبی یا هیواد یي د اقتصادي شرایطو د نشتوالي او محدود والي او د ټولنیزو شرایطو د نشتوالي له امله پرېښې وي او په نورو هیوادونو کې د اقتصادي شرایطو د ښه والي لپاره د خپلې کورنۍ سره یو ځای او یا په ځانګړي توګه استوګن کیږي.[1]

په پورته تعریف کې د هجرت یو ډول اسباب په ګوته شوی چې هغه اقتصادي اسباب دي سیاسي ، دیني او ټولنیز اسباب یې ندي په ګوته کړي.

معجم القانون کې هجرت داسې تعریف شوی : هجرت چې انګلیسي کې ورته (**Emigration**) وایي : هجرت د خپل متبوع هیواد سرحدات پریخودل او د بل هیواد سرحداتو ته د دایمي استوګنی یا کم تر کمه د ډیروخت لپاره د اوسیدو په نیت داخلیدلو ته وايي[2].

دا تعریف نسبتا جامع ښکاري ځکه د اقامت وخت پکې مشخص شوی ، اګر که د هېواد سرحدات پکې هم په تکرار سره ذکر شوي او د هجرت اسباب ندي په ګوته شوي خو د اسبابو مجهول پرېښودلو کې په خپله ټول هغه اسباب داخلیږي چې مهاجر هجرت کولو ته اړباسي.

---

[1] - ستیز ، ملک : بي ځایه شوي کډوال او پناه اخیستونکي ، ژباړن : سید محي الدین هاشمي ، کابل : د مدني ټولني او بشر حقوقو شبکه ، ص ۱۴

[2] - الهیئة العامة لشئون المطابع الآمیریة ( ۱۴۲۰هـ ـ ۱۹۹۹م) : معجم القانون ، القاهرة ، مجمعة اللغة العربیة ، ص ٦٨٣.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دويم پراګراف : د پناه اخيستني ( اللجوء ) پيژندنه :**

لومړی جز : د پناه اخيستني ( اللجوء ) لغوي مفهوم

پناه اخيستنه چې په عربي ژبه کې ورځخه په اللجوء باندې تعبير کيږي او اللاجي ( پناه اخيستونکی ) يې اسم فاعل دی د لَجَأً لَجْأً ځخه اصلي ماده يې له ( لام ؛ جيم او همزه ) ځخه يوه کلمة ده همدارنګه اللجأ او الملجأ يې اسم مکان هغه ځای چې پناه وروړل کيږي همدانګه وايي لجأتُ والتجأتُ ، پناه مې ورووړله[1].

همدارنګه قرانکريم کې الله عزوجل فرمايي : (لَوْ يَجِدُونَ مَلْجَـًٔا أَوْ مَغَـٰرَٰتٍ أَوْ مُدَّخَلًا لَّوَلَّوْا۟ إِلَيْهِ وَهُمْ يَجْمَحُونَ ﴿٥٧﴾ )[2]

ژباړه : که هغوې کوم د پناه ځای ومومي، يا کومه سمځه يا د ننوتلو ځای، نو وبه ځغلي او په هغه کښې به ځانونه پټ کړي.

خلاصه دا چې : مصدر يې لَجْئاً او لُجُوءً يعني پناه اخيستنه او اسم فاعل يې اللاجي پناه اخيستونکی او الملجأ يې اسم مکان هغه ځای چې پناه ورووړل کيږي.

دويم جز : د پناه اخيستني ( اللجوء ) اصطلاحي پيژندنه

دا چې د پناه اخيستني په مفهوم ښه پوه شو نو غوره به وي چې لومړی په اسلامي فقه او بيا يې په نړيوالو تړونو کې تعريف کړو :

---

[1] - ابو الحسين ، أحمد بن فارس بن زكريا : معجم مقاييس اللغة ، ٥ / ٢٣٥

[2] - التوبة / ٥٧.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف : د پناه اخيستني ( اللجوء ) اصطلاحي تعريف په اسلامي فقه کې : دا چې د پناه اخيستني او اللجوء اصطلاح يوه معاصره او نوي اصطلاح ده له همدې کبله په قديمي فقه کې همدغه کلمة په عين شکل نده استعمال شوي ، خو د اسلامي فقهي معاصر پوهان وايي چې د همدې کلمې مترداف الفاظ په قديمي فقه کې موجود دي ، دا چې د اللجوء مترادف لفظ په قديمي فقه کې هجرت دی او که عقد الامان نو پدې اړوند معاصر فقهاء دوه نظره لري:

لومړی نظر : پناه اخيستنه په قديمي فقه کې د هجرت له کلمي سره په يوه معنی استعماليږي ، چې دغه نظر د دکتور زياد بن عابد المشوخي او دکتور احمد ابو الوفاء دی[1].

دا چې د هجرت تعريف مخکې په تفصيل سره ذکر شوی دلته يې تکرار ته ضروت نه ليدل کيږي.

دويم نظر : خو بعضي نور څيړونکي بيا په دې اند دي چې پناه اخيستنه په حقيقت کې د اسلامي فقهي د عقد الامان سره مترادف دی ؛ ځکه کله چې مونږ په اسلامي فقه کې د عقد الامان او يا د مُستأمنينو په اړوند خبره کؤ نو هغه د پناه اخيستني د معناه سره يو شان وي. ، چې دغه نظر د ، سليمان محمد توبولياک او محمد بن عبدالله حليبه دی.[2]

---

[1] - المشوخي ، زياد بن عابد ( ۱۴۳۳هـ ـ ۲۰۱۲م ) :الاستضعاف واحكامه في الفقه الاسلامي ، الرياض ، دار کنوز اشبيليا للنشر والتوزيع ، ص ۱۷۱ او أبو الوفا ، أحمد( ۱۴۳۰هـ ـ ۲۰۰۹م ): حق اللجوء بين الشريعة والقانون الدولي للاجئين، الرياض ـ المملکة العربية السعودية ، جامعة نايف العربية للعلوم الامنية ، ص ۲۴۲.

[2] - توبولياک ، سليمان محمد ( ۱۴۱۸ه ـ ۱۹۹۷م ) : الاحکام السياسة للاقليات المسلمة في الفقه الاسلامي ، عمان ، دار البيارق ، ص ٥٦ او حليبة ، محمد بن عبدالله( ۱۴۲۲هـ ـ ۲۰۰۱م )

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د هجرت او پناه اخيستني له تعريفاتو داسې معلوميږي چې : د هجرت او پناه اخيستني اصطلاح په نړيوالو قانون کې سره توپير لري او هغه دا چې هجرت اختياري وي او پناه اخيستنه د هغه ډار له کبله وي چې يو شخص ورسره مخامخ وي.

او د اسلامي فقهي له ليده که مسلمان پناه اخيستني ته مجبوريږي نو هجرت ورته ويلی شو او که پناه اخيستونکی غير مسلم وي نو بيا د مستامن په نوم سره ياديږي.

نو دلته بايد د عقد الامان تعريف ذکر شي تر څو په اسلامي فقه کې د مستامن حقيقت څرګند شي.

ابن عرفة[1] د امان تعريف داسې کوي : د امان عقد د حربي کافر سره د معاهدې په اساس د هغه مال ؛ وينه او نفس په امان ګرځول خو پدې شرط چې د معين وخت لپاره به د اسلامي نظام تر حاکميت لاندې ژوند غوره کوي.[1]

---

: حق اللجوء السياسي بين الشريعة الاسلامية والأنظمة الوضعية ، الرياض ، اكاديمية نايف العربية للعوم الامنية ص ١٦٥.

[1] - ابن عرفه : اصلی نوم يي محمد بن قاسم الأنصاري، أبو عبد الله، الرصاع دامام مالک رحمه الله دمذهب دسترعالمانو له جملی څخه دی په تونس کی قاضی وو په تلمسان کی زيږيدلی دی ، ټول ژوند يی په تونس کی تير کړی دی چه په (۸۳۱) کال کی وفات شو.دژوند په اخر شيبو کی په جامع الزيتونه کی خطيب وو ، همدارنګه په جامع الزيتونة کی د افتاء دنده او فقهی او لغة عربی استاذي هم په غاړه درلوده .څلورم نيکه يی نجار وو چی ممبرونه يی جوړول له دی وجی په الرصاع باندی شهرت موندلی دی .مشهور تاليفات (التسهيل والتقريب والتصحيح لرواية الجامع الصحيح، تذكرة المحبين في شرح أسماء سيد المرسلين ، الجمع الغريب في ترتيب آي مغني اللبيب، الهداية الكافية في شرح

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو له پورته تعريف داسې معلوميږي چې امان د مسلمان لخوا حربي كافر ته وركول كيږي ، اسلامي دولت د همدغه حربي كافر نفس ؛ مال او وينه په امن ګڼي او همدغه حربي كافر بيا د اسلامي دولت تر حكم لاندې ژوند كوي خو په تعريف كې د هغه مسلمان په اړوند ابهام ښكاري چې كفري هيواد څخه د امان غوښتنه كوي او هغوی د ده دا غوښتنه قبله وي ؛ دغه كفري هيواد د دغه مسلمان نفس ، مال او وينه په امن ګڼي او دغه مسلمان د هغوی د دولت مخالفت نه كوي.

خو فقهاؤ د هغه مسلمان چې كفري هيواد ته پناه وړي او هلته استوګنه اختياروي احكام په وضاحت سره بيان كړي او د مستامن په تعريف كې يې مسلم او غير مسلم دواړو ته ځای وركړی ؛ لكه احناف د مستامن تعريف داسې كوي : (هو من يدخل دار غيره بأمان) مسلما كان أو حربيا.[2]

يعني دا هغه شخص دی چې د بل چا دار ته په امان سره داخليږي ( داخليدونكی شخص مسلمان وي او كه حربي كافر ).

خو مسلمان چې كفري دولت ته پناه وړي او هغوی پناه وركوي ده ته مهاجر ويل كيږي ، چې مونږ به دريم مبحث كې د صحابه كرامو هجرت حبشي ته ذكر كړو او هلته به معلومه شي چې هغوی د كومو دلايلو له كبله

---

الحدود الفقهية لابن عرفة. وګورۀ: زركلي، خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس (٢٠٠٢م): الأعلام ٥ /٧

1 - الأنصاري ، محمد بن قاسم (1350هـ) : شرح حدود ابن عرفة للانصاري ، المكتبة العلمية ، ص ١٤٣.

2- ابن عابدين ، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز( ١٤٢٨هـ ـ ٢٠٠٧م ) : رد المحتار على الدر المختار ، تحقيق : عبدالمجيد طعمه حلبي ، بيروت ـ لبنان ، دار المعرفة ، ص ٦ / ١٦٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حبشي ته پناه وړي او پناه يې د حبشي د پاچا له لوري قبوله شوي خو هغوی ته په اسلامي فقه کې مهاجرين ويل شوي.

ب : د پناه اخيستنی تعريف په نړيوالو تړونونو کې :

دا چې د پناه اخيستنې حق په مختلفو تړونونو کې ذکر شوی او ځيني تړونونو پناه اخيستني ته ځانګړي شوي ، له همدې کبله هر تړون له پناه اخيستني څخه جلا تعريف لري چې دلته يي درې تعريفونه ذکر کيږي او بيا غوره تعريف ته ځای ورکول شوی.

د بشرحقوقو نړيواله اعلامية ۱۴ ماده کې د پناه اخيستنه داسې تعريفه وي: هر فرد حق لري چې بل هيواد ته پناه يوسي او يا ورڅخه پناه وغواړي د زورونې له ويرې څخه[1].

د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند ګنوانسيون ( د ۱۹۵۱م د جولای ۲۸ ) لومړی ماده دويم بند کې د پناه اخيستني مفهوم داسې روښانه کوي: پناه اخيستونکی هغه شخص دی چې د خپل متبوع هيواد پريخودلو ته مجبوريږی د هغې ويرې په سبب چې د عنصري ، ديني ، قومي او يا يوې اجتماعي طايفي ته د نسبت په سبب او يا هم د يوې سياسي نظريي په وجه ده لره برات ورکوي او د نومړې ويرې په وجه نشي کولی او يا نه غواړي د دې دولت د حمايې تر سيوري لاندې ژوند وکړي.[2]

---

[1] - ناصري ، صفي الله ( ۱۳۹۵ل ـ ۲۰۰٦ز ): نړيوال سندونه ( د ملګرو ملتونو منشور ، د بشر حقونو نړيواله اعلاميه ، د بشر حقونو اسلامي اعلاميه ) ، کابل ـ افغانستان ، ميهن خپرندويه ټولنه ، ص ٥٦.

[2] - د عدلي وزارت رسمي جريده ، (د ۱۳۸٥هـ ش کال) د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسيون ( ۱۹٥۱ جولای ۲۸) پرله پسي نمبر (۹۰۲) ، لومړی ماده

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو پدې تعریف یوه نیوکه دا ده چې نوموړي تعریف د پناه اخیستنی اسباب پوره ندي ذکر کړي ، مثلا هغه اشخاص چې د خپل ژوند د بچاؤ په خاطر بل ملک ته پناه وړي ؛ د کورني جنگونو په سبب یا د بحرنۍ مداخلي او اشغال په سبب یې ژوند له خطر سره مخ وي نوموړي تعریف کې ندي ځای شوي.

له همدې کبله پناه اخیستونکولپاره د افریقې اتحادې نړیوال تړون چې په ۱۹٦۹ز کې ترسره شوی د پناه اخیستونکي تعریف کې داخلي جنگونه او خارجي مداخلې هم شاملې کړي او وایي

د افریقا اتحادیه د پناه اخېستونکو په تړون کې پناه اخېستونکی داسې تعریف کړې: پناه اخیستونکی هغه شخص دی چې د بحرني تجاوز ، د نورو لاس وهنې او یا د نورو د اشغال او یا هم د هغو واقعاتو په بناء چې په خطرناک ډول د هیواد په یوه برخه یا ټول هیواد کې واقع کیدو په سبب د خپل ملک پریخودلو ته مجبورول کیږي[1].

دکتور برهان امرالله پناه اخیستنه داسې تعریفوي :

پناه اخیستنه هغه قانوني حمایه ده چې یودولت یې د بل دولت د اعمالو په مقابل کې یو شخص ته ورکوي ؛ دا حمایه د دولت په حدودو کې او یا هم نورو هغه ځایونو کې چې د دې دولت تابع وي ترسره کیږي ؛ دا حمایه یواځې هغه اجنبي شخص ته ورکول کیږی چې خاص صفات ولري او د نورو

[1] - اتفاقیه منظمة الوحدة الافریقیة التي تحکم المظاهر الخاصة بمشکلات اللاجئین في افریقیا (**http://www.pal-monitor.org/UpLoad/uploads/dce4f24c2c.pdf**).

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجانبو سره يې توپير وشي پدې شكل چې پدې اجنبي باندې د پناه اخيستونكي ( اللاجئ ) وصف د نړيوال قانون مطابق صادق شي[1].

په لومړني تعريف باندې نيوكه دا ده چې د بشر حقوقو نړيوالي اعلامي په ۱۴ ماده كې د پناه اخيستنې د حق يادونه كوي او وايي چې د زورونې څخه دتيښتې له كبله بشر حق لري بحرني دولت ته پناه يوسي او د پناه اخيستني مفهوم يې ندی واضح كړی.

په دويم او دريم تعريف : دا نيوكه ده چې په نوموړو تعريفونو كې د پناه اخيستونكي بيان شوی خو د پناه اخيستني مفهوم پكې ندی ذكر شوی.

له همدې كبله څلورم تعريف چې دوكتور برهان امر الله ذكر كړی تر ټولو مناسب تعريف دی ځكه چې دا تعريف د نړيوالو تړونو له احكاماتو سره ډير ورته والی لري دا لدې كبله چې :

- پناه اخيستنه يي يو قانوني حق ګرځولی چې پناه غوښتونكي ته وركړل شوی او پدې سره د پناه اخيستنې درست وصف هم بيان شوی چې هغه قانوني حمايه ده.
- په نوموړی تعريف كې د پناه اخيستنې اماكنو ته اشاره شوی يعني ټول هغه ځايونه چې له يوه ملک څخه پكې غوښتنه متصوره وي.

---

[1] - الحليبة ، محمد بن عبدالله ( ١٤٢٢ه ـ ٢٠٠١م ) : حق اللجوء السياسي بين الشريعة الاسلامية والأنظمة الوضعية، الرياض ، اكاديمية نايف العربية للعلوم الأمنية ، ص ١٨١ ، نقل د (برهان امرالله :حق اللجوء السياسي) څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویم مطلب : د هجرت اقسام

هجرت د مختلفو علومو په لید کې مختلف تعریفات لري ؛ له بله پلوه هر علم يې د مختلفو ليدلورو څخه اقسام او انواع ذکر کوي ، دلته به د هجرت اقسام د د اسلامي فقهي او نړيوالو تړنونو په رڼاء کې ذکر شي.

لومړی پراګراف : د اسلامي فقهي له نظره د هجرت اقسام

بشري جغرافية د مكان له حيثه هجرت داخلي هجرتونه اوخارجي هجرتونو ته تقسيموي.

الف : داخلي هجرتونه : هغه هجرتونه دي چې د يوه ملک د حدودو په دخل کې تر سره کيږي ؛ پرته لدې چې مسافه په نظر کې ونيول شي ، لکه د يوه ولايت څخه بل ولايت ته يا د اطرافو څخه ښارونوته او داسې نور.

ب : خارجي هجرتونه : هغه هجرتونه دي چې د يوه دولت څخه بل دولت ته تر سره کيږي ، چې مهاجر پکې د اجتماعي او اقتصادي ظروفو د تغير سره مخ کيږي[1].

خو په اسلامي فقه کې د هجرت اقسام د مکان له حيثه تر ټولو ښکلی تقسيم ابن العربي مالکي[2] ذکر کړی ، چې هجرت شپږ اقسامو ته تقسيموي( :

---

[1] - ابوعيانة ، فتحي محمد ( ١٩٨٩م): د راسات في الجغرافيا البشرية ، دار المعرفة الجامعية الاسكندرية ص ١٤٨- ١٥٠ په اختصار.

[2] - أبو بكر ابن العَرَبي ، اصلی نوم یی محمد بن عبد الله بن محمد المعافري الإشبيلي مالكي مذهبی دی ، دوخت قاضی وو، دحديثو دحافظانو له جملی څخه دی . په إشبيلية کی زيږيدلی دی ، دادب او تقوی خاوند وو ، په تفسير ،حديث ،فقه ، اصول فقه،ادب او تاريخ کی تاليفات کړی دی په فاس سمه کی وفات اودفن شوی دی . مشهور تاليفات العواصم

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ – دار هجرت نه دار اسلام ته هجرت : نوموړی هجرت د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دور کې فرض ؤ او دا هجرت تر قیامته فرض دی او چېرته چې رسول الله استوګنه لري هلته هجرت کول اوس منسوخ شوی ؛ څوک چې دار حرب کې اسلام قبول کړي دار اسلام ته هجرت کول پرې فرض دي ؛ که دار حرب کې پاتې شو نو ګناه کار شمیرل کیږي او دا حکم د ده حالت ته په کتو بدلونه مودلی شي.

۲ – د بدعت له خاورې څخه هجرت کول : ابن القاسم[1] وايي : مالک رحمه الله څخه مې واوریدل چې ویل یې : په کومه ځمکه کې چې سلفو ته کنځلې کیږی هلته هیڅ کس ته استوګنه جایز نده او دا سمه خبره ده ؛ کله چې منکر تغیر ولې نه شې نو هغه ځای باید ترک کړې ، الله عزوجل فرمايي :

(وَإِذَا رَأَيۡتَ ٱلَّذِينَ يَخُوضُونَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا فَأَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ حَتَّىٰ يَخُوضُواْ

من القواصم ، عارضة الأحوذي في شرح الترمذي ، أحكام القرآن ، القبس في شرح موطأ ابن أنس ، الناسخ والمنسوخ ، المسالك على موطأ مالك ، الإنصاف في مسائل الخلاف او نور وګورهٔ : زرکلي ، خیر الدین بن محمود بن محمد بن علي بن فارس (۲۰۰۲م) : الأعلام ٦ / ۲۳۰

[1] - ابن القاسِم ، اصلی نوم یی عبد الرحمن بن القاسم بن خالد بن جنادة العتقيّ المصري، أبو عبد الله، مشهور په ابن القاسم سره دی : فقیه او ذاهد عالم وو .. فقه یی دامام مالک رحمه الله څخه اخستې ، پیداښت او وفات یې په مصر کی شوی دی . مشهور تصنف یی المدونة ، چی دامام مالک رحمه الله دمذهب رښانه کوونکی کتاب دی ، او دامام مالک رحمه الله څخه یی روایتونه نقل کړی دی ، زرکلي ، خیر الدین بن محمود بن محمد بن علي بن فارس (۲۰۰۲م) : الأعلام ۳ / ۳۲۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِۦ ۚ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ ٱلشَّيْطَٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ ٱلذِّكْرَىٰ مَعَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٦٨﴾ )[1]

ژباړه : او ای محمده (ص) ! کله چې ته وګورې چې خلك زمونږ په ایتونو کښې نکتې لټوي نو د هغو له څنګ نه پاځېږه تر دې پورې چې هغوی دا بحثونه پرېږدي په نورو خبرو پېل وکړي. او که کله شیطان تا په هېره کښې واچوي نو چې څه وخت دا خطا احساس کړې له هغه وروسته بیا ددې ظالمانو څنګ ته مه کښېنه.

٣ – له هغه ځایه هجرت چې حرام پکې عام شوي وي : ځکه د حلالو طلب په هر مسلمان فرض دی.

۴ – د بدني تکلیف څخه هجرت : دا د الله عزوجل فضل دی چې کله یو څوک په یوه ځای کې ویریږي نو الله عزوجل ورته د دې ځای څخه د هجرت کولو اجازه ورکړېده او لدې ځایه تیښته یې ورته مشروع کړې تر څو لدې مشکلاتو ځان خلاص کړي.

مونږ ته تر ټولو لومړی د ابراهیم علیه السلام قصه یاده ده چې کله د خپل قوم نه وویریده نو وه یې ویل : ( وَقَالَ إِنِّي مُهَاجِرٌ إِلَىٰ رَبِّيٓ ۖ [2] ) ژباړه : او ابراهیم وویل : زه د خپل رب لوري ته هجرت کوم او وه یې ویل : (وَقَالَ إِنِّي

---

[1] - الانعام / ٦٨.

[2] - العنکبوت / ٢٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّي سَيَهْدِينِ ﴿٩٩﴾** [1] ژباړه : ابراهيم (ع) وويل : زه دخپل رب لوري ته ځم، هغه به ماته لارښوونه وکړي

او د موسی علیه السلام څخه يې راته وويل : (**فَخَرَجَ مِنْهَا خَائِفًا يَتَرَقَّبُ ۖ قَالَ رَبِّ نَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٢١﴾** [2] ژباړه : د دې خبرله اوريدلو سره سم موسی (ع) وېرېده او په ځارنه ځارنه اندېښمن ووت او دادعا يې وکړه چې (( ای زما ربه! ماله ظالمانو څخه وژغوره ) )

او داسې نور ډېر

٥ – له هغه ځايه هجرت چې امراضو پکې حالات ترنګلي کړي وي : هغه ځای ته چې لدې امراضو پاک وي ؛ کله چې شپنو باندې د مدينې هوا بده ولګيده نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اجازه ورکړه چې چراګاه ته لاړ شي او هلته و اوسيږي تر څو چې صحيت مند شي او لدې حالت څخه طاغون مستثنی دی ؛ ځکه دا استثنی په صحيح حديث ثابته ده[3] ، مګر زمونږ علماء وايي چې لدغه حالت څخه تيښته مکروه ده.

---

[1] - الصافات / ٩٩.

[2] - القصص / ٢١.

[3] - له صحيح حديث څخه مقصد دا حديث دی چې رسول الله فرمايي : («إِذَا سَمِعْتُمْ بِالطَّاعُونِ بِأَرْضٍ فَلاَ تَدْخُلُوهَا، وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلاَ تَخْرُجُوا مِنْهَا» [ تاسو که د طاعون په اړوند په کوم ځای کې واوريدل نو هلته مه داخليږئ او که کله هغه ځای کې طاعون واقع شو چې تاسو هلته موجود وئ نو له هغه ځايه مه وځئ] متفق عليه ، البخاري ، کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦ – په خپل مال د ويرې په حالت کې هجرت : د مسلمان مال د هغه د نفس او عرض په څير محترم دی او يا لدې څخه هم زيات محترم دی. [1])

**دويم پراګراف : د نړيوالو تړونونو له نظره د هجرت اقسام**

نړيوال تړونونه هجرت په دوه قسمه ويشي ، يو ته يې قانوني هجرت او بل ته يې غير قانوني هجرت وايي .

قانوني هجرت : هغه هجرت ته وايي چې د دوه دولتونو په موافقه د اصلي دولت څخه ميلمه دولت ته مهاجرين انتقال شي[2].

غير قانوني هجرت : هغه هجرت ته وايي چې ؛ مهاجرين يوه دولت ته بغير له ويزې او اجازه ليک څخه داخليږي[3].

---

الطب ، باب مايذكر في الطاعون او صحيح مسلم كتاب السلام ، باب الطاعون والطيرة والكهانة ونحوها.)

[1] - ابن العربي ، ابوبكر محمد بن عبدالله المالكي ( ١٤٢٥هـ ٢٠٠٤م ): احكام القران ، تحقيق و تخريج عبدالرازق المهدي ، بيروت ـ لبنان ، دار الكتاب العربي ، ١ / ٤٩٧ـ ٤٩٨.

[2] - نور ، عثمان الحسن محمد او المبارک ، ياسر عوض الكريم( ١٤٢٩هـ ؛ ٢٠٠٨م ) : الهجرة غير المشروعة والجريمة ، رياض ، جامعة نايف العربية للعلوم الأمنية ، ص ١٧.

3 - هماغه مصدر ، ص ١٧.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دويم مبحث : د نړيوالو تړونونو تعريف ، اقسام او د موضوع اړوند نړيوالو تړونونه

دا مبحث په درې مطلبونو مشتمل دی :

لومړی مطلب : د نړيوالو تړونونو تعريف

دويم مطلب : د نړيوالوتړونونو اقسام

دريم مطلب : د هجرت او پناه اخيستنې په رابطه نړيوالوتړونونو ته لنډه کتنه

چې په پورته درې موضوعاتو به په دې مبحث کې لنډه رڼاء واچول شي.

### لومړی مطلب : د نړيوالو تړونونو تعريف

حقوق پوهانو د نړيوالو تړونونو بيلا بيل تعريفونه کړي ، چې دلته يې له څو تعريفونو څخه يادونه کيږي او مشکلات يې په ګوته کيږي او بيا به غوره تعريف په ګوته شي:

دکتور عصام عطية نړيوال تړون داسې تعريف کړی : تړون عبارت د دوه يا زياتو اشخاصو اتفاق څخه چې دا اشخاص د عام نړيوال قانون تابع وي او معين قانوني اثار پرې مرتب کيږي[1].

---

[1] - العطية ، عصام (١٩٩٢م) : القانون الدولي العام ، طبع على نفقه جامعة بغداد ، ص ٧٢.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورته تعریف کې د اشخاصو کلمة تکرارا ذکر شوی چې په تعریف کې سکته ګي رامنځ ته کوي او د دې ترڅنګ د تړون کتبي والي ته پکې هیڅ اشاره نده شوې.

د محمد رضاء ضیائي بیګدلي[1] تعریف : تړون د نړیوالو حقوقو د تابعانو یا وګړو ( هیوادونو او نړیوالو سازمانونو ) ترمنځ هر ډول کتبي لاسلیک شوي توافق دی ، په دې شرط ، چې د نړیوالو حقوقو د مقرراتو سره سم تنظیم شوی وي او دغه مقررات په هغه توافق باندې حاکم وي او په پایله کې ، مشخص حقوقي اغیزې رامنځ ته کړي.

په پورته تعریف کې د تړون طرفونه ( هیوادونه او یا هم نړیوال سازمانونه ) په ګوته شوي ، همدارنګه د تړون کتبي والي هم پکې ذکر شوی او په تړون باندې مرتبه نتیجه هم په ګوته شوې ( مشخص حقوقي اغیزې رامنځ ته کوي ) .

ولې دلته هم له تکرار څخه ځان ندی ساتل شوی او د ( نړیوالو حقوقو ) کلمه په تکرار ډول ذکر شوي.

نو پورته نواقصو ته په کتو سره نړیوال تړونونه په دقیق ډول داسې تعریفولی شو :

---

**1** - محمد رضا ضیائی بیګدلي ، په ۱۳۲۱ هـ ش کې په تهران کې پیدا شوی ، ۱۳۴۰هـ ش کې د تهران پوهتون د حقوقو پوهنځي ته لار موندله ، په ۱۳۴۴هـ ش کې د کې فرانسې ته ولاړ او هلته یې په عمومي بین المللي حقوقو کې تر دکتوری پورې زده کړې وکړې او اوس په دانشګاه علامه طباطبایی کې استاذ دی.(**http://tabyincenter.ir** )

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوره تعریف : دا هغه لیکل شوی توافق دی چې د دوه یا زیاتو نړیوالو شخصیتونو ترمنځ ، د نړیوالو حقوقو تر سیوري لاندې تر سره کیږي او په نتیجه کې یې دواړو لوریو ته حقوق او التزامات رامنځ ته کوي [1].

دغه تعریف غوره ښکاري ځکه چې په نوموړي تعریف کې د نړیوال تړون ټول جواب په پام کې نیول شوي ، چې عبارت دي له :

أ. تړون باید لیکلی توافق وي ، که لیکلی توافق نه وي نو د تړون په تفسیر کې د لانجې د راپیدا کیدو په وخت کې مشکلات پیدا کیږي ؛ ځکه داسې کومه مرجع به نه وي موجوده چې طرفین ورته رجوع وکړي او شخړه پرې حل کړي.

ب. تړون باید د نړیوالو شخصیتونو ( دولتونو او نړیوالو سازمانونو ) ترمنځ اجرا شوې وي ، که داسې نه وي هغه نړیوال تړون نه ګڼل کیږي ، لکه د دوه قومونو او ډلو ترمنځ تړونونه ، د زواج تړون چې د کورنۍ د جوړه ولو لپاره تر سره کیږي اګر که د یوه هیواد د ریس جمهور له خوا د بل هیواد له ریس جمهورې سره تر سره هم شي ، همدغه رنګه که د یوه هیواد لخوا د عادي افرادو سره د قرضونو یا نور تړنونه تر سره کیږي.

ج. د نړیوالو حقوقو تر سیوري لاندې باید تر سره شي.

د. او په نتیجه کې باید حقوق او التزامات رامنځ ته کړي.

د اسلامي فقهي له نظره د تړون تعریف :

---

[1] - شکري ، محمد عزیز: القانون الدولي العام ، دمشق ، دار الفکر ، ص ٦٩.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسلامي فقهي د پوهانو په عباراتو کې تړونونه ( معاهدات ) په لغوي معنی ډیر استعمالیږي : لکه بعضي فقهاء يې د مصالحي په معنی استعمالوي : ( د جنګیالیانو سره د معین وخت لپاره د جنګ د بندولو صلحه کول دي د عوض په مقابل کې یا بلا عوضه [1])

بعضي فقهاء بیا د موادعي ( جنګ بندول او صلحه کول ) په لفظ سره استعمالوي په فتح القدير کې راځي ( کله چې امام د جنګیالیو سره یا د یوې ډلې سره يې موادعه [ صلح ] کول وغواړي او په دې کې مسلمانانو ته مصلحت وي نو کولی يې شي[2])

کله د الهدنة په لفظ سره استعمالیږي : لکه ابن قدامة رحمه الله وايي : (د الهدنة معنی دا ده چې د جنګیالیانو سره د جنګ د بندولو عقد تر سره شي د یوه وخت لپاره د عوض په مقابل کې وي او که بلا عوضه وي او دې ته مهادنة ، موادعه او معاهدة ویل کیږي[3])

د پورته ټولو عباراتو په کتو سره دا نتیجه لاسته راځي چې متقدمینو فقهاؤ په عباراتو کې د تړون مختلف الفاظ استعمال شوي او دا ټول الفاظ د تړون په یوه خاص معنی باندې دلالت کوي چې هغه د کفارو سره د جنګ بندۍ تړون دی.

---

**1** - الشربيني ، شمس الدين محمد بن أحمد الشافعي( ١٤١٥هـ ـ ١٩٩٤م ) : مغني المحتاج إلى معرفة معاني ألفاظ المنهاج ، دار الكتب العلمية ٦ / ٨٦

**2** - السيواسي ، كمال الدين محمد بن عبد الواحد ابن الهمام : فتح القدير ، بيروت ، دار الفكر ، (٥/٤٥٧)

**3** - المقدسي ابن قدامة ، أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد(ب.ت): المغني ، القاهرة ، مكتبة (١٠/٥١٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته بعضي معاصر علماء تړونونه په عامه معنی سره داسې تعریف کړې ، دکتور وهبه الزحیلي[1] وایي : تړون د دوو لوریو ترمنځ هغه تر سره شوی عهد دی چې دواړه لوري یې د شرایطو په پوره کولو مجبور وي[2].

د اسلامي شریعت له نظره بیا د تړون مفهوم ډیر پراخه دی او دا ځکه چې تړون د دواړو لوریو د ارادو اتفاق دی پرته له دې چې د تړون شکل او د پلي کیدو څرنګوالی څه ډول دی؟.

## دویم مطلب : د نړیوالو تړونونو اقسام

د نړیوال قانون شارحین نړیوال تړونونه په مختلفو تقسیماتو تقسیموي ، ځکه د تړونونو اقسام د نړیوال قانون د مصدر په حیث کیدلو کې زیات رول لري.

لومړی : د ذیدخلو اعضاؤ له حیثه د نړیوالو تړونونو تقسیم

له دغه حیثه تړون دوه اړخیز ( ثنائیة ) او څو اړخیز ( جماعیة ) ته تقسیم کیږی کله چې یو تړون د دوه دولتونو ( یا نړیوالو مؤسسو ) ترمنځ تر سره شي نو دې ته دوه اړخیزه ( **Bilateral**) تړون وایي او که د څو دولتونو

---

[1] - دکتور وهبه الزحیلي د دمشق په دیر عطیه سیمه کې په کال ۱۹۳۲ز کې زیږیدلی ، ابتدایي زده کړې یې په خپل پلارني کلي کې ترسره کړې ، په ۱۹۵۲ز کې د مشق له پوهنتون څخه د شرعیاتو په پوهنځي کې شپږ کاله زده کړې کړې ، په فقه المقارن کې یې د جامعه الازهر څخه ماستري او دکتوری کړې (**http://www.fikr.com**).

[2] - الزحیلي ، وهبه ( ۱۳۹۵ل ـ ۲۰۱٦ز) : نړیوالې اړیکې د اسلام او نړیوالو حقوقو پرتلیزه لوستنه ، ژباړن : معراج الدین امینزی ، جلال اباد افغانستان ، یار خپرندویه ټولنه ، ص ۱۸٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترمنځ تړون وشي نو بيا دا په څو اړخيز ( **Multilateral**) تړون سره مسمی کولی شو[1].

دويم : د حقوقي قاعدې د جوړه ولو له حيثه د د نړيوالو تړونو تقسيم :

ټول نړيوال تړونونه د حقوقي قاعدې د جوړه ولو له حيثه په دوه قسمه تقسيم شوي يو ته يې قانوني قاعدې جوړه وونکي ( المعاهدات الشارعة ) او بل ته يې قانوني قاعدې نه جوړه وونکي (المعاهدات العقدية ) ويل کيږي.

الف : د قانوني قاعدې جوړه وونکي نړيوال تړون : کله کله نړيوال تړونونه قانوني قاعدې جوړه وونکي وي يعني د امضاء کوونکو دولتونو هدف دا وي چې دا تړون دی د نړيوال قانون يو مصدر په حيث وپيژندل شي نو له همدې کبله بيا دغه تړونونو ته نور غړي هم داخليدلی شي[2].

ب : د قانوني قاعدې نه جوړووونکي نړيوال تړون : دا هغه تړونونو ته ويل کيږي چې د امضاء کوونکو هيوادونو ترمنځ خاص وي او همدغه هيوادونو ته حقوق او وجائب رامنځ ته کوي ، نورو ته يې تاثيرات نه غزيږي[3].

د تړونونو د ډولونو او موخو په اړوند ډاکټر وهبه الزحيلي وايي : د موخو او اهدافو له مخې تړونونه بيلابيل ډولونه لري ، د بيلگې په ډول کله د سوداگريزو موخو لپاره تړون تر سره کيږي ، کله د اسلامي بلنې او اسلامی

---

1 - العطية ، عصام : القانون الدولي العام ، ص ٨۴.

2 - البصيصي ، صلاح (ب.ت) : المعاهدة الدولية والرقابة عليها في ظل الدستور العراقي الجديد ، جامعة كربلاء كلية القانون ، ص ٢۴٣.

3 - العطية ، عصام : القانون الدولي العام ، ص ٨٥.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمدن د خپریدا لپاره او کله بیا د نورو انساني او ټولنیزو موخو لپاره د بیلګې په ډول د اسیرانو د تبادلې لپاره ، د ټپیانو د درملنې لپاره او د مړو د سپارلو او دفن کولو لپاره تړونونه تر سره کیږي .

همدارنګه کله کله د سیاسي موخو لپاره او کله بیا د جنګ بندۍ لپاره هم تړونونه تر سره کیږي ، چې تر څو امن او سوله قایمه شي او شخړې له بیخه ووځي. همدارنګه کله کله د ګاونډیانو سره د اړیکو د پیاوړتیا او مرستو د زیاتیدا په موخه هم تړونونه تر سره کیږي[1].

## دریم مطلب : د هجرت او پناه اخیستنې په رابطه نړیوالو تړونونو ته لنډه کتنه

### لومړی : د بشر دحقوقو نړیواله اعلامیه ۱۹۴۸ز کال[2]

د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه چې یوه سریزه او دیرش مادې لري د ۱۹۴۸ز کال د دسامبر په لسمه نیټه د ملګرو ملتونو د سازمان لخوا تصویب شویده ، دغه اعلامیه چې په هغې کې د بشر ذاتي او اساسي حقونه تسجیل شوي ، د هجرت او پناه اخیستنې په اړوند هم ځانګړې وړاندوینې لري ، بشر ته د هجرت او پناه اخیستني له حق څخه یادونه کوي ، لکه د نوموړ اعلامې په دیارلسمه ماده کې راځي ( الف : هر څوک حق لري چې د هر هیواد په دننه کې ازادانه تګ او راتګ وکړي او د استوګنې ځای انتخاب کړي.

1- الزحیلي ، وهبه : نړیوالې اړیکې د اسلام او نړیوالو حقوقو پرتلیزه لوستنه ، ص ۴.

2 - ناصري ، صفي الله : نړیوال سندونه ( د ملګرو ملتونو منشور ، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه ، د بشر حقونو اسلامي اعلامیه ) ، ص ۵۰ – ٦۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب : هر څوک حق لري ، چې د خپل هيواد په ګډون هر هيواد پرېږدي او يا خپل هيواد ته راستون شي.)

چې پورته ماده بشر ته د داخلي او خارجي هجرتونو حق ثابتوي.

همدارنګه ۱۴ ماده داسې صراحت لري : ( الف : هر څوک حق لري ، چې د ځورونې او تعقيب په وړاندې په نورو هيوادونو کې د پناه په لټه کې شي او په نورو هيوادونو کې پناه واخلي.

ب : له دغه حق څخه په هغه وخت کې ګټه نه شي اخيستل کيداى ، که چيرته تعقيب د غير سياسی جرم او يا د داسې اعمالو د ترسره کولو له امله وي چې د ملګرو ملتونو له موخو او اصولو سره توپير لري.)

پورته ماده بشر ته د پناه اخيستني حق ثابتوي او څرګنده وي چې پناه اخيستنه د سياسی جرايمو پروړاندې ورکول کيداى شي او غير سياسي جرامو څخه د تيښتې په حال کې پناه نشي ورکول کيدلی.

**دويم : د جينوا څلورم تړون ۱۹۴۹ز**

د جينوی څلورم تړون چې په ۱۲ د اګست ۱۹۴۹ز کال د ملګرو ملتونو د عمومي مجمع لخوا تصويب شوه ، يوه سريزه څلور بابونه او ۱۵۹ مادې لري .

دغه تړون په لومړی باب دويمه برخه کې چې د ۳۵ څخه تر ۴٦ مادو پورې په برکې نيسي د هغو اجانبو د خونديتوب په اړوند بحث کوي چې د جګړې د طرفونو په هيوادونو کې تر ساتنې او پناه لاندې ژوند کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه تړون د دغه اشخاصو د ژوند تضمين په امضاء کوونکو هيوادونو باندې لازم ګڼي[1].

دغه تړون ټول ټال ۱۹۵ هيوادونو امضاء کړې افغانستان نوموړی تړون په ۸ / ۱۲ / ۱۹۴۹ز کې امضاء او په ۲۶ / ۹ / ۱۹۵۶ز کې تصديق کړ[2].

**دريم : د بشر حقوقو اسلامي اعلاميه ۱۹۹۰ز کال**[3]

دغه اعلاميه چې يوه مقدمه او ۲۵ مادې لري ، د اسلامي هيوادونو د بهرنيو چارو وزيرانو په غونډه کې د قاهرې په ښار کې تصويب شوي ده .

نوموړې اعلاميه کې هم د اسلامي اصولو په اساس د بشر اساسي حقوق يادونه شوي او د هغې ساتل عبادت ګڼل شوي ، چې نوموړي اعلاميه په دولسمه ماده کې د اخلي او خارجي هجرت حق څخه يادونه کوي او پناه ورورکني هيواد مکلفيت په ګوته کوي او پناه اخيستني بايد د شرعي جرايمو په مقابل کې نه وي ، نوموړي ماده داسې صراحت لري: ( هر انسان له شريعت سره مطابق په خپل هيواد او يا له خپل هيواد څخه بهر د استوګنې لپاره د ټاټوبي د انتقال او انتخاب حق لري او په هغه صورت کې چې د ظلم تر فشار لاندې راځي کوم بل هيواد ته کډه کولای شي ، پر هغه هيواد چې کډوال ورځي ، واجب ده چې له هغوی سره ښه چلند وکړي تر څو چې پناه ورکول

---

**1** - عتلم ، شريف او عبدالواحد ، محمد ماهر ( ۲۰۰۲م ) : موسوعة اتفاقيات القانوني الدولي الانساني ( النصوص الرسمية للاتفاقيات والدول المصدقة والموقعه ) القاهره ، اصدار بعثة اللجنة الدولية للصليب الاحمر ، ص ۱۸۸ ـ ۲۴۳.

**2**- هماغه مصدر ، ص ۲۵۱ ـ ۲۵۸.

3 - ناصري ، صفي الله : نړيوال سندونه ( د ملګرو ملتونو منشور ، د نشر حقونو نړيواله اعلاميه ، د بشر حقونو اسلامي اعلاميه ) ، ص ٦۳ – ۷٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته برابر شي ، په دې شرط چې د شرعي مطابق د جرم د کولو له امله کډوالۍ ته نوي اړ شوي.)

**ځلورم : د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسیون ( ۱۹۵۱ جولای ۲۸)**[1]

دغه تړون چې د پناه اخیستني پورې خاص احکام په بر کې نیسي او په جینوا کې په ۲۸ د جولای ۱۹۵۱ز کال تر سره شو ، دغه تړون د لاسلیک لپاره په جینوا کې په ۲۸ د جولای ۱۹۵۱ز کې کیښودل شو او له هغې ورسته د ملګرو ملکتونو د سازمان د سرمنشي ته و سپارل شو او د ۲۸ د جولای نه تر ۳۱ د اګست ۱۹۵۱ز پورې د ملګرو ملتونو سازمان اروپایي دفتر کې او د ۱۷ سپتامبر ۱۹۵۱ز څخه تر ۳۱ دسامبر ۱۹۵۲ز پورې د ملګرو ملتونو سازمان په مقر کې د لاسلیک لپاره پرنستي ؤ.

دغه تړون یوه سریزه ، اوه فصلونه او ۴۶ مادې لري.

د نوموړي تړون په سریزه کې د تړون مبنی په اړوند راغلي چې (دې ته په پام سره چې د ملګرو ملتونو منشور او د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه چې د ۱۹۴۸ د دسامبر په ۱۰ د عمومي مجمع په تصویب رسیدلی ، پردې اصل یې تاکید کړی دی چې د بشر ټول افراد باید پرته له تبعیضه له بشري حقوقو او بنسټیزو ازادیو څخه برخمن شي.

دې ته په پام سره چې ملګرو ملتونو په مختلفو مواقعو کې د پناه وړونکو د وضع په نسبت زیاته مینه ښودلې او هڅه یې کړیده څو پناه وړونکو

---

**1** - د عدلي وزارت رسمي جریده ، (د ۱۳۸۵هـ ش کال) د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسیون ( ۱۹۵۱ جولای ۲۸) پرله پسي نمبر (۹۰۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ممکنه پراخه توگه له بشري حقوقو او بنسټيزو ازدايو څخه برخمن کيدل تضمين کړي.)

دغه تړون د پناه وړنکي د تعريف په برخه کې په لومړی ماده الف برخه ۲ بند کې وايي (د ۱۹۵۱ د جنوري له لومړی نيټي د مخه پيښو په پايله کې او لدې څخه د موجهې ويرې له امله چې د توکم [ نژاد ] مذهب ، په خاصو ټولنيزو ډلو کې د غړيتوب يا سياسي عقيدې په لرلو پورې په اړوند علتونو تر شکنجي لاندې ونيول شي. ) هغه پيښې چې د ۱۹۵۱ د جنوري له لومړی نيټې څخه د مخه واقع شوي دا عبارت په ب برخه کې دا سې واضع شوی ( الف ـ هغه پيښې چې د ۱۹۵۱ د جنورې له لومړۍ څخه په اروپا کې رامنځ ته شوي دي ، ب ـ ؛ يا هغه پيښې چې د ۱۹۵۱ د جنورې له لومړۍ څخه په اروپا يا په بل ځای کې رامنځته شوې دي. ) چې له دغه عبارت څخه په څرگنده معلوميږي چې پناه وړنکی يواځې هغو اشخاصو ته ويل کيدلی شول چې د د ۱۹۵۱ د جنورې له لومړۍ څخه تر مخه پښو په پايله کې د پناه وړونکی په توگه رامنځته شوي دي.

**پنځم : د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند پروتوکول ( ۱۹٦۷ د جولای ۳۱ )**[1]

دغه پوتوکول په ۱۹٦۷ د جولای ۳۱ باندې رامنځ ته شو ، چې د نوموړي پروتوکول په سريزه کې د دې پروتوکول د ايجاد ضرورت داسې بيان شوی ( دې ته په پام سره چې د پناه وړونکو په وضعي پورې اړوند کنوانسيون چې [ د ۱۹۵۱ د جولای په ۲۸ نيټه په ژينو کې لاسليک شوی دی [ او لاندې د کميسون په نوم يادېږي ] فقط د هغو اشخاصو په هکله اجراء کيږي چې د

[1] - د عدلي وزارت رسمي جريده ، (۱۳۸۵هـ ش کال) د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند پروتوکول ( ۱۹٦۷ د جولای ۳۱) ، پرله پسي نمبر (۹۰۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹۵۱ د جنوري له لومړۍ نيټې څخه د مخه پيښو په پايله کې د پناه وړونکو په توګه رامنځته شوی دی ، دې ته په پام سره چې د پناه وړونکو نورې نوې طبقې د کنوانسيون له انعقاد وروسته رامنځته شوی دي په همدې علت ممکنه ده دغه ډله پناه وړونکي د کنوانسيون له کتهو څخه برخمن شي.)

همدغې ستونزې د حل لپاره د پناه وړونکي تعريف په د دغه پروتوکول په اوله ماده کې داسې تعديل شو (پدې پروتوکول کې د [ پناه وړونکي ] په اصطلاح کې د دې مادې ۳ فقرې د اجرائي مواردو په استثنی هغه ټول افراد شامل دي چې د کنوانسيون په لومړۍ ماده کې د درج شوي تعريف مصداق دي پدې شرط چې د لومړۍ مادې د الف برخې په ۲ فقره کې درج [ د هغو پيښو په پايله کې چې د ۱۹۵۱ د جنوری له لومړۍ نېټې د مخه پېښې شوې دي ] عبارت او [ د دغه ډول پېښو له پېښېدو ورسته ] عبارت حذف شوي وګڼل شي.)

چې دغه پروتوکول يوه سريزه او ۱۱ مادې لري. او په ۱۱ ماده کې بيان شوي چې دا پروتوکول په يوه نسخه چې انګليسي ، چيني ، اسپانوي ، فرانسوي ، او روسي متن يې په برابره توګه معبر دي او د عمومي مجمع د رئيس او ملګرو ملتونو د سازمان سرمنشي لاسليک کړی.

## دريم مبحث : د هجرت تاريخچه

دا مبحث په دوه مطلبونو ويشل شوی :

لومړی مطلب : د بحث څخه مخکې د هجرت تاريخچه

دويم مطلب : په نبوي دور کې د هجرت تاريخچه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی مطلب : د بعثت څخه وړاندې د هجرت تاريخچه

په دې مطلب دا په ډاګه کيږي چې هجرت د انبياؤ او نيکانو طريقه ده ، چې د نمونې په ډول به د ابراهيم ، لوط ، موسی عليهم السلام او اصحاب کهف هجرتونو څخه يادونه وشي.

### لومړی پراګراف : د ابراهيم عليه السلام هجرت

د ابراهيم عليه السلام د هجرتونو اړوند اهل السير له درې هجرتونو څخه ياونه کوي چې :

اول : شام ته د ابراهيم عليه السلام هجرت

دويم : مصر ته د ابراهيم عليه السلام هجرت او بيرته شام ته راستنيدل

دريم : مکې مکرمې ته د ابراهيم عليه السلام هجرتونه

چې په خلص ډول به پرې دلته بحث وشي.

اول : شام ته د ابراهيم عليه السلام هجرت

کله چې ابراهيم عليه السلام ډاډ تر لاسه کړ چې ؛ خپل دعوت يې رسولی ، خو د قوم په زړونو او عقلونو کې يې د شرک ريښې عميقې دي ، قوم يې د ده د دعوت پروړاندې د دښمنۍ او جنګ موقف غوره کړ او د ده د سوزولو لپاره راجمعه شول ، نو نوموړي عليه السلام له خپل قوم څخه د وتلو ايراده وکړه ، تر څو خپل عبادت ، د دين خپرول او د الله لور ته د خلکو بلنه په سمه توګه تر سره کړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو خپل وطن ، اهل او کورنۍ يې پرېخول او شام طرف ته يې مخه کړه ، پدې هجرت کې ورسره يوه ډله مسلمانان هم موجود وه چې ، د ابراهيم عليه السلام بي بي سارة ، وراره يې لوط ، ورور يې ناحور او ورندار ملکا څخه عبارت وه ، دا خبره ابن کثير نقل کړېده[1].

لکه الله عزوجل فرمايي : (وَقَالَ إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّي سَيَهْدِينِ ﴿٩٩﴾)[2]

ژباړه : ابراهيم (ع) وويل : زه دخپل رب لوري ته ځم، هغه به ماته لارښوونه وکړي.

ابراهيم عليه السلام په بحران کې چې خلکو يې د بوتانو او ستورو عبادت کاوه ؛ د الله جل جلاله لورته بلنه وکړه خو کله چې پوه شو د ده دعوت اثر نلري او نوموړي قوم د ده دعوت ته لبيک ونه وايه ، نو بيا د کنعانيانو ځمکې ته روان شو ؛ چې هغه د بيت المقدس ځمکه وه ـ همدا هغه مبارکه ځمکه وه ـ چې دا خبره هم ډېرو مفسرينو نقل کړيده[3]. الله عزوجل لدې پېښې

1- ابن کثير ، إسماعيل بن عمر(١۴٠٨هـ ١٩٨٨م ) :البداية والنهاية ، المحقق: علي شيري ، دار احياء التراث العربي ١ / ١۴٠

2 - الصافات / ٩٩

3 - القرطبي ، محمد بن أحمد بن أبي بکر (١٣٨۴هـ ـ ١٩٦۴م ): الجامع لاحکام القران ، تحقيق : أحمد البردوني او ابراهيم أطفيش ، القاهرة ، دار الکتب المصرية ، ١۵ / ٩٧ ، او الرازي ، فخر الدين (١۴٢٠ هـ ) : التفسير الکبير ، بيروت ، دار إحياء التراث العربي ، ٢٢ / ١٩٠ او الألوسي ، شهاب الدين محمود ابن عبد الله الحسيني (١۴١۵هـ ق) : رح المعاني في تفسير القران العظيم والسبع المثاني ، بيروت ، دار الکتب العلمية ، ١٧ / ٧٠.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې يادونه کوي: ﴿وَنَجَّيْنَٰهُ وَلُوطًا إِلَى ٱلْأَرْضِ ٱلَّتِى بَٰرَكْنَا فِيهَا لِلْعَٰلَمِينَ ﴿٧١﴾﴾[1]

ژباړه : او مونږ هغه او لوط وژغورل د هغه هېواد لوري ته مو بوتلل چې په هغه کښې مونږ د نړيوالو له پاره برکتونه ايښي دي.

دويم : مصر ته د ابراهيم عليه السلام هجرت

بيا ابراهيم عليه السلام مصر ته هجرت پيل کړ ، د الله عزوجل اراده وه چې ابراهيم عليه السلام د خپلې ميرمنې ساره په اړوند و ازمائي[2] دا چې دغه ازموينه او هجرت څرنګه تر سره شو ؟ د امام مسلم رحمه الله دغه حديث چې د ابوهريره رضى الله عنه په روايت يې نقل کوي داسې راځي ( ابراهيم عليه السلام د يوه ظالم پاچاهۍ ته روان ؤ او سارة ورسره وه او دا تر ټولو خلکو ښکلې وه ، هغې ته يې وويل : که دغه ظالم پوه شي چې ته زما ميرمن يې نو زما څخه دې په زور اخلي ، کچيرته يې درڅخه وپوښتل نو ورته ووايه چې ته مې خور يې ، ځکه ته زما اسلامي خور يې ، ما ته ستا او ځان څخه بل مسلمان ندى معلوم ، کله چې د ظالم پاچا ځمکې ته داخل شوه نو د دې ظالم بعضي خلکو سارة وليده او دې ظالم لره راغلل ورته يې وويل : ستا ځمکې ته داسې يوه ښځه راغلې چې ستا نه غير بل چا سره مناسبه نده ، هغې پسې يې خلک وليږل او ده ته يې راوسته ، ابراهيم عليه السلام په لمانځه وه دريده ، کله چې سارة ور داخله شوه نو هغه اراده وکړه چې لاس وروږاندې کړي خو لا پرې قادر شوى

---

[1] - الانبياء / ٧١

[2] - ابن کثير ، إسماعيل بن عمر(١٤٠٨هـ ١٩٨٨م ) :البداية والنهاية ، ١ / ١٥٢.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ؤ چې ، سخت ډول باندې ونیول شو نو هغې ته یې وویل : له الله څخه دعاء وغواړه چې لاس مې خوشې شي زه درته ضرر نه رسوم هغې ورته دعاء وکړه ، هغه بیا همداسې بده ایراده وکړه ؛ نو له اول ځل څخه هم سخت ونیول شو ، بیا یې ورته همداسې وویل هغې بیا دعاء وکړه ده بیا همدا بده ایراده وکړه ، بیا له لومړیو دوه ځلو څخه هم سخت ونیول شو ، بیا یې ورته وویل : الله څخه وغواړه چې لاس مې خوشي کړي ، الله شاهد او ضامن دی چې ضرر درته نه رسوم ، هغې دا کار وکړ او لاس یې خوشې شو ، بیا یې هغه شخص را وغوښت چې سارة یې راوستې وه ، هغه ته یې وویل : تا خو ماته شیطان راوستی ؤ نه انسان ، دا ځما له ځمکې وباسه او هاجره یې ورته ورکړه ، سارة دوباره راروانه وه کله چې ابراهیم علیه السلام ولیده مخ یې ورڅخه واړوه ورته یې وویل څه وشول ؟ هغې وویل خیر دی ؛ الله عزوجل د فاجر لاس بند کړ او خادمه یې هم راکړ[1].)

دریم : مکې ته د ابراهیم علیه السلام هجرتونه

ابراهیم علیه السلام د هاجرې او اسماعیل علیه السلام په ملیيا مکې ته هجرت وکړ ، چې دغلته هیڅ شین بوټي او اوبه نه تر سترګو کیدلې ، هاجره او اسماعیل علیه السلام یې هلته پریښودل او خپله ورڅخه ولاړ هاجرې په تکرار ډول له شاه غږونه ورپسې کول چې : ته مونږ دلته پریږدې او ته چېرته ځې !؟ ، هغه جواب نه ورکاوه ، اخر هاجرې وپوښتل : (الله جل جلاله درته امر کړی !؟) هغه مبارک وویل : هو ، څه وخت وروسته ابراهیم علیه السلام بیا مکې ته راغې ، اوس نو هلته د جرهم قبیله د هاجرې په اجازه میشته شوې وه او اسماعیل له هغوی څخه واده هم کړې ؤ ، ابراهیم علیه السلام د خپل ځوئ

---

[1] - رواه مسلم ، کتاب الفضائل ، باب من فضائل ابراهیم الخلیل صلی الله علیه وسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور ته لاړ او هلته یې هغه ونه مونده خو د هغه له میرمن سره یې ملاقات وشو ، د هغې د شکایت له کبله یې ورته وویل چې اسماعیل راغې نو ورته ووایه چې دروازه دې بدله کړه ، اسماعیل علیه السلام په شفر پوه شو ؛ دا میرمن یې طلاق کړه او بله ښځه یې له جرهمیانو په نکاح کړه ، ابراهیم علیه السلام بیا راغی ، دا ځل نو د اسماعیل علیه السلام دویمې میرمنې له ژونده رضایت څرگند کړ او د الله حمد یې بیان کړ ، بیا یې اسماعیل ته د دې ښځې په نکاح کې د باقي ساتلو امر وکړ ، په دریم ځل بیا ابراهیم علیه السلام مکې ته هجرت وکړ او الله عزوجل په امر یې د اسماعیل علیه السلام سره یو ځای د بیت الله د ودانۍ کار پیل کړ چې دا واقعه په تفصیل سره امام بخاري د ابن عباس په راویت نقل کړیده[1].

**دویم پراگراف : د لوط علیه السلام هجرت**

له نصوصو معلومیږي چې لوط علیه السلام هم دوه ځلې هجرت کړې ، یو هجرت یې د ابراهیم علیه السلام سره شام ته تر سره کړې ؤ چې د دې هجرت یادونه ( شام ته د ابراهیم علیه السلام هجرت ) کې وشوه.

د نبوت څخه وروسته د لوط علیه السلام هجرت : کله چې لوط علیه السلام داسې قوم ته ولیږل شو چې هغوی نارینه د نارینه ؤ څخه شهوت پوره کولو ، لوط علیه السلام سره له ډیرو هلو ځلو پدې بریالی نه شو چې دغه قوم ته قناعت ورکړي ځکه د دې قوم په سترگو دشهوت پردې پرتې وې نو الله عزوجل د دې قوم د هلاکت اراده وکړه او لوط علیه السلام ته یې د هجرت امر وکړ الله عزوجل فرمایي : ﴿**قَالُواْ يَـٰلُوطُ إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَن يَصِلُوٓاْ إِلَيۡكَۖ**

---

[1] - رواه البخاري ، كتاب أحاديث الأنبياء ، باب يزفون : النسلان في المشى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَأَسۡرِ بِأَهۡلِكَ بِقِطۡعٖ مِّنَ ٱلَّيۡلِ وَلَا يَلۡتَفِتۡ مِنكُمۡ أَحَدٌ إِلَّا ٱمۡرَأَتَكَۖ إِنَّهُۥ مُصِيبُهَا مَآ أَصَابَهُمۡۚ إِنَّ مَوۡعِدَهُمُ ٱلصُّبۡحُۚ أَلَيۡسَ ٱلصُّبۡحُ بِقَرِيبٖ ﴿٨١﴾ )[1]

ژباړه : په دې وخت کښې پرښتو هغه ته وويل' اى لوطه ع! مونږ ستا درب لېږل شوې پرښتې يو، دا خلك به تا ته هېڅ ضرر ونشي رسولاى، نو چې يو څه شپه پاتې شي د خپل کور غړي دې درسره واخله وځه، او ګوره، له تاسې څخه دې هېڅوك شاته نه ګوري. مګر ستا مېرمن (به ملګرتيا درسره ونه کړي) ځکه چې پر هغې هم هغه څه راتلونکي دي چې پردې خلکو راتلونکي دي ددوى د تباهۍ له پاره دسهار وخت ټاکل شويدى. ايا سهار نژدې ندى.

**دريم پراګراف : د موسى عليه السلام هجرت**

موسى عليه السلام د خپل ژوند په کشمکش کې دوه ځل هجرت کولو ته اړ شوى چې لومړى ځل مخکې له نبوته او دويم ځل ورسته له نبوته.

لومړى هجرت : د نبوت څخه مخکې د قتل له ويرې هجرت

د موسى عليه السلام لومړنى هجرت د خپل نفس او ژوند د بچاؤ په خاطر ؤ ځکه نوموړي عليه السلام په مصر کې يو قبطي وژلى ؤ چې دا واقعه قرانکريم په تفصيل سره داسې بيانوي : ( **وَدَخَلَ ٱلۡمَدِينَةَ عَلَىٰ حِينِ غَفۡلَةٖ مِّنۡ أَهۡلِهَا فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيۡنِ يَقۡتَتِلَانِ هَٰذَا مِن شِيعَتِهِۦ وَهَٰذَا مِنۡ عَدُوِّهِۦۖ**

[1] - هود / ٨١.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَٱسْتَغَـٰثَهُ ٱلَّذِى مِن شِيعَتِهِۦ عَلَى ٱلَّذِى مِنْ عَدُوِّهِۦ فَوَكَزَهُۥ مُوسَىٰ فَقَضَىٰ عَلَيْهِ ۖ قَالَ هَـٰذَا مِنْ عَمَلِ ٱلشَّيْطَـٰنِ ۖ إِنَّهُۥ عَدُوٌّ مُّضِلٌّ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ [1]

ژباړه : (يوه ورځ) هغه ښارته په داسې وخت کښې ننووت چې. د ښار خلك په غفلت کښې وو. هلته هغه وميندل چې دوه تنه په جګړه دي. دا يود هغه د خپل قوم څخه ؤ او دا بل دهغه د دښمن په قوم پورې مربوط ؤ. د هغه دقوم سړي د دښمن د قوم دوګړي پرخلاف له هغه نه مرسته وغوښتله موسی هغه يوسوك ورواهه او دهغه کاريې پای ته ورساوه. (د دې حرکت له صادرېدلو سره سم) موسی وويل (( دادشيطان په لمسون کار دی، هغه سخت دښمن اوښکاره بېلارې کوونکی دی ) ) .

کله چې فرعونيان د خبر شول نو د موسی عليه السلام د قتل ايراده يې وکړه ، الله عزوجل فرمايي : وَجَآءَ رَجُلٌ مِّنْ أَقْصَا ٱلْمَدِينَةِ يَسْعَىٰ قَالَ يَـٰمُوسَىٰٓ إِنَّ ٱلْمَلَأَ يَأْتَمِرُونَ بِكَ لِيَقْتُلُوكَ فَٱخْرُجْ إِنِّى لَكَ مِنَ ٱلنَّـٰصِحِينَ ﴿٢٠﴾ فَخَرَجَ مِنْهَا خَآئِفًا يَتَرَقَّبُ ۖ قَالَ رَبِّ نَجِّنِى مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿٢١﴾ [2]

ژباړه : (له هغه وروسته) يو سړی دښار له لېرې ګوښې نه په منډه راغی او ويې ويل : (( ای موسی! سرداران په خپلو کې ستا په هکله مشوره کوي چې تا ووژني، له دې ځايه ووځه، زه ستا خواخوږی يم ) ) د دې خبرله اورېدلو

---

[1] - القصص / ۱۵ .

[2] - القصص / ۲۰ – ۲۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره سم موسی (ع) وېرېده او په څارنه څارنه اندېښمن ووت او دادعا يې وکړه چې (( ای زما ربه! ماله ظالمانو څخه وژغوره ) ) .

کله چې موسی علیه السلام له مصر څخه مدین طرف ته روان شو نو دا دعاګانې يې له ځان سره تکرارولې (**وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ قَالَ عَسَىٰ رَبِّيٓ أَن يَهْدِيَنِي سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ﴿٢٢﴾** [1])

ژباړه : (له مصرنه په وتلو سره) چې کله موسی دمدين خواته مخه کړه نو ويې ويل : هيله ده چې زما رب ما پرسمه لاره سيخ کړي.

الله عزوجل يې دعاء قبوله کړه او د مدين لار يې وروښودله کله چې مدين ته ورسيد نو هلته يې يوه ډله خلک وليدل چې خپل مالونه خړوبه وي خو دوه جنکۍ څنګ ته ولاړې دي ، دا واقعه الله عزوجل داسې بيانوي : (**وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِّنَ ٱلنَّاسِ يَسْقُونَ وَوَجَدَ مِن دُونِهِمُ ٱمْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِ ۖ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا ۖ قَالَتَا لَا نَسْقِي حَتَّىٰ يُصْدِرَ ٱلرِّعَآءُ ۖ وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ ﴿٢٣﴾ فَسَقَىٰ لَهُمَا ثُمَّ تَوَلَّىٰٓ إِلَى ٱلظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَآ أَنزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ ﴿٢٤﴾ فَجَآءَتْهُ إِحْدَىٰهُمَا تَمْشِي عَلَى ٱسْتِحْيَآءٍ قَالَتْ إِنَّ أَبِي**

[1] - القصص / ٢٢.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يَدۡعُوكَ لِيَجۡزِيَكَ أَجۡرَ مَا سَقَيۡتَ لَنَاۚ فَلَمَّا جَآءَهُۥ وَقَصَّ عَلَيۡهِ ٱلۡقَصَصَ قَالَ لَا تَخَفۡۖ نَجَوۡتَ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٥﴾** )[1]

ژباړه : او کله چې هغه د مدين ځاته ورسېده نو ويې ميندل (ويې ليدل) چې ډېر خلك خپل څاروي او به کوي او له هغو نه بېلې يوې خواته دوه ښځې خپل څاروي ايساروي موسی له دغو ښځونه پوښتنه وکړه (( تاسې وواياځ څنګه انديښمنې يئ؟ هغوی وويل مونږ خپلو څارويوته اوبه نشو ورکولی ترڅو پورې چې دغه شپانه خپل څاروي بونځي، او زمونږ پلار ډېر زيات سپين ږيری سړی دی.

(د دې په اورېدلو سره) حضرت موسی (ع) دهغو څاروي اوبه کړل، بيا يوه سيوري ځای ته لاړ او ويې ويل : پروردګاره! هره ښېګڼه چې تا پرما نازله کړې زه هغې ته اړيم.

(څه ځنډلانه ؤشوی چې) له هغو دو وښځو څخه يوه په شرم او حيا سره راروانه، ده ته راغله او ويي ويل (( زما پلار تاغواړي تر څو تا چې زمونږ لپاره څارويوته اوبه ورکړيدی دهغه اجر درکړي ) ) موسی عليه السلام چې کله هغه ته ورغی او هغه ته يې خپله ټوله قصه واوروله نوهغه وويل هيڅ مه ويرېږه، اوس ته له ظالمانو څخه ژغورل شوی يې.

کله چې موسی عليه السلام خپله وعده پوره کړه نو بيرته د خپلې کورنۍ سره مصر ته روان شو او جبل طور سره په نبوت مبعوث شو الله عزوجل فرمايي (**۞ فَلَمَّا قَضَىٰ مُوسَى ٱلۡأَجَلَ وَسَارَ بِأَهۡلِهِۦٓ ءَانَسَ مِن جَانِبِ ٱلطُّورِ**

---

[1] - القصص / ٢٣ ـ ٢٥.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نَارًا قَالَ لِأَهۡلِهِ ٱمۡكُثُوٓاْ إِنِّيٓ ءَانَسۡتُ نَارًا لَّعَلِّيٓ ءَاتِيكُم مِّنۡهَا بِخَبَرٍ أَوۡ جَذۡوَةٖ مِّنَ ٱلنَّارِ لَعَلَّكُمۡ تَصۡطَلُونَ ﴿٢٩﴾ فَلَمَّآ أَتَىٰهَا نُودِيَ مِن شَٰطِيِٕ ٱلۡوَادِ ٱلۡأَيۡمَنِ فِي ٱلۡبُقۡعَةِ ٱلۡمُبَٰرَكَةِ مِنَ ٱلشَّجَرَةِ أَن يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّيٓ أَنَا ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٣٠﴾ )[1]

ژباړه : کله چې موسی (علیه السلام) موده پوره کړه اوهغه له خپل اهل اوعیال سره روان شو نو د طور خواته یو اور په نظر ورغی. هغه خپلو کوروالاؤ ته وویل: ((تاسې اوسئ مااورلیدلی دی ښائی زه له هغه ځایه څه خبر درته راوړم یاله هغه اورنه کومه سکروټه راواخلم چې تاسې پرې تاوده شئ )) .

هلته چې ورسېده نو د ناؤ د ښي غاړې په برکتي ټوټه ځمکه کښې له یوې ونې څخه غږ وشوچې (( ای موسی همدا زه الله یم، دعالمونو مالك )) .

موسی علیه السلام سلام مامور شو چې فرعون ته دعوت ورکړي تر څو له شرک لاس واخلي او بني اسرائیل له خپلې غلامۍ خلاص کړي : ( وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰفِرۡعَوۡنُ إِنِّي رَسُولٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٠٤﴾ حَقِيقٌ عَلَىٰٓ أَن لَّآ أَقُولَ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ قَدۡ جِئۡتُكُم بِبَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ فَأَرۡسِلۡ مَعِيَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴿١٠٥﴾ )[2]

[1] - القصص / ۲۹ ـ ۳۰.

[2] - الأعراف / ۱۰۴ ـ ۱۱۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : موسی وویل 'ای فرعونه، زه د کائناتو د څښتن له خوا استازی راغلی یم ، زما دنده دا ده چې زه به دالله د نوم په اخیستلو له حقه پرته هېڅ کومه خبره نه کوم ، زه تاسې ته ستاسې د رب له لوري د ماموریت له څرگند دلیل سره راغلی یم نو له دې امله بني اسرائیل له ما سره ولېږه.

کله چې فرعون او قوم یې د موسی علیه السلام او د هغه قوم ته د شر ایراده څرگنده کړه نو الله عزوجل موسی علیه السلام ته امر وکړ چې د قوم سره دې یوځای د شپې لخوا هجرت وکړه الله عزوجل د دا خبره او د بني اسرایلو د هجرت قصه داسې کوي : ( **وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَسۡرِ بِعِبَادِيٓ إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ۝٥٢** )[1]

ژباړه : او مونږ موسی ته وحی ولیږله چې د شپې شپې زما بندگان درسره واخله ووځه، تاسې به تعقیب کړای شئ.

نو معلومه شوه چې بني اسرائیل د فرعونیانو له ویرې هجرت کولو ته مجبور کړای شول.

**څلورم پراگراف : د اصحاب کهف هجرت :**

قرانکریم لومړی اصحاب کهف راپیژني او بیا یې د هجرت یادونه کوي الله عزوجل فرمايي (**نَّحۡنُ نَقُصُّ عَلَيۡكَ نَبَأَهُم بِٱلۡحَقِّۚ إِنَّهُمۡ فِتۡيَةٌ ءَامَنُواْ بِرَبِّهِمۡ وَزِدۡنَٰهُمۡ هُدٗى ۝١٣ وَرَبَطۡنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ إِذۡ قَامُواْ فَقَالُواْ رَبُّنَا رَبُّ**

[1] - الشعری / ۵۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ لَن نَّدۡعُوَاْ مِن دُونِهِۦٓ إِلَـٰهٗاۖ لَّقَدۡ قُلۡنَآ إِذٗا شَطَطًا ﴿١٤﴾ هَـٰٓؤُلَآءِ قَوۡمُنَا ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةٗۖ لَّوۡلَا يَأۡتُونَ عَلَيۡهِم بِسُلۡطَٰنِۭ بَيِّنٖۖ فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا ﴿١٥﴾ وَإِذِ ٱعۡتَزَلۡتُمُوهُمۡ وَمَا يَعۡبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ فَأۡوُۥٓاْ إِلَى ٱلۡكَهۡفِ يَنشُرۡ لَكُمۡ رَبُّكُم مِّن رَّحۡمَتِهِۦ وَيُهَيِّئۡ لَكُم مِّنۡ أَمۡرِكُم مِّرۡفَقٗا ﴿١٦﴾ [1])

ژباړه : مونږ د هغو اصلي قصه تاته اوروو. هغوی ځوتنه زلمیان ووچې پر خپل پروردګار یې ایمان راوړی وء اومونږ هغو ته په هدایت کې پرمختګ ورپه برخه کړی و.

مونږ د هغو زړونه په هغه وخت کښې محکم کړل چې کله هغوی پاڅېدل او اعلان یې وکړ چې"زمونږ رب خو فقط همغه ذات دی چې د اسمانونو او زمکې رب دی، مونږ به له هغه پرته نور کوم معبودان ونه بلو، که مونږ دغسې وکړو نو بیخي بابېزه خبره به مو کړې وي، (یا هغوی په خپلو مینځو کښې سره وویل) "زمونږ دغه قوم خو د کائناتو له رب نه پرته نور په خدائۍ نیولي دي، دوی د هغو په معبود والي باندې کوم څرګند دلیل ولې نه راوړي؟ نو له هغه چانه غټ ظالم بل څوك کیدای شي چې پر الله دروغ وتړي؟

کله چې اوس تاسې له هغو او د هغو له غیر الله معبودانو څخه خپلې اړیکې پریکړې دي، نو ځئ فلانۍ څمڅې ته پناه یوسئ ستاسې رب به پرتاسې دخپل رحمت لمن پراخه کړي او ستاسې د کار له پاره به لارې چارې برابرې کړي.

---

[1] - الکهف / ۱۳ـ ۱٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې دوی ولې څمڅې ته پناه وړلو ته مجبور شول !؟ نو الله عزوجل د دوی له قوله وايي (إِنَّهُمْ إِن يَظْهَرُواْ عَلَيْكُمْ يَرْجُمُوكُمْ أَوْ يُعِيدُوكُمْ فِي مِلَّتِهِمْ وَلَن تُفْلِحُوٓاْ إِذًا أَبَدًا ۝٢٠)[1]

ژباړه : که د هغو لا س پر تاسې برشي نو سنگسار به مو کړي يابه مو بېرته په زوره خپل دين ته واړوي، او که داسې وشول، نو تاسې به هېڅکله برى ونشئ ميندلاى.

همدغه رنگه نور ډير هجرتونو څخه په قرانکريم او نبوي احاديثو کې يادونه شوې چې مشهور يې پورته ذکر شول.

## دويم مطلب : په نبوي دور کې د هجرت تاريخچه

په نبوي دور کې دوه ځلې حبشې هجرت شوي او له هغې ورسته بيا مديني منورې ته چې د هر يو اسباب او تاريخي واقعې ته اشاره کؤ :

### لومړى پراگراف : حبشي ته هجرت :

الف : حبشي ته لومړى هجرت : د سيرت ليکونکو دا په ډاگه کړې چې حبشي ته په لومړي ځل د بعثت په پنځم کال د رجب په مياشت کې[2] دولس سړيو او څلور ښځو هجرت وکړ[3] .

---

[1] - الكهف / ٢٠.

[2] - العسقلاني ، احمد بن علي بن حجر (١٤٢٤هـ ـ ٢٠٠٤م) : فتح الباري ، القاهرة ، دار الحديث ، ٧ / ١٨٨.

[3] - ابن سعد ، محمد بن سعد بن منيع الهاشمي (١٤٠٨هـ ) : الطبقات الكبرى ، المحقق : زياد محمد منصور ، المدينة المنورة ، مكتبة العلوم والحكم ، ١ / ٢٠٤.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې مهاجرینو ته خبر ورسید چې قریشو اسلام قبول کړ [1]، دوی بیرته د همدې کال د شوال میاشت کې مکې ته راستانه شول ، کله چې دوی مکې ته نژدې شول نو خبر شول چې دوی ته رسیدلی خبر باطل ؤ او تکلیف لا هم جاري دی او امتحان لا هم باقي دی ، نو دوی د مکې په شاؤ خوا سیمو کې وه او مکې ته داخل نه شول ، غیر له ابن مسعود څخه چې هغه هم ډیر ژر بیرته حبشي ته ستون شو[2].

ب : حبشي ته دویم هجرت : عبدالله بن مسعود د دویم هجرت اړوند وایي (مونږ رسول الله نجاشي ته ولیږلو او مونږ ۸۰ کسان ؤ. [3])

دا چې د رسول الله دا درانه ملګري ولي حبشي ته هجرت وکړ!؟ نو اسباب یې حضرت جعفر رضی الله عنه خپله نجاشي ته داسې بیان کړ (ای ملکه ! مونږ داسې قوم ؤ چې د بوتانو عبادت مو کاوه ، مردارې مو خوړلې ، زنا ګانې مو کولې ، خپلولي مو قطع کوله ، ګاونډیانو سره مو بد کول ، زمونږ قوي به زمونږ ضعیف خوړلو ، مونږ لا همداسې حالت کې ؤ چې الله عزوجل زمونږ څخه مونږ ته یو استازې راولیږه چې مونږ ته یې نسب ، رښتینولي ، امانتداري او پاکلمني معلومه وه ، هغه مونږ راوبله لو چې یواځې د یوه الله عبادت وکړو ، له هغه پرته چې مونږ او زمونږ پلرونو چاته عبادت کولو د تیږو او بوتانو له جملې څخه هغه پریږدو ، مونږ ته یې په رښتیا وینا ، د امانت په اداکولو ، د خپل ولۍ په وصل کولو ، ښه ګاونډیتوب ، له بدیو لاس اخستلو ، له وینې تویه

---

[1] - ابن الأثير ، علي بن أبي الكرم محمد بن محمد بن عبد الكريم( ١٣٩٨هـ ) : الكامل في التاريخ ، بيروت ـ لبنان ، دار الفكر ٢ / ٥٣.

[2] - ابن سعد : الطبقات الكبرى ، ١ / ٢٠٦.

3 - رواه احمد ، مسند المكثرين من الصحابه ، مسند عبدالله بن مسعود .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولو په لاس اخستلو امر وکړ او مونږ يې له زنا ، له درواغو وينا ، د يتيم مال له خوړلو ، پاک لمنه باندې له تور پورې کولو څخه منع کړو او مونږ ته يې په لمونځ ، زکات او روژه امر وکړ، [ د اسلام امور يې ورته وشمارل ] مونږ د هغه تصديق وکړ ، ايمان مو پرې رواړ ، هغه چې څه راوړي وه د هغې تابعداري مو وکړه ، د يوه الله عبادت مو وکړ ، هيڅ څوک مو ورسره شريک نه کړ ، هغه څه مو حرام وګڼل چې هغه راته حلال معرفي کړي وه ، مونږ باندې مو قوم تجاوز وکړ ، تعذيب يې کړو ، په دين کې يې راباندې سخت امتحانونه وکړل تر څو له دين څخه واوړو او د بوتانو عبادت وکړو او د الله عبادت پريږدو ، او هغه خبايث چې مخکې مونږ مخکې حلال ګڼل هغه حلال وګڼو ، کله چې راباندې غالب شول او ظلم يې راباندې وکړ ، سختيو کې راګير شو ، زمونږ او زمونږ د دين په منځ کې پرده شول ، مونږ ستا ښار ته راغلو ، په نورو مو ته غوره وګڼلې ، ستا څنګ مو غوره کړ ، اي ملکه ! اميد مو درلود چې ستا په څنګ کې به په مونږ ظلم نه کيږي[1].

**دويم پراګراف : مديني ته هجرت :**

مديني منورې ته د رسول الله له هجرت څخه وړاندې د رسول الله تره ابوطالب چې د رسول الله کلک ملاتړی او مدافع ؤ ، او د هغه ميرمن خديجة الکبرى وفات شوه او دا دوړه واقعات په يوه کال تر سره شول ، د ابوطالب له وفات وروسته ورته مشرکانو سخت تکليفونه رسول ، ځکه اوس نو ابوطالب ژوندی نه ؤ چې رسول الله يې د مشرکانو له شره ژغورلی وی ، رسول الله د خلکو د مددت تر لاسه کولو لپاره طائف ته ولاړ تر څو د ده ملاتړ وکړي ، خو هغوی نه يواځې دا چې دعوت يې قبول نه کړ بلکې د رسول الله پسې يې خپل

[1] - رواه احمد ، مسند اهل البيت ، حديث جعفر بن ابي طالب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومان او ناپوهان کړل ، رسول الله ته يې کنځلې کولې او شپيلي يې ورپسې وهل له هغې ورسته بيرته مکې ته راوګرځيد[1].

د طائف له سفره وروسته په قومونو ګرځيده ، د قومونو له شريفو خلکو سره يې خبرې کولې او له هغوی يې د ملاتړ غوښتنه کوله تر څو د دعوت پروړاندې يې خنډونه ختم شي او ويل به يې (لَا أُكْرِهُ أَحَدًا مِنْكُمْ عَلَى شَيْءٍ بَلْ أُرِيدُ أَنْ تَمْنَعُوا مَنْ يُؤْذِينِي حَتَّى أُبَلِّغَ رِسَالَةَ رَبِّي) ستاسو په هيڅ يو ؛ هيڅ څه په زور نه منم ، زه غواړم څوک چې ماته تکليف رسوي هغه راڅخه منع کړئ ، تر څو د خپل رب پيغام ورسولی شم ، چاپې پيغام ته په هو جواب ور نه کړ[2].

بالاخره : رسول الله د حج په موسم کې له شپږو خزرجيانو سره وکتل د دين دعوت يې ورکړ او هغوی هم قبول کړ ، يثرب ته له واپسئ ورسته يې د اسلام په خپرولو لاس پورې کړ په يثرب کې داسې کورنۍ پاتې نه شوه، چې پکې د رسول الله پلويان نه وو[3].

د بعثت پر لسم کال دولس کسيز پلاوی راغی او په عقبه کې يې له رسول اکرم سره وکتل او لومړی تړون يې تر سره کړ ، دا دولس تنه له پوره ايمان سره مدينې ته ستانه شول او د اسلام په خپراوي يې لاس پورې کړ او په راتلونکي کال کې ۷۳ تنه نارينه او دوه ښځينه ؤ د رسول الله سره په منی کې

1 - المعافري ، عبد الملك بن هشام بن أيوب الحميري (١٤١١هـ ) : السيرة النبوية لابن هشام ، تحقيق طه عبد الرءوف سعد ، بيروت ، دار الجيل ، ١ / ٤١٦

2 - العسقلاني ، احمد بن علي بن حجر (١٤٢٤هـ ـ ٢٠٠٤م) : فتح الباري ، ٧ / ٢٢٠.

3 - الطبري ، محمد بن جريرى بن يزيد بن كثير (١٣٨٧هـ ) : تاريخ الطبري ، بيروت ، دار التراث ، ٢/٨٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکتل او رسول الله ورځخه بیعت واخست چې (زما داسې دفاع وکړئ ؛ لکه چې د خپلې کورنۍ چې کوئ.) براء رضي الله عنه ورته وويل:( موږ د جګړې او مبارزې زامن يو او د جګړې په ډګر کې روزل شوي يو،چې دا مو ميراثي ځانګړنې دي.) کله چې رسول الله له دغه تړون تر سره کړ نو صحابه کرامو ته يې مدينې ته د هجرت امر وکړ ، او ورته يې وويل (الله عز وجل تاسې ته ورونه درکړي او د امن کورونه يې درته چمتو کړي دي) او رسول الله خپله مکه کې د الله عزوجل د امر په طمعه ؤ چې د هجرت په اړوند ورته وشي[1].

کله چې قريش پوه شول چې اوس نو مسلمانان د امن ځای لري او ډله ؛ ډله مدينې ته هجرت کوي او يوه ورځ به محمد صلی الله عليه وسلم هم ور مهاجر شي نو په دار الندوة کې يې مشوره وکړه ، دغې مشورې ته شيطان د نجد د يوه ملک په بڼه حاضر شو ، د مشورې په جريان کې هر نظر د شيطان لخوا رديده ، بالاخره د ابوجهل نظر چې د هر قوم څخه به يو ځوان واخلو او ټول به په يو دم په محمد صلی الله عليه وسلم د تورې ګزار وکړي او په شريکه به يې په قتل ورسوؤ د شيطان لخوا د تائيد وړ وګرځيد او د رسول الله د قتل فيصله وشوه ، لدې ورسته الله عزوجل ؛ رسول الله ته د هجرت اجازه وکړه ، رسول الله د الله جل جلاله امر ته لبيک ووايه ؛ د ابوبکر صديق رضی الله عنه په ملتيا له مکې څخه د مدينې په طرف د شپې په تياره کې روان شو ، په غار ثور کې يې درې شپې تيرې کړې ، کله چې قريش د هغوی له نيولو مايوسه شول نو ، دوی هم له غار ثور څخه ووتل او د مدينې په طرف روان شول[2].

---

**1** - المعافري ، عبد الملك بن هشام : السيرة النبوية لابن هشام ، ۱ / ۴۴۲.

² - هماغه مصدر ، ۱ / ۴۴۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له پورته واقعاتو معلومیږي چې رسول الله او صحابه کرام هجرت کولو ته د مکې مشرکینو لخوا مجبور کړای شوي وه .

## دویم فصل

## د هجرت او پناه اخیستنې مقام ، حکم او د مهاجر او پناه اخیستونکي راستنیدل

پدې فصل کې به د هجرت او پناه اخېستنې په مقام ، د هجرت او پناه اخېستنې اسباب او حکم او د دې ترڅنګ به د مهاجر او پناه اخیستونکي د راستنیدلو اسباب او حکم د اسلامي فقهې او نړیوالو تړونونو په رڼا کې وڅیړل شي.

په همدې اساس دا فصل په درې مبحثونو مشتمل دی

لومړی مبحث :په اسلامي شریعت او نړیوالو تړونونو کې د هجرت او پناه اخیستنې مقام

دویم مبحث : د هجرت او پناه اخیستنې حکم او اسباب یې

دریم مبحث : د مهاجر او پناه اخیستونکي د راستنیدلو حکم او اسباب یې

چې لدې ځو موضوعاتو څخه به جلا جلا بحث وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی مبحث : په اسلامي شریعت او نړیوالو تړونونو کې د هجرت او پناه اخیستنې مقام

دا مبحث په دوه مطلبونو مشتمل دی :

لومړی مطلب : د هجرت او پناه اخیستنې مقام په اسلامي فقه کې

دویم مطلب : د هجرت او پناه اخیستنې مقام په نړیوالو تړونونو کې

چې په هر یو به یې دلته لنډ بحث وشي.

## لومړی مطلب : د هجرت او پناه اخیستنې مقام په اسلامي فقه کې

دا چې قرانکریم او نبوي احادیث د اسلامي فقهي لومړني او اتفاقي مصادر دي ، له همدې کبله د هجرت او پناه اخیستنې د مقام اړوند قراني او نبوي دلایل په لنډ ډول ذکر کیږي.

### لومړی پراگراف : په قرانکریم کې د هجرت او پناه اخیستنې مقام :

په قرانکریم کې په متعددو ځایونو کې د هجرت اوچت شان او مقام ته ، په مختلفو اسلوبو اشاره شوې ، په گڼو ایاتونو کې په ترتیب سره د ایمان ، هجرت او جهاد د سعادت او نیک بختۍ سباب او د خلاصون لار گڼل شوې د مثال په ډول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ – الله جل جلاله فرمايي : ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ يَرۡجُونَ رَحۡمَتَ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٢١٨﴾ ﴾[1]

ژباړه : ددې پر خلاف کومو خلکو چې ايمان راوړيدی او چاچې د خدای په لار کښې خپل کور وطن پريښی او جهاد يې کړيدی، هغوی حق لري چې د خدای د رحمت هيله من وي او الله د هغو د خطاوو ښښونکی او پر هغو د خپل رحمت پېرزو کوونکی دی.

ابن سعدي[2] رحمه الله د دې ايات په تفسير کې فرمايي :

دغه درې اعمال د سعادت عنوان او د عبادت محور دی ، پدې سره د انسان کته او تاوان معلوميږي ، د ايمان د فضيلت په اړوند خو هيڅ پوښتنه مه کوه ! ته به د هغه څه په اړه څه وه پوښتې چې هغه د نيک بخته او بدبخته او د جنتي او جهنمي ترمنځ جلا کوونکی دی !؟ ايمان هغه څه دی چې کله له انسان سره ؤ نيک اعمال يې قبليږي او که ور سره نه ؤ نو توبه او فديه ، همدارنگه فرض او نفل يې نه قبليږي ، د هجرت په اړوند : هجرت الله د رضاء لپاره د خپل خوښې او مينې پريښول دي ، مهاجر خپل وطن ، مال ، کورنۍ او دوستان الله لره د نزديکت له کبله او د هغه د دين د نصرت له کبله پريږدي ،

---

**1** - البقرة / ۲۱۸

**2** - عبد الرحمن بن ناصر بن عبدالله ، عالم او مفسر دی ، د سعودي په القصيم کې زيږيدلی ، د لس کلو ؤ چې پلار يې وفات شو ، قرانکريم او متون يې حفظ کړل ، الله جل جلاله ورته لوړه مرتبه ورکړه ، ډير گټور کتابونه يې ليکلي ، اکثر يې په تفسير او علوم القران کې دي، مشهور يې، تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان (http://www.mawsoah.net)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جهاد په اړوند : جهاد د دښمنانو په ټکولو کې خپل کوشش مصرفول دي او د الله د دين په نصرت کې پوره هڅه ده ، د شيطان د دين سپکول دي ، د نيکو اعمالو بوکان دی ، بدله يې تر ټولو نيکه بدله ده ، اسلام د دائرې د پراخوالي سبب دی ، د بوتانو عبادت کوونکو لره بې مرستندويه کوونکی دی ، د مسلمانانو د نفسونو ، مالونو او اولادونو په امن کوونکی دی ، چا چې دغه درې کاره ( ايمان ، هجرت او جهاد ) وکړل ، د دې د اوچت شان او تکليف له کبله ، دغه اشخاص واقعا همدوی د الله د رحمت اميدوار دي ، ځکه دوی د رحمت واجبوونکی اعمال سر ته ورسولو[1].

امام شوکاني[2] د دې ايات اړوند ليکي : الله عزوجل دا سورت د مولات په ذکر کولو سره ختم کړ ، تر څو هره ډله خپل دوستان وپيژني او مرسته ورڅخه وغواړي[3].

۲ – همدغه رنګه ايمان ، هجرت او جهاد د مغفرت او عزتمند رزق سبب ذکر شوی او هجرت د ايمان د ثبوت په ډول بيان شوي ، الله عزوجل

---

1 - السعدي ، عبد الرحمن بن ناصر بن عبد الله (١٤٢٠هـ ٢٠٠٠ م) : تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان ، تحقق: عبد الرحمن بن معلا اللويحق ، مؤسسة الرسالة، ص ٩٨.

2 - محمد بن علي بن محمد بن عبدالله الشوكاني اليمني ، فقيه او مجتهد دی ، د يمن له لويو علماؤ شمارل کيږي ، د يمن په شوکان سيمه کې پيدا شوی او په صنعاء کې لوی شوی ، د قضاء ، افتاء او د دعوت په چارو کې مصروف ؤ کله چې پکې د اجتهاد شرائط پوره شول تقليد يې ترک کړ ، او د صنعاء په ښار کې وفات شو ، مشهور مؤلفات يې دا دی : نيل الأوطار په حديثو کې ، فتح القدير په تفسير کې. (الموسوعة العربية العالمية **http://www.mawsoah.net**)

3 - السيواسي ، كمال الدين محمد بن عبد الواحد ابن الهمام : فتح القدير ، ٢ / ٣٧٥.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرمائي : ﴿وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ ءَاوَواْ وَّنَصَرُوٓاْ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُؤْمِنُونَ حَقًّاۚ لَّهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿٧٤﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنۢ بَعْدُ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ مَعَكُمْ فَأُوْلَٰٓئِكَ مِنكُمْۚ﴾[1]

ژباړه : کومو خلکو چې ایمان راوړ او د الله په لار کښې یې هجرت وکړ او جهاد یې وکړ او کومو خلکو چې پناه ورکړه او مرسته یې وکړه هماغوی رېښتیني مؤمنان دي. د هغو لپاره د گناهونو بښنه او ډېره ښه روزي ده.

او کومو کسانو چې وروسته ایمان راوړ او بیایې هجرت وکړ او له تاسې سره یو ځای یې په جهاد لاس پورې کړ هغوی هم له تاسې څخه دي.

ابن سعدي رحمه الله فرمائي : مخکني ایاتونه د مهاجرو او انصارو مؤمنانو ترمنځ د مولاة د عقد په اړوند وه او دا ایاتونه د دوی د مدح او ثواب په اړوند دي ، [أُولَـئِكَ هُمُ ٱلْمُؤْمِنُونَ حَقّ] یعني مهاجرین او انصار رښتیني مؤمنان دي ، ځکه دوی خپل ایمان په هجرت او له یوه بل سره په کومک ، دوستئ او د دکفارو او منافقانو سره په جهاد کولو سره ثابت کړ ، [لَّهُم مَّغْفِرَةٌ ] دوی ته د الله له لوري بښنه ده ، چې په هغې سره به یې گناهونه محوه شي او سهوې به یې پرې ورژیړي او دوی ته به جنت کې لوي خیر ورسیږي[2].

همدغه رنگه گڼ شمیر ایاتونو کې د مهاجرینو د ثوابونو او اوچت مقام څخه یادونه شوې: لکه الله عزوجل فرمایي ﴿**وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ فِي ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ**

---

1 - الأنفال / ۷۵-۷۴

2 - السعدي ، عبد الرحمن بن ناصر بن عبد الله (۱۴۲۰هـ ۲۰۰۰ م) :تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان ، ص ۳۲۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَا ظُلِمُواْ لَنُبَوِّئَنَّهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗۖ وَلَأَجۡرُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَكۡبَرُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ﴿٤١﴾ ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٤٢﴾ [1]

ژباړه : کومو خلکو چې د ظلم له زغملو نه وروسته د الله په خاطر هجرت کړېدی هغو ته به مونږ په همدې دنیا کښې ښه استوګنځی ورکړو او د اخرت ثواب خو ډېر لوی دی. کاشکې هغه مظلومان وپوهېږي چې صبر یې کړیدی او د خپل رب په توکل کار کوي (چې څه ډول عاقبت د هغو په انتظار کښې دی.).

ابن جرير الطبري[2] رحمه الله د دې ايات په تفسير کې فرمايي : الله جل جلاله فرمايي ، هغه کسانو چې خپل قوم ، کورونه او وطنونه د دوی سره د دښمنۍ له کبله پريخول چې دغه دښمني دوی سره د الله جل جلاله باندې د کفر له کبله وه او د (**وَلَأَجۡرُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَكۡبَرُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ**) په اړوند وايي : او الله جل جلاله چې دوی ته د هجرت بدله کې کوم ثواب ورکوي هغه ډير

---

1 - النحل / ۴۱ – ۴۲.

**2** - ابن يزيد بن کثير ، امام ؛ عالم او مجتهد دی ، اسم کنيه يې ابو جعفر او لقب يې طبري وه ، د طبرستان اوسيدونکی دی ، ۲۲۴هـ کې زيږيدلی ، د زمانې عالم او ذکي شخص ؤ ، ګڼ کتابونه يې وليکل ، په ۳۱۰هـ کې د شوال په مياشت کې وفات او په بغداد کې دفن شو. (الذهبي ، شمس الدين أبو عبد الله (۱۴۲۷هـ ـ ۲۰۰٦م) : سير أعلام النبلاء ، القاهرة ، دار الحديث ، ۱۱ / ۱۷۱ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی دی ، ځکه په جنت کې چې الله دوی ته کوم ثواب ورکوي هغه جنت دی چې نعمتونه دوام داره او نه زړیدونکي دي[1].

همدارنګه فرمايي (ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُوا مِنْ بَعْدِ مَا فُتِنُوا ثُمَّ جَاهَدُوا وَصَبَرُوا إِنَّ رَبَّكَ مِنْ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿١١٠﴾ [2])

ژباړه : ددې پر خلاف د کومو کسانو چې دا حال دی چې کله (د ايمان راوړلو له امله) وځورول شول؛ نو هغوی کور کلی پريښود، هجرت يې وکړ، د خدای په لياره کښې يې جهاد وکړ او له صبر نه يې کار واخيست، د هغو لپاره په يقيني ډول ستا رب په پايله کې ښښونکی رحم کوونکی دی.

همدارنګه فرمايي (وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ قُتِلُوا أَوْ مَاتُوا لَيَرْزُقَنَّهُمُ اللَّهُ رِزْقًا حَسَنًا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ لَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴿٥٨﴾ [3])

ژباړه : اوکوموکسانو چې دالله په لاره کښې هجرت وکړ، بيا ووژل شول يا په خپل مرګ مړه شول، الله به هغوته غوره روزي ورکړي، او بېشکه يوازې الله ډېر ښه روزي ورکوونکی دی.

ابن جرير رحمه الله د دې ايات اړوند فرمائي : کومو خلکو چې وطن او قوميان د الله جل جلاله د رضاء ، اطاعت او د الله د دښمنانو سره د جهاد له

---

1 - الطبري ، محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي (١٤٢٢هـ ـ ٢٠٠١م) : جامع البيان في تأويل القرآن ، تحقيق: الدكتور عبد الله بن عبد المحسن التركي ، دار هجر للطباعة والنشر والتوزيع والإعلان ، ١٤ / ٢٢٣.

2 - النحل / ١١٠.

3 - الحج / ٥٨.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کبله پرېښودل ، بیا ووژل شوه او یا په خپل مرګ مړه شول او دوی په خپل حالت کې وه نو الله عزوجل به د قیامت په ورځ په جنت کې ښایسته رزق ورکړي او د رزق حسن څخه ډېر زیات ثواب مراد دی[1].

لکه څرنګه چې مخکې دا ذکر شوې وه چې ، هجرت او پناه اخیستنه په اسلامي شریعت کې سره څه توپیر نلري ، التبه که غیر مسلم د اسلامي هیواد څخه پناه غواړي نو دېته په اسلامي فقه کې مستامن ویلی شو نه مهاجر چې قرانکریم په دې اړوند وائي : (**وَإِنۡ أَحَدٞ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٱسۡتَجَارَكَ فَأَجِرۡهُ حَتَّىٰ يَسۡمَعَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ثُمَّ أَبۡلِغۡهُ مَأۡمَنَهُۥۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَعۡلَمُونَ ٦**)[2]

ژباړه : او که له مشرکانو نه کوم څوك په پناه غوښتلو تا ته راشي (تر څو چې د الله کلام واوري) نو هغه ته پناه ورکړه تر دې پورې چې د الله کلام واوري. بیا هغه د هغه دامن تر ځایه ورسوه. دا ددې له پاره باید وشي چې دوی علم نلري.

له پورته ایاتونو د هجرت او مهاجرینو لوړ مقام معلومیږي ، همدغه رنګه ګڼ شمیر ایاتونه نور هم د هجرت د عالي مقام اړوند شته چې د بحث د اوږدیدو له کبله ترې تیریږو.

---

1 - الطبري، محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي (١٤٢٢هـ ـ ٢٠٠١م) :جامع البيان في تأويل القرآن ، **16/ ١٩٦**.

2 - التوبه / ٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویم پراګراف : نبوي احادیثو کې د هجرت او پناه اخیستنې مقام

د هجرت او مهاجر د لوړ مقام اړوند په نبوي احایثو کې هم ګڼ شمیر څرګندونې شته چې دلته یې د مثال په ډول له څو روایاتو یادونه کیږي:

١ – امام مسلم رحمه لله د عمرو بن العاص[1] رضی الله له قوله نقل کوي: (فَلَمَّا جَعَلَ اللَّهُ الْإِسْلَامَ فِي قَلْبِي أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ ابْسُطْ يَمِينَكَ فَلْأُبَايِعْكَ فَبَسَطَ يَمِينَهُ قَالَ فَقَبَضْتُ يَدِي قَالَ مَا لَكَ يَا عَمْرُو قَالَ قُلْتُ أَرَدْتُ أَنْ أَشْتَرِطَ قَالَ تَشْتَرِطُ بِمَاذَا قُلْتُ أَنْ يُغْفَرَ لِي قَالَ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ الْإِسْلَامَ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ وَأَنَّ الْهِجْرَةَ تَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلِهَا وَأَنَّ الْحَجَّ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ[2])

ژباړه : کله چې الله جل جلاله زما په زړه کې اسلام ته ځای ورکړ ، رسول الله ته راغلم ورته مې وویل ښي لاس را اوږد کړه بیعت در سره کوم ، ښي

[1] - عمرو بن العاص بن وائل بن هاشم ، اسم کنیه یې ابو عبدالله وه ، احزاب له غزا وروسته حبشې ته ولاړ او هماغلته مسلمان شو او نجاشي ته یې د خپل ایمان څرګندونه وکړه ، عمرو بن العاص ، خالد بن ولید او عثمان بن طلحه مدینې ته رسول الله ته مهاجر شول ، لومړی خالد بن ولید او بیا عمرو بن العاص له رسول الله سره بیعت وکړ ، په مصر کې والي ؤ او په ۴۳هـ په مصر کې د وړوکي اختر په ورځ د سل کالو په عمر وفات شو او جنازه یې خپل ځوی عبدالله وکړه ، وګورۀ ، أبو نعیم أحمد بن عبد الله بن أحمد الأصبهاني: معرفة الصحابة ، تحقیق: عادل بن یوسف العزازي ، دار الوطن للنشر، الریاض ، لومړی چاپ ، ( ۱۴۱۹ هـ - ۱۹۹۸ م ) ۴ / ۱۹۸۷.

[2] - رواه مسلم ، کتاب الایمان ، باب کون الإسلام یهدم ما قبله وکذا الهجرة والحج .

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس يې را اوږد کړ ، لاس مې يې وه نيوه ، راته يې وويل : [ څه درباندې شوي اى عمرو ! ] ورته مې وويل : غواړم يو شرط کيږدم ، هغه مبارک وفرمايل : [ څه شرط ] ورته مې وويل : چې ببښنه راته وشي ، رسول الله راته وفرمايل : [ تا ته پته نشته چې ، اسلام مخکني گناهونه له منځه وړي ، هجرت مخکني گناهونه ختموي او حج وړاندني گناهونه له منځه وړي.

٢ – مهاجرين به لومړنۍ ډله وي چې بې حسابه جنت ته داخليږي :
عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عمرو[1] رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَتَعْلَمُ أَوَّلَ زُمْرَةٍ تَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي؟» قَالَ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ فَقَالَ: " الْمُهَاجِرُونَ يَأْتُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى بَابِ الْجَنَّةِ وَيَسْتَفْتِحُونَ ، فَيَقُولُ لَهُمُ الْخَزَنَةُ، أَوَ قَدْ حُوسِبْتُمْ، فَيَقُولُونَ بِأَيِّ شَيْءٍ نُحَاسَبُ، وَإِنَّمَا كَانَتْ أَسْيَافُنَا عَلَى عَوَاتِقِنَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ، حَتَّى مِتْنَا عَلَى ذَلِكَ، قَالَ: فَيُفْتَحُ لَهُمْ، فَيَقِيلُونَ فِيهِ أَرْبَعِينَ عَامًا قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَهَا النَّاسُ [2].

ژباړه : عبدالله بن عمرو رضى الله عنه فرمائي ، رسول الله صلى الله عليه وسلم راته وفرمايل : [ هغه ډله پيژنې چې زما د امت څخه اول جنت ته

[1] - عبدالله بن عمرو بن العاص بن وائل ، اسم کنيه يې ابو محمد يا ابونُصَيْر يا ابو عبدالرحمن ؤ ، د ورځې به يې روژې نيولې او د شپې به يې تهجد کول او ښځو سره به نه يوځاى کيده ، رسول الله ورته وويل چې روژه هم نيسه او افطار هم کوه ، تهجد هم کوه او خوب هم کوه او ښځو سره هم يوځاى کيږه ، او هرو اوو ورځو کې يوځل قرانکريم ختم کوه ، ٦٣هـ يا ٦٥هـ يا ٦٨هـ کې وفات شو او څوک وايي چې مکه کې څوک وايي په طايف او يا مصر کې وفات شوى وگورهٔ ، أبو نعيم أحمد بن عبد الله بن أحمد الأصبهاني: معرفة الصحابة ، ٣ / ١٧٢١.

2 - رواه الحاکم في المستدرک ، کتاب الجهاد ، حديث نمبر ٢٣٨٩ ، حاکم وائي دا حديث صحيح دى او د شيخينو ( بخاري او مسلم ) په شروطو برابر دى خو هغوئ ندى تخريج کړى او امام ذهبي په تلخيص الذهبي کې دا خبره تصديق کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داخلیږي ؟ ] ورته مې وویل الله او د هغه رسول ښه پوهیږي ، راته یې وفرمایل [ دا مهاجرین دي چې جنت ته به راځي او د جنت دروازې به ورته خلاصې وي]. ساتونکي ورته وائي : حساب در سره وشو !؟ ، دوی به ورته ووائي : د کوم شي حساب به راسره کیږي ؟ تورې مو د الله په لار کې په اوږو وې ، تر دې چې په همدې حالت کې مړه شو رسول الله وفرمایل : [ بیا ورته دروازه خلاصه شي ، دوی به پکې څلویښت کاله خوب وکړي مخکې لدې چې نور خلک جنت ته داخل شي].

۳ – هجرت د مشکلو عباداتو له جملې څخه دی : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ[1] رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ أَعْرَابِيًّا سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الهِجْرَةِ، فَقَالَ: «وَيْحَكَ، إِنَّ شَأْنَهَا شَدِيدٌ، فَهَلْ لَكَ مِنْ إِبِلٍ تُؤَدِّي صَدَقَتَهَا؟» قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: «فَاعْمَلْ مِنْ وَرَاءِ البِحَارِ، فَإِنَّ اللَّهَ لَنْ يَترِكَ مِنْ عَمَلِكَ شَيْئًا»[2]

ژباړه : د ابو سعید خدري رضی الله عنه څخه روایت دی ، یو اعرابي له رسول الله څخه د هجرت اړوند پوښتنه وکړه ، رسول الله ورته وفرمایل : [ غرق نشې ، هجرت خو ډیر سخت کار دی ، اوښان لرې ؟ او زکاة یې ورکوې ؟ ]] هغه ورته وویل : هو ، رسول الله ورته وفرمایل : [ له ښارونو لرې اوسیږه ، الله عزوجل ستا له اعمالو هیڅ هم نه کموي ]

---

[1] - سعد بن مالک بن سنان بعضي وائي عبید بن ثعلبة بن عبد مشهور په ابو سعید الخدري ، په مدینه کې یې استوګنه لرله او همدې مدینه کې د جمعې په ورځ ۷۴هـ کې د ۸۴ کالو په عمر وفات او په بقیع کې دفن شو وګورۀ ، أبو نعیم أحمد بن عبد الله بن أحمد الأصبهاني: معرفة الصحابة ، ۳ / ۱۲۶۱.

[2] - رواه البخاري ، کتاب الزکاة ، باب زکاة الابل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (إِنَّ شَأْنَ الْهِجْرَةِ شَدِيدٌ) مقصد دا دی چې : د هجرت حق اداء کول سخت دي ، د دې حق لږ خلک ادا کولی شي ، کیدای شي په پوښتنه کوونکي باندې دا کار سخت تمامیده1.

۴ – عامو مسلمانانو ته حق ورکړل شوی چې په فردي شکل پناه غوښتوونکو ته پناه ورکړي لکه د علي رضی الله عنه دا حدیث پدې خبره څرګند دلالت کوي : (عَنْ عَلِيٍّ[2] رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: مَا كَتَبْنَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا القُرْآنَ وَمَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «المَدِينَةُ حَرَامٌ مَا بَيْنَ عَائِرٍ إِلَى كَذَا، فَمَنْ أَحْدَثَ حَدَثًا أَوْ آوَى مُحْدِثًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالمَلاَئِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لاَ يُقْبَلُ مِنْهُ عَدْلٌ وَلاَ صَرْفٌ، وَذِمَّةُ المُسْلِمِينَ وَاحِدَةٌ، يَسْعَى بِهَا أَدْنَاهُمْ .الخ[3])

ژباړه : د علی رضی الله عنه څخه روایت دی چې وه یې فرمایل : مونږ د رسول الله څخه څه ندي لیکلی مګر قرانکریم او هغه څه چې پدې صحیفه کې دي ، رسول الله فرمایي : [ مدینه حرامه ده د عائر غر څخه تر دې ځایه ، چا چې بد کار وکړ او یا یې یوه جنایت کار ته پناه ورکړه په هغه دې د الله ،

---

[1] - العظيم آبادي ، محمد أشرف بن أمير بن علي بن حيدر ( ١٤١٥هـ ) : عون المعبود شرح سنن أبي داود ، بيروت ، دار الكتب العلمية ، ٧ / ١١١.

[2] - علی بن ابي طالب بن عبد المطلب بن هاشم په بدر کې یې په ۲۰ کلنۍ کې برخه اخیستې وه ، درې میاشتې کم پنځه کاله خلافت یې وکړ په ۴۰هـ د ٦٣ کالو په عمر د ابن ملجم المرادي لخوا د کوفي په مسجد کې د سهار لمانځه پرمحال د جمعې په ورځ د رمضان میاشت کې په توره ووهل شو او د شنبې په ورځ کې په شهادت ورسیدو او خپل ځوئ حَسَن بن علي ورباندې جنازه وکړه . وګورهٔ ، أبو نعيم أحمد بن عبد الله بن أحمد الأصبهاني: معرفة الصحابة ، ۴ / ١٩٦٨

**3** - رواه البخاري ، كتاب الجزية ، باب إثم من عاهد ثم غدر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملایکو او ټولو انسانانو لعنت وي ، لده څخه به فرض او نوافل قبول نشي ، د مسلمانانو عهد یو دی ، چې ادنی شخص ته هم شامل دی [ کله چې یوه مسلمان چاته امان وکړ په ټولو مسلمانانو یې احترام واجب دی ] .

چې له پورته حدیث څخه په څرګنده معلومیږي چې ادنی مسلمان هم کولی شي په فردي شکل یوه پناه غوښتونکی ته پناه ورکړي.

چې دغه پورته ټول نبوي دلایل د هجرت او پناه اخیستني په عالي مقام دلالت کوي او دا په ګوته کوي چې اسلامي فقې د هجرت او پناه اخیستنې ضرورت درک کړی.

## دویم مطلب : د هجرت او پناه اخیستنې مقام په نړیوالو تړونونو کې

دا یو ثابت حقیقت دی چې د هر شي اهمیت هغه شي ته د ضرورت څخه معلومیدلی شي ، څومره چې یو شي ته ضرورت وي هماغه اندازه یې اهمیت هم وي ، د هجرت او پناه اخېستنې د حق اهمیت ته دکتور مصطفی نیازي داسې اشاره کوي : تر هغې پورې د انسان حقوق او ازادۍ نه بشپړیږي تر څو چې د دې احساس ورسره نه وي پیدا شوی چې دې په انتقال کې ازاد دی ، هیڅ ډول قیودات وربانديې نشته ، هر ځای چې د هیواد په دننه کې د خپل ژوند د اوسیدنې لپاره مناسب ګڼي هم هلته ووسئ ، دارنګه حق لري چې هر هیواد پریږدي او بل ښار ته لاړ شي ، نو دا چې پدغو حقوقو کې نیمګړتیا نه وي راغلي او هم نړیواله بڼه خپله کړي ، نو یو شخص کولی شي په بل هیواد کې د ځان لپاره ځآی وګوري په تیره بیا هغه مهال چې په خپل هیواد کې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګواښونو سره مخ وي ، برابره خبره ده که دا هر راز ګواښونه وي ، خو په ځانګړي ډول د حکومت له لوري ګواښونه[1].

په همدې اساس نړیوالو تړونونو هجرت او پناه اخېستنه د بشر له اساسي حقوقو څخه یو حق ګڼلی ، چې لدغه تړونونو څخه یې اساسي تړون د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه ده ، نوموړی اعلامیه د هجرت حق په اړوند په دیارلسمه ماده کې وائي : ( الف : هر څوک حق لري چې د هر هیواد په دننه کې ازادانه تګ او راتګ وکړي او د استوګنې ځای انتخاب کړي.

ب : هر څوک حق لري ، چې د خپل هیواد په ګډون هر هیواد پریږدي او یا خپل هیواد ته راستون شي.[2])

چې پورته ماده بشر ته د داخلي او خارجي هجرتونو حق ثابتوي ، بشر د هیواد په داخل کې د ازاد تګ راتګ حقدار بولي او همدارنګه بشر ته حق ورکوي چې د خپل هیواد څخه بهر هجرت وکړي او یا خپل هیواد ته راستون شي .

همدارنګه ۱۴ ماده کې د پناه اخیستنې په اړوند وایي: ( الف : هر څوک حق لري ، چې د ځورونې او تعقیب په وړاندې په نورو هیوادونو کې د پناه په لټه کې شي او په نورو هیوادونو کې پناه واخلي.

---

**1** - نیازی ، محمد مصطفی ( ۱۳۹۰المریز ) : د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه د اسلام په رڼا کې ، جلال اباد ـ افغانستان ، حکمت خپرندویه ټولنه ، ص ، ۹۷.

2 - ناصري ، صفي الله : نړیوال سندونه ( د ملګرو ملتونو منشور ، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه ، د بشر حقونو اسلامي اعلامیه ) ص ۵۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب : له دغه حق څخه په هغه وخت کې گټه نه شي اخيستل کيدای ، که چيرته تعقيب د غير سياسی جرم او يا د داسې اعمالو د ترسره کولو له امله وي چې د ملگرو ملتونو له موخو او اصولو سره توپير لري.[1]

دغه ماده بشر ته د تعقيب په وړاندې د پناه غوښتنې حق ثابتوي ، البته دا هم ورته په گوته کوي چې بشر نشي کولی د غير سياسي جرايمو او يا هغه جرايمو په مقابل کې د پناه غوښتونکی شي چې د ملگرو ملتونو له موخو او اصولو سره توپير ولري ، تر څو بشر و نشي کولی په خلاص مټ جرايم تر سره کړی او بل هيواد کې پناه واخلي.

همدغه رنگه د : د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسيون ( ۱۹۵۱ جولای ۲۸) [2] ايجاد د پناه اخيستنی حق ته په درنده د کتلو په معنی دي ، چې پدغه کنوانسيون کې د پناه وړونکو ځانگړي حقوق او وجايب په پام کې نيول شوي او همدغه رنگه د ژمنو دولتونو وظائف پکې په نظر کې نيول شوي ، چې دا خپله د پناه وړونکو حقوقو ته په درنده کتل او د هغوی حقوق تظمينوي.

د دې ترڅنگ د :د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند پروتوکول( ۱۹٦۷ د جولای ۳۱ )[3]

تر سره کول هم د دې لپاره شوي تر څو چې د پناه وړونکو حقوق خوندي شي او د دوی حقوق ته زيان ونه رسيږي .

---

[1] - هماغه مرجع ، ص ٥٦.

**2** - د عدلي وزارت رسمي جريده ، (د ۱۳۸۵هـ ش کال) د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسيون ( ۱۹۵۱ جولای ۲۸) پرله پسي نمبر (۹۰۲)

[3] - د عدلي وزارت رسمي جريده ، (۱۳۸۵هـ ش کال) د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند پروتوکول ( ۱۹٦۷ د جولای ۳۱) ، پرله پسي نمبر (۹۰۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنگه ژمن دولتونه مکلف گڼل شوي چې د د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسیون ( ۱۹۵۱ جولای ۲۸) احکام بغیر له تبعیضه اجراء کړي ، نوموړی کنوانسیون په دریمه ماده کې وايي ( ژمن دولتونه به د پناه وړونکو په هکله د دې کنوانسیون مقررات د توکم [ نژاد ] یا مذهب یا اصلي قلمرو له لحاظ له تبعیض پرته اجراء کړي. 1)

او تر ټولو مهمه دا چې د ملگرو ملتونو د کډوالو عالي کمشنري ایجاد د دې لپاره شوې تر څو د مهاجرینو او پناه وړونکو ستونزو ته په غوره توگه د حل لار ولټوي ، تر څو په نړۍ کې د هجرت او پناه اخیستني پدیدې ته په سمه توگه جواب ورکړای شي.

د ملگرو ملتونو د کډوالو عالي کمشنري ( **UNHCR** ) د ملگرو ملتونو د عمومي مجمع لخوا په ۱۹۴۹ز کال تصمیم ونیوه چې یوه د کډوالو لپاره عالي کمشنري جوړه کړي ، د اساسنامې له تصویب څخه وروسته د ملگرو ملتونو د عالي کمشنري دفتر عملا خپل کار په ۱۹۵۱ز کې پیل کړ ، د دې سازمان مقر په جینوا کې دی ، د دې سازمان وظیفه په نړیواله سطحه د کډوالو حمایت دی همدارنگه دا کمشنري پدې هڅه کې ده چې د کډوالۍ مشکل ته د پای ټکی کیږدي[2].

---

**1** - د عدلي وزارت رسمي جریده ، (د ۱۳۸۵هـ ش کال) د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسیون ( ۱۹۵۱ جولای ۲۸) پرله پسي نمبر (۹۰۲)

[2] - موسی زاده ، رضا ( ۱۳۹۳هـ ش ) : سازمان های بین المللي ، بنیاد حقوقي میزان ، ص ۲۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مقارنة

د اتفاق نقطې :

په دنیا وي لحاظ اسلامي فقه او نړیوال تړونونه انسان ته د هجرت حق ورکوي او د مهاجرینو د ژوند د خوندیتوب لپاره کار کوي ، هجرت د بشر له اساسي حقوقو څخه یو حق ګڼي او په همدغه اړخ کې دواړه موافق دي.

د اختلاف نقطې : اسلامي فقه کې په هجرت او پناه اخیستنې باندې دنیاوي او اخروي نتایج مرتب کیږي ، مثلا : په اخروي لحاظ د الله د رحمت امید ، تر ټولو مخکې جنت ته داخلیدل ، د مغفرت سبب ګرځیدل او د اخرت د لویو اجرونو طمعه ورکول ، همدارنګه په دنیاوي لحاظ د عزتمند رزق سبب ګڼل شوی ، په دنیا کې دایمان او مسلمانانو سره دمولاة ثبوت دی ، له همدې کبله اجرایوي ضمانت یې ډیر قوي او پیاوړی دی.

خو په نړیوالو تړونونو کې بیا یواځې همدا چې هجرت او پناه اخیستنه د انسان یو له اساسی حقوقو څخه ګڼل شوی او د مهاجرینو او پناه وړونکو مشکلاتو لپاره یوه نړیواله شبکه جوړه شوې او طبعا اخروي اړخ یې له پامه غورزول کیږي ، په همدې لحاظ اجرایوي ضمانت یې ډیر کم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دويم مبحث : د هجرت او پناه اخيستنې حکم او اسباب يې

په دې مبحث کې به د هجرت او پناه اخېستنې په اسبابو او حکم رڼاء واچول شي په همدې خاطر دا مبحث په دوه مطلبونو مشتمل دی :

لومړی مطلب : د هجرت او پناه اخيستني اسباب

دويم مطلب : د هجرت او پناه اخيستې حکم

چې هر يو يې دلته جلا جلا مطالعه کؤ.

## لومړی مطلب : د هجرت او پناه اخيستني اسباب

دا چې د هجرت او پناه اخيستني اصطلاح په نړيوال قانون کې سره توپير لري او هغه دا چې هجرت اختياري وي او پناه اخيستنه د هغه ډار له کبله وي چې يو شخص ورسره مخامخ وي.

او د اسلامي فقهي له ليده که مسلمان پناه اخيستني ته مجبوريږي نو هجرت ورته ويلی شو او که پناه اخيستونکی غير مسلم وي نو بيا د مستامن په نوم سره ياديږي ، په همدې اساس لومړی د هجرت اسباب او بيا د پناه اخېستنې اسباب مطالعه کؤ :

### لومړی پراگراف : د هجرت اسباب

هجرت گڼ شمير اسباب لري چې دلته پرې بحث کيږي :

لومړی سبب : د دين او نفس ساتنه (حفظ الدين او حفظ النفس)

کله چې د يوه انسان نفس او ځان ته خطر متوجه وي ، يا يې دين ته خطر متوجه وي او نشي کولی خپل ديني شعاير او ژوند په عادي حالت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرمخ يو سي ، مجبوريږي چې لدغې خاورې هجرت وکړي او په بل هيواد کې پناه واخلي ، لکه صحابه کرامو حبشي ته لومړی او دويم هجرت د ديني شعايرو په سمه توګه تر سره کولو او د ځان ساتنې لپاره تر سره کړ [1]، همدارنګه اصحاب کهف د ديني شعارئرو په سمه توګه تر سره کولو او د ځان ساتنې په خاطر ځمځې ته پناه ويوړه[2].

اسلامي شريعت د درې ډوله مقاصدو د لاسته راوړلو لپاره وضع شوی ، چې د ضروريات ، تحسينيات او حاجياتو [3]څخه مراد دی ، لومړی قسم يې بيا پنځمه خبرې په بر کې نيسي ، د دين حفاظت د نفس حفاظت ، د نسل حفاظت ، د مال حفاظت او د عقل حفاظت دی[4] ، چې دلته په ډاګه

---

[1] - په دې اړوند د همدې بحث ( ۴۵ - ۴۶) صفحه وګوره.

[2] - په دې اړوند د همدې بحث (۴۴ - ۴۵ ) صفحه وګوره.

[3] - ضروريات : چې د دين او دنيا د مصالحو لپاره حتمي وي ، په دې طريقه چې کله له منځه لاړ شي نو د دنيا مصالح خوندي نه وي بلکې په فساد او فتنو کې ښکيل شي او ژوند له منځه لاړ شي او په اخرت کې خلاصون او نعمتونه فوت شي او انسان څرګند تاوان سره مخ شي.
او حاجيات : په ژوند کې د پراخۍ راولي او د تنګوالي مخه نيسي او په فوت سره يې انساني ژوند په تکليف او مشقت کې تيريږی.
او تحسينيات : د ښايسته عاداتو د اخستلو او د چټلو عاداتو د ختمولو په معنی دی او دا ښايسته اخلاق ګڼل کيږي ، وګوره : الشاطبي ابو اسحاق ، إبراهيم بن موسى اللخمي الغرناطي المالكي (ب.ت): الموافقات في اصول الشريعة ، دار الفكر العربي ، ۲ / ۱۷ ، ۲۱ ، ۲۲.

[4] - وګوره : الشاطبي ابو اسحاق ، إبراهيم بن موسى اللخمي الغرناطي المالكي : الموافقات في اصول الشريعة ، ۲ / ۸ ـ ۱۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلومیږي چې د شریعت د پنځه مقاصدو څخه لومړی مقصد د دین او دویم مقصد د نفس ساتنه ده.

ابن العربي رحمه الله هجرت شپږ اقسامو ته تقسیم کړی چې عبارت دي له : دار کفر نه دار اسلام ته هجرت ، د بدعت له خاورې څخه هجرت کول ، له هغه ځایه هجرت چې حرام پکې عام شوي وي ، د بدني تکلیف څخه هجرت ، له هغه ځایه هجرت چې امراضو پکې حالات ترنګلي کړي وي ، په خپل مال د ویرې په حالت کې هجرت[1].

چې د لومړنیو درې اقسامو سبب یې د دیني شعائرو ساتنه ده.

او د څلورم او پنځم قسم سبب یې د نفس ساتنه ده.

او شپږم یې د مال ساتنې لپار هجرت کول دي.

دویم سبب : د مسلمانانو تقویه او غیر مسلمو کمزوري کول ( جهاد )

د هجرت یو سبب هم د مسلمانانو تقویه او غیر مسلمو کمزوري کول دي ، قرانکریم په ګڼو ځایونو کې هجرت او جهاد یوځای ذکر کړي لکه په دغه ایات کې[2] ، ﴿وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ ءَاوَواْ وَّنَصَرُوٓاْ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُؤْمِنُونَ حَقًّاۚ لَّهُم مَّغْفِرَةٞ وَرِزْقٞ كَرِيمٞ ﴿٧٤﴾[3]

---

[1] - په دې اړوند د همدې بحث (۲۳ - ۲۵) صفحې وګوره.

2- طنطاوي ، محمد سید: التفسیر الوسیط للقران الکریم ، الفجالة – القاهرة ، دار نهضة مصر للطباعة والنشر والتوزیع ، ٦ / ١٨٥.

3 - الأنفال / ۷۵-۷۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : کومو خلکو چې ایمان راؤړ او د الله په لار کښې یې هجرت وکړ او جهاد یې وکړ او کومو خلکو چې پناه ورکړه او مرسته یې وکړه هماغوی ریښتیني مؤمنان دي. د هغو لپاره د ګناهونو بښنه او ډېره ښه روزي ده.

دریم سبب : د دعوت نشر

د انبیاؤ د هجرت اصلي سبب همدا ؤ ، همدارنګه هغه صحابه چې د نړۍ په مختلفو سیمو کې دفن شوي ؛ د همدې سبب له کبله یې هجرت کړې ؤ ، په مسجد حرام کې د لمانځه ثوابونه یې د دې ثواب لپاره ترک کړي وه ، خپل کورونه او ښارونه یې د دعوت د رسولو لپاره پریخي وه [1].

څلورم سبب : اقتصادي ضرورتونه

په قرانکریم کې د قریشو له دوه هجرتونو یادونه شوې چې په ژمي کې یمن او اوړي کې شام ته د تجارت لپاره تر سره کیدل[2]. الله عزوجل فرمائي :

(لِإِيلَٰفِ قُرَيْشٍ ۝١ إِۦلَٰفِهِمْ رِحْلَةَ ٱلشِّتَآءِ وَٱلصَّيْفِ ۝٢) [3]

ژباړه : له دې امله چې قریش مینه ناك شول، (یعنې) دیخنۍ او تودوخې دپردېسېو مینه ناك.

چې دغه د قریشو دغه دوه سفرونو څخه په لغوي لحاظ سره په هجرت سره تعبیر کیدلی شي.

1 - حليمة ،عبد المنعم مصطفى(ب.ت):الهجرة مسائل وأحكام، ص ١٥.

2 - ابن كثير ، إسماعيل بن عمر القرشي الدمشقي (١٤٢٠هـ ١٩٩٩م ) : تفسير القرآن العظيم ، المحقق : سامي بن محمد سلامة ، دار طيبة للنشر والتوزيع ، ٨ / ٤٩١.

3 - القريش / ١ ـ ٢.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم سبب : تعليم او تعلم

يو سبب د هجرت له اسبابو څخه د تعليم او تعلم لپاره هجرت كول دي ، لكه رسول الله صلى الله عليه وسلم لخوا مصعب بن عمير رضى الله عنه د انصارو سره مدينې ته وليږل شو تر څو هغوی ته د دين تعليم وركړي[1].

## دويم پراگراف : د پناه اخيستنې اسباب

د پناه وړونكی په وضع پورې اړوند كنوانسيون كوم چې ۱۹۵۱ز كې تر سره شوې په لومړۍ ماده ( الف ) برخې [ ۲ ] فقره كې د پناه اخيستنې اسباب داسې راپه گوته كوي (لدې څخه د موجه ويرې له امله چې د توكم [ نژاد ] مذهب ، په خاصو ټولنيزو ډلو كې د غړيتوب يا د سياسي عقيدې په لرلو پورې په اړوندو علتونو تر شكنجې لاندې ونيول شي ، د خپل تابعيت له هيواد څخه په بهر كې ژوند كوي او نشي كولای يا د ويرې په علت نوموړی نه غواړي ځان د هغهٔ هيواد تر ملاتړ لاندې راولي.)

له پورته عبارت څخه داسې نتيجه اخستلای شو چې د پناه اخيستنې اسباب هغه ويره دې چې د دې لاندې اسبابو له كبله منځ ته راځي :

لومړی سبب : خاص نژاد له كبله پيدا شوې ويره

دويم سبب : خاص دين ته د نسبت له كبله پيدا شوې ويره

دريم سبب : خاص اجتماعي ډلې ته د د نسبت له كبله پيدا شوې ويره

څلورم سبب : خاص سياسي نظريې له كبله پيدا شوې ويره

---

1 - ابن كثير ، إسماعيل بن عمر(۱۴۰۸هـ ۱۹۸۸م ) :البداية والنهاية ، ۳ / ۱۸۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه نور هغه اسباب چې انسان ته د ويرې سبب جوړيږي ، لکه د پناه اخيستونکو لپاره د افريقې اتحادې نړيوال تړون چې په ۱۹٦۹ز کې ترسره شوی داسې وايي : پناه اخيستونکی هغه شخص دی چې د بحرني تجاوز ، د نورو لاس وهنې او يا د نورو د اشغال او يا هم د هغو واقعاتو په بناء چې په خطرناک ډول د هيواد په يوه برخه يا ټول هيواد کې واقع کيدو په سبب د خپل ملک پريخودلو ته مجبوروول کيږي[1].

کله چې د نسب ، اجتماعي ډلې ته د نسبت ، سياسي نظريې او يا هر سبب له کبله چې وي خو د انسان نفس ته خطر متوجه وي ، پداسې حالت کې اسلامي فقه د دې ځای ترک کول او امن ځای ته د پناه وړلو امر کوي ، چې دا موضوع د هجرت په لومړی سبب کې بيان شوه.

خو د دې تر څنګ اسلامي فقه غير مسلمو ته په اسلامي هيواد کې پناه ورکوي حتی که د قرانکريم د اوريدلو لپاره هم وي[2] ، لکه قرانکريم کې الله عزوجل فرمائي : ﴿وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ٱسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّىٰ يَسْمَعَ كَلَـٰمَ ٱللَّهِ ثُمَّ أَبْلِغْهُ مَأْمَنَهُۥ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْلَمُونَ ۝٦﴾[3]

---

[1] - اتفاقيه منظمة الوحدة الافريقية التي تحكم المظاهر الخاصة بمشكلات اللاجئين في افريقيا (http://www.pal-monitor.org/UpLoad/uploads/dce4f24c2c.pdf).

[2] - أبو الوفا ، أحمد( ۱۴۳۰هـ ـ ۲۰۰۹م ): حق اللجوء بين الشريعة والقانون الدولي للاجئين، الرياض ـ المملكة العربية السعودية ، جامعة نايف العربية للعلوم الامنية ، ص ۲۲۳.

[3] - التوبه / ٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : او که له مشرکانو نه کوم څوك په پناه غوښتلو تا ته راشي (تر څو چې د الله کلام واوري) نو هغه ته پناه ورکړه تر دې پورې چې د الله کلام واوري. بیا هغه د هغه دامن تر ځایه ورسوه. دا ددې له پاره باید وشي چې دوی علم نلري.

## دویم مطلب : د هجرت او پناه اخېستنې حکم

د هجرت او پناه اخېستنې اسبابو له ذکر کولو څخه وروسته به د هجرت او پناه اخستنې حکم ته تم شؤ ، لومړی به د هجرت او پناه اخیستنې حکم په اسلامي فقه او بیا به نړیوالو تړونونو کې مطالعه کړو.

### لومړی پراګراف : په اسلامي فقه کې د هجرت او پناه اخېستنې حکم

تر هر څه لومړی به په اسلامي فقه کې د هجرت او پناه اخېستنې اتفاقي صورتونه په ګوته شي ، بیا به هغه صورت څېړنه وشي چې د علماء کرامو پکې د نظر اختلاف موجود دی ، د هر قول له ذکر کولو وروسته به د هغې قول دلایل او د دلایلو څېړنه وشي ، د دلایلو د ارزونې به نتیجه کې به راجح حکم څرګند شي.

لومړی جز : د هجرت اتفاقي صورتونه

دلته څو هغه صورتونه چې علماء یې په حکم کې اتفاق لري څرګندیږي او د اتفاقي صورتونو له معرفي کولو وروسته به اختلافي صورتونه څرګند شي.

لومړی اتفاقي صورت : له مکې څخه مدینې ته هجرت کول منسوخ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی له مکې څخه مدينې ته هجرت کول منسوخ دی او دليل يې درسول الله دا قول دی چې فرمائي : (عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ هِجْرَةَ بَعْدَ الفَتْحِ، وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ، وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا»[1])

ژباړه : د ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت دی چې فرمايي ، رسول الله وفرمائل : [ د فتح څخه ورسته هجرت نشته ، مگر جهاد او نيت باقي پاتې ، کله چې در څخه امام لخوا د وتلو غوښتنه وشوه نو و وځئ.

ابن حجر[2] رحمه الله د دې حديث په تشريح کې ليکي : (لاَ هِجْرَةَ بَعْدَ الفَتْحِ) څخه مراد د مکې فتحه ده ، خطابي[3] او نور وايي : د اسلام په ابتدا کې

---

[1] - متفق عليه : صحيح البخاري ، كتاب الجهاد والسير ، باب فضل الجهاد والسير. او صحيح مسلم ، كتاب الامارة ، باب مبايعة بعد فتح مكة على الاسلام ، کې پدې لفظ نقل کړی («لَا هِجْرَةَ، وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ، وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا»)

[2] - أحمد بن علي بن محمد الكناني العسقلاني ، أبو الفضل بن حجر العسقلاني چې په کال ۷۷۳هـ پيدا او په کال ۸۵۲هـ وفات شوی دی چې د امام شافعي د فقهاؤ له جملې څخه دی مشهور تصانيف يې عبارت دی له: فتح الباري شرح صحيح البخاري، الدراية في منتخب تخريج أحاديث الهداية، تلخيص الحبير ، زرکلي ، خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس (۲۰۰۲م) : الأعلام ۱ / ۱۷٦ - ۱۷۸

[3] - الخطابي ، اصلی نوم يی حمد بن محمد بن إبراهيم ابن الخطاب البستي، أبو سليمان: فقيه او محديث دی ، بست دخلکو څخه دی چه بست دکابل يوه سمه ده (من بلاد كابل) دنسل سلسله يی زيد بن الخطاب ته منسب ده (أخي عمر بن الخطاب) ، مشهور تاليفات (معالم السنن) في شرح سنن أبي داود، و (بيان إعجاز القرآن) و (إصلاح خطأ المحدثين) و (غريب الحديث)و (تفسير أحاديث الجامع الصحيح للبخاري) په بست سمه کی وفات شوی دی ، گورهٔ : زرکلي ، خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس (۲۰۰۲م) : الأعلام ۲ / ۲۷۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مسلمانانو هجرت فرض ؤ ، ځکه مدينه کې مسلمانان کم وه او د مسلمانانو اجتماع ته ضرورت وه ، کله چې الله عزوجل مکه فتحه کړه او خلک ډلې ؛ ډلې په دين کې داخليدل نو له مکې څخه مدينې ته د هجرت کولو حکم منسوخ شو[1].

بدر الدين العيني[2] وائي : (لاَ هِجْرَةَ بَعْدَ الفَتْحِ) څخه مقصد د مکې څخه مدينې ته د هجرت نسخه ده ، خو که کوم ځاى کې د دين احکام نه شي تطبقيدلی نو له هغه ځايه اتفاقا هجرت واجب دی[3].

دويم اتفاقي صورت : که څوک په کفري هيواد کې نشي کولی چې ديني احکام تر سره کړي يا د دين اظهار وکړي او په هجرت قادر وي ؛ نو هجرت پرې واجب دی.

---

[1] - العسقلاني ، احمد بن علي بن حجر (۱۴۲۴هـ ـ ۲۰۰۴م) : فتح الباري ، ٦ / **45**.

[2] - بدر الدين العَيْني ، اصلي نوم يې محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد، أبو محمد، بدر الدين العيني الحنفي:علامة مؤرخ، او دلويو محدثينو څخه وه ، اصلاً دسوری د حلب ښار وه او په عينتاب نومی قريه کی په( ۷٦۲هـ ق) کال کی دی دنيا ته سترگی پرانستی ديلږ وخت يی په حلب ، مصر ، دمشق اوالقدساو په( ۸۵۵هـ ق) کال کی په قاهر کی وفات شوی دی ، په قاهر کی د الحسبة اوقضاء چاری په مخ وړليبيا يی پورتنی وظايف ترک کړل او په تدريس پيل وکړ دژوند تر پای. مشهور کتابونه يې عمدة القاري في شرح البخاري ، مغاني الأخيار في رجال معاني الآثار ، العلم الهيب في شرح الكلم الطيب ، عقد الجمان في تاريخ أهل الزمان ، البناية في شرح الهداية ، رمز الحقائق ، المقاصد النحوية ، فرائد القلائد او نور... ، وگوره : إعلام النبلاء ۵/۲۵۵

3 - العيني ، بدر الدين (ب.ت) : عمدة القاري ، بيروت ، دار إحياء التراث العربي ، ۱۴ / ۸۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس نو د علماؤ اتفاق دی که یو څوک په دار کفر[1] کې د دین له پلوه په فتنه کې لویده یا د دین له اظهار عاجز وي او یا یې د دین احکام نه شوای

[1] - دار کفر او دار اسلام پیژندنه : د دار کفر په تعریف کې د متقدمینو فقهاؤ له عباراتو دوه نظریات معلومیږي :
لومړی نظر : یوه دار ته د کفر یا اسلام نسبت کول د ظهور او غلبې په علت سره کیدلی شي ، پدې معنی که د کفر غلبه پکې وه نو دار کفر او که د اسلام د احکامو غلبه پکې وه نو دار اسلام دی ، امام کاساني وایي : ( د دار نسبت کفر او اسلام ته د کفر یا اسلام د غلبې له کبله کیږي او ظهور د کفر یا اسلام د کفر یا اسلام د احکامو د غلبې له کبله کیږي ، کله چې د کفر احکام په کوم دار کې غالب شول نو دار کفر گرځي او له همدې کبله کله چې د اسلام احکام په کوم دار کې ښکاره شي نو دار اسلام نومول کیږي پرته له بل شرطه ( وگوره الکاساني ، علاء الدین أبو بکر بن مسعود بن أحمد ( ۱۴۰٦هـ ۱۹۸٦م ) : بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع ، دار الکتب العلمیة ، ۷ / ۱۳۱ )
او شوکاني وایي : ( دار اسلام هغه دی چې دوه گواهیانې ( د الله منل او د رسول الله منل ) او لمونځ پکې تر سره کیږي او کفري خصلتونه پکې ښکاره نه وي اگر که تاویلا وي مگر په امان سره، که داسې نه وي نو دار کفر دی(وگوره: الشوکاني محمد بن علي بن محمد بن عبد الله (ب.ت) : السیل الجرار المتدفق علی حدائق الأزهار، دار ابن حزم ، ص ۹۷٦.) د دې لید له نظره دار کفر د کفر د احکامو د ښکاره کیدو په علت سره معلول دي ، که داسې نه ؤ نو هغه دار اسلام گڼل کیږي
دوهم نظر : دا نظر د دار د تسمیې علت امن او خوف گڼي ، بدائع الصنائع کې وایيٍ : ( که کوم دار کې مسلمانانو ته علی الاطلاق امان ؤ او کافرانو ته ډار نو دا دار اسلام دی او که کافرانو ته علی الاطلاق امان ؤ او مسلمانانو ته علی الاطلاق ډار ؤ نو دا دار کفر دی ( وگوره : الکاساني ، علاء الدین أبو بکر بن مسعود بن أحمد ( ۱۴۰٦هـ ۱۹۸٦م ) : بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع ، ۷ / ۱۳۱.)
شیخ محمد أبو زهرة رحمه الله دا دواړه رائي ذکر کوي او بیا د امام ابوحنیفه رحمه الله رایه غوره گڼي چې : مدار د حکم د مسلمانانو امان دی ، که چیرته مسلمان پدې وصف چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تطبيقولى او په هجرت قادر وي ؛ نو له هغه ځايه هجرت كول واجب دى ، پدغه حالت کې د هجرت د وجوب اجماع ؛ ابن كثير [1]، بدر الدين العينى او علاء الدين المرداوي[2] رحمهم الله نقل كړى[3].

---

مسلمان دى په امان ؤ نو دا دار اسلام دى او كه داسې نه وي دا دار كفر دى ، او بيا وايي : دا نظر د اسلام معنى ته ډير نژدې دى او دا د اسلامي جنگونو د فكرې له اصل سره موافق دى ، او دا جنگونه د تجاوز د دفع لپاره وه ( وگوره : ابو زهرة ، محمد ( ١٤٢٩هـ ـ ٢٠٠٨م) : نظرية الحرب في الاسلام ، قاهرة ـ مصر ، جمهوريت مصر العربية وزارة الاوقاف المجلس الاعلى للشؤن الاسلامية ،ص ٤٩ )

معاصرو فقهاؤ کې دكتور وهبه الزحيلي وايي : هغه سيمه چې د اسلامي واكمني له حدودو څخه د وتلو له امله هلته د اسلام ديني او سياسي احكام نه نافذيږي يعني هغه سيمه چې د كفارو د ولکې او قدرت لاندې وي ( وگوره : الزحيلي وهبه: نړيوالې اړيكې د اسلام او نړيوالو حقوقو پرتليزه لوستنه ، ص ١٤٦ )

[1] - إسماعيل بن عمر بن كثير بن ضوء بن كثير بن درع القرشي الأموي البصروي الشيخ عماد الدين چې په كال ٧٠٠هـ په بصره کې پيدا او په كال ٧٧٤هـ وفات شوى دى چې په تاريخ ، تفسير او حديث کې ډير لوى عالم ؤو ، مشهور تصانيف يي : البداية والنهاية، الفصول في السيرة، تفسير ابن كثير، السيرة النبوية لابن كثير، قصص الأنبياء، معجزات النبي ، او داسې نور، وگوره: زركلي ، خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس (٢٠٠٢م) : الأعلام ، ١ /٣٢٠.

[2]- علاء الدين المرداوي : علاء الدين علي بن سليمان بن أحمد المرداوي الدمشقي : د حنبلي فقهاؤ له جملې څخه ؤ ، دنابلس په مردا نومى سيمه کى ٨١٧هـ ق كال کى پيدا شوى بيا دمشق ته انتقال شوى او هلته په ٨٨٥هـ ق كال کى وفات شوى دى ، وگوره : زركلي ، خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس (٢٠٠٢م) : الأعلام ٤/٢٩٢

[3] - ابن كثير ، إسماعيل بن عمر القرشي الدمشقي (١٤٢٠هـ ١٩٩٩م ) : تفسير القرآن العظيم ، ٣ / ٤٦٢. او العيني ، بدر الدين (ب.ت) : عمدة القاري ، ١ / ٢٩. او علاء الدين المرداوي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د دې اجماع ګڼ شمیر دلایل شته ، چې دلته يې فقط دوه دلایل ، يو له قرانکریم او بل له نبوي سنتو څخه نقل کيږي :

الله عزوجل فرمائي : ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَفَّىٰهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِىٓ أَنفُسِهِمْ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمْ ۖ قَالُواْ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ قَالُوٓاْ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةً فَتُهَاجِرُواْ فِيهَا ۚ فَأُو۟لَٰٓئِكَ مَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَسَآءَتْ مَصِيرًا ﴿٩٧﴾﴾[1]

ژباړه : کومو خلکو چې پر خپلو نفسونو (دهجرت په نه کولو) ظلم کاوه پرښتو له هغو څخه د هغو د سا اخیستلو په وخت کښې پوښتنه وکړه چې تاسې په څه حال کښې اخته وئ؟ هغوی ځواب ورکړ چې مونږ په ځمکه کښې کمزوري او مجبور وو پرښتو وويل، ايا د خدای ځمکه پراخه نه وه چې تاسې په هغې کښې هجرت کړی وای؟ دا هغه خلك دي چې استوګنځی يې دوزخ دی او هغه ډېر بد استوګنځی دی.

شوکاني رحمه الله د دې ايات په تفسير کې ليکي : لدې اياته داسې استدلال شوی چې : هجرت په هر هغه چا واجب دی کوم چې په دار شرک يا داسې ځای کې اوسي چې هلته ګناهونه په علني ډول تر سره کيږي ؛ کله چې په هجرت کولو قادر وي او د مستضعفينو له جملې څخه نه وي ، ځکه دا ايات

---

المرداوي ، علاء الدين : الإنصاف في معرفة الراجح من الخلاف ، ار إحياء التراث العربي ، ۴ / ۱۲۱.

[1] - النساء / ۹۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عام دی اگر که سبب یې خاص دی ، ظاهر یې داسې دی چې د یوه مکان توپیر د بل مکان سره نشته او د یوه زمان توپیر د بل زمان سره[1].

ابن قدامة المقدسي[2] رحمه الله وايي : دا سخت وعید په وجوب دلالت کوي ، او د دین واجب تر سره کول په هغه چا چې طاقت یې لري واجب دی ، هجرت د واجبو د تر سره کولو لپاره ضرورت او وسیله ده او دا قاعده ده ، کله چې واجب بغیر له کومې وسیلې څخه نه تر سره کیدل نو دا وسیله هم واجب ده[3].

همدغه رنگه دغه حدیث هم پدې اجماع دلیل دی چې رسول الله فرمائي : («أَنَا بَرِيءٌ مِنْ كُلِّ مُسْلِمٍ يُقِيمُ بَيْنَ أَظْهُرِ الْمُشْرِكِينَ». قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ لِمَ؟ قَالَ: «لَا تَرَاءَى نَارَاهُمَا»[4])

---

[1] - الشوكاني ، محمد بن علي بن محمد بن عبد الله (١٤١٤هـ) : فتح القدير ، دار ابن كثير ، دمشق ـ بيروت ، دار الكلم الطيب ، ١ / ٥٠٤.

[2] - ابن قُدَامَة المَقْدِسي ، محمد بن أحمد بن عبدالهادي بن عبدالحميد بن عبدالهادي ، داحاديثو حافظ، د ادب عارف او دحنبلی مذهب لوی فقیه عالم دی ، دهجرت په ٧٠٥ کال کی دنیا ته سترگی پرانستی ، د امام ابن التيمية شاگرد ؤ ، مشق کی دهجرت په (٧٤٤ هـ ق)کال وفات شوی دی. وگوره : الذهبي ، شمس الدين أبو عبد الله (١٤٢٧هـ ـ ٢٠٠٦م) : سير أعلام النبلاء ، ١٦ / ١٤٩.

3 - المقدسي ابن قدامة ، أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد(ب.ت): المغني ، ٩ / ٢٩٤.

[4] رواه ابو داود في سننه ، كتاب الجهاد ، باب النهي من اعتصم بالسجود .
الباني رحمه الله د دې حدیث په تعلیق کې لیکي ( صحيح ) (أبو داود سليمان بن الأشعث السِّجِسْتاني : سنن أبي داود ، تحقيق : محمد محيي الدين عبد الحميد ، المكتبة العصرية، صيدا – بيروت.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : [زه د هر هغه مسلمان څخه بري يم چې د مشركانو منځ کې استوگنه كوي] ، صحابه ؤ پوښتنه وكړه ، څومره لرې استوگنه وكړي ؟ ، رسول الله وفرمائل : [چې د يو د بل اور ونه گوري].

صنعاني[1] رحمه الله د دې حديث په تشريح كې ليكي : دا حديث پدې دليل دى چې دار شرک څخه هجرت کول واجب دى بغير له مكې څخه( ځكه مكه اوس دار شرک ندی)[2].

نووي[3] رحمه الله وايي : مسلمان چې په دار كفر كې ضعيف وي او د دين په اظهار قادر نه وي نو هلته ورته اوسيدل حرام دي او دار اسلام ته وربانديې هجرت واجب دى كه په هجرت قادر نه ؤ نو دا شخص معذور دى تر

---

[1] - الصنعاني : محمد بن اسماعيل بن صلاح بن محمد الحسيني الصنعاني ، د كحلان په ښار كې پيدا شوى او په صنعاء استوگن ؤ او وفات شوى هم همدلته دى ، وگورهٔ : زركلي ، خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس (٢٠٠٢م) : الأعلام ، ٦ / ٣٨.

2 - الصنعاني، السيد محمد بن اسماعيل(ب.ت): سبل السلام شرح بلوغ المرام من ادلة الاحكام ،دار الحديث، ٢ / ٤٦٢.

[3] - سمحي الدين بن شرف النووي يانواوي،(٦٧٦-٦٣١هـ )اسم كنيه يې أبوزكريا ده،دمشق دجنوبي كلي نوى اوسيدونكې وو،په شافعي فقه،احاديثو اولغت كې علامه وو،په دمشق كې يې تعليم كړى اويوځه موده پكې پاتى شوى دى؛كتابونه يې:المجموع شرح المهذب؛روضة الطالبين اوالمنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج دي ، وگوره: زركلي ، خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس (٢٠٠٢م) : الأعلام : ٩ / ١٨٥.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو چې په هجرت قادر شي ، که دا ښار مسلمانانو فتح کړ نو هجرت ورڅخه ساقط شو[1].

دکتور محمد مصطفى نيازى ليکي : له دار کفر څخه دار اسلام ته هجرت پدې پورې تړلى چې په دار کفر کې مسلمان په کومه اندازه کولاى شي اسلامي شعائر په ډاډمنه فضاء کې تر سره کړي او خپل دين ، اولاد او کورنۍ په هکله له هيڅ راز فتنې څخه په ويره کې نه وي ، که چيري د دين په ښکاره کيدو قادر نه وي ، يا په خپل ځان دين ، زامنو او کورنۍ باندې له فتنې څخه په ويره کې وي نو پدغسې حالت کې هجرت واجب دى[2].

دريم اتفاقي صورت : کله چې ټولو هيوادونو کې د دين اظهار ممکن نه وي نو هجرت فرضيت ساقطيږي همدارنگه که چا سره د هجرت طاقت نه وي هم هجرت وجوب ساقطيږي.

خطيبي شربيني[3] رحمه الله پدې اړوند وايي : کله چې ټول ښارونه د دين په اظهار کې د نه قدرت له حيثه يو شان وه لکه زمونږ په وخت کې ، نو

---

**1** - النووي ، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف (١۴١٢هـ / ١٩٩١م) : روضة الطالبين وعمدة المفتين ، تحقيق: زهير الشاويش ، بيروت دمشق عمان ، المكتب الإسلامي ، ١٠ / ٢٨٢.

2 - نيازى ، محمد مصطفى ( ١٣٩٦هـ ش ): معاصر فقهي قضايا ، کابل ـ افغانستان ، نوى مستقبل خپرندويه ټولنه ٢ / ٢١۴.

3 - الخطيب الشربيني : محمد بن أحمد الشربيني ، شمس الدين ، شافعي فقيه دى ، له قاهرې څخه ؤ ، په ٩٧٧هـ کې وفات شوى مشهور کتابونه يې السراج المنير په تفسير کې او مغني المحتاج شرح منهاج الطالبين للنووي، وگوره : زرکلي ، خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس (٢٠٠٢م) : الأعلام ، ٦ / ٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هجرت اتفاقا واجب ندی همدارنگه که چا د هجرت طاقت نه درلود نو هجرت واجب ندی[1].

دلیل : ﴿ إِلَّا ٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَٰنِ لَا يَسْتَطِيعُونَ حِيلَةً وَلَا يَهْتَدُونَ سَبِيلًا ﴿٩٨﴾ ﴾[2]

ژباړه : هو، کوم نارینه، ښځې او ماشومان چې په ریښتیا بېوسې دي او د وتلو کومه لاره او وسیله نه مومي، هغوې مستثنا دي

دکتور مصطفی نیازی لیکي : ﴿ إِلَّا ٱلْمُسْتَضْعَفِينَ ﴾ د الله پاک له لوري د هغو لپاره عذر دی چې دهجرت توان نلري ، هغه لدې امله چې یا کمزوري نارینه یا بي وزله ښځې او یا هم ماشنومان وي ، دوی په هیڅ توگه د مشرکانو له لاسونو څخه ځانونه نشي خلاصولی[3].

**دویم جز اختلافي صورت :**

دلته به هغه صورت باندې بحث وشي چې فقهاء پکې د نظر اختلاف لري ، لومړی به د نزاع محل ، بیا د فقهاؤ اقوال ، بیا د هر قول دلایل ، بیا د دلایل ارزونه او بیا ترجیح ذکر شي.

---

**1** - الشربيني ، شمس الدين محمد بن أحمد الشافعي( ١٤١٥هـ ـ ١٩٩٤م ) : مغني المحتاج إلى معرفة معاني ألفاظ المنهاج ، ٦ / ٥٥.

[2] - النساء / ٩٨.

[3] - نیازی ، محمد مصطفی ( ١٣٩٦هـ ش ): معاصر فقهي قضایا ، ٢ / ٢١٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې مسلمان په کفري هیوادونو کې کولی شي چې د دین اظهار وکړي ، د دین احکام عملي کړي او د دین له پلوه له فتنې څخه نه ویریږي ، په دې صورت کې د هجرت د حکم په اړوند د علماؤ دوه قوله دي :

لومړی قول : اصلا په دار کفر یا دار حرب کې استوګنه حرامه ده ، دا قول د مالکیانو[1] ، ابن حزم الظاهري[2] او بعضي معاصرینو علماؤ[3] دی.

ابن العربي رحمه الله فرمايي : (څوک چې دار حرب کې مسلمان شو ، دار اسلام ته پرې هجرت کول واجب دي ، که هجرت یې ونه کړ ؛ نو ګناه یې وکړه.[4])

ابن رشد[5] رحمه الله پدې موضوع کې ډیر سخت نظر لري او دار کفر ته تلل د عدالت سره منافي یو عمل ګڼي ، هغه وايي ( هیڅ مسلمان ته جایز

1 - القرطبي ، محمد بن أحمد بن رشد ، (۱۴۰۸ هـ ۱۹۸۸ م) : المقدمات المهدات ، دار الغرب الإسلامي ۲ / ۱۵۱.

2 - الأندلسي ، علي بن أحمد بن سعيد بن حزم (ب.ت) : المحلی بالاثار ، بيروت ، دار الفكر ، / ۴۱۸ ـ ۴۱۹.

3 - الشيخ محمد بن عبدالوهاب ، عيون الرسائل والأجوبة على المسائل ۱ / ۲۱۳ .

4 - ابن العربي : احكام القران ، ۱ / ۴۸۴.

5 - ابن رشد القرطبی ، اصلی نوم يي : أبو الوليد محمد بن أبي القاسم أحمد ابن شيخ المالكية أبي الوليد محمد بن أحمد بن رشد القرطبي دی، په خپل وخت لوی فیلسوف ؤ ، په (۵۲۰) هـ کې پیدا شوی ، علم يي د ابو مروان بن سمرة او ځینو نور علماؤ څخه حاصل کړی ؤ ، او په فقه کې يي پوره مهارت درلوده ، طب علم يي د أبو مروان بن حزبول څخه یاد کړی ؤ ، مختلف کتابونه يي ليکلي چې ځيني يي دادي: په فقه کې يي بداية المجتهد ، په اصول فقه کې يي مختصر المستصفی او په طب علم کې الكليات او ځینی نور کتابونه يي ليکلي ... په قرطبه کې د قاضی په صفت يي دنده تر سره کړی، او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ندی چې دار الشرک ته د تجارت او یا بل کار لپاره لاړ شي ، مګر د مسلمان د ګټې لپاره تله لای شي ، که لدې څخه غير بل کار لپاره په خپله خوښه لاړ ؛ دا د ده په عدالت جرحه ده ، امامت او شهادت یې نه قبلیږي .1) او بیا وائي : (نو د مسلمانانو په والي باندې واجب ده چې خلک د دار حرب څخه منع کړي کوم چې د تجارت لپاره هلته ځي.[2])

ابن حزم وائي : ( څوک چې د کافرو خاورې ته د جهاد او یا د امیر د پیغام وړلو څخه غیر داخل شو ، نو یو ساعت اقامت یې هم اقامت دی او حرام دی[3])

دویم قول : اصل اباحت دی او کله چې یو شخص له فتنې په امن وي په دار کفر او دار حرب کې استوګنه جایز ده ، دا د جمهورو نظر دی له احنافو حنابله ؤ او مالکیانو څخه[4].

د لومړی نظر دلائل :

---

مراکش کې وفات شوی وګورۀ : الذهبي ، شمس الدين أبو عبد الله (١٤٢٧هـ ـ ٢٠٠٦م) : سير أعلام النبلاء ٤١ / ٢٩١ ـ ٢٩٢.

[1] - القرطبي ، محمد بن أحمد بن رشد ، (١٤٠٨ هـ ١٩٨٨ م) : المقدمات المهدات ، ٢ / ١٥١

[2] - نفس مرجع ، ٢ / ١٥٢.

[3]- الأندلسي ، علي بن أحمد بن سعيد بن حزم (ب.ت) : المحلی بالاثار ، ٥ / ٤١٩.

**4-** الماوردي ، علي بن محمد بن محمد بن حبيب البغدادي ( ١٤١٩هـ ـ ١٩٩٩م) : الحاوي الكبير ، المحقق : الشيخ علي محمد معوض او الشيخ عادل أحمد عبدالموجود ، بيروت ـ لبنان ، دار الكتب العلمية ، ١٤ / ١٠٣ ، المقدسي ابن قدامة ، أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد(ب.ت): المغني ١٠ / ٥١٥ ، الوزاني ، سيدي المهدي (١٤١٧هـ ـ ١٩٩٦م): النوازل الجديدة الكبرى ، المغرب ، وزارة الأوقاف والشؤون الإسلامية ، ٣ / ٣٣.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی دله علماء چې اصلا په دار کفر کې استوګنه حرامه ګڼي په قراني او نبوي احاديثو استدلال کوي چې دلته به يې مشهور ورځخه ذکر شي.

١ - : الله عزوجل فرمايي : (إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِيٓ أَنفُسِهِمۡ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمۡۖ قَالُواْ كُنَّا مُسۡتَضۡعَفِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ قَالُوٓاْ أَلَمۡ تَكُنۡ أَرۡضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةٗ فَتُهَاجِرُواْ فِيهَاۚ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرًا ﴿٩٧﴾ إِلَّا ٱلۡمُسۡتَضۡعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلۡوِلۡدَٰنِ لَا يَسۡتَطِيعُونَ حِيلَةٗ وَلَا يَهۡتَدُونَ سَبِيلٗا ﴿٩٨﴾ فَأُوْلَٰٓئِكَ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَعۡفُوَ عَنۡهُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَفُوًّا غَفُورٗا ﴿٩٩﴾ [1])

ژباړه : کومو خلکو چې پر خپلو نفسونو (دهجرت په نه کولو) ظلم کاوه پرښتو له هغو څخه د هغو د سا اخيستلو په وخت کښې پوښتنه وکړه چې تاسې په څه حال کښې اخته وئ؟ هغوی ځواب ورکړ چې مونږ په ځمکه کښې کمزوري او مجبور وو پرښتو وويل، ايا د خدای ځمکه پراخه نه وه چې تاسې په هغې کښې هجرت کړی وای؟ دا هغه خلك دي چې استوګنځی يې دوزخ دی او هغه ډېر بد استوګنځی دی.

هو، کوم نارينه، ښځې او ماشومان چې په ريښتيا بېوسې دي او د وتلو کومه لاره او وسيله نه مومي، هغوې مستثنا دي

[1] - النساء / ۹۷ ـ ۹۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوکېدای شي چې الله هغو ته ښښنه وکړي، الله لوی ښښونکی او تیرېدونکی دی.

دا ایاتونه د هغه کسانو په اړوند نازل شوي چې له رسول الله څخه مکه کې پاتې شول او د مشرکانو سره د بدر غزا ته راغلل ، د مشرکانو ډله ورباندې غټه شوې وه ، لکه دا خبره ابن عباس رضی الله عنه هم کوي ، لدغه ډله کسانو څخه بعضو ته يې تکليف ورسيد ، نو دا اياتونه عام د هغه چا په اړوند نازل شول چې د مشرکانو منځ کې استوگنه کوي او په هجرت قادر هم وي ، دغه شخص ظالم شمیرل کیږي او په اجماع سره د کبیره گناه مرتکب دی[1].

د استدلال وجه : دغه ايتونو کې الله عزوجل هغه کسانو ته سخت وعيد وفرمايلو کومو کسانو چې مكة کې د مشرکانو ترڅنگ استوگنه کوله او مديني ته مهاجر نه شول ، د دوی عذر يې قبول نه کړ ، ځکه دغه وخت کې مكة دار شرک ؤ او مدينه دار اسلام ، نو لدغه اياتو نو څخه له دار شرک څخه دار اسلام ته د هجرت وجوب معلوميږي.

شوکاني رحمه الله فرمائي : ( [فَأُوْلَـٰٓئِكَ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَعۡفُوَ عَنۡهُمۡۚ

[نوکېدای شي چې الله جل جلاله هغو ته ښښنه وکړي] ] د طمع صيغه يې نقل کړه تر څو د هجرت په موضوع تاکيد وکړي ، څوک چې گمان کوي هجرت پرې واجب ندی دا يې گناه ده او د توبې مطالبه ورڅخه کوي.[2])

---

[1] - ابن کثير ، إسماعيل بن عمر القرشي الدمشقي (١٤٢٠هـ ١٩٩٩م ) : تفسير القرآن العظيم ، ٢ / ٣٢٩.

[2] - السيواسي ، كمال الدين محمد بن عبد الواحد ابن الهمام : فتح القدير ، ١ / ٧٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم دليل : الله عزوجل فرمايي : (إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ ءَاوَواْ وَّنَصَرُوٓاْ أُوْلَٰٓئِكَ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يُهَاجِرُواْ مَا لَكُم مِّن وَلَٰيَتِهِم مِّن شَيۡءٍ حَتَّىٰ يُهَاجِرُواْۚ وَإِنِ ٱسۡتَنصَرُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ فَعَلَيۡكُمُ ٱلنَّصۡرُ إِلَّا عَلَىٰ قَوۡمِۭ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُم مِّيثَٰقٞۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ﴿٧٢﴾ )[1]

ژباړه : کومو خلکو چې ايمان راؤړ او هجرت يې وکړ او د الله په لاره کښې په خپل سر او مال وجنگېدل، او کومو خلکو چې مهاجرينو ته ځای ورکړ او له هغو سره يې مرسته وکړه، هماغوی په اصل کښې يو د بل دوستان دي. پاتې شول هغه خلك چې ايمان يې راوړی دی خو (دار اسلام ته يې) هجرت نه دی کړی نو له هغو سره ستاسې کومه دوستانه اړيکه نشته تر څو پورې چې هغوی هجرت نه وي کړی. هو که هغوی ددين په باب له تاسې نه مرسته وغواړي نو د هغوی مرسته کول پر تاسې فرض دي خو ديوداسې قوم پر خلاف نه چې له هغه سره ستاسې تړون وي. تاسې چې څه کوئ الله هغهويني.

مفسرين د دې ايات په تفسير کې ليکي : پدغه وخت کې مؤمنان په څلور قسمه وه :

---

[1] - الانفال / ۷۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی قسم : لومړني مهاجرين چې الله عزوجل د دې کسانو څلور صفات بيانوي ، په الله جل جلاله ايمان لرل ، د رسول الله سره هجرت کول ، په نفسونو او مالو هجرت کول او دې اعمالو ته له نورو وړاندې والی کول.

دويم قسم : انصار کوم چې مهاجرينو ته يې پناه ورکړه او د علماؤ په اتفاق سره دوی له مهاجرينو څخه په دويمه درجه کې دي ، ځکه مهاجرين لومړني مؤمنان دي او انصارو د مهاجرينو پسې اقتدا کړې.

دريم قسم : هغه مؤمنان دي چې په رسول الله يې ايمان درلوده ، خو هجرت يې ورسره ونکړ او مکه کې پاتې شول.

څلورم قسم : هغه کسان چې له رسول الله سره يې هجرت کې ملګرتيا ونکړه خو وروسته د حديبې له صلحې يا بعضو له انده وروسته د بدر له عزا او بعضې وائي وروسته د دې ايات له نزول او تر ټولو قوي قول بيا دا دی چې د لومړني هجرت څخه وروسته يې هجرت وکړ[1].

پدې ايات کې د استشهاد محل دا الفاظ دي (**وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يُهَاجِرُواْ مَا لَكُم مِّن وَلَـٰيَتِهِم مِّن شَىۡءٍ حَتَّىٰ يُهَاجِرُواْ**) چې امام فخر الدين رازي د پورته اقسامو څخه دريم قسم په اړوند وائي : ( د دې خلکو څخه الله عزوجل د مؤمنانو دوستي او ولا يعني تعظيم او اکرام نفي کړ او دا د نصرت

---

[1] - الرازي ، فخر الدين (۱۴۲۰ هـ ) : التفسير الكبير ، ۱۵ / ۵۱۵ ، أ ابن كثير ، إسماعيل بن عمر القرشي الدمشقي (۱۴۲۰هـ ۱۹۹۹م ) : تفسير القرآن العظيم ، ۳ / ۳۵ ، ۳۴۲ ، المراغي ، أحمد بن مصطفى (۱۳۶۵ هـ ۱۹۴۶ م) : تفسير المراغي ، مصر ، شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابى الحلبي وأولاده ، ۱۰ / ۴۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مغاير عمل دی ... او د مؤمنانو ملگرتيا قطع کولو څخه مقصد د هجرت کولو ته هڅونه او ترغيب دی ، ځکه مسلمان چې کله دا واوري چې الله عزوجل فرمائي : که هجرت و نه شو د ده او د مؤمنانو ترمنځ ملگرتيا هم قطع شوه ، که هجرت يي وکړ نو د ده او مؤمنانو ترمنځ ملگرتيا برقراره ده ، نو حتما دا د هجرت لپاره تر ټولو قوي ترغيب دی[1].

معلومه شوه چې په دغه وخت کې هجرت واجب وه ، ځکه چې د هجرت کول يې د مؤمنانو د ملگرتيا ، ولا او دوستۍ نښه او د هجرت نه کول د دې هر څه قطع کوونکی وگڼلو.

دريم دليل : الله عزوجل فرمايي : (وَدُّواْ لَوۡ تَكۡفُرُونَ كَمَا كَفَرُواْ فَتَكُونُونَ سَوَآءٗۖ فَلَا تَتَّخِذُواْ مِنۡهُمۡ أَوۡلِيَآءَ حَتَّىٰ يُهَاجِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَخُذُوهُمۡ وَٱقۡتُلُوهُمۡ حَيۡثُ وَجَدتُّمُوهُمۡۖ وَلَا تَتَّخِذُواْ مِنۡهُمۡ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرًا ﴿٨٩﴾)[2]

ژباړه : هغوی خو دا غواړي لکه چې څنگه په خپله کافران دي هماغسې تاسې هم کافران شئ تر څو تاسې او هغوی ټول سره برابر شئ. له دې امله له هغو نه هېڅوك خپل دوستان مه نيسئ ترڅو چې هغوی د خدای په لار کښې هجرت ونه کړي، او که هغوی له هجرت نه منع راوړي؛ نو چېرته يې چې

[1] - الرازي ، فخر الدين (۱۴۲۰ هـ ) : التفسير الكبير ، ۱۵ / ۵۱۵ .

[2] - النساء / ۸۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومومئ ويې نيسئ او ويې وژنئ او له هغوی نه هيڅ يو خپل دوست او مرستندوی مه گرځوئ.

د استدلال وجه : الله جل جلاله مؤمنانو ته امر کوي ؛ کوم کسان چې دار شرک کې استوگنه لري او رسول الله ته يې هجرت ندی کړی ؛ له هغوی سره دوستي قطع کړئ ، ځکه څوک چې رښتيني مؤمنان وي هغوی رسول الله صلی الله عليه وسلم خطر کې نشي ليدلی ، که د ضعف حالت کې نه وي نو هغه ته هجرت کول نه پريږدي ، الله عزوجل لدې څخه مخکې ايات کې فرمائي ﴿ فَمَا لَكُمْ فِي ٱلْمُنَٰفِقِينَ فِئَتَيْنِ وَٱللَّهُ أَرْكَسَهُم بِمَا كَسَبُوٓاْ ﴾[1] [نو دا پر تاسې څه شويدي چې د منافقانو په باب ستاسې په مينځ کښې دوه مفکورې مېندل کېږي، په داسې حال کښې کومې بدۍ چې هغو گټلې دي د هغو له امله الله هغوی بېرته په شا گرځولي دي])[2]

نو له ايات څخه د هجرت وجوب او همدارنگه چې دار شرک يا دار کفر کې ايمان راوړي نول هلته د استوگنې عدم جواز معلوميږي.

دويم له نبوي سنتو څخه دلائل:

د لومړي نظر څښتنان کوم چې د کفري هيوادونو څخه د هجرت په وجوب قائل دي ، د خپل نظر د اثبات لپاره په ځيني نبوي احاديثو هم استدلال کوي چې دلته ورڅخه يادونه کيږي.

---

[1] - النساء ۸۸.

[2] - المراغي ، أحمد بن مصطفى (١٣٦٥ هـ ١٩٤٦ م) : تفسير المراغي، ٥ / ١١٤.

(c) ketabton.com: The Digital Library



١ – (عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً إِلَى خَثْعَمٍ فَاعْتَصَمَ نَاسٌ مِنْهُمْ بِالسُّجُودِ، فَأَسْرَعَ فِيهِمُ الْقَتْلَ قَالَ: فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَ لَهُمْ بِنِصْفِ الْعَقْلِ وَقَالَ: «أَنَا بَرِيءٌ مِنْ كُلِّ مُسْلِمٍ يُقِيمُ بَيْنَ أَظْهُرِ الْمُشْرِكِينَ». قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ لِمَ؟ قَالَ: «لَا تَرَاءَى نَارَاهُمَا»[1])

ژباړه : د جرير بن عبدالله څخه روايت دی ؛ دا فرمائي : رسول الله د خثعم علاقې ته يوه سريه وليږله ، يوه ډله خلکو هلته په سجدې سره يې ځان په پناه کې داخل کړ ، خو د دوی په وژلو کې چالاکی وشوه [ ووژل شول ] ، جرير بن عبدالله وايي دا خبره چا رسول الله ته ورسوله ؛ رسول الله امر وکړ چې دوی ته نيمائي ديت ورکړې او وه يې فرمائل : [ زه د هر هغه مسلمان څخه ناراضه يم چې د مشرکانو منځ کې اوسيږي ] صحابه کرامو پوښتنه وکړه ، څومره اندازه لرې ورڅخه واوسي هغه وفرمائل : [ د يو بل اور ونه ګوري ]

د استدلال وجه : له پورت حديث څخه د استدلال وجه څرګنده ده ، پدې شکل چې دلته رسول الله څرګند فرمائلي ؛ چې مسلمان بايد له مشرکانو دومره لرې استوګنه وکړي چې يو د بل اور ونه ګوري.

مبارکفوري[2] رحمه الله په النهاية کې ليکي : مسلمان باندې لازم دي چې د مشرکانو څخه لرې استوګنه وکړي او هغه ځای کې بايد ونه اوسي چې

[1] - رواه ابو داود ، کتاب الجهاد ، باب النهي عن قتل من اعتصم بالسجود ،

[2] - حافظ ابو العلي محمد عبدالرحمن بن الحاج عبدالرحيم بن الحاج الشيخ بهادر المباركفوري ، ١٢٨٣هـ کې د هند په مبارکفور قريه کې زيږيدلی ، او له حسام الدين المئوی ، فيض الله المئوي او شمس الحق عظيم ابادي او نورو څخه يې علم زده کړی ، علم الحديث کې يې مشهور تاليفات عبارت دي له : تحفة الاحوزي ، ابکار المنن في تنقيد الاثار السنن ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دا اور بل کړي او مشرک د ده اور وګوري ، يعني له مسلمانانو سره بايد واوسي او دا په هجرت کولو باندې ترغيب ورکول دي[1].)

٢ – (عَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لَا تَنْقَطِعُ الْهِجْرَةُ حَتَّى تَنْقَطِعَ التَّوْبَةُ، وَلَا تَنْقَطِعُ التَّوْبَةُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا»[2])

ژباړه : د معاويه رضی الله عنه څخه روايت دا وائي له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه مې واوريدل ، چې فرمائل يې : [ هجرت تر هغې نه قطع کيږي تر څو چې توبه نه وي قطع شوي او توبه تر هغې نه قطع کيږي تر څو چې لمر له مغرب څخه نه وي راپور ته شوی.]

امام البغوي په شرح السنة کې ليکي : ( [لَا تَنْقَطِعُ الْهِجْرَةُ ] څخه مقصد دا دی چې څوک چې دار کفر کې مسلمان شو ؛ دار اسلام ته پرې هجرت کول فرض دي[3].)

---

کتاب الجنايز او نور الابصار او ضياء الابصار په اردو ژبه دي ، ١٦ / شوال / ١٣٥٣هـ موافق د ١٩٥٣ز سره وفات شوی وګورهٔ : مقدمة تحفة الاحوذي.

[1] - المباركفوري ، محمد عبد الرحمن ابن عبد الرحيم (ب.ت) : تحفة الاحوذي ، بيروت، دار الكتب العلمية ٥ / ١٩٥.

[2] - رواه ابوداود في سننه، كتاب الجهاد ، باب في الهجرة هل انقطعت ؟ ، الالباني رحمه الله د دې حديث په تعليق کې وايي د نصف العقل له کلمې څخه پرته نور حديث صحيح دی.

3 - البغوي ، الحسين بن مسعود بن محمد بن الفراء (١٤٠٣هـ ١٩٨٣م) : شرح السنة ، تحقيق: شعيب الأرنؤوط محمد زهير الشاويش ، دمشق، بيروت ، المكتب الإسلامي ، ٧ / ٢٩٥.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د استدلال وجه : له دار کفر څخه دار اسلام ته هجرت کول تر قیامت ورځې پورې باقي دي ځکه پورته حدیث کې هجرت د توبې پورې متعلق شوی او توبه د لمر له مغرب څخه راپورته کیدو پورې او لمر له مغرب څخه د قیامت په ورځ راپورته کیږي.

ابن حجر رحمه الله د ابن عمر قول نقل کوي چې ويل يې : ( تر څو چې په دنيا کې دار کفر موجود وي تر هغې به په هغه چا هجرت فرض وي چې دار کفر کې مسلمان شي او هلته په ويره کې وي چې په دين کې راباندې امتحان ونشي ، پدې مفهوم چې که فرض کړو چې په دنيا کې دار کفر نشته نو هجرت به قطع شي ځکه د هجرت سبب ختم شو.[1])

٣ – (عَنْ سَمُرَةُ بْنُ جُنْدَبٍ, عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَا تُسَاكِنُوا الْمُشْرِكِينَ وَلَا تُجَامِعُوهُمْ , فَمَنْ سَاكَنَهُمْ أَوْ جَامَعَهُمْ فَهُوَ مِثْلُهُمْ»[2])

ژباړه : سمرة بن جندب له رسول الله څخه روايت کوي چې فرمائل يې : له مشرکينو سره استوګنه مه کوئ مه ورسره يوځای کيږئ ، څوک چې ورسره و اوسيده او يا ورسره يو ځای شو دا د همدوی په څير دی.

او بل روايت کې راځي («مَنْ جَامَعَ الْمُشْرِكَ وَسَكَنَ مَعَهُ فَإِنَّهُ مِثْلُهُ»[3]) چا چې د مشرک سره يوځای له هغه سره استوګنه وکړه دا د هغه په څير دی.

---

[1] - العسقلاني ، احمد بن علي بن حجر (۱۴۲۴هـ ـ ۲۰۰۴م) : فتح الباري ، ۷ / ۲۲۹ ، ۲۳۰.

[2] - رواه الترمذي ، ابواب السير ، باب ما جاء في كراهية المقام بين أظهر المشركين ،

[3] - رواه ابوداود ، کتاب الجهاد ، باب في الاقامة بارض الشرک ، الباني رحمه الله د دې حديث په تعليق کې کوم چې په سنن ابي داود کړی د دې حديث په صحت فيصله کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د استدلال وجه : له مشركانو سره په دار كفر كې استوگنه د مشرك په څير كيدلو په معنى ده ، دا تر ټولو شديد وعيد دى د هغه چا لپاره چې د مشركانو سره استوگنه كوي.

شوكاني رحمه الله وائي : ( [فَإِنَّهُ مِثْلُهُ] د مشركانو سره د استوگنى په حرمت او د هجرت په فرضيت څرگند دليل دى ، اگر كه حديث ضعيف دى خو د قرانكريم دا ايات [**فَلَا تَقۡعُدُواْ مَعَهُمۡ حَتَّىٰ يَخُوضُواْ فِي حَدِيثٍ غَيۡرِهِۦٓۚ**[1] « هلته مه كښېنئ تر هغه چې خلك په كومه بله خبره كښې مصروف شي. »] يې شاهد دى.[2])

ابن العربي رحمه الله فرمائي : ( د رسول الله په وخت كې هجرت فرض عين ؤ او دا فرضيت د قيامت تر ورځې باقي پاتې دى ، كوم چې په فتح سره قطع شوى هغه رسول الله ته قصد كول ؤ ، څوک چې دار حرب كې پاتې شي گناه گار دى.[3])

دا د هغه چا دلائل وه چې دار كفر كې استوگنه حرامه گڼي ، ابن رشد رحمه الله وائي :( كله چې د الله په كتاب ، د رسول الله په سنتو سره ثابته شوه چې چا په دار كفر كې اسلام قبول كړ ، نو دار اسلام ته پرې هجرت كول واجب دى او دار اسلام ته به ځي ، مشركانو څخه به جلا كيږي او د مسلمانانو

---

[1] - النساء / ۱۴۰.

[2] - الشوكاني ، محمد بن علي بن محمد بن عبد الله (۱۴۱۳هـ ـ ۱۹۹۳م) : نيل الاوطار ، تحقيق : عصام الدين الطبابطي ، مصر ، دار الحديث، ۸ / ۲۵.

[3] - ابن العربي : احكام القران ، ۱ / ۴۸۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library


سره به استوګنه کوي ، تر څو د کافرانو احکام پرې جاري نشي ، نو څنګه به د تجارت یا بل څه لپاره دار کفر ته تګ جایز شي تر څو د کافرانو احکام پرې جاري شي ، امام مالک رحمه الله په هغه ښار کې استوګنه مکروه ګڼله چې هلته سلفو ته بدرد ویل کیدل ، نو هلته به استوګنه څنګه جائز وي چې رحمان ذات باندې کفر کیږي او د غیر الله عبادت پکې کیږي!؟.[1])

## د دویم نظر دلائل :

د دویم نظر څښتنان کوم چې د فتنې څخه د امن په حالت کې له کفري هیوادونو څخه هجرت کول واجب نه ګڼي او د فتنې څخه د امن په حالت کفري هیواد ته هجرت کول حرام نه ګڼي ، د اول نظر په څیر له قراني او نبوي دلایلو څخه استدلال کوي ترڅنګ یې د دلائلو لنډه شرحه او د استدلال وجه څرګندیږي.

### قراني دلائل :

دلته هغه دلایلو څخه یادونه کیږي کوم چې د دویم نظر څښتنان پرې د خپل نظر د تائید لپاره استدلال کوي :

١ – (إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَفَّىٰهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِىٓ أَنفُسِهِمْ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمْ ۖ قَالُواْ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ قَالُوٓاْ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةً فَتُهَاجِرُواْ فِيهَا ۚ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَسَآءَتْ مَصِيرًا ﴿٩٧﴾ إِلَّا ٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ

[1] - القرطبي ، محمد بن أحمد بن رشد ، (١٤٠٨ هـ ١٩٨٨ م) : المقدمات المهدات ، ١ / ١٥٢.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَٱلنِّسَآءِ وَٱلۡوِلۡدَٰنِ لَا يَسۡتَطِيعُونَ حِيلَةً وَلَا يَهۡتَدُونَ سَبِيلاً ﴿٩٨﴾ فَأُوْلَـٰٓئِكَ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَعۡفُوَ عَنۡهُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿٩٩﴾ [1]

ژباړه : کومو خلکو چې پر خپلو نفسونو (دهجرت په نه کولو) ظلم کاوه پرښتو له هغو څخه د هغو د سا اخیستلو په وخت کښې پوښتنه وکړه چې تاسې په څه حال کښې اخته وئ؟ هغوی ځواب ورکړ چې مونږ په ځمکه کښې کمزوري او مجبور وو پرښتو وویل، ایا د خدای ځمکه پراخه نه وه چې تاسې په هغې کښې هجرت کړی وای؟ دا هغه خلك دي چې استوګنځی یې دوزخ دی او هغه ډېر بد استوګنځی دی.

هو، کوم نارینه، ښځې او ماشومان چې په ریښتیا بېوسې دي او د وتلو کومه لاره او وسیله نه مومي، هغوې مستثنا دي ، نوکېدای شي چې الله هغو ته ښنه وکړي، الله لوی ښونکی او تیرېدونکی دی.

دا ایات مخکې د لومړۍ ډلې په استدلال کې ذکر شو ، له همدې کبله دلته یې تفسیر نه ذکر کیږي یواځې د استدلال وجهې ته اشاره کیږي.

د استدلال وجه : له پورته ایات څخه څرګندیږي چې سره له قدرة او طاقته د هجرت د وجوب علت فتنه او په دین ویره ده ، له همدې کبله دا ایات په مفهوم مخالف سره د دې څرګندونه کوي چې کله فتنه نه وه ؛ نو د هجرت وجوب هم نشته[2].

---

[1] - النساء / ۹۷ ـ ۹۹.

[2] - سلیمان توبوک : احکام السیاسة للاقلیات المسلمة ، ص ۴۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد عبده همدې خبرې ته اشاره کوي : ( په دار کفر کې اوسیدونکي شخص ته چې کله تکلیف نه رسول کیږی ، په دین د عمل کولو څخه نه منع کیږي ، ټول احکام په ښه توګه تر سره کولی شي ، په ده باندې هجرت کول واجب ندي ، لکه اوس وخت کې د انګریزانو په خاوره کې د مسلمانانو استوګنه ، بلکې ډیر ځله دا استوګنه د اسلام د محاسنو د څرګندیدو باعث جوړیږي او خلک دین ته مخه کوي.[1])

٢ – (۞ وَمَن يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ يَجِدْ فِي ٱلْأَرْضِ مُرَٰغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً ۚ وَمَن يَخْرُجْ مِنۢ بَيْتِهِۦ مُهَاجِرًا إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ يُدْرِكْهُ ٱلْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٠٠﴾[2])

ژباړه : څوك چې د الله په لار کښې هجرت وکړي هغوی به په ځمکه کښې د پناه اخیستلو ډېر ځایونه او د ژوند تېرولو له پاره ډېره پراخي ومومي، او څوك چې له خپله کوره د الله او پېغمبر خوا ته د هجرت کولو له پاره ووځي، بیا په لاره کښې ورته مرګ راشي د هغه ثواب د الله پر ذمه واجب شو، الله ډېر بښونکی او رحیم دی.او کله چې تاسې په سفر ووتلئ نو څه باك نشته که په لمانځه کښې لنډوالی وکړئ (په تېره بیا) کله چې تاسې سره دا وېره وي چې کافران به مو وځوروي ځکه چې کافرانو په ښکاره څرګنده ستاسې دښمنۍ ته ملا تړلې ده.

---

[1] - رشید رضاء : تفسیر منار ، ٥ / ٣٥٧.

[2] - النساء / ١٠٠.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې ايات د سبب نزول په اړوند ابن عباس رضی الله عنه فرمائي : (حمزة بن جندب رضی الله عنه د خپل کور څخه هجرت پيل کړ او د خپل قوم څخه يې غوښتنه وکړه چې ما د شرک له ځمکې بهر کړئ ، په لار کې مخکې لدې چې رسول الله ته ورسيږي وفات شو ، الله عزوجل د ده په اړوند دا اياتونه نازل کړل.[1])

د دې ايات مقصد دا دی : څوک چې له يوه ښاره څخه بل ښار ته لاړ د هغه خير او برکت له کبله چې په دويم ښار کې موجود دی ؛ تر څو د دښمنانو د شرمنده کولو لپاره کوم چې ده سره په خپل ښار کې اوسيدل ، ځکه کله چې يو څوک پردې ښار ته لاړ شي او هلته يې کار جوړ شي ؛ اصل ښار ته خبر راشي ، د اصل ښار اوسيدونکی په هغه بده رويه خجالته شي کومه چې يې لدغه مهاجر شخص سره کوله او دوی شرمنده شي ، د (**مُرَاغَمًا**) له يوې ځمکې څخه بلې ځمکې ته تلل ، (**مُهَاجِرًا**) د هغه ځای نوم چې هلته ورته پناه ورکړل شوه ، ځکه له رغام څخه دی او رغام خاورې ته وائي ، ابن قاسم وائي : له مالک رحمه الله څخه مې واوريدل ويل يې : له المراغم څخه مقصد په ځمکه کې گرځيدل دي[2].

---

[1] الطبري : المعجم الکبير ، ١١ / ٢٧٢.

[2] - وگورهٔ ، ابن کثير ، إسماعيل بن عمر القرشي الدمشقي (١٤٢٠هـ ١٩٩٩م ) : تفسير القرآن العظيم ، ٢ / ٣٧١ ، القرطبي ، محمد بن أحمد بن أبي بکر (١٣٨٤هـ ـ ١٩٦٤م ): الجامع لاحکام القران ، ٥ / ٣٤٨ ، الماوردي ، علي بن محمد بن محمد بن حبيب البغدادي ( ١٤١٩هـ ـ ١٩٩٩م) : الحاوي الکبير ، ١٤ / ١٠٣.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د استدلال وجه : پدې ايات کې هجرت په في سبيل الله سره موصوف شوی ، دا داسې کلمة ده چې ټولو د خير خبرو او غوره نيتونو ته شامله ده ، لکه د حج په نيت هجرت کول ، د رزق په نيت هجرت کول ، د عبادت په نيت هجرت کول ، د فتنو څخه د بچاؤ په نيت هجرت کول ، دا هجرت چې هر ځای ته وي ؛ ځکه (ٱلْأَرْض) مطلق دی ، او دائي په تاکيد سره وويل (وَسَعَة) په دې کې دوه قوله دي ، پراخ رزق ورڅخه مراد دی چې دا قول د ابن عباس او جمهورو دی او يا ورڅخه مقصد د دين اظهار باندې قدرت لرل دي ، داقول بيا د قتاده دی.[1]

٣ – (وَإِذِ ٱعْتَزَلْتُمُوهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ فَأْوُۥٓا۟ إِلَى ٱلْكَهْفِ يَنشُرْ لَكُمْ رَبُّكُم مِّن رَّحْمَتِهِۦ وَيُهَيِّئْ لَكُم مِّنْ أَمْرِكُم مِّرْفَقًا ﴿١٦﴾)[2]

ژباړه : کله چې اوس تاسې له هغو او د هغو له غير الله معبودانو څخه خپلې اړيکې پريکړې دي، نو ځئ فلانۍ خمڅې ته پناه يوسئ ستاسې رب به پرتاسې دخپل رحمت لمن پراخه کړي او ستاسې د کار له پاره به لارې چارې برابرې کړي.

قرطبي رحمه الله فرمائي : دا ايات د دين د حفاظت له کبله په فرار کې صريح دی ، همدارنګه فتنې له ويرې او هغه تکليفونو له کبله چې انسان ورسره مخ کيږي د ميرمنې ، بچيو ، خپلوانو ، ملګرو ، وطن او اموالو په ترک

---

[1] - ابن جوزي : زاد المسير في علم التفسير ، ٣ / ١٧٩.

[2] - الکهف / ١٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو کې صریح دی رسول الله او ملګري یې د دین د سلامت ساتلو په امید او د کافرانو د فتنې څخه د خلاصون په هیله خپل وطن یې پریښود ، خپله ځمکه یې ترک کړه[1].

د استدلال وجه : ایات کریمه د هغه چا ستاینه کوي چې د فساد او منکراتو له ځمکې وتښتیدل ، غره ته یې پناه ویوړه ، هلته چې دین او نفس یې په امان وه ، ګڼ شمیر نصوص پدې دلالت کوي چې د فساد په وخت کې هجرت کول او امن ځای ته پناه وړل مستحب عمل دی دغه نصوص عام دي هیڅ مکان ئې خاص کړی ندی ، کومه سیمه یې په ګوته کړې نده ، چې هلته ځئ او هلته مه ځئ ، چیرته چې د مسلمانانو دین او نفس په امان وي هلته دی ولاړ شي ، غر ، صحرا ، سواحل او هر ځای چې وي ، د دغه نصوصو څخه یو د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ارشاد دی چې فرمائي : (يُوشِكُ أَنْ يَكُونَ خَيْرَ مَالِ الْمُسْلِمِ غَنَمٌ يَتْبَعُ بِهَا شَعَفَ الْجِبَالِ وَمَوَاقِعَ الْقَطْرِ يَفِرُّ بِدِينِهِ مِنْ الْفِتَنِ[2])

ژباړه : زر ده چې د مسلمان غوره مال به هغه وړین مال وي چې د غرونو په سرونو او باراني سیمو کې ورپسې وي او په دین کې د فتنې له ویرې تښتي.

دا او دیته ورته ټول نصوص مطلق دي کوم خاص مکان پکې مقید شوی ندی.

---

[1] - قرطبي : الجامع لاحکام القران ، ۱۰ / ۳٦۰.

[2] - رواه البخاري ، کتاب الفتن ، باب التعرب في الفتن

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ – (يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ أَرۡضِي وَٰسِعَةٞ فَإِيَّٰيَ فَٱعۡبُدُونِ ﴿٥٦﴾ [1])

ژباړه : ای زما مؤمنو بندګانو! زما ځمکه پراخه ده، نو تاسې همدا زما بندګی وکړئ.

ابن کثير رحمه الله وائي : الله جل جلاله خپلو مؤمنو بندګانو ته امر شوی ، چې هلته هجرت وکړئ چير ته چې ستاسو ديني امور تر سره کولی شي ، دا الله جل جلاله ځمکه پراخه ده هر چيرته چې وئ خو چې د يوه الله عبادت وکړئ ، څنګه ئې چې در ته امر کړی[2].

د استدلال وجه : د لته د هجرت امر صريح دی ؛ هغه چاته چې د ديني اوامر نشي تر سره کولی ، مسلمانانو ته لار ښوونه کوي چې الله عزوجل ځمکه پراخه ده هر چيرته چې ديني شعائر تر سره کولی شئ او نفس مو په امان وي هماغلته هجرت وکړئ ، يو مشخص مکان يې په ګوته نکړ ، پراخه ځمکې څخه يې يادونه وکړه هر چيرته چې امن وي هلته استوګنه وکړئ ، اګر که اوسيدونکي يې کافران وي ، دا يو څرګند حقيقت دی چې ټوله اسلامي نړۍ د مسلمانانو لپاره سره تبۍ ګرځيدلې هيڅ اسلامي هيواد مسلمان پناه غوښتونکو ته د پناه ورکولو جوګه ندی ، هر چېرته دهشت او وهشت خپور دی ـ والی المشتکی ـ .

---

[1] - العنکبوت / ٥٦.

[2] - ابن کثير ، إسماعيل بن عمر القرشي الدمشقي (۱۴۲۰هـ ۱۹۹۹م ) : تفسير القرآن العظيم ، ۳ / ۴۲۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سعيد بن جبير فرمائي : كله چې يو ځمكه كې ګناهونو تر سره كيږي له هغې ځايه وتښته بيا يې دا اياتونه تلاوت كړل (أَلَمۡ تَكُنۡ أَرۡضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةٗ فَتُهَاجِرُواْ فِيهَا [1]) او دا ايات يې د شاهد په حيث ذكر كړ (وَأَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةٌ[2] [او دخداى ځمكه پراخه ده])[3].

د نبوي سنتو څخه دلائل :

دويمه ډله علماء د خپل نظر د تائيد لپاره په بعضي احاديثو باندې استدلال كوي ؛ چې احاديث او د استدلال وجه يې دلته مطالعه كولى شئ.

١ – عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ أَعْرَابِيًّا سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الهِجْرَةِ، فَقَالَ: «وَيْحَكَ، إِنَّ شَأْنَهَا شَدِيدٌ، فَهَلْ لَكَ مِنْ إِبِلٍ تُؤَدِّي صَدَقَتَهَا؟» قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: «فَاعْمَلْ مِنْ وَرَاءِ البِحَارِ، فَإِنَّ اللَّهَ لَنْ يَتِرَكَ مِنْ عَمَلِكَ شَيْئًا»[4]»

ژباړه : د ابو سعيد خدري رضی الله عنه څخه روايت دی ، يو اعرابي له رسول الله څخه د هجرت اړوند پوښتنه وكړه ، رسول الله ورته وفرمايل : [ غرق نشې ، هجرت خو ډير سخت كار دی ، اوښان لرې ؟ او زكاة يې وركوې ؟

---

[1] - النساء / ٩٧.

[2] - الزمر / ١٠.

[3] - القرطبي ، محمد بن أحمد بن أبي بكر (١٣٨٤هـ ـ ١٩٦٤م ): الجامع لاحكام القران ، ٥ / ٣٤٧.

4 - مخكې يې تخريج ذكر شوی (وګورۀ ص )

(c) ketabton.com: The Digital Library



]] هغه ورته وویل : هو ، رسول الله ورته وفرمایل : [ له بنارونو لرې اوسیږه ، الله عزوجل ستا له اعمالو هیڅ هم نه کموي ]

د استدلال وجه : رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه اعرابي ته په خپل ځای کې د استوګنې امر کوي او د یوه الله عبادت باندې ورته ټینګا کوي او د هجرت امر ورته نه کوي ، څرګنده ده چې دغه اعرابي د ارکفر د ترک اړوند رسول الله څخه پوښتنه کوي.

السندي په الحاشیه کې لیکي : (فَاعْمَلْ مِنْ وَرَاءِ البِحَارِ) یعني ټول د خیر کارونه کوهٔ ، اګر که د بحرونو څخه هاخوا ته استوګنه کوي ، تا ته د مسلمانانو څخه لرې اوسیدل ضرر نشي رسولی ، بلکې هر ځای کې چې نیک اعمال تر سره کوی اجر پرې در کول کیږي[1].

ابن حجر رحمه الله د دې حدیث په تشریح کې لیکي : (فَاعْمَلْ مِنْ وَرَاءِ البِحَارِ) مبالغه ده پدې خبره کې چې ته په هر حال کې یې د نیکو کارونو اجر دې در کول کیږي[2].

٢ – (عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ قَالَ زُرْتُ عَائِشَةَ مَعَ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ اللَّيْثِيِّ فَسَأَلْنَاهَا عَنْ الْهِجْرَةِ فَقَالَتْ لَا هِجْرَةَ الْيَوْمَ كَانَ الْمُؤْمِنُونَ يَفِرُّ أَحَدُهُمْ بِدِينِهِ إِلَى اللَّهِ تَعَالَى وَإِلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَخَافَةَ أَنْ يُفْتَنَ عَلَيْهِ فَأَمَّا الْيَوْمَ فَقَدْ أَظْهَرَ اللَّهُ الْإِسْلَامَ وَالْيَوْمَ يَعْبُدُ رَبَّهُ حَيْثُ شَاءَ وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ[3])

---

[1] - النسائي ، بشرح السندي ، ٨ / ١٦٦.

[2] - العسقلاني ، احمد بن علي بن حجر (١٤٢٤هـ ـ ٢٠٠٤م) : فتح الباري ، ٧ / ٣٠٥.

[3] - رواه البخاري ، كتاب المناكب ، باب هجرة النبي صلى الله عليه وسلم وأصحابه إلى المدينة .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : عطاء بن أبي رباح وائي : د عبيد بن عمير الليثي سره مې يو ځاى د عايشې رضی الله عنها ملاقات وکړ ، د هجرت په اړوند مو ورڅخه پوښتنه وکړه ، هغې وويل : نن ورځ هجرت نشته ؛ وړاندې به مؤمنانو څخه هر کس د خپل دين له کبله الله او رسول ته هجرت کولو ؛ په دين کې د فتنې له ويرې ؛ مگر نن ورځ الله عزوجل اسلام غالب کړ ، نن ورځ چر ته چې د چا خوښه وي د الله عبادت دې کوي ، مگر جهاد او نيت باقي پاتې دی.

د استدلال وجه : عايشه رضی الله عنها پوښتنه کونکی ته خبر ورکوي چې له دار شرک څخه درا اسلام ته هجرت کول د مکې له فتحې وروسته ختم شوی دی ، اوس نو د مخکې په څير واجب ندی ، خو د ضرر ، فتنې او ويرې څخه تيښته اوس هم مشروع ده ، پس د مکې له فتحې څخه هر ځاى کې چې اوسې او دالله عبادت کوی الله جل جلاله يې نيکه بدله درکوي ، چې دا خبره لدې جملې څخه څرگنديږي (وَالْيَوْمَ يَعْبُدُ رَبَّهُ حَيْثُ شَاءَ).

ابن حجر رحمه الله ليکي : عايشه رضی الله عنها د هجرت مشروعيت ته اشاره وکړه او د هجرت علت يې د فتنې څخه ويره وگڼله او حکم د علت سره څرگندي ، د دې معنى دا ده څوک چې د الله عبادت کولی شي هر ځاى کې چې وي ؛ له هغه ځايه هجرت واجب ندی ، که عبادت دې په سمه توگه نشو تر سره کولی هجرت واجب دی ، همدغه رنگه ماوردي رحمه الله وايې : د کفارو په يوه ښار کې دې د دين اوامر تر سره کولی شول پدې سره دغه ښار دار اسلام گرځي ، پدې ښار کې استوگنه د هجرت څخه بهتره ده ، ځکه اوميد دی نور خلک ځان سره اسلام کې داخل کړې[1].

[1] - العسقلاني ، احمد بن علي بن حجر (۱۴۲۴هـ ـ ۲۰۰۴م) : فتح الباري ، ۷ / ۲۷۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٣ – (عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمَّرَ أَمِيرًا عَلَى جَيْشٍ، أَوْ سَرِيَّةٍ، أَوْصَاهُ فِي خَاصَّتِهِ بِتَقْوَى اللهِ، وَمَنْ مَعَهُ مِنَ الْمُسْلِمِينَ خَيْرًا، ثُمَّ قَالَ: «اغْزُوا بِاسْمِ اللهِ فِي سَبِيلِ اللهِ، قَاتِلُوا مَنْ كَفَرَ بِاللهِ، اغْزُوا وَلَا تَغُلُّوا، وَلَا تَغْدِرُوا، وَلَا تَمْثُلُوا، وَلَا تَقْتُلُوا وَلِيدًا، وَإِذَا لَقِيتَ عَدُوَّكَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ، فَادْعُهُمْ إِلَى ثَلَاثِ خِصَالٍ - أَوْ خِلَالٍ - فَأَيَّتُهُنَّ مَا أَجَابُوكَ فَاقْبَلْ مِنْهُمْ، وَكُفَّ عَنْهُمْ، ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ، فَإِنْ أَجَابُوكَ، فَاقْبَلْ مِنْهُمْ، وَكُفَّ عَنْهُمْ، ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى التَّحَوُّلِ مِنْ دَارِهِمْ إِلَى دَارِ الْمُهَاجِرِينَ، وَأَخْبِرْهُمْ أَنَّهُمْ إِنْ فَعَلُوا ذَلِكَ فَلَهُمْ مَا لِلْمُهَاجِرِينَ، وَعَلَيْهِمْ مَا عَلَى الْمُهَاجِرِينَ، فَإِنْ أَبَوْا أَنْ يَتَحَوَّلُوا مِنْهَا، فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّهُمْ يَكُونُونَ كَأَعْرَابِ الْمُسْلِمِينَ، يَجْرِي عَلَيْهِمْ حُكْمُ اللهِ الَّذِي يَجْرِي عَلَى الْمُؤْمِنِينَ، وَلَا يَكُونُ لَهُمْ فِي الْغَنِيمَةِ وَالْفَيْءِ شَيْءٌ إِلَّا أَنْ يُجَاهِدُوا مَعَ الْمُسْلِمِينَ، الخ»[1])

ژباړه : سليمان بن بريدة د خپل پلار څخه روايت کوي وائي : (رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله د کوم لښکر يا سريې امير ته امر کولو ؛ نو د الله جل جلاله څخه په تقوى او د مسلمانانو سره په ښه چلد ورته وصيت وکړ بيا به يې ورته فرمائل : [ د الله په نوم د الله په لار کې غزا پيل کړه ، هغه چا سره وجنګيږه چې په الله کافر وي ، غزا کوه ، غلو ، خيانت او مثله کول مه کوه ، ماشومان مه وژنه ، کله چې د مشرکانو د ښمنانو سره مخ شوې درې خبرو ته يې راوبله ، هره يوه يې چې قبوله کړه ، ته يې هم ورڅخه ومنه او جنګ ورسره مه کوه ، لومړى يې اسلام ته راوبله ، که وه يې منلو ، ورڅخه يې قبول کړه او جنګ ورسره مه کوه ، بيا يې د دوى له استوګنځاى څخه د مهاجرينو استوګن

[1] - رواه مسلم ، كتاب الجهاد والسير ، باب تأمير الأمراء على البعوث ، ووصيته اياهم باداب الغزو وغيرها .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای ته راوبله ، که چېرته يې انکار وکړ ، نو بيا يې خبر کړه چې تاسو به د بانډه چيانو مؤمنانو په څير يئ ، الله هغه احکام به پرې عملي کيږي کوم چې په مؤمنانو عملي کيږي مگر په غنيمت او فئ کې به حصه ونلري ، مگر که جهاد کې برخه وال وه نو بيا به له غنيمت څخه هم برخه ولري. تر اخر د حديث (...]

د استدلال وجه : په پورته حديث کې پدې جمله (فَإِنْ أَبَوْا أَنْ يَتَحَوَّلُوا مِنْهَا، فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّهُمْ يَكُونُونَ كَأَعْرَابِ الْمُسْلِمِينَ ) استدلال کيږي ، چې رسول الله نوی مسلمانانو ته په دار شرک او دار کفر کې د استوگنې اجازه ورکړه ، نو دا پدې دليل دی چې دار اسلام ته د هجرت کولو امر د استحباب لپاره ؤ نه د وجوب لپاره.

صنعاني رحمه الله د دې حديث په تشريح کې ليکي : دا پدې دليل دی چې دوی د اسلام څخه وروسته هجرت کولو ته بلل شوي ، نو هجرت استحبابا جايز شو ، ځکه په حديث کې بيرته د هجرت د نه کولو اجازه هم راغلې[1].

امام شافعي رحمه الله فرمايي : رسول الله خپلو لښکرو ته امر کوي چا چې اسلام قبول کړ هغوی ته ووايئ : که هجرت مو وکړ د هاغو حقوقو لرونکي ياست چې مهاجرين يې لري او هغه وجايب به درباندې وي کوم چې مهاجرينو باندې دي ، که هجرت مو ونکړ نو د بانډچيانو مسلمانانو په څير به يئ ، رسول الله دوی ته هغه څه خبر ورکړوي چې دوی ته جائز دی[2].

---

[1] - الصنعاني، السيد محمد بن اسماعيل(ب.ت): سبل السلام شرح بلوغ المرام ، ۲ / ۴۶۷.

**2** - أبو بكر البيهقي: أحكام القرآن للشافعي ، مكتبة الخانجي - القاهرة ، لومړی چاپ ، (۱۴۱۴ هـ - ۱۹۹۴ م) ، ۲ / ۱۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ – (عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ هِجْرَةَ بَعْدَ الفَتْحِ، وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ، وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا»[1])

ژباړه : ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی دا وایي ، رسول الله وفرمایل : [ د فتح څخه وروسته هجرت نشته ، مګر جهاد او نیت باقي دی ، کله چې در څخه د وتلو غوښتنه وشوه نو ووځئ.

د استدلال وجه : په پورته حدیث کې د استشهاد محل ( لاَ هِجْرَةَ بَعْدَ الفَتْحِ ) دی پدې معنی چې واجبي هجرت د مکې له فتحې وروسته ساقط شو ، وجوب یې نسخه او استحباب یا جواز لا باقي پاتې شو ، له همدې کبله د دار شرک یا دار کفر په استوګنو دار اسلام ته هجرت واجب ندی.

الخطابي رحمه الله همدې خبرې ته اشاره کوي وایي : د اسلام په اوایلو کې رسول الله ته هجرت کول مطلوب وه ، بیا دا هجرت فرض وګرځول شو تر څو د مسلمانانو په نفعه په جهاد کې برخه واخلي ، علم حاصل کړي ، تر څو چې دا موضوع په مختلفو ایاتونو کې په ټېنګار سره وشوه ، حتی چې د هجرت د نه کولو په سبب یې د مسلمانانو موالات او دوستي قطعه اعلان کړه ، الله عزوجل فرمایي (إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ ءَاوَواْ وَّنَصَرُوٓاْ أُوْلَٰٓئِكَ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يُهَاجِرُواْ مَا لَكُم مِّن وَلَٰيَتِهِم مِّن شَيۡءٍ حَتَّىٰ

[1] - متفق علیه ، رواه البخاري ، کتاب الجهاد والسیر ، باب فضل الجهاد والسیر او باب وجوب النفیر ، ما یجب من الجهاد والنیة ، رواه مسلم عن عایشة ، کتاب الامارة ، باب المبایعة بعد فتح مکة علي الاسلام.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يُهَاجِرُواْ ۚ[1] [ ژباړه : کومو خلکو چې ايمان راؤړ او هجرت يې وکړ او د الله په لاره کښې په خپل سر او مال وجنګېدل، او کومو خلکو چې مهاجرينو ته ځای ورکړ او له هغو سره يې مرسته وکړه، هماغوی په اصل کښې يو د بل دوستان دي. پاتې شول هغه خلك چې ايمان يې راوړی دی خو (دارالاسلام ته يې) هجرت نه دی کړی نو له هغو سره ستاسې کومه دوستانه اړيکه نشته تر څو پورې چې هغوی هجرت نه وي کړی] ) کله چې مکه فتحه شوه د ټولو قبائلو څخه خلک په اسلام کې داخل شوه واجبي هجرت ساقط شو او استحباب يې باقي پاتې شو[2].

نو د هجرت د وجوب علت د اسلام په ابتدا کې د مسلمانانو تکثير او د کافرانو د طاقت له منځه وړل وه ، کله چې مکه فتح شوه علت ختم شو او مدينې ته د هجرت کولو حکم هم ختم شو ، ځکه نور نو اسلام قوي شوی ، مګر کله که مسلمانان اتفاق وکړي په بعضي وختونو کې چې مسلمانان کم دي او کافرانو طاقت زيات دی او يوه هيواد ته راټول شي ، تر څو د کافرانو طاقت ختم کړي نو په دغه وخت کې په مسلمانانو هجرت لازم دی ، ځکه اوس نو له مکې څخه مدينې ته د هجرت علت دوباره را واپس شو[3].

پدې ډول سره د دواړو ډلو مشهور دلائل سره د لنډې شرحې او د استدلال وجه ذکر شول ، د دې لپاره چې چې اوس راجح نظر ته لار پيدا کړای

---

[1] - الانفال / ۷۲.

[2] - العسقلاني ، احمد بن علي بن حجر (۱۴۲۴هـ ـ ۲۰۰۴م) : فتح الباري ، ۷ / ۲۷۰ – ۲۷۱.

[3] - الرازي ، فخر الدين (۱۴۲۰ هـ ) : التفسير الكبير ، ۱۱ / ۱۶۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي ؛ غوره به وي تر څو د دواړو ډلو دلائل د قوت او ضعف ، صراحت او خفاء له حيثه و ارزول شي او په نتيجه کې راجح نظر څرگند شي.

## د دلائلو ارزونه :

الف : د لومړۍ ډله دلائلو ارزونه :

لومړۍ ډله علماء چې مالکيان ، ابن حزم الظاهري او بعضي معاصرين پکې داخل دي او په دار کفر کې استوگنه اصلا حرامه گڼي د دوی په دلائلو باندې بعضي اعتراض واردیږي چې دلته ورته په ترتيب سره اشاره کيږي:

١ - د قراني دلائلو ارزونه :

لومړی دليل : (إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِيٓ أَنفُسِهِمۡ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمۡۖ قَالُواْ كُنَّا مُسۡتَضۡعَفِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ ... [1])

ژباړه : کومو خلکو چې پر خپلو نفسونو (دهجرت په نه کولو) ظلم کاوه پرښتو له هغو څخه د هغو د سا اخيستلو په وخت کښې پوښتنه وکړه چې تاسې په څه حال کښې اخته وئ؟ هغوی ځواب ورکړ چې مونږ په ځمکه کښې کمزوري او مجبور وو.

د سبب نزول څخه څرکنديږي چې په پورته ايات کې د هجرت امر له مکې څخه مدينې ته متوجه ؤ ، خو اصولي قاعدې په بناء چې [ اعتبار د لفظ عام والي ته دی نه د مورد خاص والي ته ] د ايات حکم عام دی ، البته حکم په

---

[1] - النساء / ٩٧ ـ ٩٩.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه علم باندې معلول دی ؛ یعني مکه کې مسلمانان د دین له کبله په فتنه کې لویدل ؛ امر ورته وشو چې مدینې ته هجرت وکړئ تر څو مو دین په امان شي ، نو د هجرت حکم معلول دی په یوه علت پورې کله چې علت موجود شو معلول به موجودیږي ، یعني کله چې د دین یا نفس د نقصان ویره وي نو د هجرت وجوب به راځي او دا خو اتفاقي صورت دی.

همدې خبرې ته امام شافعي رحمه الله داسې اشاره کوي : ( نبوي سنت پدې دلالت کوي چې د هجرت فرضیت په هغه چا دی چې طاقت یې لري او کوم ښار کې چې مسلمان شوی ؛ هلته د دین په لحاظ فتنه کې گرفتاریږي ، ځکه رسول الله بعضي کسانو ته په مکه کې د استوگنی اجازه ورکړې ، لکه عباس بن عبدالمطلب رضی الله عنه او نور ، ځکه دوی له فتنې څخه په امان وه...[1])

نو پورته ایات له مدعی سره مطابقت نلري پدې معنی چې مدعی دا وه چې اصل له دار شرک او دار کفر څخه هجرت دی خو دلیل وایې چې کله فتنه موجوده وه د هجرت فرضیت به موجودیږي.

دویم دلیل : (إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ... [2])

[1] - القرطبي ، محمد بن أحمد بن أبي بكر (١٣٨٤هـ ـ ١٩٦٤م ): الجامع لاحكام القران ، ٢ / ١٧٠.

[2] - الانفال / ٧٢.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : کومو خلکو چې ایمان راؤړ او هجرت یې وکړ او د الله په لاره کښې په خپل سر او مال وجنګېدل...

په دغه دلیل هم هماغه اعتراض دی ، چې هجرت اصل ندی بلکې د یوه علت له کبله ؤ ، لکه فخرالدین الرازي رحمه الله د دې ایات په تفسیر کې لیکي : ( د هجرت څخه مقصود د مسلمانانو اجتماع ، تکثیر او یو دبل امداد ؤ او د مینې ، طاقت او عدم تفرقي موضوع وه[1].)

نو پدې ایات هم هلته استدلال کیدلی شي چې مسلمانان کمزوري وي ، په یوه ځای کې راټولیدل ورته ضرورت وي ، د دین له کبله په فتنه کې وي ، نفسونه یې په امان نه وي.

دریم دلیل : (**وَدُّواْ لَوۡ تَكۡفُرُونَ كَمَا كَفَرُواْ فَتَكُونُونَ سَوَآءٗۖ فَلَا تَتَّخِذُواْ مِنۡهُمۡ أَوۡلِيَآءَ حَتَّىٰ يُهَاجِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ** ... [2])

ژباړه : هغوی خو دا غواړي لکه چې څنګه په خپله کافران دي هماغسې تاسې هم کافران شئ تر څو تاسې او هغوی ټول سره برابر شئ. له دې امله له هغو نه هېڅوك خپل دوستان مه نیسئ ترڅو چې هغوی د خدای په لار کښې هجرت ونه کړي.

دغه ایاتونه هم د هغه چا اړوند نازل شوي چې مکه منوره کې یې استوګنه لرله او مدینې ته یې هجرت ونکړ ، هلته هم د هجرت ځانکړي اسباب او علتونه موجو وه ، لکه د مسلمانانو تقویه او جهاد کول ، د دین اړوند له فتنې

---

[1] - الرازي ، فخر الدین (۱۴۲۰ هـ ) : التفسیر الکبیر ، ۵ / ۱٦٧.

[2] - النساء / ۸۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه خوندي توب ، د دین زده کړه ، نیل الاوطار کې د خطابي رحمه الله له قول څخه د مکې څخه مدینې ته د هجرت اسباب داسې په ګوته کوي : ( کله چې رسول الله مدیني ته هجرت وکړ نو په مسلمانانو هم مدینې ته هجرت واجب شو ، د رسول اله په ملګرتیا قتال کې برخه اخستل ، د دین زده کړه او دا خبره په ډیرو ایاتونو کې په تاکید ذکر شوی ده ، چې د مسلمانانو ترمنځ یې موالات قطع کړ کوم چې مهاجر وه او کووم چې مهاجر نه وه ، الله عزوجل فرمایي [**إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ ءَاوَواْ وَّنَصَرُوٓاْ أُوْلَٰٓئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍۚ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمْ يُهَاجِرُواْ مَا لَكُم مِّن وَلَٰيَتِهِم مِّن شَيْءٍ حَتَّىٰ يُهَاجِرُواْۚ**[1]] کله چې مکه فتحه شوه د ټولو قبائلو خلک په اسلام کې داخل شول نو واجبي هجرت قطع شو او استحباب پاتې شو.[2])

۲ - د احادیثو څخه دلایلو ارزونه :

لومړی دلیل : («أَنَا بَرِيءٌ مِنْ كُلِّ مُسْلِمٍ يُقِيمُ بَيْنَ أَظْهُرِ الْمُشْرِكِينَ»[3] [ زه د هر هغه مسلمان څخه ناراضه یم چې د مشرکانو منځ کې اوسیږي ])

له پورته حدیث څخه په استدلال کولو دوه اعتراضه راځي :

---

[1] الانفال / ۷۲.

[2] - الشوکاني ، محمد بن علي بن محمد بن عبد الله (۱۴۱۳هـ ـ ۱۹۹۳م) : نیل الاوطار ، ۸ / ۲۹.

[3] - مخکې یې تخریج وشو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی اعتراض : د سند په حیثه : په پورته حدیث کې د جرح او تعدیل علماؤ کلام کړی ، لکه دا خبره خطابي کړې ، ابن حجر رحمه الله بیا وایي : دا حدیث صحیح دی او امام بخاري یې ارسال ته ترجیح ورکړې.[1]

خو غوره دا بریښي چې حدیث صحیح دی او استدلال پرې درست دی[2].

دویم اعتراض د متن په لحاظ : کله چې سند درست دی او د استدلال وړ دی نو دلته بیا بل اعتراض متوجه کیږي ، هغه دا چې دغه حدیث د یوه خاص علت له کبله ویل شوی دی ، پدې معنی چې هاغه سیمه کې چې دغه مسلمانان کمزوري وه ، د دین اظهار یې نشو کولی او په هجرت قادر وه ، نو سره لدې هجرت نه کول یې جرم وګڼل شو او رسول الله ورڅخه بې زاري اعلان کړه.

لکه همدغه خبره ابن حجر رحمه الله پدې حدیث باندې په تعلیق کې کوي : دا حدیث د هغه چا په مورد کې محمول دی چې د دین په اړوند له فتنې څخه په امن نه وي او د مشرکانو منځ کې استوګنه کوي [3].

دویم دا چې د دې حدیث په مفهوم کې درې احتمالات موجود دي او کله چې احتمال راشي استدلال باطل ګرځي ، لکه تحفة الاحو ي له خطابي

[1] - مبارکفوري ، صفي الرحمن (١٤١٨هـ ـ ١٩٩٧م ) : اتحاف الکرام شرح بلوغ المرام، دار السلام ،٢ / ٣٨٣.

[2] - أبو زکریا محیي الدین یحیی بن شرف النووي (ب.ت) : المجموع شرح المهذب ، تحقیق : محمد نجیب المطیعي ، جدة ـ المملکة العربیة السعودیة ، مکتبة الارشاد ، ١٩ / ٢٦٣.

[3] - العسقلاني ، احمد بن علي بن حجر (١٤٢٤هـ ـ ٢٠٠٤م) : فتح الباري ، ٦ / ٤٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



[1]رحمه الله څخه نقل کوي : د دې حديث په معنی کې درې اقوال دي ، څوک وايي دا دواړه په حکم کې يو شان ندي ، چا ويلي چې دلته د دار کفر او دار اسلام ترمنځ فرق بيان شوی او مسلمانانو ته جايز ندي چې د کفارو په سيمه کې استوګنه ولري ، بعضي وايي : مسلمانان بايد د مشرکانو په څير او شکل ژوند ونه کړي يعني مشابهت بايد ونکړي[2].

پورته تحقيق ته په کتو دا حديث پدې ځای کې د استدلال وړ ندی ، يو خو دا چې د دې حديث حکم د يوه علت له کبله ؤ او دويم دا چې د دې حديث په مفهوم کې احتمالات موجود دي.

دويم دليل : («لَا تَنْقَطِعُ الْهِجْرَةُ حَتَّى تَنْقَطِعَ التَّوْبَةُ، وَلَا تَنْقَطِعُ التَّوْبَةُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا[3]» [ هجرت تر هغې نه قطع کيږي تر څو چې توبه نه وي قطع شوي او توبه تر هغې نه قطع کيږي تر څو چې لمر له مغرب څخه نه وي راپور ته شوی.])

د دې حديث په وړاندې دا اعتراض کيدلی شي ، چې دا هم په خاصو حالاتو او ظروفو پورې خاص دی ، لکه د مسلمانانو او غير مسلمو ترمنځ د

---

[1] - الخطابي ، اصلی نوم يی حمد بن محمد بن إبراهيم ابن الخطاب البستي، أبو سليمان: فقيه او محديث دی ، بست دخلکو څخه دی چه بست دکابل يوه سمه ده ، دنسل سلسله يی زيد بن الخطاب ته منسوب ده ، مشهور تاليفات معالم السنن في شرح سنن أبي داود، و بيان إعجاز القرآن او إصلاح خطأ المحدثين او غريب الحديث او تفسير أحاديث الجامع الصحيح للبخاري په بست سمه کی وفات شوی دی ، ګورهٔ : زرکلي ، خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس (۲۰۰۲م) : الأعلام ۲ /۲۷۳

[2] - المباركفوري ، محمد عبد الرحمن ابن عبد الرحيم (ب.ت) : تحفة الاحوذي ، ۵ / ۱۹۰ ـ ۱۹۱.

[3] - مخکې يې تخريج وشو ، ص

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنگ حالت کې او مسلمانان د هغه کسانو باندې په ویره کې وي کوم چې د مشرکانو سیمه کې استوگنه لري د دې تر څنگ پدې حدیث کې له کوم ځایه هجرت وشي !؟ ، چېرته وشي !؟ دا موضوع روښانه نده ، نو د لومړي نظر لپاره پکې کوم حجت هم نشته.

لکه صنعاني رحمه الله د دې حدیث په تعلیق کې وایي : ... دا حدیث د هجرت په وجوب دلالت نه کوي او د هجرت د ثواب په اړوند پکې څه نشته[1].

دریم دلیل : " لَا تُسَاكِنُوا الْمُشْرِكِينَ وَلَا تُجَامِعُوهُمْ , فَمَنْ سَاكَنَهُمْ أَوْ جَامَعَهُمْ فَهُوَ مِثْلُهُمْ»[2])

پدې حدیث کې هم دوه قسمه نیوکې لیدل کیږي ، لومړی د سند په لحاظ دغه حدیث ضعیف دی امام ذهبي رحمه الله وایي : دا سند توره تیاره دی ، حجت پرې نشي نیول کیدلی[3].

دویم د متن په لحاظ : که چېرته حدیث صحیح هم وگڼو نو بیا هم دلته پرې استدلال نشي کیدلی ځکه ، حدیث د حکم د یوه علت سره تړلی چې هغه د فتنې څخه ویره ده او دلته زمونږ خبره د امن په حالت کې استوگنه ده.

لکه اللجة الدائمة د دې حدیث علت ته داسې اشاره کوي : حدیث (فَمَنْ سَاكَنَهُمْ أَوْ جَامَعَهُمْ فَهُوَ مِثْلُهُمْ) او ((«أَنَا بَرِيءٌ مِنْ كُلِّ مُسْلِمٍ يُقِيمُ بَيْنَ

---

[1] - الصنعاني، السید محمد بن اسماعیل(ب.ت): سبل السلام شرح بلوغ المرام ، ۴ / ۴۵.

[2] - مخکې تخریج وشو ، ص

[3] - أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (ب.ت) : المجموع شرح المهذب ، ۱۹ / ۲۶۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



أَظْهُرِ الْمُشْرِكِينَ) دغه دوه حديثونه د سخت وعيد او د مشركانو سره د استوګنی په تحريم دلالت کوي ، لکه دغه دوه حديثونو د مشرکانو له استوګن ځای څخه د هجرت کولو فرضيت ځرګنديږي ، خو دا د هغه چا په حق کې چې د دين اظهار وه نه شي کولی[1].

ب : د دويمه ډله علماؤ د دلائلو ارزونه :

دغه رنګه د دويمه ډله علماء چې وايي ، په استوګنه کې اصل اباحت دی او کله چې يو مسلمان په امن کې وي نو په دار کفر کې استوګنه جايز ده او دا قول د جمهورو احنافو ، حنابله ؤ او مالکيانو نظر دی د دوی دلائلو باندې هم يو څه اعتراضات شته چې دلته په لنډ ډول ورته اشاره کيږي :

۱ - : د قراني دلايلو ارزونه :

لومړی دليل (**إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِيٓ أَنفُسِهِمۡ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمۡۖ قَالُواْ كُنَّا مُسۡتَضۡعَفِينَ**...)[2]

ژباړه : کومو خلکو چې پر خپلو نفسونو (دهجرت په نه کولو) ظلم کاوه پرښتو له هغو څخه د هغو د سا اخيستلو په وخت کښې پوښتنه وکړه چې تاسې په څه حال کښې اخته وئ؟ هغوی ځواب ورکړ چې مونږ په ځمکه کښې کمزوري او مجبور وو...

لدې دليل څخه جواب دا دی چې ايات په يوه خاصه واقعه کې راغلی چې هغه له مکې څخه مدينې ته هجرت کول وه[1].

---

[1] - مجلة البحوث الاسلامية ، ګڼه ٦٠ ، ص ٦١.

[2] - النساء / ٩٧ ـ ٩٩.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مکه دار کفر ؤ او مدینه دار اسلام نو له همدې کبله دار کفر څخه دار اسلام ته د هجرت امر شوی ؤ نه د فتنې له کبله.

دویم دلیل : (﴿ وَمَن يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ يَجِدْ فِي ٱلْأَرْضِ مُرَٰغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً ...)[2]

ژباړه : څوك چې د الله په لار کښې هجرت وکړي هغوی به په ځمکه کښې د پناه اخیستلو ډېر ځایونه او د ژوند تېرولو له پاره ډېره پراخي ومومي...

د دې ایات کریمه له سبب نزول څخه معلومیږي چې جندب رضی الله عنه په سخت حالت کې هجرت وکړ لکه څنګه چې مخکې هم ورته اشاره وشوه ، کچیرته درا کفر څخه دار اسلام ته هجرت کول واجب نه وی نو ده به دومره مشقت نه برداشت کولو.

دریم دلیل :(وَإِذِ ٱعْتَزَلْتُمُوهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ فَأْوُۥٓا۟ إِلَى ٱلْكَهْفِ...)[3]

ژباړه : کله چې اوس تاسې له هغو او د هغو له غیر الله معبودانو څخه خپلې اړیکې پریکړې دي، نو ځئ فلانۍ ځمځې ته پناه یوسئ...

---

[1] - الرازي ، فخر الدين (١٤٢٠ هـ ) : التفسير الكبير ، ١١ / ١١٧ او القرطبي ، محمد بن أحمد بن أبي بكر (١٣٨٤هـ ـ ١٩٦٤م ): الجامع لاحكام القران ، ٥ / ٣٤٦.

[2] - النساء / ١٠٠.

[3] - الکهف / ١٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې دلیل په وړاندې هم یو څو اعتراضونه کیدلی شي :

لومړی : دا د مخکني شریعتونو حکم دی او د مخکنیو شریعتونو په حجیت کې د علماؤ اتفاق ندی موجود.

دویم : که مخکني شریعتونه قابل د استدلال هم وګرځي ، نو بیا هم زمونږ لپاره دلیل دی ( لومړی نظر لپاره ) پدې معنی چې دوی له دار کفر څخه هجرت وکړ او دا پدې دلیل دی چې په دار کفر کې استوګنه ممنوع ده.

څلورم دلیل : (**يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ أَرۡضِي وَٰسِعَةٞ فَإِيَّٰيَ فَٱعۡبُدُونِ ٥٦**)[1]

ژباړه : ای زما مؤمنو بندګانو! زما ځمکه پراخه ده، نو تاسې همدا زما بندګی وکړئ.

لدې ایات څخه داسې جواب کیدلی شي چې اګر که دې ایات د هجرت مګان ندی مشخص کړی خو ډیر نصوص پدې دال دي چې دار شرک کې استوګنه منع ده ، چې دا دلایل مخکې د لومړي نظر په دلایلو کې تیر شول.

۲ -: احادیثو څخه دلایلو ارزونه :

لومړی دلیل : («فَاعْمَلْ مِنْ وَرَاءِ البِحَارِ، فَإِنَّ اللَّهَ لَنْ يَتِرَكَ مِنْ عَمَلِكَ شَيْئًا»...[2] [ له ښارونو لرې اوسیږه ، الله عزوجل ستا له اعمالو هیڅ هم نه

---

[1] - العنکبوت / ٥٦.

[2] - مخکې یې تخریج وشو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کموي ] )

دلته اعرابي مدينې ته د هجرت پوښتنه کړې او هغه هجرت خو د فتح مکې سره منسوخ شوی دی ، نو دلته خو په دار کفر کې د استوګنې د جواز کوم دليل نشته.

ابن حجر رحمه الله پدې حديث تعليق کې ليکي : دا واقعه د فتح مکې څخه وروسته واقع شوی ، ځکه مخکې خو هجرت فرض عين ؤ او له فتح مکې څخه وروسته يې فرضيت په ( لاهجرة بعدا الفتح ) منسوخ شو[1].

دويم دليل : د عايشي رضی الله عنها اثر چې فرمايي (لَا هِجْرَةَ الْيَوْمَ كَانَ الْمُؤْمِنُونَ يَفِرُّ أَحَدُهُمْ بِدِينِهِ إِلَى اللَّهِ تَعَالَى وَإِلَى رَسُولِهِ...[2] [نن ورځ هجرت نشته ؛ وړاندې به مؤمنانو څخه هر کس د خپل دين له کبله الله او رسول ته هجرت کولو...])

دلته د (لَا هِجْرَةَ الْيَوْمَ) څخه مقصد له مکې څخه مديني ته هجرت کول دي ، چې دا نن ورځ منسوخ شوی ، خو له دار کفر څخه دار اسلام ته هجرت کول خو لا هم باقي دی لکه مخکې مو چې دلائل څرګند کړل.

دريم دليل : ( ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى التَّحَوُّلِ مِنْ دَارِهِمْ إِلَى دَارِ الْمُهَاجِرِينَ...[3] [بيا يې د دوی له استوګنځای څخه د مهاجرينو استوګن ځای ته راوبله])

لدې څخه داسې جواب کيږي چې درا المهاجرين څخه مدينه مراد ده او د مکې له فتحي څخه وروسته مديني ته هجرت کول مستحب وه ، خو د

---

[1] - العسقلاني ، احمد بن علي بن حجر (۱۴۲۴هـ ـ ۲۰۰۴م) : فتح الباري ، ۷ / ۳۰۷.

[2] - مخکې يې تخريج وشو

[3] - مخکې يې تخريج وشو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دار کفر څخه دار اسلام ته د هجرت د فرضيت بقاء د قيامت تر ورځې ده ، د هغه دلائلو له کبله چې مونږ مخکې ذکر کړل.

ځلورم : «لاَ هِجْرَةَ بَعْدَ الفَتْحِ...[1] [د فتح څخه وروسته هجرت نشته]»

دا حديث هم له دار شرک څخه دار اسلام ته د هجرت دوجوب مانع نه گرځي ، ځکه لدې حديث څخه د مکې نه مديني ته د هجرت نسخ معلوميږي ، ماوردي رحمه الله د دې حديث په مفهوم کې دوه قوله نقل کړي :

لومړی : له مکې څخه هجرت نشته ځکه دا نور دار اسلام ورگرځيده.

دويم : نن ورځ د هجرت هغه فضيلت نشته کوم چې پرون له مکې څخه مديني ته ؤ ، ځکه هلته تکليف ډير زيات ؤ[2].

ترجيح :

د دواړو لورو دلايلو له ارزونې څخه دا نتيجه لاسته راځي چې ، پورته ذکر شي دلائل په دوه کټه گورۍ تقسيم شي ، لومړی قراني دلائل او دويم نبوي دلائل چې هر يو يې څخه يې لاندې نقاط په لاس راځي :

قراني دلائل :

١ – له مکې څخه مديني ته د هجرت وجوب په هغه چا چې په هجرت قادر وي.

---

[1] - مخکې يې تخريج وشو

[2] - الماوردي ، علي بن محمد بن حبيب البغدادي ( ١٤١٩هـ ـ ١٩٩٩م) : الحاوي الكبير ، ١٦ / ١٠٥. او النووي ، أبو زکريا محيي الدين يحيى بن شرف ( ١٣٩٢هـ ) : المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج ، بيروت ، دار إحياء التراث العربي ٩ / ١٢٣.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ – څوک چې په هجرت قادر نه وي ، په هجرت نه کولو مجرم نه شمیرل کیږي.

۳ – له دار ظلم څخه دار امن ته هجرت کول هر چېرته چې وي.

۴ – د دین ، نفس ، مال او اهل د حفاظت له کبله د هجرت مشروعیت.

نبوي دلائل :

۱ – د رسول الله په دور کې له دار شرک ( مکې ) څخه دار اسلام ( مدیني ) ته د هجرت وجوب په هغه چا چې په هجرت قادر وي.

۲ – له دار کفر څخه دار اسلام ته د هجرت مشروعیت کله چې فتنه موجوده وي د قیامت تروځې باقي دی.

۳ – د دار کفر اصلي اوسیدونکو ته په دار کفر کې د استوګنې جواز کله چې فتنه نه وي موجوده.

۴ – دار ظلم څخه دار امن ته هجرت کولو مشروعیت لکه حبشې ته هجرت.

بالاخره دې نتیجې ته رسیږو چې : د بحث لاندې صورت یعني کله چې په دار کفر کې فتنه نه وي موجوده یعني دین ، نفس ، مال او اهل یې خوندي وي د هجرت حکم څه دې ؟ د لومړی ډلې دلائل چې په وجوب یې نقل کړي وه په زیر بحث موضوع کې وارد نه وه ، ځکه دغه دلائل ټول د فتني په علت سره معلل وه ، نو کله چې علت موجو وه حکم به موجودیږي ، همدې نقطې ته په کتو سره داسې ویلی شو چې په کفري هیوادونو کې استوګنه یا ورته هجرت کول هلته جواز لري چې فتنه نه وي مو جوده او ضرورت هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



موجود وي د دې لپاره چې فتنه نفي شي او ضرورت موجودیت ثابت شي څو شرطونه ضرور دي ، محمد بن صالح العثیمین رحمه الله دغه شرطونه داسې په ګوته کوي :

لومړی شرط : چې انسان سره به دومره علم وي چې شبهات پرې دفع کړي.

دویم شرط : دیني جنبه یې دومره قوي وي چې د شهواتو څخه ځان وژغوري.

دریم شرط : دغه هجرت ته به ضرورت موجود وي[1].

همدارنګه په کفري هیوادونو کې د اقامت په اړوند دکتور محمد مصطفی نیازي د څو شرطونو څخه په داسې ډول یادونه کوي:

۱ – شرعي ضرورت به موجود وي تر څو په کفري هیواد کې پاتې او هلته میشت شي ، چې دغه چاري به په اسلامي هیوادونو کې نشي تر سره کولای ، لکه سوداګري ، دعوت ، د خپل مسلمان هیواد نماینده ګي ، علمي زده کړه چې په اسلامي هیوادونو کې هغسې نه وي موجوده ، په خپل ځان له وژنې ، زندان او شکنجي څخه ویریدل او داسې نور ، یا هم داسې چې په اسلامي هیواد کې په خپل اولاد ، کورنۍ او شتمنۍ ویریدل ، د دغو لاملونو په موجودیت سره کولای شي په کفري هیواد کې پاتې شي.

۲ – په کفري هیواد کې به یې پاتې کیدل مؤقت وي ، دائمي بڼه به نه غوره کوي ، ان چې د تل پاتې ژوند نیت به هم نه کوي ، بلکې د مؤقت وخت

[1] - العثیمین، محمد بن صالح(ب.ت) : شرح الأصول الثلاثة، اسکندریة، دار الایمان للطبع والنشر والتوزیع، ص۱۳۱ ـ ۱۳۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیت به ور سره وي ، ځکه دا دائمي اوسیدنې یا نیت معنی دا ده چې له دار د اسلام څخه یې دار کفر ته پناه وړې ، او دغه کړنه د اسلامي حکم او مقرراتو سره په ټکر کې ده هغه دا چې هجرت به له دار کفر څخه دار اسلام ته کیږي.

د مؤقت وخت تیریدل به په داسې توګه وي چې د کوم حاجت لپاره تللي چې کله هغه هم پوره شي نو کفري هیواد به پریږدي او خپل اسلامي هیواد ته به ستنیږي.

۳ – په کوم کفري هیواد کې چې پاتې کیږي هغه هیواد به دار حرب نه ويي بلکې تعهد به ورسره شوي وي او که دار حرب وو بیا پکې پاتې کیدل جواز نلري ، دار حرب پدې معنی چې هیواد وال یې د مسلمانانو سره جنګیږي.

۴ – په هماغه کفري هیواد کې به د دین بشپړه ازادي موجوده وي تر څو مسلمانان وکولای شي د خپل دین شعائر په ښکاره او سمه توګه سرته ورسوي.

۵ – د دې وړتیا به موجوده وي چې په هماغه هیواد کې اسلامي تعلیمات زده کړي ، که چیرې د دې شونتیا نه وي بیا هلته پاتې کیدل جواز نلري ، ځکه چې پدغه حلت کې د الله پاک له دین څخه سرغړاوی دی.

٦ – د ده غالب ګمان به دا وي چې د خپل دین ساتنه کولای شي ، د دې سر بیره د خپل اولاد او کورنۍ ساتنه هم د اسلام په چوکاټ کې کولای شي ، که داسې نه وي بیا پاتې کیدل جواز نلري[1].

[1] - نیازی ، محمد مصطفی ( ۱۳۹٦هـ ش ): معاصر فقهي قضایا ، ۲ / ۲۲٦ – ۲۲۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې کفري هيوادونو ته د هجرت حکم څرگند شو ، اوس به بعضې هغه مسائلو ته اشاره وشي چې نن ورځ ورسره مسلمانان لاس او گريوان دي ، په هغه حالاتو به لنډ بحث وشي چې مسلمان ضرورت احساسوي تر څو د هغې اهدافو د تر لاسه کولو لپاره کفري هيوادونو ته هجرت وکړي.

لومړۍ مساله : غير اسلامي هيوادونو ته د تعليم او سوداگرۍ لپاره هجرت کول

دا چې غير اسلامي هيوادونو ته د سوداگرۍ لپاره او يا هم د تعليم لپاره د هجرت کولو حکم څه دی نو په دې اړوند بعضې معاصرو علماؤ اقوالو باندې اکتفاء کوو :

١ ـ محمد بن صالح العثيمين رحمه الله وايي : کفري هيوادونو ته هجرت کول او هلته استوگنه اختياره ول مختلف اقسام لري او هر قسم يې ځانگړي شرايط چې په لاندې ډول دي :

لومړی قسم : د اسلام لور ته بلنه او تر غيب ، دا يو قسم جهاد دی او حکم يې فرض کفائي دی په هغه چا چې قدرت يې ولري ، پدې شرط چې بلنه امکان ولري او د بلنه منع کيږي نه او خلک يې قبلوي هم ، ځکه اسلام لور ته بلنه د ديني واجباتو څخه ده.

دويم قسم : د کافرانو د احوالو د څيړنې لپاره تر د هغوی عقيدوي ، اخلاقي او اجتماعي اوضاع فساد خلکو ته څرگند گړي ، دا هم يو ډول جهاد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم قسم : د اسلامي دولت د حاجت له کبله تر څو د اسلامي او کفري هیواد ترمنځ روابط وساتي لکه د سفارتونو مؤظفین ، پدې سره د مسلمانانو مصلحت ساتل کیږي.

څلورم قسم : د مباحو کارونو د تر سره کولو لپاره ضرورت وي لکه د تجارت تر سره کول چې د حاجت په اندازه هلته استوګنه مباح ده.

پنځم قسم : د تحصیل او تعلیم لپاره ، اګر که دا هم د مخکې قسم یعني د مباح کارنو د ترسره کولو لپاره په اقامه کې راځي مګر دا له هغې څخه ډیر خطر ناک دی ، ځکه دا استوګنه کونکي په دین او اخلاقو اثر لري ، ځکه محصل د خپلې مرتبې د ټیټ والي او د استاذانو د مرتبې د جګ والي احساس کوي ، پدې سره د هغوی تعظیم ورته څرګندیږي او د هغوی د نظریاتو ؛ افکارو او سلوک څخه متاثره کیږي نو د هغوی تقلید کوي مګر هغه څوک چې الله عزوجل یې وژغوري ، همدارنګه د هغوی ته احتیاج احساسوي نو د هغوی طرف ته میلان کوي نو د ددوی په اقامه کې څو نور شروط هم ضرور دي :

لومړی شرط : محصل باید د لوړ عقلي قوت لرونکی وی چې د ګټې او تاوان توپیر پرې وکړای شي ، کوچیان او د کم عقل څښتنان باید ونه لیږل شي ، ځکه دا ډیر زیات اضرار لري کوم چې په د سر په سترګو لیدل شوي دي.

دویم شرط : محصل سره به دومره شرعي علم وي چې حق او باطل پرې وپیژندلی شي .

دریم شرط : دومره دیني قوت ورسره وي چې د کفر او فسق څخه پرې وژغورل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلورم شرط : حاجت باید موجود وي پدې معنی چې پدې تعلیم کې به مسلمانانو ته ګټه وي او دغه تخصص به په بل اسلامي هیواد کې نشي تر سره کیدلی.

شپږم قسم : د استوګنی لپاره کفري هیواد ته هجرت کول ، چې دا تر پورته قسم هم ډیر خطر ناک دی ځکه پدې سره مینه ، موالاة او د کفارو د ډلې زیادت راځي[1].

۲ - شیخ صالح بن فوزان الفوزان رحمه الله وایي[2].

کفري هېوادونو ته هجرت کول جواز نه لري مګر په لاندې حالاتو کې:

الف: د هغو درملو کولو لپاره چې هغه په اسلامي هېوادونو کې نه کېږي.

ب: د سوداګرۍ لپاره هجرت کولی شي.

ج: او د هغو علومو د زده کړې لپاره هجرت کولی شي چې په اسلامي هېوادونو کې د هغې زده کړه نه کېږي، او مسلمانان د هغې زده کړې ته محتاجه وي.

د: دعوت لپاره تللی شي چې اسلامي شریعت نشر کړي.

۲ــ عبدالله بن عبدالرحمن الجبرین[1] رحمه الله وایي: زده کوونکی غېر اسلامي هېوادونو ته د هغې زده کړې لپاره تللی شي کومه چې په اسلامي هېوادونو کې نه وي خو شرطونه یې په لاندې ډول وضعه کړي دي.

---

[1] - العثیمین، محمد بن صالح(ب.ت) : شرح الأصول الثلاثة ، ص ۱۳۴ ـ ۱۳۸ ، باختصار

[2] - الفوزان، صالح بن فوزان بن عبدالله: المنتقي من فتاوی،(**http://www.alfawzan.af.org.sa/node/3071**)، ۲/ ۲۵۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف: خپل دیني شعائر به په ښکاره ډول اداء کولی شي.

ب: د کفارو مجالسو کې به ګډون نه کوي.

ج: کفري اخترونه به نه لمانځي.

د: کفارو ته به درناوي نه کوي.

هـ: د درس ختمیدلو سره به فوري خپل اسلامي هېواد ته راستنېږي.

و: د فواحشو څخه به ځان ساتي[2]

په خلص ډول ویلی شو چې : کفري هیوادونو ته د سوداګرۍ او تعلیم لپاره هجرت کول په پورته شرطونو باندې جائز دي.

دویمه مساله : کفري هیوادنو کې د ښه ژوند د تیرولو لپاره پناه اخېستل

د ښه ژوند د تیرولو څخه هدف دا دی چې : بغیر لدې چې شرعي ضرورت موجود وي او یواځې د دې لپاره کفري هیوادونو کې پناه اخېستل چې د ژوند له سهولتونو څخه برخمن شي.

د دې لپاره چې په دغه صورت کې د پناه اخېستلو په حکم باندې پوه شو نو باید د هغه شروط په نظر کې ونیسو کوم چې په کفري هیوادونو کې د

[1]. عبدالله بن عبدالرحمن بن عبدالله بن ابراهیم بن فهد بن حمد بن جبیرین د بني زید له قبیلي څخه ، د اسلام بلونکی او فقیه عالم ؤ ، په ۱۳۲۵هـ کې القویعیة کې پیدا شوی او د ملک فیصل په روغتون کې په کال ۱۴۳۰هـ کې وفات شوی. **http://www.ahlalhadeeth.com/vb/showthread.php?t=208670** د نشر نېټه ۲۰۱۰/۰٤/۱۹ سهار ۱۰:۵۹ وخت.

[2] _ **http://www.awda.com/pages/articles/default.aspx?id=2072**

**http://www.awqaf.gov.ae/fatwa.aspx?sectionID=9&RefID=13314**

(c) ketabton.com: The Digital Library



استوګنې ، هلته د هجرت کولو او پناه اخېستلو لپاره علماؤ وضع کړي او مونږ ورته لږ وړاندې اشاره وکړه ، د دې لپاره چې له تکرار څخه مو ځان ساتلی وي د هغې شرطونو خلاصه ذکر کیږي :

محمد بن صالح العثیمین رحمه الله په کفري هیوادونو ته د هجرت لپاره دریم شرط وضع کړی چې : دغه هجرت ته به ضرورت موجود وي ، همدارنګه په کفري هیوادونو کې د اقامت په اړوند دکتور محمد مصطفی نیازي د څو شرطونو څخه یادونه کوي چې لومړی شرط یې دا دی: شرعي ضرورت به موجود وي تر څو په کفري هیواد کې پاتې او هلته میشت شي ، چې دغه چاري به په اسلامي هیوادونو کې نشي تر سره کولای ، لکه سوداګري ، دعوت ، د خپل مسلمان هیواد نماینده ګي ، علمي زده کړه چې په اسلامي هیوادونو کې هغسې نه وي موجوده ، په خپل ځان له وژنې ، زندان او شکنجي څخه ویریدل او داسې نور ، یا هم داسې چې په اسلامي هیواد کې په خپل اولاد ، کورنۍ او شتمنۍ ویریدل ، د دغو لاملونو په موجودیت سره کولای شي په کفري هیواد کې پاتې شي ، شیخ صالح بن فوزان الفوزان رحمه الله او عبدالله بن عبدالرحمن الجبرین هم کفري هیوادونو کې د استوګنې لپاره هغه حالات په ګوته کوي کوم چې په کفري هیواد کې د استوګنې لپاره د مسلمان ضرورت راپه ګوته کوي[1].

دریمه مسائله : په غیر قانوني او قاچاقي لارو هجرتونو حکم او د غیر قانوني هجرتونو د کاروبار حکم

دا چې نن ورځ په نړۍ کې د غیر قانوني او قاچاقي لارو څخه هجرتونه صورت نیسي او دغه هجرتونه ګڼ شمیر مفاسد له ځانه سره لري او د دغې

---

[1] - د دې شرطونو لپاره د دې بحث ۹۲ ـ ۹۳ صفحه وګوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هجرتونو مساعدوونکي اشخاص د خپلو مادي ګټو دلاسته راوړلو لپاره غريب او بې وزله اشخاصو ته دوکه ورکوي او په ناقانونه لارو يې قاچاق کوي نو پکار ده چې د دغه حالت حکم هم څرګند شي.

د ليبيا دار الافتاء ته د غير قانوني هجرتونو په اړوند يوه استفتاء وړاندې کيږي چې پدغه استفتاء کې د غير قانوني مهاجرينو او د غير قانوني هجرتونو د کاروباريانو په اړوند پوښتنه کې او په نتيجه کې نوموړى دار الافتاء په دغه اړوند يوه مستنده او جامع فتوى صادروي چې لنډيز يې دلته لوستلى شئ :

دغه کړنه ـ لکه څنګه چې څرګنده ده ـ ګڼ شمير مفاسد لري ، شرعا حرام او ډير لوى ضرر پکې نغښتى ، خاص ضرر غير قانوني مهاجر ته او عام ضرر يې هيواد ته دى.

خاص ضرر د انسانانو ژوند ته متوجه دى چې د انسان روحونه پکې له منځه ځي ؛ د فقر او غربت له کبله غولول کيږي او د بحر له لارې اروپا ته ليږدول کيږي ، پدې کار سره د انسانانو ژوند او مال دواړه په خطر کې لويږي ، لوټل کيږي ؛ اختطاف کيږي او وژل کيږي.

کوم کسان چې د دغه غير قانوني هجرتونو کاروبار کوي د مال لاس ته راوړلو لپاره د انسانانو د قتل باعث جوړيږي د دوى دغه کړنه حرامه ده ، ځکه الله عزوجل فرمايي : (**وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡبِرِّ وَٱلتَّقۡوَىٰۖ وَلَا تَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ﴿٢﴾**[1])

---

[1] - المائدة / ٢

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : کوم کارونه چې د نیکۍ او خدای پالنې دي په هغو کښې له ټولو سره مرسته وکړئ او کوم کارونه چې د گناه او تیري وي په هغوکښې د هېچا ملاتړ مه کوئ.

او همدارنگه فرمايي : (**مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي ٱلْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ ٱلنَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَآ أَحْيَا ٱلنَّاسَ جَمِيعًا ۚ وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِٱلْبَيِّنَـٰتِ ثُمَّ إِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم بَعْدَ ذَٰلِكَ فِي ٱلْأَرْضِ لَمُسْرِفُونَ ﴿٣٢﴾**)[1]

ژباړه : چاچې یو انسان دوینې له بدلې یا په ځمکه کښې له فساد خورولو پرته (په ناحقه) ووژه داسې وگڼه لکه چې هغه ټول انسانان ووژل او چاچې څوك له مرگه وژغوره داسې وگڼه لکه چې هغه ټولو انسانانو ته ژوند ور وبښه'؛ خو د هغو حال دادی چې هغو ته زمونږ پیغمبران پرله پسې له روښانه ښرگندو لار ښودنو سره راغلل سره له دې هم د هغو زیاتره کسان په ځمکه کښې زیاتی کوونکي دي.

او هغه اشخاص چې له غیر قانوني لارو هجرت کوي د دوی دغه کار هم حرام دی ، ځکه دوی په خپله ځان د قتل خولې ته غورځوي او الله عزوجل فرمایي : (**وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴿٢٩﴾**)[2]

ژباړه : او خپل ځانونه مه وژنئ باور ولرئ چې الله پر تاسې مهربان دی.

---

[1] - المائدة / ٣٢

[2] - النساء / ٢٩

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا عمل داسې یو مفسد عمل دی چې ټولو خلکو باندې لازم ده چې د دغه فساد د مخنوي لپاره کار وکړي[1].

ځلورمه مساله : په غیر قانوني ډول استوګنې حکم

په غیر قانوني او قاچاقي لارو هجرت کول او غیر قانوني استوګنی ترمنځ توپیر دا دی چې که یو شخص په قانوني لارو باندې هم هجرت وکړي خو په میلمه هیواد کې یې د استوګنې قانوني موده پوره شي نو هلته استوګنه یې غیر قانوني ګڼل کیږي چې د دې حکم په اړوند دکتور محمد بن موسی بن مصطفی الدالي وایي : د نړۍ د هیوادونو ترمنځ چې په کومو حدودو باندې اتفاق صورت نیولی دی او د یوه حکومت تر تسلط لاندې وي ، هیڅ هیواد او د هیڅ هیواد افرادو ته مناسبه نده چې لدغه حدودو څخه بغیر له قانوني اجازې څخه تیر شي او یا ورته داخل شي ، د دې خبرې پابندي کول د دولتونو سیاسي قدرت ته درناوي کول دي د سیمي امن او امان خوندي کوي او دا د دې دلیل دی چې یوه هیواد ته له ناقانونه لارو څخه داخلیدل او هلته استوګنه کول مطلقا حرام دی د مؤقت وخت لپاره وي او که د دائم لپاره د سیاسي ، دیني او یا نورو مقاصدو لپاره ، ځکه دغه عمل د فساد د خپریدو او نا امنۍ باعث جوړیږي او دا یو قسم اشغال ګڼل کیږي او ډیر ځله جنګونو ته هم لاره حواره وي[2].

---

1 - دار الافتاء الليبية (٢٠١٥) المتاجرة في الهجرة غير الشرعية ، (**https://ifta.ly**) ، ( د نشر تاريخ ١١ / ٥ / ٢٠١٥ )

2 - الدالي ، محمد بن موسى بن مصطفى (ب.ت): الوطن والاستيطان دراسة فقهية ، مكتبة الراشد ناشرون ٢ / ٤٧٧.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورته ډول سره د هجرت حکم په اسلامي فقه کې څرګند شو اوس پکار ده چې اسلامي هیواد کې د غیر مسلمو پناه اخېستلو ( عقد الامان ) حکم او شروط هم څرګند شي تر څو پوه شو چې اسلامي فقه په اسلامي هیوادونو کې غیر مسلمو ته د استوګني اجازه په کومو شرایطو ورکوي.

د غیر مسلمو ته د پناه ورکولو حکم : قرانکریم چې د اسلامي فقهي لومړنی مصدر دی پدې اړوند فرمایي : (**وَإِنۡ أَحَدٞ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٱسۡتَجَارَكَ فَأَجِرۡهُ حَتَّىٰ يَسۡمَعَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ثُمَّ أَبۡلِغۡهُ مَأۡمَنَهُۥۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَعۡلَمُونَ ٦**)[1]

ژباړه : او که له مشرکانو نه کوم څوك په پناه غوښتلو تا ته راشي (تر څو چې د الله کلام واوري) نو هغه ته پناه ورکړه تر دې پورې چې د الله کلام واوري. بیا هغه د هغه دامن تر ځایه ورسوه. دا ددې له پاره باید وشي چې دوی علم نلري.

پورته ایات کریمه څرګند نص دی پدې کې چې کفارو ته د قرانکریم د اوریدلو لپاره امان ورکول واجب دي ، تر د قرانکریم په اوریدلو سره حقائق درک او د اسلامي شریعت حقانیت ومني.

په اسلامي فقه کې غیر مسلمو ته د پناه ورکولو موضوع په دوه ډوله صورت نیسي ، یو یې عام امان دی او بل هم خاص امان چې دلته یې دواړو اقسامو په اړوند د فقهاؤ نظریاتو ته په لنډ ډول اشاره کوو :

الف : عامه پناه ( عام امان ) :

---

**1** - التوبه / ٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عامه پناه هغه پناه ته وايي چې يو زيات شمير وګړو ته ورکول کيږي د بيلګې په ډول د يوه ولايت اوسيدونکو ته د پناه ورکول[1].

دا چې عام امان يا عامه پناه ورکول د چا واک دی ، د مسلمانانو د مشر او که د هر مسلمان ؟ نو پدې اړوند د فقهاؤ دوه نظريات دي.

لومړی نظر: عام مسلمانان کولی شي چې عام امان ورکړي ، مګر که مفسده پکې موجوده وه نو بيا صحيح ندی ، دا نظر د احنافو دی[2].

دويم نظر : عام امان د عامو مسلمانانو له لوري نشي ورکول کيدلی بلکې عام امان به د مسلمانانو امير ورکوي ، دا نظر د حنابله ، شوافع او مالکيانو دی[3].

احناف پدې حديث استدلال کوي :( ذِمَّةُ المُسْلِمِينَ وَاحِدَةٌ، يَسْعَى بِهَا أَدْنَاهُمْ [4])

---

1 الزحيلي ، وهبه ( ۱۳۹۵ل ـ ۲۰۱٦ز) : نړيوالې اړيکې د اسلام او نړيوالو حقوقو پرتليزه لوستنه ، ص ۲۰٦.

2 - السيواسي ، كمال الدين محمد بن عبد الواحد ابن الهمام : فتح القدير ، ٥ / ٤٦٢

3 - المقدسي ابن قدامة ، أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد(ب.ت): المغني ، ٩ / ٢٤٢ – ٢٤٣.، البهوتى ، منصور بن يونس بن صلاح الدين ابن حسن بن إدريس (ب.ت): كشاف القناع عن متن الإقناع ، دار الكتب العلمية ، ٣ / ١٠٥، الابي ، صالح عبدالسميع (ب.ت) : جواهر الأكليل ، بيروت ، دار الفكر ، ١ / ٢٥٨ ، الشربيني ، شمس الدين محمد بن أحمد الشافعي( ١٤١٥هـ ـ ١٩٩٤م ) : مغني المحتاج إلى معرفة معاني ألفاظ المنهاج ، ٦ / ٥١.

4 - متفق عليه رواه البخاري كتاب الاعتصام بالكتاب والسنة ، باب ما يكره من التعمق والتنازع في العلم، والغلو في الدين والبدع او مسلم كتاب الحج ، باب اب فضل المدينة

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : د مسلمانانو ذمه برابره ده ، ادنى مسلمان ته هم رسيږي.

د أَدْنَاهُمْ معنى دا ده چې : د مسلمانانو کم هم او کم يو وي ،نو د يوه مسلمان امان هم جائز دى[1].

خو د دې دليل ځخه يې جواب دا دى چې : دا حديث پدې دليل دى چې يو مسلمان کافر ته امان ورکولى شي ، خو پدې معنى ندى چې يو مسلمان زياتو کافرانو ته امان ورکولى شي ، ځکه دا کار د جهاد د تعطيل سبب جوړيږي او د جهاد تعطيل جايز ندى ، همدارنگه پدې کار سره په اسلامي هيواد کې گډوډې رامنځ ته کيدلى شي.

خو جمهور علماء استدلال کوي چې اقليمونو او سيمو ته امان ورکول د امام کار دى ، که افراد دا اجازه ولري نو د امام وظايف به د خنډ سره مخ شي او امام په ټول رعيت باندې ولايت لري ، د مسلمانانو مصالح د امام د نظر او تقدير پورې تړلي نو هيڅ چا ته جايز ندي چې د ده په وظايفو کې گوتې ووهي ، همدارنگه په امان ورکولو سره د جهاد تعطيل راځي او جهاد فرض دى تعطيل يې جائز ندى[2].

او د جمهورو علماؤ استدلال قوي هم ښکاري ، ځکه امان ورکول هلته مشروع دي چې مسلمانانو ته پکې ضرر نه وي متوجه او کله چې افراد ټول هيواد ته پناه ورکوي نو پدې کې ښکاره ضرر متوجه دى.

---

[1] - السيواسي ، كمال الدين محمد بن عبد الواحد ابن الهمام : فتح القدير ، ٥ / ٤٦٢.

[2] - المقدسي ابن قدامة ، أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد(ب.ت): المغني ، ٩ / ٢٤٢ او الابي ، صالح عبدالسميع (ب.ت) : جواهر الأكليل ، ١ / ٢٥٨ ، الشربيني ، شمس الدين محمد بن أحمد الشافعي( ١٤١٥هـ ـ ١٩٩٤م ) : مغني المحتاج إلى معرفة معاني ألفاظ المنهاج ، ٤ / ٢٣٧.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب : ځانګړې پناه

که چیرې یوه یا له لسو څخه کمو وګړو ته پناه ورکول شي ؛ نو ځانګړې پناه ګڼل کیږي[1].

پورته ډول امان د اسلامي فقهي د ټولو مذاهبو په اتفاق سره هر مسلمان ور کولی شي[2].

البته په دغه پناه کې به مسلمانانو ته ضرر متوجه نه وي ، که مسلمان داسې کافر ته پناه ورکړه چې هغه د کافرانو جاسوس وي او یا پکې مسلمانانو ته بل کوم ضرر وي دغه پناه به غیر قابل د قبول وي[3].

---

**1** - الزحیلي ، وهبه ( ۱۳۹۵ل ـ ۲۰۱٦ز) : نړیوالې اړیکې د اسلام او نړیوالو حقوقو پرتلیزه لوستنه ، ص ۱۰۵

**2** - الکاساني ، علاء الدین أبو بکر بن مسعود بن أحمد ( ۱۴۰٦هـ ۱۹۸٦م ) : بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع ، ۹ / ۷۲۷ ، المقدسي ابن قدامة ، أبو محمد موفق الدین عبد الله بن أحمد بن محمد(ب.ت): المغني ، ۹ / ۲۴۳ الابي ، صالح عبدالسمیع (ب.ت) : جواهر الأکلیل ، ۱ / ۲۵۸ ، الشربیني ، شمس الدین محمد بن أحمد الشافعي( ۱۴۱۵هـ ـ ۱۹۹۴م ) : مغني المحتاج إلی معرفة معاني ألفاظ المنهاج ، ٦ / ۵۱.

[3] - السیواسي ، کمال الدین محمد بن عبد الواحد ابن الهمام : فتح القدیر ، ۵ / ۴٦۴. ، الشربیني ، شمس الدین محمد بن أحمد الشافعي( ۱۴۱۵هـ ـ ۱۹۹۴م ) : مغني المحتاج إلی معرفة معاني ألفاظ المنهاج ، ٦ / ۵۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دويم پراګراف : د هجرت او پناه اخېستنې حکم د نړيوالو تړونونو په رڼا کې

### لومړی جز : د هجرت حکم

په نړيوالو تړونونو کې هجرت او پناه اخېستنه يو قانوني حق ګڼل شوی ، هر بشر حق لري چې د کور د ننه يا بهر ته هجرت وکړي ، د بشري حقوقو نړيواله اعلاميه په ديارلسمه ماده کې د هجرت د حق اړوند وائي : ( الف : هر څوک حق لري چې د هر هيواد په دننه کې ازادانه تګ او راتګ وکړي او د استوګنې ځای انتخاب کړي.

ب : هر څوک حق لري ، چې د خپل هيواد په ګډون هر هيواد پرېږدي او يا خپل هيواد ته راستون شي.[1])

چې پورته ماده بشر ته د داخلي او خارجي هجرتونو حق ثابتوي ، بشر د هيواد په داخل کې د ازاد تګ راتګ حقدار بولي او همدارنګه بشر ته حق ورکوي چې د خپل هيواد څخه بهر هجرت وکړي او يا خپل هيواد ته راستون شي .

خو البته بشر ته د حق تر څنګ د دې لپاره چې عامه امنيت خوندي وي او نظام په خطر کې نه وي پکار ده چې هجرت په مشروع توګه تر سره شي.

---

[1] - ناصري ، صفي الله :نړيوال سندونه (د ملګرو ملتونو منشور ، د بشر حقونو نړيواله اعلاميه ، د بشر حقونو اسلامي اعلاميه ) ص ٥٥.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانوني هجرتونه : قانوني مهاجرين ، منظم يا ثبت شوي مهاجرين هغه کسان دي چې : د راتللو اقامت او د هغوی استعمال په مهاجر قبلونکي هيواد کې د رسمي دولتي مراجعو لخوا قانوني ګڼل شوی وي[1].

نو خارجی هجرتونه هلته قانوني ګڼل کيږي ، کله چې د دواړو دولتونو ترمنځ د مهاجرينو په انتقال اتفاق تر سره شوی وي ، قانوني هجرتونه هغه دولتونو ته تر سره کيدلی شي چې قوانين يې په مهاجرينو باندې قيودات نه وي لګولي او هلته د تګ لپاره د ويزې ضرورت نه وي ، همدارنګه هغه دولتونو ته تر سره کيدلی شي چې قوانين يې مهاجرينو د قبول لپاره شرايط وړاندې کړي وي ، دغه دولت بيا مهاجرينو ته ويزې ورکوي او په قانوني شکل هجرت صورت نيسي[2].

قانوني هجرتونه بيا په دوه ډولونو تقسيم کيدلی شي ، يو يې دايمي هجرت دی او دويم يې هم مؤقتي هجرتونه :

الف : دايمي هجرتونه : دايمي هجرتونه چې اعطايي هم ورته ويل کيدلی شي په لاندې ډولونو کيدلی شي :

لومړی : د سرمايه ګذارئ په طريقه

د مهاجرينو لخوا په قبلونکی هيواد کې سرمايه ګذاري کول تر څو هغوی د ده مهجارت قبول کړي يو له مشهورترينو او مؤفق ترينو قانوني

---

**1** - نمين ، سپيده غفاري( ۱۳۹۰هـ ش ) : حقوق مهاجرت ، تهران ـ ايران ، انتشارات جنګل جاودانه ، ص ۱۳

[2] - نور، عثمان الحسن محمد او المبارک، ياسر عوض الکريم( ۱۴۲۹هـ ؛ ۲۰۰۸م ): الهجرة غير المشروعة والجريمة، ص ۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



هجرتونو څخه شمیرل کیږي ، دا چې سرمایه گذاري د هیواد په اقتصاد کې مهم رول لري ؛ هیوادونه د دغه ډول مهاجرینو د قبلولو لپاره تمایل پیدا کوي او خپلو پولو ته د داخلیدو شرایط اسانه وي.

دویم : د متخصصینو دایمي مهاجرت

هغه افراد چې د تحصیلاتو او یا هم د مناسب شغل په اړوند مناسبه تجربه ولري د دغه دوه امتازاتو له کبله دوی ته د مهاجر قبلونکو هیوادونو لخوا د دایمي مهاجرت پیشنهاد کیږي.

دریم : د کورنۍ په طریقه قانوني مهاجرت

د کورنۍ په طریقه قانوني مهاجرت یوه بله لار ده د قانوني مهاجرت د تر لاسه کولو لپاره [1].

پدې طریقه کې مهاجرین د خپلې کورنۍ هغه افرادو له طریقه چې په مهاجر قبلونکي هیواد کې تابعیت لري د خپل مهاجرت غوښتنه کوي.

ب : مؤقتي قانوني هجرتونه

مؤقتي قانوني مهاجرت چط د دوره يي مهاجرت او اکتسابي مهاجرت اطلاق هم پرې کیږي په لاندې طریقو سره تر سره کیدلی شي :

لومړی : متخصیصنو مؤقت قراردادي مهاجرت

مؤقتي ویزو صدور د متخصصانو د جذب لپاره په مهاجر قبلونکي هیواد کې د بشري قوت د کمبود له کبله صورت نیسي چې په مهاجر قبلونکي هیواد کې د ماهر یا نیمه ماهر اشخاصو کمبود وي.

---

[1] - نمین ، سپیده غفاري( ۱۳۹۰هـ ش ) : حقوق مهاجرت ، ص ۴۱ ـ ۴۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم : د د خدمتگارانو مهاجرت

دغه ډول هجرت په غیر معمولي ډول تر سره کیږي چې کارگران غواړي په مهاجر قبلونکي هیواد کې د کار گر په توگه مؤقتي اقامه واخلي تر څو دا د دایمي اقامې لپاره سبب جوړ کړي.

دریم : د تحصیل او تعلیم په طریقه

دا ډول مهاجرت په محدود ډول باندې مهاجر قبلونکی هیواد په معلومو تخصصاتو کې د تحصیل یا تعلیم لپاره د مهاجرینو د قبلولو اعلان کوي.

څلورم : توریستي مهاجرت

دغه ډول مهاجرتونه د خپلوانو د لیدلو ، په علمي او تجارتي سیمانارونو کې د گډون په موخه ، د بازار موندنې په موخه او نور ډیر...[1].

دویم غیر قانوني مهاجرت :

د نړۍ له هرې نقطي څخه بلې نقطې ته انتقال د انسان له غیر قابل انکار حقوقو څخه دی ، مگر د شلم میلادي پیړۍ څخه را پدېخوا د دولتونو د سیاستونو له کبله پدې حق باندې د پابندي شاهد یو چې د هیوادونو قوانین اشخاصو ته اصول وضعه کړي چې د دې اصولو موافق باید حرکت وکړي چې تر ډیره د دغې اصولو په مراعت کولو کې انسانان پاتې راغلي ، ځکه بشر تر ډیره داسې حالاتو سره لاس او گریوان کیږي چې نشي کولی دغه اصول مراعت

1 - نمین ، سپیده غفاري( ۱۳۹۰هـ ش ) : حقوق مهاجرت ، ص ۴۶ ـ ۴۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي ، له همدې کبله هیوادونو ته د هغوی له قوانینو خلاف داخلیږي ، چې د دغه عمل په نتیجه کې د اصولو د ماتولو له کبله جرم رامنځ ته کیږي.

نو غیر قانوني هجرتونه هغه دي چې مهاجرین هیوادونو ته د ویزې څخه پرته یوه هیواد ته داخلیږي او قبلي یا بعدي اجازه یې نه وي اخستي ، ډیرې پرمختللي هیوادونه چې د کاروبار زمینه پکې مساعده وي د دغه ډول مهاجرتونو ښکار دي[1].

د افغانستان د انسان له قاچاق او مهاجرانو له قاچاق سره د مبارزې قانون د مهاجرت له سند څخه پرته یوه هېواد ته د داخلیدو به اړوند مرسته د مهاجرانو قاچاق او جرم ګڼي او د مهاجرانو قاچاق داسې تعریف کوي : د پېسو یا د منفعت د ترلاسه کولو په منظور ، د بهرني دولت تبعه یا بې تابعیته شخص ته د هېواد ته د ناقانونه ننوتلو د زمینې برابرول یا د هېواد تبعه یا له تابعیت پرته شخص یا د بهرني دولت تبعه ته له افغانستان څخه بل هېواد ته د مسافرت له سندونو یا مسافرت په تزویر شوو سندونو سره د وتلو د زمینې برابرول[2].

او د مهاجرینو قاچاق ته یې مجازات هم په لاندې ډول په ګوته ګړي :
١ – هغه شخص چې د مهاجرانو د قاچاق د جرم مرتکب شي ، له احوالو سره سم ، له دریو کلونو څخه په زیات حبس محکومیږي.

---

[1] - نور، عثمان الحسن محمد او المبارک، یاسر عوض الکریم( ١۴٢٩هـ ـ ٢٠٠٨م ): الهجرة غیر المشروعة والجریمة، ص١٧.

[2] - عدلي وزارت رسمي جریده ، (١٣٩٥هـ ش کال) د انسان له قاچاق او مهاجرانو له قاچاق سره د مبارزې قانون ، پرله پسې نمبر (١٢۴۴) ٣ ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ – هغه شخص چې د مهاجرانو د قاچاق جرم سازماندهي کړي یا نور د هغه سازماندهي ته هدایت کړي ، د متوسط حبس په اکثر حد محکومیږي.

۳ – که چېرې د مهاجرانو د قاچاق جرم د جنایتکارې سازمان موندې ډلې په واسطه ارتکاب شي ، د جنایتکارې سازمان موندې ډلې مشر ، د متوسط حبس د مجازاتو په اکثر حد محکومیږي[1].

**دویم جز : د پناه اخېستنې حکم**

همدارنگه د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه بشر ته حق ورکړی چې د ویرې له کبله په بل هیواد کې پناه واخلي نوموړی اعلامیه په ۱۴ ماده الف بند کې د پناه اخیستنې په اړوند د وایي: (هر څوک حق لري ، چې د ځورونې او تعقیب په وړاندې په نورو هیوادونو کې د پناه په لټه کې شي او په نورو هیوادونو کې پناه واخلي. [2])

خو د دې لپاره چې بشر به لدې حق څخه د امنیت په گډوډولو کې کار واخلي نو د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه په ۱۴ ماده ب بند کې وایي : ( له دغه حق څخه په هغه وخت کې گټه نه شي اخیستل کیدای ، که چیرته تعقیب د غیر سیاسی جرم او یا د داسې اعمالو د ترسره کولو له امله وي چې د ملگرو ملتونو له موخو او اصولو سره توپیر لري.[3])

---

[1] - عدلي وزارت رسمي جریده ، (۱۳۹۵هـ ش کال) د انسان له قاچاق او مهاجرانو له قاچاق سره د مبارزې قانون ، پرله پسې نمبر (۱۲۴۴) ۱۴ ماده.

[2] - ناصري ، صفي الله : نړیوال سندونه ( د ملگرو ملتونو منشور ، د بشري حقونو نړیواله اعلامیه ، د بشري حقونو اسلامي اعلامیه ) ص ٥٦.

[3] - هماغه مرجع هماغه صفحه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکتور مصطفی نیازی د پورته دوه مادو په تشریح کې لیکي : ( البته د دې معنی دا نده چې د دې حق په درلودلو سره به ناوړه کړنې تر سره کوي ، شریعت او قانون به د هغه لپاره سزا ټاکي خو دی به ورڅخه بل هیواد ته پناه وړي ، په تیره بیا چې جرم سیاسي هم نه وي او یا هم داسې چارې تر سره کوي چې د هیواد امنیت ، سلامتیا او استقرار د مبادیو سره په ټکر کې وي.[1])

د بشري حقوقو نړیوالې اعلامي ۱۴ ماده د پناه اخېستونکي لپاره دوه شرطونه په ګوته کوي :

لومړی شرط : پناه غوښتونکی به په جنائي جرم متهم نه وي

کله چې د پناه غوښتونکی شخص د خپل هیواد په محاکمو کې په یوه جنائي جرم متهم وي ، د ده دا غوښتنه به نه منل کیږي ، ځکه سیاسي پناه قانوني حمایه ده چې یو دولت یې د پناه غوښتونکي ته ورکوي په هغه صورت کې چې دا شخص د ظالم د ویرې له کبله پناه غوښتې وي ، له همدې کبله هغه اشخاص چې په جنائي جرمونو متهم وي دا ډول حمایه نشي ورکول کیدلی ، خصوصا کله چې پدې شخص دعوی اقامه شوي وي او د جرم د اثبات مدارک هم موجود وي[2].

دویم شرط : پناه غوښتونکی به په هغه جرایمو متهم نه وي کوم چې د ملګرو ملتونو د منشور سره په ټکر کې وي.

---

[1] - نیازی ، محمد مصطفی ( ۱۳۹۰المریز ) : د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه د اسلام په رڼا کې ، ص ۹۸.

2 - الصفي ، عبدالفتاح ( ۱۴۱۵هـ ـ ۱۹۹۵م ): الأحكام العامة للنظام الجزائي ، نشر عمادة شؤون المكتبات ، الرياض ـ سعودي ، جامعة الملك سعود، ص ۴۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملگرو ملتونو منشور یو سلسله مبادي او قواعد لري چې د ملگرو ملتونو اعضاء یې په رعایت کولو مکلف دي ، چې د نوموړي منشور په مختلفو نصوصو کې ورته اشاره شویده.

د ملگرو ملتونو د منشور په سریزه کې وایي : (موږ د ټولو انسانانو ، ښځې ، نارینه او ماشومانو پر اساسي حقونو ، روغتیا ، کرامت او د دوی ترمنځ پر حقوقي برابرۍ ټینگار کوو.[1])

همدارنگه د نوموړي منشور په لومړۍ ماده ۳ فقره کې راځي : ( له هر ډول توکمیز ، جنسیتي ، مذهبي او ژبني توپیر پرته د بشري حقوقو هڅول او اساسي ازادیو ته درناوی.[2])

او داسې نور ډیر اصول چې باید په پام کې ونیول شي.

دې ته په پام سره چې ملگرو ملتونو په مختلفو مواقعو کې د پناه وړونکو د وضع په نسبت زیاته مینه ښودلې او هڅه یې کړیده څو پناه وړونکو ته په ممکنه پراخه توگه له بشري حقوقو او بنسټیزو ازادیو څخه برخمن کیدل تضمین کړي نو د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسیون ( ۱۹۵۱ د جولای ۲۸ ) رامنځ ته شو چې دغه کنوانسیون په لومړۍ ماده (په ۲ بند کې د مقررو شرایطو لرونکی اشخاص پناه وړونکی و گڼل شي

[ ۲ ] لدې څخه د موجه ویرې له امله چې د توکم [ نژاد ] مذهب ، په خاصو ټولنیزو ډلو کې د غړیتوب یا د سیاسي عقیدې په لرلو پورې په اړوندو

---

**1** - ناصري ، صفي الله : نړیوال سندونه ( د ملگرو ملتونو منشور ، د بشري حقونو نړیواله اعلامیه ، د بشري حقونو اسلامي اعلامیه ) ، ص ۴

**2** - نفس مصدر ، ص ٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علتونو تر شکنجې لاندې ونیول شي ، د خپل تابعیت له هیواد څخه په بهر کې ژوند کوي او نشي کولای یا د ویرې په علت نوموړی نه غواړي ځان د هغهٔ هیواد تر ملاتړ لاندې راولي په هغه صورت کې چې د تابیعت نه لرونکی دی او د دغسې پیښو په پایله کې د خپل دایمي استوګنځي هیواد څخه په بهر کې ژوند کوي ، نشي کولای یا د ویرې له امله نوموړی نه غواړي هغه هیواد ته وروګرځي.[1])

دکتور احمد ابو الوفا وایي : (د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند ګنوانسیون ۱۹۵۱او ۱۹۶۷ پروتوکول لومړۍ ماده کې د پناه وړونکي له تعریف څخه معلومیږي چې د پناه وړنی صفت لپاره دې لاندې شروط ضرور وګڼل شي :

۱ - پناه غوښتونکی شخص به د خپل متبوع هیواد او که بې تابعته شخص وي نو د هغه هیواد چې دا پکې دایمي استوګنه لري له پولو به خارج وي

۲ – پناه غوښتونکی شخص به د هغې موجه ویرې له کبله پناه غواړي چې د توکم [ نژاد ] مذهب ، په خاصو ټولنیزو ډلو کې د غړیتوب یا د سیاسي عقیدې په لرلو سره ورته پیښه شوي وي.

---

[1] - د عدلي وزارت رسمي جریده ، (د ۱۳۸۵هـ ش کال) د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسیون ( ۱۹۵۱ جولای ۲۸) پرله پسي نمبر (۹۰۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ – دغه پناه غوښتونکی شخص به نشي کولی یا به نه غواړي چې د خپل متبوع هیواد او که بې تابعته شخص وي نو د هغه هیواد چې دا پکې دایمي استوګنه لري په حمایه کې راشي.[1]

**د اسلامي فقهې او نړیوالو تړونونو مقارنة :**

د دې لپاره چې د هجرت او پناه اخېستنې د اسبابو او حکم اړوند ؛ د اسلامي فقهې او نړیوالو تړنونو ترمنځ مقارنه وکړو ؛ غوره به وي چې د اسلامي فقهې او نړیوالوتړنونو اتفاقي نقاط په جلا او اختلافي نقاط یې په جلا عنوان کې په ګوته شي.

اتفاقي نقاط :

اسلامي فقه او نړیوال تړونونه د هجرت او پناه اخېستنې د اسبابو او حکم اړوند لاندې اتفاقي نقاط لري :

الف : اسلامي فقه او نړیوال تړونونه دواړه له ویرې څخه د خلاصون په پار پناه اخېستنه مجاز ګڼي.

ب : اسلامي فقه او نړیوال تړونونه دواړه ، بشر ته د اقتصادي ګټو او تعلیم او تعلم د لاسته راوړلو په پار د هجرت جواز ورکوي.

اختلافي نقاط :

البته اسلامي فقه او نړیوال تړنونه ځیني اختلافي نقاط هم لري ، چې په لاندې ډول ورڅخه یادونه کیدلی شي:

---

[1] - أبو الوفا ، أحمد( ۱۴۳۰هـ ـ ۲۰۰۹م ): حق اللجوء بين الشريعة والقانون الدولي للاجئين ، ص ۴۱ ـ ۴۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف : په اسلامي فقه کې د قرانکريم د اوريدلو لپاره هم بشر ته پناه ورکول کيدلی شي ، چې دغه موضوع په نړيوالو تړنونو کې د پناه اخېستنې په اسبابو کې داخله نده ، پدې معنی چې په اسلامي فقه کې د پناه ورکونې اسباب ډير عام دي نسبت نړيوالو تړونونو ته.

ب : په اسلامي فقه کې عام مسلمانان هم کولی شي يوه چاته خاصه پناه ورکړي ، مگر په نړيوالو تړونونو کې پناه ورکوونکي مراجع يواځې دولتي ذي صلاح مراجع دي ، دلته هم ليدل کيږی چې د نړيوالو تړونونو په نسبت اسلامي فقه کې د پناه ورکونې موضوع ډيره پراخه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم مبحث : د مهاجر او پناه اخیستونکي د راستنیدلو حکم او اسباب یې

دا مبحث په دوه مطلبونو مشتمل دی :

لومړی مطلب : د مهاجر او پناه اخیستونکي راستنیدلو اسباب

دویم مطلب : د مهاجر او پناه اخیستونکي راستنیدلو حکم

چې هر یو به یې په جلا جلا توگه وڅیړل شي.

## لومړی مطلب : د مهاجرینو او پناه اخېستونکو راستنیدلو اسباب

د مهاجرینو او پناه اخېستونکو خپل هیواد ته راستنیدل گڼ اسباب لري چې دلته ورڅخه په لنډ ډول یادونه کیږي :

لومړی : د کومو مقاصدو لپاره چې هجرت صورت نیولی وي هغه مقاصد لاس ته راتلل

د مهاجرینو او پناه اخېستنونکو د راستنیدلو د مهمو اسبابو له جملې څخه یو هم د هجرت او پناه اخېستنې مقصد لاسته راتلل دي.

لکه ، کوم څوک د تجارت ، تحصیل او نورو مقاصدو لپاره تللی وي او د تجارت یا تحصیل د پای ته رسیدو سره خپل وطن ته راستنیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم : د کومې ویرې له کبله چې هجرت شوی ؤ هغه ویره پای ته رسیدل

لکه صحابه کرامو چې کله حبشې ته هجرت وکړ او هلته خبر شول چې ، مکه کې نور حالات عادي دي او څوک پکې زمونږ دین ته خطر نشي متوجه کولی نو واپس شول.

دا چې ولې په حبشه کې صحابه ؤ داسې فکر کړی ؤ ابن حجر رحمه الله فرمايي (مسلمانانو ته په حبشه کې خبر ورسید چې د مکې خلک مسلمانان شوي ، بعضي خلک مکې ته راستانه شول چې پدې کې عثمان بن مظعون هم ؤ دوی هغه خبر رښتیا ونه موند ، بیرته واپس شول او یوه ډله نور صحابه هم ورسره ستانه شول[1].)

دریم : اقتصادي اسباب

کله کله اقتصادي اوضاع د دې غوښتنه کوي چې مهاجر باید خپل وطن ته راستون شي.

د بېلګې په ډول، د ۲۰۰۸ کال راپدیخوا په ایران کې د نه ورتګ د ځایونو جوړیدا هغه سیمې چې د کډوالو لپاره د ملي امنیت، عامه ګټو او صحت د لاملونو له امله منع الدخول شمیرل شوې دي - د یوې دندې ساتل، د ټولنیزو اړیکو ساتل، ښوونځیو ته د ماشومانو لیږل، او د کورونو د مصرف د عهدې نه وتل ډیر ستونزمن کړی دی .

پورته ستونزې چې کله د خوړو او نورو اړتیاوو د پیریدلو د څواک د لږیدو د ستونزې سره ضرب شي نو ډیری راستنیدونکې کورنۍ اړباسي چې د

---

[1] - العسقلاني ، احمد بن علي بن حجر (۱۴۲۴هـ ـ ۲۰۰۴م) : فتح الباري ، ۷ / ۲۱٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه پلان شوي بیرته راتګ پر ځای یو چټک او ناځاپي بیرته راتګ اختیار کړي چې ددې پربکړې لامل افسردګي او اروایي خفګان دی[1].

څلورم : سیاسي اسباب

کله ، کله د مهاجر منونکي او مهاجر قبلونکي هیواد ترمنځ سیاسي اوضاع مهاجر او پناه اخېستونکی دې ته مجبوروي چې له دار هجرت څخه خپل وطن ته راستون شي.

لکه پاکستان کې د افغان مهاجرینو په اړوند په یو راپور کې چې د ۲۰۱۰ کال راهیسي په ساحوي کار کې لیکل شوي راځي : ( که څه هم یو وخت د مجاهدینو په نوم افغانان د قهرمانانو په نوم شهرت درلود خو اوس په پاکستان کې افغانانو ته د طالبانو په رڼا کې کتل کیږي او د افغانانو پر وړاندې دې مخ په زیاتیدو کینې د هغوی لپاره ډیري منفي اغیزې د ځانه سره لرلې دي .

په پاکستان کې د افغانانو لپاره د کورونو ضمانت وجود نلري( که په کمپونو کې وي، غیر رسمي سیمې وي او که کرایي کورونه )او د کرایو یو په یو جګیدل یوه معموله پیښه ده .

د اساسي خدمتونو عرضه کول هم بې باوره ده او ځینې غیر دولتي اداري خو د افغانانو په سیمو کې د پانګې اچونې تکل نه لري ځکه چې ویره لري چې دا سیمه به وتړل شي .

---

**1** - ګیلر ، آرمنډو او ایم لاټک ، ماسیج (۲۰۱۴) : د ایران څخه راستنیدل ، د اجباري مهاجرت بیا لیدنه ، پرلیسې ګڼه ۴۶ ، ص ۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



منظمه نیونې، ځورونې، او حتی د افغانانو بیرته افغانستان ته شړل یو عادي کار شمیرل کیږي .

د امنیتي ګواښونو د ډیروالي له کبله امنیتي پوستې هم ډیرې شوې دي او د ورځني ژوند یو معمول ګرځیدلې دي – او د پیژندنې یو کارډ چې ډیر افغانان یې نه لري اړین دی .

همدارنګه په منظم ډول د افغانانو نښه کول د ډیرو له آنده یوه ستراتیژي ده چې موخه یې د افغانانو د بیرته ستنیدلو تشویق دی[1].)

## دویم مطلب : د مهاجرینو او پناه اخیستونکو راستنیدلو حکم

دغه موضوع به په دوه عنوانونو کې تر څیړنې لاندې ونیول شي ، په لومړی عنوان کې به د اسلامي فقهې او په دویم عنوان کې د نړیوالو تړونونو په رڼا کې پرې بحث وشي.

### لومړی پراګراف : په اسلامي فقه کې د مهاجر او پناه اخیستونکي راستنیدل

دا چې هجرت او پناه اخیستنه کله اسلامي هیواد او کله هم غیر اسلامي هیواد ته صورت نیسي نو دلته به په دوه عنوانونو کې لومړی په هغه صورت بحث وکړو چې له اسلامي هیواد څخه کفري هیواد ته شوی وي او بیا په هغه صورت چې له اسلامي یا غیر اسلامي هیواد څخه اسلامي هیواد ته شوی وي.

---

1 - الیمیه ، سنا (۲۰۱۴م) : زور زیاتی او آسیب پذیری افغانان په پاکستان کې ، د اجباري مهاجرت بیا لیدنه ، پرلپسې ګڼه ۴۶ ، ص ۲۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی صورت : کله که هجرت یا پناه اخېستنه له اسلامي هېواد څخه کفري هېواد ته صورت نیولی وي:

کله که یو څوک په اسلامي هیواد کې د ویرې له کبله په کفري هیواد کې پناه اخلي او د وخت په تیریدو سره دغه ویره له منځه ځي یا یو څوک کفري هیواد ته د اسلامي هیواد څخه د مباحو کارونو یا اهدافو د ترلاسه کولو لپاره هجرت کوي او د وخت په تیریدو سره دغه اهداف تر لاسه کیږي نو پدې صورت کې د مهاجرینو او پناه اخېستونکو راستنییدل نه یواځې جایز دي بلکې ضرور ګڼل کیږي .

له همدې کبله په کفري هیوادونو کې د اقامت په اړوند دکتور محمد مصطفی نیازي د څو شرطونو څخه یادونه کوي چې دویم شرط یې داسې په ګوته کوي : ۲ – په کفري هیواد کې به یې پاتې کیدل مؤقت وي ، دائمي بڼه به نه غوره کوي ، ان چې د تل پاتې ژوند نیت به هم نه کوي ، بلکې د مؤقت وخت نیت به ور سره وي ، ځکه دا دائمي اوسیدنې یا نیت معنی دا ده چې له دار د اسلام څخه یې دار کفر ته پناه وړې ، او دغه کړنه د اسلامي حکم او مقرراتو سره په ټکر کې ده هغه دا چې هجرت به له دار کفر څخه دار اسلام ته کیږي.

د مؤقت وخت تیریدل به په داسې توګه وي چې د کوم حاجت لپاره تللی چې کله هغه هم پوره شي نو کفري هیواد به پریږدي او خپل اسلامي هیواد ته به ستنیږي[1].

[1] - نیازی ، محمد مصطفی ( ۱۳۹٦هـ ش ): معاصر فقهي قضایا ، ۲ / ۲۲۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې اساس هغه افغان مهاجرین چې اروپايي او نورو کفري هیوادونو ته د شوروي اتحاد له یرغل څخه وروسته مهاجر شوي وه ، اوس باید خپل هیواد ته راستانه شي ځکه د نن ورځ د افغانستان اوضاع د کفري هیوادونو له اوضاع څخه ډیره بهتره ده.

دویم صورت : کله که هجرت یا پناه اخېستنه له کفري هېواد څخه اسلامي هېواد ته صورت نیولی وي او یا یوه اسلامي هیواد څخه چې هلته فتنه موجوده وي بل اسلامي هیواد کې چې فتنه پکې نه وي یا کمه وي هجرت کول یا پناه پکې اخستني صورت نیولی وي ، په خپله رضاء او رغبت سره د راستنیدلو حکم د څرګنده ولو لپاره به د علماؤ اقوال او دلائل په لاندې ډول مطالعه کړو:

دا چې هغه صحابه چې له مکې څخه يې مدیني ته هجرت تر سره کړی او د مکي له فتحي څخه وروسته مکې ته راستنیدل ، هلته استوګنه او راستنیدل جائز وه او کنه !؟ چې په همدې موضوع باندې زمونږ موضوع هم ولاړه ده ، پدې اړوند قاضي عیاض رحمه الله وایي : د فتح مکې څخه مخکې چې کومو خلکو مدیني ته هجرت کړې دی ، هغوی ته په مکه کې د فتح مکې څخه وروسته د استوګنې جواز نشته او دا قول يې جمهورو ته منسوب کړی او قاضي عیاض[1] رحمه الله وایي ، بعضي علماء وایي چې له فتح مکې څخه وروسته ورته جواز شته[1].

[1] - قاضی عیاض ، اصلی نوم یي : عياض بن موسى بن عياض بن عمرون اليحصبي السبتي، أبو الفضل دی ، په(۴۷٦) هـ کې په سبته ښار کې پیدا شوی او په همدی ښار کې قاضي مقرر شو ، او بیا په غرناطه کې قاضی شو ، د مغرب د علماو څخه ؤ ، په خپل وخت کې د حدیثو لوی عالم ؤ ، مشهور کتابونه یي دادی: الشفا بتعريف حقوق المصطفى ، الغنية ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د ده د نظر د تائد لپاره دغه دلائلو څخه يادونه کولی شو :

لومړی دليل - عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُنِي وَأَنَا بِمَكَّةَ، وَهُوَ يَكْرَهُ أَنْ يَمُوتَ بِالأَرْضِ الَّتِي هَاجَرَ مِنْهَا[2]»

ژباړه : د سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه څخه روايت دی ، دا فرمايي : رسول الله صلى الله عليه وسلم زما د ناروغۍ پوښتنې ته راغی او زه په مکه کې وم ، او هغه دا بده ګڼله چې يو شخص دې په هغه ځای کې وفات شي چې له هغه ځايه يې هجرت کړی وي.

(وَهُوَ يَكْرَهُ أَنْ يَمُوتَ بِالأَرْضِ الَّتِي هَاجَرَ مِنْهَا)احتمال لري چې دا جمله د فاعل څخه حال شي او يا هم له مفعول څخه حال شي ځکه هر يو رسول الله او سعد بن ابي وقاص دواړو دا بده ګڼله چې هغه ځای ته راشي چې هجرت يې ورڅخه کړی دی[3].

---

ترتيب المدارك وتقريب المسالك في معرفة أعلام مذهب الإمام مالك ، أربعة أجزاء وخامس للفهارس ، شرح صحيح مسلم ، مشارق الأنوار ، الإعلام بحدود قواعد الإسلام او نور ، او (٥٤٤) هـ کې په مراکش کې وفات شوی زرکلي ، خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس (٢٠٠٢م) : الأعلام ٥ / ٩٩.

[1] - اليحصبي ، عياض بن موسى بن عياض (١٤١٩ هـ - ١٩٩٨ م) : شَرْحُ صَحِيح مُسْلِمِ لِلقَاضِى عِيَاض ( إِكمَالُ المُعْلِمِ بفَوَائِدِ مُسْلِم ) ، المحقق: الدكتور يحْيَى إِسْمَاعِيل ، مصر ، دار الوفاء للطباعة والنشر والتوزيع ، ٤ / ٤٦٧.

**2** - رواه البخاري ، كتاب الوصايا ، باب أن يترك ورثته أغنياء خير من أن يتكففوا الناس

[3] - العسقلاني ، احمد بن علي بن حجر (١٤٢٤هـ ـ ٢٠٠٤م) : فتح الباري ، ٥ / ٣٦٤.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم دليل - عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَى سَعْدٍ يَعُودُهُ بِمَكَّةَ، فَبَكَى، قَالَ: «مَا يُبْكِيكَ؟» فَقَالَ: قَدْ خَشِيتُ أَنْ أَمُوتَ بِالْأَرْضِ الَّتِي هَاجَرْتُ مِنْهَا، كَمَا مَاتَ سَعْدُ بْنُ خَوْلَةَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اللهُمَّ اشْفِ سَعْدًا، اللهُمَّ اشْفِ سَعْدًا» ثَلَاثَ مِرَارٍ[1].

ژباړه : عامر بن سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه له خپل پلار څخه روايت کوي چې رسول الله د سعد د ناروغۍ پوښتنې ته راغی او هغه په مکه کې ؤ ، نو سعد په ژړا شو ، رسول الله ورته وفرمايل : ولې ژاړې ؟ هغه وويل : ويريږم چې په هغه ځای کې مړ شم چې له هغې ځايه مې هجرت کړی ، لکه سعبد بن خوله چې ومړ ، رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : « يا الله سعد ته شفاء ورکړه ، يا الله سعد ته شفاء ورکړه » او دا الفاظ يې درې ځلې تکرار کړل.

په بل روايت کې راځي چې سعد بن ابي وقاص د حجة الوداع په کال کې مريض شو او رسول الله يې پوښتنې ته راغی او په اخر د حديث کې رسول الله وفرمايل : (اللَّهُمَّ أَمْضِ لِأَصْحَابِي هِجْرَتَهُمْ، وَلاَ تَرُدَّهُمْ عَلَى أَعْقَابِهِمْ، لَكِنِ البَائِسُ سَعْدُ ابْنُ خَوْلَةَ» يَرْثِي لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ مَاتَ بِمَكَّةَ[2]»يا الله زما د ملګرو هجرت باقي پاتې کړې او ته يې په پوندو شاته ومه ګرځوې ، مګر سعد بن خوله فقير ) رسول الله په سعد بن خوله خواشني څرګنده ګړه چې په مکه کې وفات شو.

**1** - رواه مسلم ، كتاب الوصية ، باب الوصية بالثلث

[2] - مفق عليه ، رواه البخاري ، كتاب الجنائز ،باب رثاء النبي صلى الله عليه وسلم سعد ابن خولة، رواه مسلم ، كتاب الوصية ، باب الوصية بالثلث.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(( اللهم أمض) عرب وايي امضيت الامر يعني كار مې نافذ كړ يعني پوره مې كړ ، (لأصحابي هجرتهم) او د دوی له اجر څخه څه حصه مه كموه او مه يې باطلوه ، (ولا تردهم على أعقابهم) يعني شاته يې مه گرځوه چې خپل وطن ته واپس شي او مدينه ترک کړي تر دې چې مدينه كې وفات شي ، ... او په هغه چا باندې مدينه كې استوگنه لازم شوه چې مديني ته يې هجرت کړی ؤ.[1])

بعضي علماء وايي چې سعد بن خوله په مكه كې اسلام قبول كړ خو هجرت يې ونه كړ او هماغلته وفات هم شو ، امام بخاري رحمه الله وايي چې هجرت يې کړی ؤ او په بدر او نورو غزاگانو كې يې شرکت هم کړی ؤ او په حجة الوداع كې وفات شو (يرثي لَهُ)) يعني زړه خوږی يې پرې څرگند كړ او رسول الله ورباندې د رحم غوښتنه كوله (إِن مَاتَ) ځكه هغه ځای كې وفات شو چې له هغه ځايه يې هجر کړی ؤ (يَرْثِي لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ مَاتَ بِمَكَّةَ ) دا د سعد بن ابي وقاص قول دی او امام بخاري په كتاب الدعوات كې پرې تصريح كړې او ابن بطال[2] وايي : دا د زهري[3] رحمه الله قول دی[1].

---

1 - الأرمي ، محمد الأمين بن عبد الله (١٤٣٠ هـ ٢٠٠٩م) : الكوكب الوهاج شرح صحيح مسلم ، دار المنهاج دار طوق النجاة ، ١٨ / ١٠٦.

2 - ابن بطال ، اصلی نوم يي: أبو الحسن علي بن خلف بن بطال البكري، القرطبي دی ، په ابن اللجام باندې مشهور ؤ ، د صحيح البخاري شارح دی ، مشهور استادان يې: أبو عمر الطلمنكي، وابن عفيف، وأبي المطرف القنازعي، او يونس بن مغيث ؤ او په (٤٤٩) هـ كې وفات شوی : الذهبي ، شمس الدين أبو عبد الله (١٤٢٧هـ ـ ٢٠٠٦م) : سير أعلام النبلاء ٣٥ / ٣٧.

3 - الزُّهْري ، اصلی نوم يي : إبراهيم بن سعد بن إبراهيم بن عبد الرحمن بن عوف، أبو إسحاق الزهري دی په (١٠٩) هـ كې پيدا شوی ، دمدينی منوری د حديث دعلم معتبرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريم دليل : امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله په خپلو صحيحينو کې د العلاء بن الحضرمی په روايت يو حديث نقل کړی چې مکه کې مهاجرينو د حج له مراسمو څخه وروسته يواځې درې ورځې د استوګنې جواز ورکوي : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ثَلاَثٌ لِلْمُهَاجِرِ بَعْدَ الصَّدَرِ[2]»

ژباړه : مهاجر ته د طواف صدر څخه وروسته درې ورځې استوګنه جائز ده.

او امام مسلم په صحيح مسلم کې همدغه حديث پدې الفاظو نقل کوي : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لِلْمُهَاجِرِ إِقَامَةُ ثَلَاثٍ بَعْدَ الصَّدَرِ بِمَكَّةَ»، «كَأَنَّهُ يَقُولُ لَا يَزِيدُ عَلَيْهَا[3]»

ژباړه : له رسول الله څخه مې واوريدل چې ويل يې : «مهاجر ته درې ورځې د طواف صدر څخه وروسته په مکه کې اوسيدل دي » «لکه ويل يې چې په دې درې ورځو به نه زياتوي. »

د دې حديث په تشريح کې قاضي عياض رحمه الله ليکی : (وهذا الحديث حجة لمن منع المهاجر بعد الفتح من المقام بمکة وهو قول الجمهور )[1]

---

علماء کرامو څخه و ، امام بخارى او امام مسلم يې شاګردان دي په بغداد کې قاضي ؤ ، او همدلته (۱۸۴) هـ کې وفات هم شو (زرکلي ، خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس (۲۰۰۲م) : الأعلام ۱ / ۴۰).

1 - العيني ، بدر الدين (ب.ت) : عمدة القاري ، ۸ / ۹۰.

2 رواه البخاري ، کتاب اصحاب النبي ، باب اقامة المهاجر بمکة بعد قضاء نسکه ،

3 رواه المسلم ، کتاب الحج ، باب جواز الإقامة بمکة للمهاجر منها بعد فراغ الحج والعمرة، ثلاثة أيام بلا زيادة

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : او دا حديث دليل دی د هغه چا لپاره چې مهاجرينو ته مکه کې د فتح مکې څخه وروسته استوګنه منع کوي ( ناجايز يې ګڼي ) او دا د جمهورو قول دی.

ابن حجر رحمه الله د دې حديث په تشريح کې ليکي : ( د دې حديث څخه دا پوهيدلی شو چې په مکه کې استوګنه حرامه وه هغه چا ته چې د فتح مکې څخه وړاندې يې ورڅخه هجرت کړی ؤ ، مګر هغه چاته مباح ده چې څوک د حج او عمرې قصد ولري او د حج او عمرې له مراسمو اجرا کولو څخه وروسته درې ورځې هلته استوګنه وکړي خو له درې ورځو به نه زياتوي ، له همدې کبله د سعد بن خوله په اړوند رسول الله خواشني څرګنده کړه ځکه چې هغه په مکه کې وفات شو[2].)

امام قرطبي رحمه الله وايي : له دې حديث څخه مراد هغه اشخاص دي چې له مکې څخه يې مديني ته د رسول الله صلی الله عليه وسلم د نصرت لپاره هجرت کړی ، پدې کې هغه اشخاص ندي شامل چې له مکې څخه غير له بل ځای څخه يې مديني ته هجرت کړی وي ، ځکه حديث د دې اشخاصو په جواب کې راغلی دی کله چې مکه کې تنګ شول ، ځکه دوی دا مکه د الله جل جلاله لپاره ترک کړې وه دوی ته يې پدې سره جواب ورکړ او پوه يې کړل چې درې ورځې استوګنه نه ګڼل کيږي ، بيا وايي : او هغه خلاف چې قاضي عياض ورته اشاره کړې دا د هغه چا په اړوند دی چې مخکې يې له مکې څخه هجرت کړی ، قرطبي رحمه الله بيا وايي : ايا دا اختلاف په هغه چا

[1] - اليحصبي ، عياض بن موسى بن عياض (١٤١٩ هـ - ١٩٩٨ م) : إكمال المعْلم بفوائد مسْلم ، ٤ / ٤٦٧.

2 - العسقلاني ، احمد بن علي بن حجر (١٤٢٤هـ ـ ٢٠٠٤م) : فتح الباري ، ٧ / ٣٠٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



تطبيقيږي چې په دين کې د فتني له ويرې وتښتي تر څو دين يې سالم پاتې شي ايا دغه شخص بيرته خپل مسکن ته را گرځيدلی شي !؟ کيدای شي داسې وويل شي ، که چېرته يې الله لپاره پريښی وي ( ترکها لله ) لکه مکې څخه هجرت کوونکو چې پر يښی ؤ نو دوی ته جائز ندي چې راستون شي او که په دين کې د فتني له ويرې تښتيدلی وي تر څو دين يې سالم پاتې شي او د مسکن د ذات له کبله يې نه وي ترک کړی نو ده ته رجوع جائز ده[1].

او ابن قيم الجوزي رحمه الله له قول څخه هم د قرطبي رحمه الله د نظر تائد معلوميږي (وإنما رخص فيها ثلاثا وذلك لأنهم تركوها لله وما تُرِكَ لله فإنه لا يُعَادُ فيه ولا يسترجع، ولهذا منع النبي صلى الله عليه وسلم من شراء المتصدق لصدقته[2]) دوی ته په مکه کې درې ورځې استوگنې اجازه ورکړل شوه ، ځکه دوی دا مکه د الله لپاره پريښې وه ، کوم څه چې الله لپاره پريښودل شي ؛ هغې ته به دوباره نه راځي نه به واپس کيږي ؛ له همدې کبله رسول الله صلی الله عليه وسلم منع کړی چې صدقه ورکونکی خپله صدقه بيرته واخلي.

ابن عبدالبر مالکي[3] رحمه الله وايي (هجرت د وطن په ترک کولو کې مقتصر ندی او علی الابد ورته رجوع حرامه نده مگر يواځې د مکې خلکو لپاره

---

1 - الأستاذ الدكتور موسى شاهين لاشين (ب.ت): فتح المنعم شرح صحيح مسلم ، دار الشروق ، ۵ / ۴۱۹ ، او العسقلاني ، احمد بن علي بن حجر (۱۴۲۴هـ ـ ۲۰۰۴م) : فتح الباري ، ۷ / ۳۰۷.

2 - الجوزية ، محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين ابن قيم (۱۴۱۵هـ /۱۹۹۴م) : زاد المعاد في هدي خير العباد ، بيروت ، مؤسسة الرسالة ، الكويت ، مكتبة المنار الإسلامية ، ۱ / ۴۵۲.

3 - ابن عبد البر ، اصلی نوم يی يوسف بن عبد الله بن محمد بن عبد البر النمري القرطبي المالكي، أبو عمر: دحديثو مشران علماء څخه دی ،تاريخ پوه، په قرطبه کی زيږيدلی دی ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومو چې ایمان قبول کړی او د رسول الله اتباع یې کړې په دوی باندې خاصتا هجرت فرض کړی شوی دی او په دوی باندې فرض ده چې چېرته رسول الله وي هلته به اوسيږي ، چېرته چې ځي هلته به ورسره ځي د ده مبارک د نصرت ، ساتنې ، صحبت او د دین د حفاظت لپاره او لده مبارک څخه د دین د رسولو لپاره تر څو پوره فضیلت ورته حاصل شي ، دوی یوه ته هم جائز نده چې خپل وطن ته رجوع وکړي او رسول الله صلی الله علیه وسلم پریږدي ، ځکه د دار کفر ترک کول چې هر چېرته وي اګر که په هر چا باندې فرض ده څوک چې په دار کفر کې ایمان قبول کړي نو له هغه ځایه به هجرت کوي ، تر څو پده باندې د کفر احکام جاري نشي ځکه رسول الله فرمایي (أَنَا بَرِيءٌ مِنْ كُلِّ مُسْلِمٍ مُقِيمٍ مَعَ الْمُشْرِكِينَ) زه د هغه مسلمان څخه بري یم چې د کافرانو منځ کې استوګنه کوي ، خو کله چې دغه دار دار ایمان او دار اسلام وګرځي نو هلته رجوع کول او راستنیدل حرام ندي.[1])

عظیم ابادي صاحب سنن ابي داود په شرح کې لیکی : (دغه مهاجرین همدغه درې ورځې د خپلو ضرورتونو د پوره کولو لپاره تیرولی شي لدې ډیرې به نه تیروي ، ځکه دا هغه څه ته واپس کیدو سره مشابه دی چې یو څه یې الله لپاره ترک کړی وي ... دا حدیث دلیل دی د هغه چا لپاره چې مهاجرین په مکه کې له استوګنی څخه منع کوي ، سره لدې چې پدې خبره اتفاق دی چې په دوی باندې د مکې له فتحي څخه مخکې هجرت واجب ؤ او

په شبونه او شنترین سمه کی قاضی وو په شاطبه ښار کی وفات شوی . زرکلي ، خیر الدین بن محمود بن محمد بن علي بن فارس (۲۰۰۲م) : الأعلام ۸ /۲۴۰

**1** - النمري ابن عبد البر ، أبو عمر يوسف بن عبد الله( ۱۴۱۴ هـ ـ ۱۹۹۳ م ) : الاستذكار الجامع لمذاهب فقهاء الأمصار وعلماء الأقطار ، تحقيق: عبدالمعطي امين قلعجي ، دمشق ، دار قتيبة، ۲۳ / ۴۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدوی واجب وه چې مدینه کې به د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نصرت او په رسول الله باندې د خپلو ځانونو قربانولو او خپل دین له فتنې څخه ژغورلو لپاره هجرت کوي ، مگر هغه مهاجرین چې د مکې له فتحې څخه وروسته مسلمانان شویدي دوی ته په اتفاق د علماؤ جایز ده چې خپل مسکن کې استوگنه وکړي مکه وي او که بل ځای.[1])

ابن حجر رحمه الله بیا د قرطبي رحمه الله دغه پورته نظر ته ترجیح ورکړی او وایي : (وهو حسن متجه[2]) یعني دا ښایسته نظر دی او توجیه هم لري.

دا چې مکې ته صحابه کرامو راستنیدل بد گڼل او رسول الله هم ورته د درې ورځو د استوگنې اجازه ورکړې وه دغه حکم د صحابه کرامو پور خاص ؤ چې دا قول اسلام ویب انلاین دار الافتاء[3] هم نقل کړی : ( کله چې له یوه هېواد څخه هجرت واجب شي یعني چې مسلمان پکې په ځان وېرېږي او یا د دیني شعائرو د تر سره کیدو قدرت ونلري ، دغه هېواد چې تر څو په همدغه حالت باقي پاتې وي [ یعني په ځان ویرېږي او یا دیني شعائر په څرگنده نشي تر سره کولی ] نو په خپله خوښه ورته راستنیدل جائز ندي ، ځکه اوس هم د حرمت علت موجود دی ، مگر که د هېواد وصف تغیر شو او د استوگنې د

---

1 - العظیم آبادي ، محمد أشرف بن أمیر بن علي بن حیدر ( ۱۴۱۵هـ ) : عون المعبود شرح سنن أبي داود ٦ / ۳.

2 - العسقلاني ، احمد بن علي بن حجر (۱۴۲۴هـ ـ ۲۰۰۴م) : فتح الباري ، ۷ / ۳۰۷

3 - اسلام ویب یو علمي او دعوتي سایټ دی چې د قطر هېواد د اوقافو او اسلامي تعلیماتو د وزارت لخوا پر مخ وړل کیږي.( (http://fatwa.islamweb.net/fatwa/index.php?page=aboutfatwa

(c) ketabton.com: The Digital Library



حرمت علت له منځه لاړو په دې ډول چې دار اسلام وګرځیدو او یا پکې د مسلمان نفس خوندي ؤ او دیني شعائر یې په علني ډول تر سه کولی شول نو دغه حالت کې راستنیدل حرام ندي ، اوس نو کله چې د هجرت باعث [ یعني په ځان ویره او یا دیني شعائر په ښرګنده تر سره کیدو منع ] له منځه ولاړ د هجرت د صحت لپاره عدم راستنیدل شرط ندي.

کومه نهي چې د هجرت څخه د راستنیدو راغلی ده : هغه خاص ده هغه هجرت پورې کوم چې صحابه کرامو رسول الله ته مدیني ته کړی ؤ ، په دغه حالت کې علماء اخلاف لري چې دغه نهي په ابتدا د اسلام کې وه او که د رسول الله تر وفات ورسته هم باقي پاتې ؤ ؟

خو اصل دا دی چې کله د هجرت باعث له منځه ولاړ نو د مهاجرینو راستنیدل مباح دي[1].)

همدارنګه وایي : ( مسلمان مهاجر ته هیڅ مانع نشته کله چې د یوه معین سبب له کبله یې هجرت کړی وي لکه د کفر او یا د منکراتو د ظهور او یا د دیني شعائرو د تر سره کولو قدرت نه لرل ، کله چې سبب له منځه ولاړ ، ځکه حکم د علت سره ښرخي د وجود او عدم په دواړو حالتونو کې ، دغه راستنیدل د خپلې کورنۍ د کتلو لپاره وي او که د استوګنې لپاره وي.

---

[1] - اسلام ویب : حکم رجوع المهاجر الی بلد الکفر التي هاجر مها ( **22**ربیع الأول 1437 - 2016-1-3) ، فتوی نمبر (۳۱۸۸۷۱) ( **http://fatwa.islamweb.net/fatwa/index.php?page=showfatwa&Option=FatwaId&Id=318871** )

(c) ketabton.com: The Digital Library



اگر که غوره خو دا ده چې د دايمي استوگنې لپاره راستون نشي ځکه سلفو به دا بده گڼله چې هغه ځه ته رجوع وکړي کوم ځه چې يې د الله لپاره ترک کړی وه.

او په کومو رواياتو کې چې مهاجر ته خپل هېواد ته راستنيدل په صورت کې درې ورځې استوگنه جائز گڼل شوې ؛ دا د هغه صحابه کرامو پورې خاص دی چې رسول الله ته يې مديني ته هجرت کړی ؤ.

نو په همدې بناء مسلمان مهاجر ته جائز دي چې خپل هېواد ته راستون شي او استوگنه پکې اختيار کړي پرته لدې چې ځان ته څه ورځې مشخص کړي ، پدې شرط چې نفس او دين يې په امن کې وي[1].)

او د خصوصيت وجه يې ابن عبدالبر مالکي رحمه الله داسې په گوته کوي : (هجرت د وطن په ترک کولو کې مقتصر ندی او علی الابد ورته رجوع حرامه نده مگر يواځې د مکې خلکو لپاره کومو چې ايمان قبول کړی او د رسول الله اتباع يې کړې په دوی باندې خاصتا هجرت فرض کړی شوی دی او په دوی باندې فرض ده چې چېرته رسول الله وي هلته به اوسيږي ، چېرته چې ځي هلته به ورسره ځي د ده مبارک د نصرت ، ساتنې ، صحبت او د دين د حفاظت لپاره او لده مبارک څخه د دين د رسولو لپاره تر ټو پوره فضيلت ورته

---

[1] - - اسلام ويب : حکم رجوع المهاجر الی بلد الکفر التي هاجر مها ( **9**شوال 1428 - 21-2007-10) ، فتوی نمبر **(100150)** ( **http://fatwa.islamweb.net/fatwa/index.php?page=showfatwa&Option=FatwaId&Id=100150** )

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاصل شي ، دوی یوه ته هم جائز نده چې خپل وطن ته رجوع وکړي او رسول الله صلی الله علیه وسلم پریږدي.[1])

او اسلامي تاریخ کې له دقت څخه وروسته مونږ ته د هغه صحابه کرامو واقعه هم مخ ته پرته ده چې حبشي ته یې هجرت وکړ او کله چې خبر شول په مکه کې فتنه له منځه تللې بیرته مکې ته راستانه شول ، چې پدې اړوند باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم کومه منع نده فرمایلې.

او کیدای شي چې همدغه واقعه به یې یوه غوره توجیه وي.

له همدې امله ده چې شیخ الباني رحمه الله څخه یوه فتوی غوښتل کیږي چې : که یو شخص له یوه ځای څخه د ځینې اسبابو له امله هجرت کوي ، کله چې دغه اسباب له منځه لاړ شي ، دغه مهاجر خپل هیواد ته راستنیدلی شي ؟

شیخ رحمه الله جواب کوي : رسول الله علیه السلام له دغه سوال څخه داسې جواب کوي ، یعني مقصد یې دا دی چې (لا هجرة بعد الفتح [2]) له فتح مکې څخه وروسته هجرت نشته ، هجرت له مکې او نورو ځایونو څخه واجب ؤ د رسالت او نبوت مقر او د اسلامي دولت مقام یعني مدینې ته ، کله چې الله عزوجل خپل نبي باندې مکه فتحه کړه ، خپل لښکر یې عزتمند جوړ کړ ، خپل بنده مرسته یې وکړه او کفر او کافران یې ذلیله کړل نو دغه وخت کې رسول الله وفرمایل (لا هجرة بعد الفتح وإذا استنفرتم فانفروا [3]) د مکې له فتحې

---

1 - النمري ابن عبد البر ، أبو عمر يوسف بن عبد الله( ١٤١٤ هـ ـ ١٩٩٣ م ) : الاستذكار الجامع لمذاهب فقهاء الأمصار وعلماء الأقطار، ٢٣ / ٤٠.

2 - مخکې تخریج شوی

3 - مخکې تخریج شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته هجرت نشته ، کله چې درڅخه د عامو وتلو غوښتنه وشوه نو ووځئ ، لدې وروسته هر ځای ته راستنيدل جايز شول کله چې دغه هيوادونه اسلامي وه ، که چېرته يو شخص د خپل ښار څخه په غوره ښار کې وي د جواز دروازه خلاصه ده ، تا ته جائز ده چې له يوه اسلامي هيواد څخه بل اسلامي هيواد ته ستون شې مگر تا ته جائز نده چې د کفر او گمراهۍ هيوادونو ته سفر وکړې لکه اروپا او امريکا ....[1])

د پورته عبارت مفهوم دا دی چې : په ابتدا د اسلام کې هجرت فرض ؤ ، نو د هجرت ترک کول او مکې ته راستنيدل هم نامشروع وه او کله چې مکه فتحه شوه د هجرت فرضيت له منځه لاړو او يواځې د فتني له ويرې او د جهاد او نور شرعي اعمالو د تر سره کولو لپاره د هجرت کولو جواز پاتې شو ، اوس نو هر اسلامي هيواد ته هجرت کول او بيا خپل هيواد ته راستنيدل جائز دي.

خلاصه :

د دلائلو په کتنې او د علماء کرامو له اقوالو څخه داسې معلوميږي چې خپل هيواد ته د مهاجرينو راستنيدل د هغه چا لپاره جايز ندي چې خپل هيواد يې يواځې د الله د رضاء لپاره پريښې وي ، نه د دې لپاره چې هغه ځای کې يې د دين ، نفس ، مال او اولاد له فتني څخه د حفاظت لپاره که چېرته د دين ، نفس ، اولاد د حفاظت لپاره کوم ځای څخه هجرت شوی وي نو هلته واپس کيدلو کې به دغه لاندې دوه حالات په نظرکې نيول کيږي.

---

[1] - الالباني ، محمد ناصر الدين : تفريغات سلسلة الهدى والنور ،مسلسل نمبر ٦۴١.
(http://www.alalbany.net)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی : که له کوم هیواد څخه هجرت کول واجب ګرځیدلی وه ، پدې ډول چې د مسلمان نفس او دین په امن نه وي او یا د دیني شعائرو په اظهار قادر نه وي او دغه هیواد لا هم په همدې حالت باقي پاتې وي ، دغه هیواد ته د مهاجرینو او پناه اخېستونکو راستنیدل جایز ندي ، ځکه دغه ځای کې د استوګنې د حرمت علت لا هم باقي دی.

دویم : مګر که هیواد اوضاع تغیر وکړي ؛ د دین اظهار او د نفس او دین حفاظت پکې محفوظ شي او دغه هیواد دار اسلام یا دار امن وګرځي ، پدغه حالت کې د مهاجرینو واپس کیدل حرام ندي ځکه اوس نو علت له منځه تللی او د علت له منځه تلو سره حکم هم له منځه ځي.

پورته خبرې په دغه اصل ولاړې دي چې : (فَإِن الحكم يَدُور مَعَ الْعلَّة وجودا وعدما[1]) حکم له علت سره څرښې د وجود او عدم دواړو حالاتو کې.

یعنې که علت موجو ؤ حکم به هم موجو وي او که علت موجود نه ؤ نو حکم به هم نه موجودیږي.

والله اعلم بالصواب

دا چې د مهاجرینو او پناه اخېستونکو د راستنیدلو حکم څرګند شو ، اوس پوښتنه پیدا کیږي هغه دا چې ، هغه مهاجر یا پناه اخېستونکی چې خپل مسکن ته راستنیږي ، ایا د ده راستنیدل د دوی په ثواب اغیزه کوي او کنه ؟

اصلا په هر ځای کې د استوګنی حکم د فتنې په علت څرخي ، یعنې چېرته چې فتنه موجوده وي ؛ هلته استوګنه حرامه او چېرته چې فتنه نه وي

---

1 - السرخسي ، محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة (ب.ت) : أصول السرخسي ، بیروت ، دار المعرفة، ١٨٢.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موجوده هلته استوګنه مباحه ده ، خو کله چې د فتني له ويرې له يوه ځايه هجرت وشي يا په بل هيواد کې پناه واخېستل شي او د فتني په حالت کې د هجرت په ثواب بحث وشو ، اوس نو دا بايد څرګنده شي چې د هجرت ثواب مطلق په هجرت کولو سره تر لاسه کيدلى شي او که د مهاجر وفات کيدل د هجرت په حالت کې ضرور دي:

الله عزوجل فرمايي ﴿ وَمَن يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ يَجِدْ فِي ٱلْأَرْضِ مُرَٰغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً ۚ وَمَن يَخْرُجْ مِنۢ بَيْتِهِۦ مُهَاجِرًا إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ يُدْرِكْهُ ٱلْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٠٠﴾ ﴾[1]

ژباړه : څوك چې د الله په لار کښې هجرت وکړي هغوى به په ځمکه کښې د پناه اخيستلو ډېر ځايونه او د ژوند تېرولو له پاره ډېره پراخي ومومي، او څوك چې له خپله کوره د الله او پېغمبر خوا ته د هجرت کولو له پاره ووځي، بيا په لاره کښې ورته مرګ راشي د هغه ثواب د الله پر ذمه واجب شو، الله ډېر بښونکى او رحيم دى.

د پورته ايات کريمه په ( ثُمَّ يُدْرِكْهُ ٱلْمَوْتُ ) په کلمة کې د محمد طاهر ابن عاشور رحمه الله [2] وايي :

---

[1] - النساء / ١٠٠.

[2] - محمد الطاهر بن عاشور په ١٢٩٦هـ ، ١٨٧٩م کې پيدا شوى او ١٣٩٣هـ ، ١٩٧٣م کې وفات شوى ، د مالکي مفتيانو رئس ؤ په تونس کې او د جامع الزيتونيه او د دې جامعې د فروعو استاذ ؤ ، تونس کې پيدا شوى ، وفات شوى او درس يې هم همدلته لوستلى ، مشهور کتابونه يې (مقاصد الشريعة الإسلامية) او (أصول النظام الاجتماعي في الإسلام) او (التحرير

(c) ketabton.com: The Digital Library



١ – مخکې لدې چې دار هجرت ته داخل شي مرگ ورته راشي نو د هجرت اجر يې واجب شو.

٢ – مرگ ورته په داسې حالت کې راشي چې دا شخص مهاجر وي ، يعني بيرته دار کفر ته را واپس شوی نه وي نو د هجرت اجر يې واجب شو او ابن عاشور وايي همدا قول اصح هم دی[1].

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : (اللَّهُمَّ أَمْضِ لِأَصْحَابِي هِجْرَتَهُمْ، وَلاَ تَرُدَّهُمْ عَلَى أَعْقَابِهِمْ، لَكِنِ البَائِسُ سَعْدُ ابْنُ خَوْلَةَ» يَرْثِي لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ مَاتَ بِمَكَّةَ[2]»يا الله زما د ملگرو هجرت باقي پاتې کړې او ته يې په پوندو شاته ومه گرځوې ، مگر سعد بن خوله فقير ) رسول الله په سعد بن خوله خواشني څرگنده گړه چې په مکه کې وفات شو.

د پورته حديث په تشريح کې امام نووي رحمه الله ليکي : عيسی بن دينار وايي په سعد بن خوله باندې د رسول الله خواشينۍ سبب د هجرت سقوط ؤ ځکه هغه په خپل اختيار سره له مديني څخه راستون شوی ؤ او مکه کې وفات شو ، نور بيا وايي چې د خفگان سبب يې په مکه کې وفات کيدل دی ، په هر حال د ده په اختيار کې وه او کنه ، خو د رسول الله صلی الله عليه وسلم د خفگان سبب د سعد بن خوله رضی الله عنه څخه د هجرت پوره ثواب

---

والتنوير) تفسير کې او نور . وگوره :خير الدين بن محمود الزرکلي الدمشقي: الاعلام ، دار العلم للملايين ، پنځلسم چاپ (٢٠٠٢م) ٦ / ١٧٤.

**1** - ابن عاشور ، محمد الطاهر بن محمد بن محمد الطاهر(ب.ت ): التحرير والتنوير ، بيروت ـ لبنان ، مؤسسة التاريخ، ٥ / ١٠٨.

[2] - مفق عليه ، رواه البخاري ، کتاب الجنائز ،باب رثاء النبي صلی الله عليه وسلم سعد ابن خولة، رواه مسلم ، کتاب الوصية ، باب الوصية بالثلث.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فوت کيدل وه کوم چې په دار هجرت کې د وفات په سبب ورته رسيدلی شو او کوم چې د خپل وطن څخه په نا اشنايې او غربت کې د وفات په سبب چې د الله لپاره تر سره شوی ؤ ورته رسيدلو[1]. په هر حال لکه مخکې چې ورته اشاره وشوه چې دغه حکم يواځې د هغه صحابه کرامو پورې خاص ؤ کوم چې له مکې څخه يې مديني ته هجرت کړی ؤ.

دا چې اوس کله فتنه په يوه سيمه کې ختمه شي هلته راستنيدل جائز دي خو په ثواب يې اثر شته ، پدې شکل چې ثواب په کلي شکل له منځه نه ځي البته هغه ثواب کوم چې په دار هجرت کې د وفات په سبب تر لاسه کيدلی شي هغه د راستنيدلو څخه وروسته په خپل وطن کې د وفات په نتيجه کې لاس ته نه راځي ، چې همدې خبرې ته پورته امام نووي رحمه الله هم اشاره کړې چې سعد بن خوله باندې رسول الله ځکه خواشني څرګنده کړه چې په مکه کې د وفات په سبب له پوره ثواب څخه محروم شو يعني ټول ثواب د هجرت له منځه ندی تللی بلکې پوره ثواب ورته ندی حاصل کوم چې نورو هاغو مهاجرينو ته حاصل دی چې دار هجرت کې وفات کيږي.

دويمې خبرې ته چې امام نووي رحمه الله اشاره کوي وايي (وَالْغُرْبَةِ عَنْ وَطَنِهِ) د خپل وطن څخه په نا اشنايې او غربت کې د وفات په سبب ، نو ممکن امام نووي رحمه الله دې حديث ته اشاره کول غواړي چې : (عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: تُوُفِّيَ رَجُلٌ بِالْمَدِينَةِ مِمَّنْ وُلِدَ بِالْمَدِينَةِ، فَصَلَّى عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «يَا لَيْتَهُ مَاتَ فِي غَيْرِ مَوْلِدِهِ» فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ النَّاسِ: وَلِمَ

---

[1] - النووي ، محيي الدين يحيى بن شرف ( ١٣٩٢هـ ): المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج ، بيروت ، دار إحياء التراث العربي ١١ / ٨٠.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ «إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا مَاتَ فِي غَيْرِ مَوْلِدِهِ، قِيسَ لَهُ مِنْ مَوْلِدِهِ إِلَى مُنْقَطَعِ أَثَرِهِ فِي الْجَنَّةِ[1]»)

ژباړه : د عبدالله بن عمرو څخه روایت دی دا وایي : یو سړی په مدینه کې وفات شو کوم چې په مدینه کې پیدا شوی ؤ ، رسول الله یې جنازه وکړه نو وه یې فرمایل : ای کاش چې خپل پیدایشي ځای کې نه وی وفات شوی ، یوه سړي ورته وویل : ولې ای رسول الله !؟ ، رسول الله وفرمایل : کله چې یو سړی د خپل وطن څخه غیر بل ځای کې وفات کیږي نو د ده له وطن څخه تر وفات ځای پورې ورته په جنت کې اندازه کیږي.

نو پورته تشریح ته په کتو سره ویلی شو چې :

الف : که چیرته فتنه له منځه نه وي تللي هغه ځای ته راستنیدلو سره د هجرت ثواب له منځه ځي ځکه د هجرت هدف متحقق نشو ( لکه د ابن عاشور قول ذکر شو )

ب : که فتنه له منځه لاړه نو د هجرت ثواب له منځه نه ځي خو البته د هغه مهاجر په اندازه ثواب به یې نه وي کوم چې د خپل وطن څخه د نا اشنا ییځ په حالت کې وفات کیږي ( لکه د امام نووي قول او حدیث چې ذکر شو ) والله اعلم

---

**1** - رواه ابن ماجه ، كتاب الجنائز ، باب ما جاء فيمن مات غريبا ، او ابن حبان په خپل صحيح کې ، كتاب الجنائز وما يتعلق بها مقدما أو مؤخرا ، ذكر إعطاء الله المتوفى في غربته مثل ما بين مولده إلى منقطع أثره من الجنة ، د دې حدیث په اړوند الالباني رحمه الله او شعيب الأرنؤوط وايي ، دا روايت حسن دی اوګوره (محمد بن حبان : صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان ، المحقق: شعيب الأرنؤوط ، بيروت ، مؤسسة الرسالة)

(c) ketabton.com: The Digital Library



تبصره : او دا چې کله که يو څوک په يوه هېواد کې د نفس او يا دين له اړخه په فتنه کې وي او له دغه ځايه هجرت وکړي ، وړاندې تر دې چې دغه فتنه له منځه لاړه شي ، يوه شخص ته جائز دي چې دغه هېواد ته د تجارت يا نورو مباحو کارونو تر سره کولو ته د لنډ وخت لپاره راستون شي او کنه ؟

جواب دا دی چې : په کوم هېواد کې چې د دين او يا نفس له اړخه فتنه موجوده وي هيڅ مسلمان ته دا جائز ندي چې هلته استوګنه وکړي او يا ورته هجرت وکړي ، ځکه په دې کې د علماؤ اتفاق دی که يو څوک په يوه هېواد کې د دين له پلوه په فتنه کې لويده يا د دين له اظهار عاجز وي او يا يې د دين احکام نه شوای تطبيقولی او په هجرت قادر وي ؛ نو له هغه ځايه هجرت کول واجب دی ، پدغه حالت کې د هجرت د وجوب اجماع ؛ ابن کثير ، بدر الدين العينی او علاء الدين المرداويرحمهم الله نقل کړی[1].

او د دې اجماع ګڼ شمير دلايل شته چې په مخکې مبحث کې ورته په تفصيل سره اشاره وشوه.

همدارنګه دکتور محمد مصطفی نيازی ليکي : له دار کفر څخه دار اسلام ته هجرت پدې پورې تړلی چې په دار کفر کې مسلمان په کومه اندازه کولای شي اسلامي شعائر په ډاډمنه فضاء کې تر سره کړي او خپل دين ، اولاد او کورنۍ په هکله له هيڅ راز فتني څخه په ويره کې نه وي ، که چيري د دين

[1] - ابن کثير ، إسماعيل بن عمر القرشي الدمشقي (١٤٢٠هـ ١٩٩٩م ) : تفسير القرآن العظيم ، ٣ / ٤٦٢. او العيني ، بدر الدين (ب.ت) : عمدة القاري ، ١ / ٢٩. او علاء الدين المرداوي : المرداوي ، علاء الدين : الإنصاف في معرفة الراجح من الخلاف ، ار إحياء التراث العربي ، ٤ / ١٢١.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ښکاره کېدو قادر نه وي ، یا په خپل ځان دین ، زامنو او کورنۍ باندې له فتنې څخه په ویره کې وي نو پدغسې حالت کې هجرت واجب دی[1].

دویم دا چې په تیر مبحث کې بیان شول چې هغه هېوادونو ته چې مسلمان پکې په خپل نفس او دین په امن کې نه وي د تجارت او نورو مباحو کارونو سرته رسولو لپاره تلل جائز ندي[2].

اوس نو کله چې له یوه هېواد څخه هجرت واجب وي نو دا په دې معنی چې په دغه هېواد کې استوګنه حرامه ده نو راستنیدل هم ورته په طریقه اولی حرام دي. والله اعلم بالصواب

**دویم پراګراف : په نړیوالو تړونونو کې د مهاجر او پناه اخېستونکي راستنیدل**

په نړیوالو تړونو کې هم مهاجر او پناه اخېستونکی کولی شي په ازاد ډول خپل هیود ته راواپس شي چې دلته به لومړی د مهاجر راستنیدل وڅېړو او بیا د پناه اخېستونکي :

اول : جز : د مهاجر راستنیدل

په نړیوالو تړونونو کې مهاجر ته حق ورکړل شوی چې هر وخت وغواړي خپل هیواد ته راستون شي ، د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه دیارلسمه ماده کې راځي ( الف : هر څوک حق لري چې د هر هیواد په دننه کې ازادانه تګ او راتګ وکړي او د استوګنې ځای انتخاب کړي.

---

[1] - نیازی ، محمد مصطفی ( ۱۳۹٦هـ ش ): معاصر فقهي قضایا ، ۲ / ۲۱۴.

[2] - په دې اړوند د دې بحث ۱۰۲ او ۱۰۳ صحفي وګوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب : هر څوک حق لري ، چې د خپل هيواد په ګډون هر هيواد پريږدي او يا خپل هيواد ته راستون شي.)

دلته بشر ته حق ورکړل شوی چې هر وخت وغواړي خپل هيواد ته راستنيدلی شي.

دويم جز : د پناه اخېستونکي راستنيدل

د پناه ورړونکو په وضع پورې اړوند ګنوانسيون له مخې پناه وړونکی په جبري ډول له خپل هيواد څخه نه اخراجوي مګر د ملي امنيت ته د ګواه له کبله چې پدې اړه ، دري ديرشمه ماده داسې صراحت لري : ۱ -له ژمنو دولتونو څخه هېڅ يو به په هېڅ ډول پناه وړونکی هغو خاورو ته چې امکان لري په توکم ( نژاد) ، مذهب ، مليت ، په خاصه ټولنيزه ډله کې په غړيتوب يا د سياسي عقيدو په لرلو پورې په ا ړوندو علتونو د هغۀ ژوند يا آزادي تر ګواښ لاندې راشي ، و نه باسي ، يا به يې بېرته و نه ګر ځوي.

۲ -خو هغه پناه و ړونکی به چې د کافي دلايلو له مخې يې وجود هغۀ هېواد ته چې هلته ژوند کوي ، خطرناك وي يا د محکمې د قطعي قضاوت له مخې د مهم جرم يا جنايت په ارتکاب محکوم شوی ، وي او دهېواد دټولنې حال ته مضر تشخيص شي ، نشي کولای پدې ماده کې له ذکر شوو مقرراتو څخه د ګټې اخستنې دعوي وکړي[1].

همدغه رنګه پناه وړنکو ته حق ورکړل شوی چې په خپله خوښه او رضاء سره خپل هيواد ته ستون شي د همدغه کنونسيون ۴ ماده ( ج ) برخې ۴

[1] - د عدلي وزارت رسمي جريده ، (د ۱۳۸۵هـ ش کال) د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسيون ( ۱۹۵۱ جولای ۲۸) پرله پسي نمبر (۹۰۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



بند داسې صراحت لري: داوطلبانه د استو ګنې لپاره هغۀ هېواد ته ستون شي چې د شکنجې له وېرې يې د مخه هغه ځای پرېښی ( خوشی کړی ) وي يا يې له هغۀ څخه په بهر کې ژوند کاوه[1].

مقارنة :

له پورته خيړنې څخه دا نتيجه لاس ته راځي چې اسلامي فقه او نړيوال تړونونه په دې خبره سره متفق دي چې ، مهاجر او پناه اخېستوکی هر کله چې وغواړي خپل هيواد ته راستنيدلی شي.

البته په اسلامي فقه کې د مهاجرينو د راستنيدلو سره د هجرت په ثواب کې اثر شته او همدارنګه تر څو چې فتنه له منځه نه وي تله لي تر هغې راستنيدل جواز نلري.

خو په نړيوالو تړنونو کې بيا که يو شخص په خپله خوښه غواړي چې راستون شي نو هيڅ مانع وجود نلري ، چې دلته مونږ ته په څرګنده معلوميږي چې اسلامي فقه د يوه شخص د ساتنې په اړوند تر نړيوالو تړونونو زياته محتاطه ده.

---

[1] - د عدلي وزارت رسمي جريده ، (د ۱۳۸۵هـ ش کال) د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسيون ( ۱۹۵۱ جولای ۲۸) پرله پسي نمبر (۹۰۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم فصل

## ایران او پاکستان ته د افغانانو هجرت او راستنیدل یې

په دې فصل کې به د هجرت او پناه اخېستنې احکام په تطبیقي ډول وڅیړل شي او د افغانانو هجرت او پناه وړنه ایران او پاکستان ته او بیرته راستنیدل یې یوه عملي موضوع ده چې دلته پرې بحث کیږي ، هڅه به وشي تر څو په دې اړخ کې د مسلمانانو عامه مصالح او په خاص ډول د افغانانو مصالح په نظر کې نیولو سره د اسلامي فقهي او نړیوالو تړونونو احکام په بې پرې ډول وڅیړل شي.

دا فصل په دوه مبحثونو مشتمل دی

لومړی مبحث : ایران او پاکستان ته د افغانانو هجرت

دویم مبحث : د ایران او پاکستان څخه د افغان مهاجرینو راستنیدل

چې دغه دوه موضوعات به دلته په لنډ ډول بحث شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی مبحث : ایران او پاکستان ته د افغانانو هجرت

دا مبحث په دوه مطلبونو مشتمل دی

لومړی مطلب : ایران او پاکستان ته د افغانانو د هجرت عوامل

دویم مطلب : ایران او پاکستان ته د افغانانو د هجرت حکم

چې په دغه دوه موضوعاتو به دلته رڼا واچول شي.

### لومړی مطلب : ایران او پاکستان ته د افغانانو د هجرت عوامل

دلته به له کودتا تر کودتا او د شوروي اتحاد لخوا د افغانستان تر اشغاله د افغان مهاجرینو د هجرت اسباب او عوامل تر مطالعې لاندې ونیول شي ، د دې لپاره چې موضوع له فقهي او قانوني بحث څخه په تاریخي بحث تبدیله نشي ، د نظامو د بدلون او کودتا ګانو او اشغال په عواملو بحث نه کیږي ، یواځې په هغه اسبابو بحث کیږي چې پدغه نظامونو کې د افغان مهاجرین لپاره یې ایران او پاکستان ته د هجرت لار برابره کړه.

#### لومړۍ مرحله : د سردار محمد داود له کودتا څخه وروسته د افغانانو هجرت

د ۱۹۷۳م کال د جولای د میاشتي په ۱۷ چې د چنګاښ د میاشتي له اووه ویشتمي نیټې سره سمه وه په هیواد کې د محمد ظاهر شاه شاهي نظام د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړي د تره ځوی او پخواني صدرا اعظم سردار محمد داود خان له خوا د يوې ( سپيني ) پوځي کودتا په نتيجه کې پای ته ورسيد[1].

د داود خان په کودتا کې د کمونسټانو لوی لاس موجوديت دا تقريبا د ډيرى تاريخ ليکونکو ترمنځ د اتفاق نقطه ده ، همدغه لامل شو چې د داود خان او ولس او په خاص ډول د اسلام پالو ترمنځ ټکررامنځ ته شو[2].

دا چې لدغې کودتا څخه وروسته ولې ځيني افغانان مجبور شول تر څو ګاونډيو هيوادونو ته هجرت وکړي !؟ مير محمد صديق فرهنګ يې په اړوند وايي : پرچميان د اسلامي ډلو له منځه وړلو په هڅه کې شول او محمد دواود يې پدې قانع کړ يا يې مجبور کړ په دې وخت کې د اسلامي نهضت مشرتابه دنده د شرعياتو د پوهنځي د رئس استاذ غلام محمد نيازي په غاړه وه د ۱۳۷۳ کال له کودتا وروسته استاذ نيازی پرته له کوم تور او دليل څخه ونيول شو ، ورپسې پوليسو د جوانان اسلام نور غړي ځيني ونيول او ځيني په تيښته بريالي شول چې لدې جملې څخه استاد برهان الدين رباني په غرونو پاکستان

1 - زرملوال، غلام محمد ( ۱۳۸۳ل ـ ۲۰۰۴م ): افغانستان تر ورستي افغانه ، قصه خواني بازار ـ پيښور، دانش خپرندويه
۱ / ۳۱۹

2 - مصداق ، نبي ( ۱۳۸۹ش ـ ۲۰۱۱ع ) : افغانستان سياسي کمزوري او بهرنۍ مداخله ، ۱۷۳ ، او زرملوال، غلام محمد ( ۱۳۸۳ل ـ ۲۰۰۴م ): افغانستان تر ورستي افغانه ، ۱ / ۳۲۲ ، او فرهنګ ، مير محمد صديق : افغانستان په وروستيو پنځو پيړيو کې ، ۹۱۲– ۹۱۴ او کول ، ستيو ( ۱۳۹۵هـ ش ـ ۲۰۱٦م ) : د پيريانو جګړې ، ژباړه : غلام محمد زرملوال ، دانش خپرندويه ټولنه، ص ۱٦۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته واوښت او پوهنتون د محصلینو له جملې حکمتیار او مسعود هم پاکستان ته وتښتیدل[1].

او زرملوال وايي : په اخوان المسلمین مشهوره بله ډله هم بوتهو په غیږ کې ونیوله دا ډله په سر کې د جوانان مسلمان او اسلامي تحریک په نامه یادیده د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي رئس پوهاند غلام محمد نیازي په مشري د کمونستانو پرضد په شدید سري او څرگند فعالیت کې لاس لاره د جوانان مسلمان گوند په ۱۹۷۴ کال کې که څه هم د کمیت له خوا دومره پیا وړي نه وه د محمد داود خان د حکومت پرضد په یوه پاڅون کې برخه لرله خو مقاومت یې زر وځپل شو او د هماغه کال د جون تر میاشتي پورې د دې گوند مشر پوهاند نیازی او څه نا څه دوه سوه نور غړي یې ونیول شول د برهان الدین رباني احمد شاه مسعود او گلبدین حکمتیار په شمول د هغې ځیني فعالین پاکستان ته وتښتیدل[2].

علت چې هر څه ؤ خو اسلام ته ژمن محصلین او استاذان تر سختو شرائطو لاندې راغلل ، ونیول شول ، ووژل شو او بلاخره هجرت کولو ته مجبور شول ، مجبور شول چې پاکستان ته پناه یوسې ، د پیریانو جگړې کتاب لیکوال یې تقریبا شمیر ۵۰۰۰ زره تنه په گوته کوي[3].

بالاخره په ۱۹۷۷ کال لیونید بریژنیف داود خان ملاقات او د پوې مسالې د توضیح لپاره راوغوښت چې افغانستان لیډر هڅه کوي چې د مصر ، سعودي عربستان او نورو دولتونو سره اړیکې تنگې کړي ، داود په غوسې سره

---

[1] - فرهنگ ، میر محمد صدیق : افغانستان په وروستیو پنځو پیړیو کې ، ۲ / ۹۳۳.

[2] - زرملوال، غلام محمد ( ۱۳۸۳ل ـ ۲۰۰۴م ): افغانستان تر ورستي افغانه ، ۱ / ۳۲۷ – ۳۲۸.

[3] - کول ، سټیو ( ۱۳۹۵هـ ش ـ ۲۰۱٦م ) : د پیریانو جگړې ، ص ۱٦۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعتراض او مخالفت وکړ چې افغانان خپله اختیار لري ، چې هر راز پریکړې وکړي ان تر دې چې یو ځل یې میز په سوک وواهه د په خپلو خبرو ټنگار وکړ ، چې ډیرې تاریخ پوهان پدې باور دي چې همدا لیدنه کتنه د داود د ماتې خوړلو پیل وگرځید[1].

**دویمه مرحله : د ثور له کودتا څخه وروسته د افغانانو هجرت**

په ۱۳۵۷ هجري لمریز کال د ثور په اومه نیټه د ۱۹۷۸ میلادي کال د اپریل میاشتي په ۲۷ په افغانستان کې یوه پوځي کودتا تر سره شوه ، په کودتا کې محمد داود خان او د نوموړي د کورنۍ ۱۷ غړي هم ووژل شول ، د ۱۹۷۸ کال د اپریل په ۳۰ نیټه نور محمد ترکی د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت رئس جمهور وټاکل شو.[2]

د افغانستان خلق دیموکراتیک گوند او د هغوی دیموکراتیک جمهوریت د افغاني ټولنې او افغاني ولس د مهار کولو او ولچک کولو لپاره له هر څه نه مخکې داسې فرامینونه جاري کولو او نافذ کولو لړۍ پیل کړه چې هغه هر یو فرمان د افغانستان په درې زره کلن تاریخ کې ساری نه درلوده ، هر فرمان دې ته لاره هواره وله چې گوندي منگولې ښې په مضبوطیا سره د ولس په مرۍ ښخې شي ، د فرمانونو په جاري کولو سره ولس په پدې حقیقت باور پیدا کړ چې گوند او دولت دواړه به هیڅکله د هېواد د اداره کولو لپاره له اسلامي لارو چارو څخه کار وانه خلي او عمل کې یې هم خلکو ته و خودل چې

[1] تانیر ، ستیوېن ( ۱۳۹۳) : افغانستان د جگړو تاریخ ، ژباړن : گل شریف هڅاند ، خیبر خپرندویه ټولنه ، ص ۴۷۳ ، او خیبري ، غوث ( ۱۳۸۹ل ۲۰۱۰م ) : په افغانستان کې توپان ، دانش خپرندویه ټولنه) ص ۴۵ او ٦٨.

[2] - زرملوال، غلام محمد ( ۱۳۸۳ل ـ ۲۰۰۴م ): افغانستان تر ورستي افغانه ، ۱ / ۱ ـ ۲ او ۲۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی له نوي نړۍ لید سره راغلي نه له هغه پخواني اسلامي او افغاني عنعنوي لارو څخه ، په همدې اساس په روحانیون ، دیني عالمان ، مذهبي مشران او نورو نیول کیدل پیل شول ، د دیني او مذهبي اعتقاداتو سره دښمني خودل کیدله ، همدې چال چلند او گوندي دیکتاتورۍ د بې کچه ځواک په نتیجه کې د هیواد له گوټ گوټ ، ښارونو او کلیو څخه د خلکو د تېښتې ، فرار او مهاجرت بهیر پیل شو ، د هېواد گڼ شمیر روښانفکران ، پوهان ، استاذانو ، ډاکټرانو ، انجنیرانو ، پورفیسرانو ، لیکوالانو ، شاعرانو او داسې نورو چې د افغانستان د خلکو معنوي پانگه گڼل کیدله د مجبوریت او ویرې له کبله هیواد پریښود او ځیني خو یا ووژل شول او یا په زندانونو کې واچول شول[1].

ډاکټر نبي مصداق وایي : ( پر پوځي ځایونو حملو د حکومت له خوا ډېر سخت غبرگونونه په بر کې لرل ، دغسې غچ به پولې ته نژدې خلک مجبورول چې د ژغورنې په خاطر پاکستان ته واوړي ، کله چې معلومه شوه چې کډوالو ته په پاکستان کې شه راغلی ویل کیږي ، نو دا ځاځکي په یو توپان سره واوښتل په پاکستان کې د افغان مهاجرینو شمیر چې تیر کال [ ۱۹۷۹ز] ۴۰۰۰۰ ته رسیدلی وو ، ډېر ژر دا دی یو ملیون هم واوښت. [ ۱۹۸۰ ډسمبر ۱۲ ][2])

د ۱۳۵۸ ل کال د سنبلې په ۲۵ نور محمد ترکی له گوندي او دولتي دندو گوښه او حفیظ الله امین د گوند عمومي منشی ، انقلابي شوری رئس او صدر اعظم په توگه وټاکل شو ، له همدې نیتې څخه د حفیظ الله امین درې

---

[1] - خیبري ، غوث ( ۱۳۸۹ل ۲۰۱۰م ) : په افغانستان کې توپان ، ص ۱۲۹ ـ ۱۳۱ ، په اختصار سره.

[2] مصداق ، نبي ( ۱۳۸۹ش ـ ۲۰۱۱ع ) : افغانستان سیاسي کمزوري او بهرنۍ مداخله ، ص ۳۲۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاشتنۍ واکمني پیل شوه او د ۱۳۵۸ل کال د میزان ۱٦ مه له راډیو تلویزیون څخه د نور محمد ترکي مړینه اعلان کړه او پر هیواد د شوروي اتحاد له یرغل سره جوښت د ۱۳۵۸ل کال د جدي په ٦ نومړی ووژل شو[1].

دریمه مرحله : د شوروي له اشغال څخه وروسته د افغانانو هجرت

په افغانستان باندې په ۱۳۵۸ل د مرغومي پر شپږمه د پخواني شوروي اتحاد له یرغل سره پر افغانانو قیامتونه راکوز کړل ، کله چې په افغانستان کې د پخواني شوروي اتحاد د لاسپوڅو گوندونو ( خلق او پرچم ) ډلو د کودتا له لارې د کابل واکمني لاندې کړه ولس یې ورو ورو پر خلاف ودرید ، زیات افغانان پاکستان ته په هجرت مجبور شول ... کله چې په افغانستان کمونستي ډلې واکمنې شوې په هیواد کې حاکم استبداد دې ته زمینه برابره کړه چې زیات خلک په پوه پاړکی [ محصلین ، علما ، زده کوونکي او برحال مامورین ] له هیواده وتښتېي او پاکستان او ایران ته پناه یوسي ، کله چې شوروي پوځو نو پر افغانستان یرغل وکړ ټول ولس یې پرخلاف راپورته شو او بیا عام خلک په ډېر زیات شمیر گاونډیو هیوادونو ته په هجرت مجبور شول[2].

پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد یرغل ، پنځه ملیونه افغانان یې بې کوره ، بې اوره او بې وطنه کړل ... څه د پاسه دوه ملیونه افغانان ایران او څه کم درې ملیونه افغانانو پاکستان ته کډه وکړه[3].

---

[1] - نیازی ، مستعلي( ۱۳۹۴ل ـ ۲۰۱۵ز ) : پر افغانستان د شوروي اتحاد یرغل او شوری کمونستي رژیم پر سقوط یې اغېز، ننگرهار ، گودر کتاب خپرنځی ، ص ۱۰۷ ، ۱۲۷.

[2] - شفیقي ، محمد زبیر ( ۱۳۹۴ل ـ ۲۰۱۵ز ): افغانستان د پردۍ جگړې په اور کې ، اکسوس کتابپلورنځی، ۴۲ – ۴۳ ، ۵۲ . په اختصار سره.

3 - خیبري ، غوث ( ۱۳۸۹ل ۲۰۱۰م ) : په افغانستان کې توپان ، ص ۳۱۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته جریاناتو ته په کتو سره کیدلی شي د افغان مهاجرینو او پناه غوښتونکو د مهاجرت او پناه غوښتنې اسباب په لاندې ډول په ګوته شي :

الف : په لومړنۍ مرحله کې یعني د داود خان له کودتا وروسته ؛ ځیني افغانان له زندان څخه د خلاصون ، خپل ژوند د ژغورول لپاره هجرت کولو ته مجبور کړل شول ، دا چې دغه ویره لدوی سره د داود خان د تشدد لرونکی مفکوري او که په داود خان باندې د کمونستو اشخاصو د تاثیر له کبله وه ، هر څه چې وه خو ځینی اشخاص د اخوانیانو په نوم زندان ته وغوزول شول او د وژلو هڅه یې وشوه او ځینی خو لا ان اعدام شوه.

ب : په دویمه او دریمه مرحله کې یعني په افغانستان کې د ثور له کودتا او د شوروي اتحاد له یرغل څخه رووسته ، په افغانستان کې د کمونیزم له نظر یې سره د افغانانو ټکر راغی ، چې لدې کبله په افغانستان کې د میشتو مسلمانو قومونو ژوند له یوه پلوه د کمونیزم له مفکورې سره یو ځای ژوند کول او له بله پوله د کمونستانو او بادارنو په لاسونو یې افغانان له سختو کړاؤ ونو سره لاس او ګریوان شوه ، بلاخره افغانانو ایران او پاکستان ته د هجرت لار غوره کړه.

سره لدې چې له ۲۰۰۱ کال څخه تراوسه ۷ میلیونو څخه ډیر افغان کډوال او پناه غوښتونکي خپل هېواد ته راستانه شویدي .خو لا هم ۵ میلیونو څخه ډیر افغانان دنړۍ په ۵٦ هېوادونو کې لا دکډوالۍ ژوند تېروي .

د نړۍ په ۵٦ هیوادونو کې د افغان کډوالو او پناه غوښتونکو احصاییه[1]

---

[1] - د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت : د کډوالۍ په برخه کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت لاسته راوړنې (**https://www.morr.gov.af**) ، ص ۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| هېواد | دافغان کډوالو او پناه اخېستونکو شمېر |
|---|---|
| ایران) | ( ۲۱٦۰۰۰۰ ) ۱۱٦۰۰۰۰ اسناد لرونکي |
| پاکستان | ( ۱۹۴۷۰۴۴ ) ۱۲۴۷۰۴۴ قانوني اسناد لرونکي |
| اروپا | ۴۸۷۳۹۹ |
| امریکا | ۳۵۰۰۰۰ |
| ترکیه | ۱۵۱۹۱۴ |
| استرالیا | ۴۰۰۰۰ |
| سعودي عربستان | ۳۴۳۲۵۰ |
| عربي متحده امارات | ۴۸۱۸۳ |

دنړۍ په ٥٦ هېوادونو کې د افغان کډوالو او پناه غوښتونکو مجموعي شمېر5 :691466

## دویم مطلب : له ایران او پاکستان څخه د افغان مهاجرینو راستنیدلو حکم

په دې مطلب کې به په پورته موضوع په دوه عنوانونو کې بحث وشي ، په لومړي عنوان کې به دغه موضوع د اسلامي فقهې او په دویم عنوان کې د نړیوالو تړنونو له انده وڅیړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی پراگراف : له ایران او پاکستان څخه د افغان مهاجرینو راستنیدل د اسلامي فقهې له انده**

په دویم فصل کې د مهاجر راستنیدل په تفصیل سره مطالعه شول ، دلته به هغه احکام په تطبیقي ډول مطالعه شي ، کوم چې د افغان مهاجرینو د راستنیدلو پورې تړلي دي.

کیدلی شي چې افغان مهاجرینو راستندل په دوه قسمه تقسیم شي ، لومړی هغه ډله راستنیدونکي چې په خپله خوښه غواړي راستانه شي پرته له کوم فشار او ضرورت څخه او دویمه ډله هغه کسان چې د دار هجرت کې د حاکم نظام لخوا په جبري ډول خپل هیواد ته ستنول کیږي چې دغه دواړه حالات به په لاندې ډول وڅیړل شي.

ما له ځیني افغان مهاجرینو سره مرکې وکړي چې افغان مهاجرین ولې نه غواړي افغانستان ته په خپله خوښه راستانه شي ؟ نو د دې په جواب کې اظهار الحق عزیز[1] له درې عمده دلائلو څخه یادونه وکړه لومړی دا چې افغانستان کې اوس هم امنیتي وضعه د ډاډ وړنده او دویم دا چې افغانستان کې لا هم اشغال حاکم دی او دیني وضعه پکې د دې تقاضاء نه کوي چې مهاجرین ستانه شي او دریم یې له اقتصادي ستونزو څخه یادونه وکړه ) ، نو

تر ډیره د دغه مهاجرینو اندېښنې د فکر وړ دي ځکه په افغانستان کې بحرني اشغالگر قوتونه په سختو جنگي جرمونو کې لتاړ دي چې د عامو مسلمانانو ژوند یې تریخ کړی ، په ودونو ، جنازو او مدارسو بمباردونه تر سره شوی ، چې څو نمونې یې دلته د مثال په ډول ذکر کیږي : د ( ۲۰۰۱ز کال د

[1] - اظهار الحق عزیز یو افغان مهاجر دی چې د اسلام اباد په نړیوال پوهنتون کې د استاذۍ دنده پرمخ وړي او ما ورسره د ۱۲ / ۲ / ۱۳۹٦ د سهار په ۹ بجو د فیس بوک له لارې مرکه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکتوبر د ۷ مي ) د بمباريو له پيل سره چې هر څومره مرګ ژوبله شوې ده ، هغه د طالبانو د ځپلو په حساب د نوي نظام او نړيوالو بريا ثبت شوې ده ، په دې کې تر ټولو لويه بوږنوونکي غميزه د مزار د جنګي کلا پيښه ده چې پر کلابندو زرګونو طالبانو ، لومړی د بي ۵۲ الوتکو پنځه سوه کيلو يي بمونه وغوزورل او وريسې چې ژوندي پاتي طالبان سمڅو ته ننوتل اوبه پرې ور پرېښودل شوې او ټول ځای پر ځای ووژل شول ، د ۲۰۰۲ کال په لومړيو کې د سکاټلينډ په ادنبرا کې د افغانستان په اړه مستندو فلمونو په يوه فستيوال کې د ( مرګ کاروان ) په نامه يو پنځوس دقيقه يي فلم وښودل شو چې د ۲۰۰۱ کال د نومبر کې له کندز نه د جنرال دوستم او امريکايانو لخوا په کانتينرو کې د څلور زره طالبانو وژلو په اړه ؤ ، دغه طالبان څه د ساه له بنديدو او څه د دوستم د جګړه مارو په ډزو کې ټول ووژل شول ، همدغه رنګه په ۲۰۰۴ز کال کې د جنوري پر ۲۴ مه د شپې لخوا  په چارچينو کې د يوه واده پر مراسمو بمبارۍ کې ۴۸ تنه بي ګناه افغانان شهيدان شول چې زوم او ناوې هم پکې شامل وه ، د هرات شينډنډ ولسوالۍ د عزيز اباد پرکلي د شپې پر ۲ بجو بمبار وشو چې ټول ټال ۹۲ تنه پکې شهيدان او ۷۰ تنه پکې ټپيان شوه دغه پښه په ۲۰۰۸ ز د اګست پر ۲۲ مه وشوه ، د ۲۰۰۸ ز کال د جولای په ٦ مه د ننګرهار په هسکه مينه ولسوالۍ کې د واده پر مراسمو هوايي بريد وشو چې د زوم او ناوي په شمول ۷۲ تنه بي ګناه هيواد وال پکې شهيدان شول ، د ۲۰۱۱ز کال د فبروري ۱۰ مه پر غازي اباد دويمه د مارچ په لومړۍ په پيچ دره او دريیمه د مارچ په ۱۵ مه وې چې ټول ۷۷ تنه پکې شهيدان شول پدې کې ۴۱ تنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومان او ۲۳ تنه ښځې وې ، غرض دا چې د نوي اشغال پر محال هم عام افغانان خوندي ندي[1].

همدارنګه د یوناما د ملګي خلکو د ژوند د نه خوندیتوب او د هغوی د تلفاتو په اړه وايي : (ملکي وګړي د ۲۰۱۷ کال په اوږدو کې له وسله واله جګړې څخه په دوامداره ډول اغېزمن شوي دي ، د جنورۍ له لومړۍ نیټې څخه تر ۳۱ د دسمبر پورې ، یو ناما ۱۰۳۵۳ ملکي تلفات [ ۳۴۳۸ مړینې او ۷۰۱۵ ټپیان ) ثبت کړي ، چې په ټولیز ډول دا د ۲۰۱٦ کال په پرتله ۹ سلنه کمښت ښيي او ۲۰۱۲ راورسته لومړنی کال دی چې په ملکي تلفاتو کې کمښت ثبت شوی دی ، د ۲۰۱٦ کال په پرتله د ملکي وګړو په مړینه کې دوه سلنه کمښت راغلی او د ملي وګړو په ژوبله کې ۱۱ سلنه کمښت راغلی ، په ټولیز ډول د ملکي وګړو دوام داره ډول لوړ شمیر تلفات د روان جنګ له امله ځاني تلفات په ګوته کوي ، د ۲۰۰۹ کال د جنورۍ د لومړۍ نېټې څخه د ۲۰۱۷ کال د دسمبر تر ۳۱ نېټې پورې په افغانستان کې وسله والې جګړې د ۲۸۲۹۱ ملکي وګړو ژوند اخستی او ۵۲۳٦٦ نور يې ټپیان کړي.[2])

دا خو هغه رسمي شمېرنې وې چې یوناما ثبت کړي د ملکي تلفاتو حقیقي شمیره تر ډې زیات خودل کیږي.

نو په نتیجه کې ویلی شو متاسفانه په افغانستان کې د بهرنیو قوتونو ، دولت او د دولت وسله وال مخالفینو له لوري نن ورځ ملکي وګړي خوندي ندي ، او د اسلامي فقهي له انده د مهاجرینو راستنېدل د خوندیتوب په علت

---

[1] - شفیقي ، محمد زبیر ( ۱۳۹۴ل ـ ۲۰۱۵ز ): افغانستان د پردۍ جګړې په اور کې ، ص ۱۸۵ ـ ۱۸۷ په اختصار.

[2] - د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنرۍ دفتر ( فبروري ۲۰۱۸ ) په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو خوندي ساته کلنی راپور ۲۰۱۷ ، کابل افغانستان ، ص ۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرخي نو په همدې اساس ويلی شو چې: افغان مهاجرينو ته په خپله خوښه راستنېدل مشروع ندي.

چې د دې خبرې د اثبات لپاره دغه دلائلو باندې اتکاء کیږي :

لومړی دليل - عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُنِي وَأَنَا بِمَكَّةَ، وَهُوَ يَكْرَهُ أَنْ يَمُوتَ بِالأَرْضِ الَّتِي هَاجَرَ مِنْهَا[1]»

ژباړه : د سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه څخه روايت دی ، دا فرمايي : رسول الله صلی الله عليه وسلم زما د ناروغۍ پوښتنې ته راغی او زه په مکه کې وم ، او هغه دا بده ګڼله چې يو شخص دې په هغه ځای کې وفات شي چې له هغه ځايه يې هجرت کړی وي.

(وَهُوَ يَكْرَهُ أَنْ يَمُوتَ بِالأَرْضِ الَّتِي هَاجَرَ مِنْهَا)احتمال لري چې دا جمله د فاعل څخه حال شي او يا هم له مفعول څخه حال شي ځکه هر يو رسول الله او سعد بن ابي وقاص دواړو دا بده ګڼله چې هغه ځای ته راشي چې هجرت يې ورڅخه کړی دی[2].

دويم دليل : په بل روايت کې راځي چې سعد بن ابي وقاص د حجة الوداع په کال کې مريض شو او رسول الله يې پوښتنې ته راغی او په اخر د حديث کې رسول الله وفرمايل : (اللَّهُمَّ أَمْضِ لِأَصْحَابِي هِجْرَتَهُمْ، وَلاَ تَرُدَّهُمْ عَلَى أَعْقَابِهِمْ، لَكِنِ البَائِسُ سَعْدُ ابْنُ خَوْلَةَ» يَرْثِي لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ

---

**1** - رواه البخاري ، كتاب الوصايا ، باب أن يترك ورثته أغنياء خير من أن يتكففوا الناس

2 - العسقلاني ، احمد بن علي بن حجر (١٤٢٤هـ ـ ٢٠٠٤م) : فتح الباري ، ٥ / ٣٦٤.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَاتَ بِمَكَّةَ[1]»یا الله زما د ملګرو هجرت باقي پاتې کړې او ته يې په پوندو شاته ومه ګرځوې ، مګر سعد بن خوله فقير ) رسول الله په سعد بن خوله خواشني څرګندده ګړه چې په مکه کې وفات شو.

(( اللهم أمض) عرب وايي امضيت الامر يعني کار مې نافذ کړ يعني پوره مې کړ ، (لأصحابي هجرتهم) او د دوی له اجر څخه څه حصه مه کموه او مه يې باطلوه ، (ولا تردهم على أعقابهم) يعني شاته يې مه ګرځوه چې خپل وطن ته واپس شي او مدينه ترک کړي تر دې چې مدينه کې وفات شي ، ... او په هغه چا باندې مدينه کې استوګنه لازم شوه چې مديني ته يې هجرت کړی وؤ.[2])

دريم دليل : دا چې د مهاجرينو راستنېدل د خونديتوب په علت څرخي په دې اړوند د اسلام ويب انلاين دار الافتاء وايي : ( کله چې له يوه هېواد څخه هجرت واجب شي يعني چې مسلمان پکې په ځان وېرېږي او يا د ديني شعائرو د تر سره کيدو قدرت ونلري ، دغه هېواد چې تر څو په همدغه حالت باقي پاتې وي [ يعني په ځان ويريږي او يا ديني شعائر په څرګنده نشي تر سره کولی ] نو په خپله خوښه ورته راستنيدل جائز ندي ، ځکه اوس هم د حرمت علت موجود دی.[3]).

---

[1] - مفق عليه ، رواه البخاري ، كتاب الجنائز ،باب رثاء النبي صلى الله عليه وسلم سعد ابن خولة، رواه مسلم ، كتاب الوصية ، باب الوصية بالثلث.

2 - الأرمي ، محمد الأمين بن عبد الله (١٤٣٠ هـ ٢٠٠٩م) : الكوكب الوهاج شرح صحيح مسلم ، دار المنهاج دار طوق النجاة ، ١٨ / ١٠٦.

[3] - اسلام ويب : حكم رجوع المهاجر الى بلد الكفر التي هاجر مها ( 22ربيع الأول 1437 - 2016-1-3) ، فتوى نمبر (٣١٨٨٧١)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې د مهاجرينو او پناه اخېستونكو د راستنيدلو حكم څرګند شو ، اوس پوښتنه پيدا كيږي هغه دا چې ، هغه مهاجر يا پناه اخېستونكى چې خپل مسكن ته راستنيږي ، ايا د ده راستنيدل د دوى په ثواب اغيزه كوي او كنه ؟

نو بايد وويل شي چې په خپله خوښه د هجرت پاى او له منځه وړل يې د هجرت په ثواب باندې اغېزه لري د لاندې دلائلو په اساس :

لومړى دليل : الله عزوجل فرمايي ﴿ وَمَن يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ يَجِدْ فِي ٱلْأَرْضِ مُرَٰغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً ۚ وَمَن يَخْرُجْ مِنۢ بَيْتِهِۦ مُهَاجِرًا إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ يُدْرِكْهُ ٱلْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٠٠﴾ [1])

ژباړه : څوك چې د الله په لار كښې هجرت وكړي هغوى به په ځمكه كښې د پناه اخيستلو ډېر ځايونه او د ژوند تېرولو له پاره ډېره پراخي ومومي، او څوك چې له خپله كوره د الله او پيغمبر خوا ته د هجرت كولو له پاره ووځي، بيا په لاره كښې ورته مرګ راشي د هغه ثواب د الله پر ذمه واجب شو، الله ډېر ښونكى او رحيم دى.

د پورته ايات كريمه په ( ثُمَّ يُدْرِكْهُ ٱلْمَوْتُ ) په كلمة كې د محمد طاهر ابن عاشور رحمه الله وايي :

---

http://fatwa.islamweb.net/fatwa/index.php?page=showfatwa&Option=FatwaId&Id=318871 )

[1] - النساء / ١٠٠.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ – مخکې لدې چې دار هجرت ته داخل شي مرگ ورته راشي نو د هجرت اجر يې واجب شو.

۲ – مرگ ورته په داسې حالت کې راشي چې دا شخص مهاجر وي ، يعني بيرته دار کفر ته را واپس شوی نه وي نو د هجرت اجر يې واجب شو او ابن عاشور وايي همدا قول اصح هم دی[1].

دويم دليل : رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : (اللَّهُمَّ أَمْضِ لِأَصْحَابِي هِجْرَتَهُمْ، وَلاَ تَرُدَّهُمْ عَلَى أَعْقَابِهِمْ، لَكِنِ البَائِسُ سَعْدُ ابْنُ خَوْلَةَ» يَرْثِي لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ مَاتَ بِمَكَّةَ[2]»يا الله زما د ملگرو هجرت باقي پاتې کړې او ته يې په پوندو شاته ومه گرځوې ، مگر سعد بن خوله فقير ) رسول الله په سعد بن خوله خواشني څرگنده گړه چې په مکه کې وفات شو.

د پورته حديث په تشريح کې امام نووي رحمه الله ليکي : عيسی بن دينار وايي په سعد بن خوله باندې د رسول الله خواشينۍ سبب د هجرت سقوط ؤ ځکه هغه په خپل اختيار سره له مديني څخه راستون شوی ؤ او مکه کې وفات شو ، نور بيا وايي چې د خفگان سبب يې په مکه کې وفات کيدل دی ، په هر حال د ده په اختيار کې وه او کنه ، خو د رسول الله صلی الله عليه وسلم د خفگان سبب د سعد بن خوله رضی الله عنه څخه د هجرت پوره ثواب فوت کيدل وه کوم چې په دار هجرت کې د وفات په سبب ورته رسيدلی شو او کوم چې د خپل وطن څخه په نا اشنايې او غربت کې د وفات په سبب چې

---

1 - ابن عاشور ، محمد الطاهر بن محمد بن محمد الطاهر(ب.ت ): التحرير والتنوير ، ۵ / ۱۰۸.

2 - مفق عليه ، رواه البخاري ، کتاب الجنائز ،باب رثاء النبي صلی الله عليه وسلم سعد ابن خولة، رواه مسلم ، کتاب الوصية ، باب الوصية بالثلث.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الله لپاره تر سره شوی ؤ ورته رسیدلو[1]. په هر حال لکه مخکې چې ورته اشاره وشوه چې دغه حکم یواځې د هغه صحابه کرامو پورې خاص ؤ کوم چې له مکې څخه یې مدینې ته هجرت کړی ؤ.

البته دا خبره باید یاده شي چې که د حکومتونو لخوا افغان مهاجرین په زور او جبري ډول استل کیږي نو بیا یې راستنېدل مشروع دي ځکه دا نو د اضطرار حالت ګڼل کیږي او د اضطرار په حالت کې ممنوع اعمال مباح ګرځي ، د لاندې دلائلو په اساس :

لومړی دلیل : الله عزوجل فرمايي : (إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ ٱلْمَيْتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحْمَ ٱلْخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ بِهِۦ لِغَيْرِ ٱللَّهِ ۖ فَمَنِ ٱضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٧٣﴾ )[2]

ژباړه : د الله له لوري که پر تاسې څه بندیز لګول شویدی نو هغه دادی چې مرداره مه خوري، دوینې او د خوګ د غوښې له خوړلو نه ډډه وکړئ او داسې کوم شی مه خورئ چې پر هغه له الله نه پرته د بل چا نوم اخیستل شوی وي هو که څوك د اړتیا په حالت کښې وي او له دغو شیانو نه څه شی بې له دې چې د ا لهي حکم ماتولو اراده ولري یا له حده تیری وکړي زیات وخوري؛ نو پر هغه څه وبال نشته، الله بښونکی او رحم کوونکی دی.

[1] - النووي ، محيي الدين يحيى بن شرف ( ١٣٩٢هـ ): المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج ، ١١ / ٨٠.

[2] - البقرة / ١٧٣

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنگه الله عزوجل فرمايي : (وَمَا لَكُمْ أَلَّا تَأْكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَقَدْ فَصَّلَ لَكُم مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ ۗ وَإِنَّ كَثِيرًا لَّيُضِلُّونَ بِأَهْوَائِهِم بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِالْمُعْتَدِينَ ﴿١١٩﴾ )[1]

ژباړه : ښه نو څه دليل دی چې تاسې هغه څه ونه خورئ چې پر هغه د الله نوم اخيستل شوی وي، په داسې حال کښې چې دکومو شيانو استعمال چې الله له اضطراري حالاتو نه پرته په نورو ټولو حالتونو کښې پر تاسې حرام کړيدي دهغو تفصيل يې تاسې ته درښودلی دی زياتره خلك داسې دي چې له علم نه پرته صرف د خپلو خواهشاتو په اساس گمراه کوونکې خبرې کوي،ستا رب داله حده تېرېدونکي ډېر ښه پيژني.

دغه دواړه اياتونه پدې دلالت کوي چې د ضرورت په حالت کې حرام اعمال مباح گرځي او زمونږ د بحث لاندې موضوع کې هم قوي دليل کيدلی شي ، ځکه کله چې پاکستان او ايران افغان مهاجرين په زوره له هېواده استل وغواړي يا يې هلته ژوند ته جدي گواخ متوجه وي ، د زنداني کيدو او ترور کيد ويره وي او يا يې کورونه ورانوي او دوئ ورڅخه په زور اوباسي نو دغه حالت د ضرورت حالت دی چې افغان مهاجرينو ته پکې راستنيدل جائز دي.

دويم دليل : فقهاؤ ځيني قواعد وضعه کړي چې هغه د ضرورت په حالت کې د حرامو په اباحت دلالت کوي مثلا :

الف : المشقة تجلب التيسير : مشقت د اسانتيا غوښتونکی دی

[1] - الانعام / ۱۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یوه لویه قاعده ده چې تعظیم او مقام يې له فقاؤ څخه په تواتر سره نقل شوی ، په دې قاعده باندې د فقهي قواعدو کتابونه اجماع لري او دا د اسلامي فقهي یوه قوي ستنه ده[1].

د دې قاعدې معنی دا ده چې : هغه شرعي احکام چې په تطبیق سره يې انسان له تکلیف سره مخ کېږي په نفس او یا مال کې نو شریعت ورسره له اسانتیا څخه کار اخلي او هغه کار ورته تلقین کوي چې د مکلف په وسه پوره وي[2].

ب : الضرورات تبيح المحظورات ، ضرورتونه حرام اعمال مباح ګرځوي

د جمهورو مسلمانانو پر وړاندې دا یو منل شوې قاعده ده چې اسلامي شریعت د احکامو په وضع کولو کې د انسانو مصالح په نظر کې نیسي او د مفاسدو څخه يې بچ کوي او د اسلامي شریعت په نصوصو کې د پلټنې څخه دا خبره ډېره ښه څرګندیږي له همدې کبله هغه کارونه ، خبرې ، عقدونه او تصرفات چې امر ورباندې شوې په هغې کې د انسانانو مصالح پراته وي او کوم چې منع ورڅخه شوې هغې کې د انسان ته ضرر متوجه وي[3].

---

[1]- السدلان ، صالح بن غانم : القواعد الفقهية الكبرى و ما يتفرغ منها ، (١٤١٧هـ ق) الرياض – المملكة العربية السعودية ، درا بلنسية للنشر والتوزيع ، ص ٢١٦.

[2] - البورنور ، محمد صدقي : الوجيز في ايضاح قواعد الفقه الكلية (١٤٠٤هـ ق ) لبنان ، مؤسسة الرسالة ، ص ١٣٠

[3]- السدلان ، صالح بن غانم : القواعد الفقهية الكبرى و ما يتفرغ منها ، (١٤١٧هـ ق) ، ص ١٤٧ـ ٢٤٨.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصه دا چې : د افغانستان وسني اوضاع د ډاډ وړ نده او انساني نفسونه او مالونه پکې خوندي ندي ، هغه افغان مهاجرين چې په ايران او پاکستان کې د هجرت ورځې او شپې سباء کوي ، هغوئ ته د اسلامي فقهي په اساس په خپله رضاء او رغبت راستنيدل جائز ندي.

البته که حکومتونه افغان مهاجرين مجبور کړي چې له دار هجرت څخه راستانه شي او کورونو څخه يې په زور اوباسي او په ښارونو کې د گرځيدو اجازه نه ورکوي او همدارنگه د کاروبار په وړاندې يې خنډ جوړيږي نو دغه حالت يې د اضطرار حالت دی او راستنيدل يې شرعا جائز او مشروع دي.

والله اعلم وعلمه اتم

اوس دا چې : کوم افغان مهاجرين چې افغانستان ته د مباحو کارونو د ترسره کولو لپاره د مؤقت وخت لپاره راځي او دلته د دايمي استوگنې ايراده نلري ، ايا دغه راستنيدل يې د اسلامي فقهي په اساس څه حکم لري ؟ نو دا چې مکې ته د مهاجرو صحابه کرامو راستنيدل مشروع نه وه خو البته د مؤقت وخت لپاره رسول الله ورته اجازه ورکړې وه ، رسول الله فرمايي «ثَلاَثٌ لِلْمُهَاجِرِ بَعْدَ الصَّدَرِ[1]»

ژباړه : مهاجر ته د طواف صدر څخه وروسته درې ورځې استوگنه جائز ده.

[1] رواه البخاري ، کتاب اصحاب النبي ، باب اقامة المهاجر بمكة بعد قضاء نسكه ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول موږ ته دا راپه ګوته کوي چې د کوم مقصد لپاره چې مهاجر راستون شوی وي د هغې مقصد د تر لاسه کولو څخه وروسته باید مهاجر درې ورځو څخه زیاتې تېرې نه کړي.

دا چې زیات وخت باید هغه ځای کې چې هجرت یې ورڅخه کړی پاتې نشي ، ځکه رسول الله دا بده ګڼله چې مهاجر هغه ځای کې وفات شي له کومه ځایه یې چې هجرت کړی : عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُنِي وَأَنَا بِمَكَّةَ، وَهُوَ يَكْرَهُ أَنْ يَمُوتَ بِالأَرْضِ الَّتِي هَاجَرَ مِنْهَا[1]»

ژباړه : د سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه څخه روایت دی ، دا فرمايي : رسول الله صلی الله علیه وسلم زما د ناروغۍ پوښتنې ته راغی او زه په مکه کې وم ، او هغه دا بده ګڼله چې يو شخص دې په هغه ځای کې وفات شي چې له هغه ځایه یې هجرت کړی وي.

(وَهُوَ يَكْرَهُ أَنْ يَمُوتَ بِالأَرْضِ الَّتِي هَاجَرَ مِنْهَا)احتمال لري چې دا جمله د فاعل څخه حال شي او یا هم له مفعول څخه حال شي ځکه هر یو رسول الله او سعد بن ابي وقاص دواړو دا بده ګڼله چې هغه ځای ته راشي چې هجرت یې ورڅخه کړی دی[2].

والله اعلم وعلمه اتم

1 - رواه البخاري ، كتاب الوصايا ، باب أن يترك ورثته أغنياء خير من أن يتكففوا الناس

2 - العسقلاني ، احمد بن علي بن حجر (۱۴۲۴هـ ـ ۲۰۰۴م) : فتح الباري ، ۵ / ۳٦۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویم پراګراف : ایران او پاکستان ته د افغان مهاجرینو هجرت د نړیوالو تړونونو له نظره

لکه څنګه چې په دویم فصل کې هم د نړیوالو تړونونو له انده د پناه اخېستنې اسباب په ګوته شول هغه اسباب د افغانانو په هجرت کې موجود وه ، یعنې ځینې افغانانو د سیاسي نظریې له کبله په ویره کې وه او د ثور له کودتا څخه وروسته د کمونستانو له لوري د دین له کبله له ویرې سره مخ شول نو پدغه حالت کې ایران او پاکستان ته د پناه وړل قانوني بڼه لري لکه د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه بشر ته حق ورکړی چې د ویرې له کبله په بل هیواد کې پناه واخلي نوموړی اعلامیه په ۱۴ ماده الف بند کې د پناه اخیستنې په اړوند د وایي: (هر څوک حق لري ، چې د ځورونې او تعقیب په وړاندې په نورو هیوادونو کې د پناه په لټه کې شي او په نورو هیوادونو کې پناه واخلي. [1])

همدارنګه د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسیون ( ۱۹۵۱ د جولای ۲۸ ) رامنځ ته شو چې دغه کنوانسیون په لومړی ماده الف بند کې د پناه وړنی اسباب داسې په ګوته کوي : لدې څخه د موجه ویرې له امله چې د توکم [ نژاد ] مذهب ، په خاصو ټولنیزو ډلو کې د غړیتوب یا د سیاسي عقیدې په لرلو پورې په اړوندو علتونو تر شکنجې لاندې ونیول شي ، د خپل تابعیت له هیواد څخه په بهر کې ژوند کوي او نشي کولای یا د ویرې په علت نوموړی نه غواړي ځان د هغهٔ هیواد تر ملاتړ لاندې راولي په هغه صورت کې چې د تابیعت نه لرونکی دی او د دغسې پیښو په پایله کې د خپل دایمي استوګنځي

[1] - ناصري ، صفي الله : نړیوال سندونه( د ملګرو ملتونو منشور ، د بشري حقونو نړیواله اعلامیه ، د بشري حقونو اسلامي اعلامیه ) ص ۵۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیواد څخه په بهر کې ژوند کوي ، نشي کولای یا د ویرې له امله نوموړی نه غواړي هغه هیواد ته وروګرځي.[1])

پورته قانوني موادو ته په کتو سره ویلی شو چې : د نړیوالو تړونو له انده هم د افغانانو هجرت او ایران او پاکستان کې یې پناه اخېستنه قانوني جنبه لري.

[1] - د عدلي وزارت رسمي جریده ، (د ۱۳۸۵هـ ش کال) د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسیون ( ۱۹۵۱ جولای ۲۸) پرله پسي نمبر (۹۰۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویم مبحث : له ایران او پاکستان څخه د افغان مهاجرینو راستنیدل

دغه موضوع به په دوه عنوانونو کې مطالعه شي.

لومړی مطلب : له ایران او پاکستان څخه د افغان مهاجرینو راستنیدلو اسباب

دویم مطلب : له ایران او پاکستان څخه د افغان مهاجرینو راستنیدلو حکم

چې هریو به یې په لنډ ډول وڅیړل شي.

### لومړی مطلب : له ایران او پاکستان څخه د افغان مهاجرینو راستنیدلو اسباب

په ۱۹۸۸ د اپریل پر ۱۴ مه په جینوا کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ یو تړون لاسلیک شو چې امریکا او روسیه پکې نړیوال ضمانت کوونکي وه ، دغه تړون کې یوه اساسي موضوع په خپله خوښه د افغان مهاجرینو د راستنیدل وه[1].

روسي جنرال گروموف په خپل کتاب کې پرته لدې چې پورته تړون ته اشاره وکړي وایي : د مقاماتو خپل سري ، د باغیانو ( مجاهدین یادوي ) ظلمونه

---

[1] - مصداق ، نبي ( ۱۳۸۹ش ـ ۲۰۱۱ع ) : افغانستان سیاسي کمزوري او بهرنۍ مداخله ، ص ۶۱۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



، له حقوقو څخه د کډوالو بشپړ بي برخې والی او د نیکمرغه راتلونکي د لرلید نشتوالی له یوې خوا او د افغانستان د حکومت پرله پسې هڅې د دې سبب کیدې چې یو شمیر کډوال خپل هیواد ته د ستنیدو پریکړه وکړي ، د شوروي پوځې حضور په لومړیو اووه کلوونو کې کې ایله دولس زره تنه هیواد ته ستانه شوي وو ، خو یوازې په ۱۹۸۸ کال کې ۱۲۰ زره کډوال خپلو کورونو ته راوګرځیدل[1].

که څه هم دغه شمیره نورو ازادو لیکوالانو نده تائد کړې ، خو په هر حال ممکن بعضي افغان مهاجرین هاغه مهال د اقتصادي ستونزو له کبله بیرته افغانستان ته راستانه شوي وي.

په افغانستان کې د شوروي اتحاد له ماتي وروسته د (**UNHCR**) له یوه راپور سره سم ، یو ملیون افغان مهاجرین خپل هیواد ته راستانه شول ، چې متاسفانه تر ډیره دغه راستنیدونکي په خپله راستنیدنه پښیمانه شول ، ځکه دلته لا هم عدالت تامین نه ؤ ، امنیت موجود نه ؤ ، بلکې لا هم د دوی ژوند له ګواښ سره مخ ؤ[2].

د عودت مجلې په خپل یو تحلیلي راپور کې د ۱۳۸۱ کال څخه راپدیخوا افغان مهاجرینو د راستنیدو اسباب په ګوته کړي چې دلته یې د راپور لنډیز ته اشاره کیږي : افغان مهاجرینو له څو لسیزو راپدېښوا په قانوني او غیر قانوني ډول په ایران او پاکستان کې مهاجر دي ، په افغانستان کې د نوي نظام څخه راپدېخوا ( ۱۳۸۱ ) څخه تر اوسه ۷ ملیونه مهاجرین له ایران ،

---

[1] - ب.ګروموف(۱۳۷۵هـ ش ـ ۱۹۹۷م ) : سرې لښکرې په افغانستان کې ، ژباړن : داود جنبش ، پیښور ، دانش خپرندویه ټولنه ص ۴۲۴.

[2] - خیبري ، غوث ( ۱۳۸۹ل ۲۰۱۰م ) : په افغانستان کې توپان ، ص ۴۴۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان او نورو هېوادونو څخه راستانه شوي ، ګاونډي هېوادونو خاصتا له ایران او پاکستان څخه د افغان مهاجرینو راستنیدل د جاذبه او دافعه اسبابو له کبله صورت نیسي ، په افغانستان کې د طالبانو د نظام له سقوط څخه وروسته زیات افغانان له ایران او پاکستان څخه راستانه شول چې په تیر کې کال کې تقریبا یو ملیون یو سل او څوارلس زره مهاجرین راستانه شوي.

له ۱۳۸۲ کال څخه راپدېخوا د جاذبه او دافعه اسبابو له کبله د افغان مهاجرینو راستنیدل زیات شوي ، په تیر کال کې له پاکستان څخه د دافعه اسبابو له کبله کله چې په پاکستان کې سیاسي وضعه مخ پر خراپیدو شوه او افغان مهاجرین تر سیاسي فشارونو لاندې راغلل نو افغان مهاجرینو د راستنیدو پریکړه وکړه.

د جاري ۱۳۸٦ کال له حمل څخه د جوزا تر ۱۲ پورې ۱۷۴۴۸۵ نفر له ایران او پاکستان څخه راستانه شوي ، چې د تیر کال په پرتله دا شمیره زیاته ګڼل کیږي ، چې د دوی په منځ کې ٦۸۸۵۵ نفر له پاکستان او ۱۰۵٦۳۰نفر له ایران څخه راستانه شوي [1].

د یو شمیر راپورنو پر بنسټ د پاکستان د لاهور او یو شمیر نورو ښارونو له ترهګریزو بریدونو وروسته په دغه هېواد کې افغان کډوال له کنډو ستونزو سره مخامخ شوي ، همدغو ترهکریزو بریدونو په تړاو د پاکستان اتباعو ترڅنګ زمونږ هېواد وال هم د پاکستاني پوځ له لوري نیول شوي ، یو شمیر افغانان چې قانوني اسناد هم ور سره شته د پاکستان د امنیتي ځواکونو له

[1] - د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت (۱۳۹٦هـ ش ): عودت ، څلورمه ګڼه ، پسرلی ، ص ۲۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوري ځورول شوي او ځيني يې بيا په زوره له دغه هيواد څخه ايستل شوي دي.

د کډوالۍ پديده يوه انساني پديده ده ، خو کله نا کله د کډوالۍ موضوع سياسي کيږي کله چې له پاکستان سره د افغانستان اړيکې خرابيږي قرباني يې افغان کډوال ورکوي ، د تورخم له شخړو وروسته او په پاکستان کې له ترهګريزو بريدونو وروسته دغه ستونزې پيدا شوي دي[1].

ځينې جاذبه اسباب هم وه چې په افغان مهاجرينو کې يې خپل وطن ته د راستنيدلو شوق پيدا کړ او هغه دا چې تر ايران او پاکستان په افغانستان کې د کار روزګار مساعد چاپيريال جوړ شوی ؤ د بېلګې په ډول، د ۲۰۰۸ کال راپديخوا په ايران کې د نه ورتګ د ځايونو جوړيدا هغه سيمې چې د کډوالو لپاره د ملي امنيت، عامه ګټو او صحت د لاملونو له امله منع الدخول شميرل شوې دي - د يوې دندې ساتل، د ټولنيزو اړيکو ساتل، ښوونځيو ته د ماشومانو ليږل، او د کورونو د مصرف د عهدې نه وتل ډير ستونزمن کړی دی .

پورته ستونزې چې کله د خوړو او نورو اړتياوو د پيريدلو د ځواک د لړيدو د ستونزې سره ضرب شي نو ډيرۍ راستنيدونکې کورنۍ اړباسي چې د يوه پلان شوي بيرته راتګ پر ځای يو چټک او ناڅاپي بيرته راتګ اختيار کړي چې ددې پرېکړې لامل افسردګي او اروايي خفګان دی[2].

---

[1] - د کډوالو او راستنيدونکو چارو وزارت (۱۳۹۵هـ ش): عودت ، درې مياشتني مجله ، دريم وار ، ژمی ، ۱

**2** - ګيلر ، آرمنډو او ايم لاټک ، ماسيج (۲۰۱۴) : د ايران څخه راستنيدل ، د اجباري مهاجرت بيا ليدنه ، ص ۲٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ځيني دافعه اسبابو څخه چې په پورته راپور کې يادونه شوي دا دي چې : پاکستان کې د افغان مهاجرينو په اړوند په يو تحليلي راپور کې چې د ۲۰۱۰ کال راهيسي په ساحوي کار کې ليکل شوي: ( که څه هم يو وخت د مجاهدينو په نوم افغانان د قهرمانانو په نوم شهرت درلود خو اوس په پاکستان کې افغانانو ته د طالبانو په رڼا کې کتل کيږي او د افغانانو پر وړاندې دې مخ په زياتيدو کينې د هغوی لپاره ډيري منفي اغيزې د ځانه سره لرلې دي .

په پاکستان کې د افغانانو لپاره د کورونو ضمانت وجود نلري( که په کمپونو کې وي، غير رسمي سيمې وي او که کرايي کورونه )او د کرايو يو په يو جګيدل يوه معموله پيښه ده .

د اساسي خدمتونو عرضه کول هم بې باوره ده او ځينې غير دولتي اداري خو د افغانانو په سيمو کې د پانګې اچونې تکل نه لري ځکه چې ويره لري چې دا سيمه به وتړل شي .

منظمه نيونې، ځورونې، او حتی د افغانانو بيرته افغانستان ته شړل يو عادي کار شميرل کيږي .

د امنيتي ګواښونو د ډيروالي له کبله امنيتي پوستې هم ډيرې شوې دي او د ورځني ژوند يو معمول ګرځيدلې دي – او د پيژندنې يو کارډ چې ډير افغانان يې نه لري اړين دی .

همدارنګه په منظم ډول د افغانانو نښه کول د ډيرو له آنده يوه ستراتيژي ده چې موخه يې د افغانانو د بيرته ستنيدلو تشويق دی[1].)

---

1 - اليميه، سنا (۲۰۱۴م): زور زياتی او آسيب پذيری افغانان په پاکستان کې، د اجباري مهاجرت بيا ليدنه، ص ۲۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خلص ډول د افغانانو د راستنیدلو اسباب په لاندې ډول په ګوته کولی شو

١ – د اشغال له ختمیدو څخه وړاندې د اقتصادي اسبابو له کبله راستنیدل

٢ – د اشغال پای ته رسیدل او دین ، نفس ، عرض او مال له فتني څخه خوندي کیدل

٣ – د اشغال پای ته رسیدو څخه وروسته اقتصادي اسباب

۴ – د سیاسي اسبابو له کبله په زور سره له کوربه هیوادونو څخه شړل.

## دویم مطلب : له ایران او پاکستان څخه د افغان مهاجرینو راستنیدلو حکم

په دې مطلب کې به په پورته موضوع په دوه عنوانونو کې بحث وشي ، په لومړي عنوان کې به دغه موضوع د اسلامي فقهې او په دویم عنوان کې د نړیوالو تړنونو له انده وڅیړل شي.

### لومړی پراګراف : له ایران او پاکستان څخه د افغان مهاجرینو راستنیدل د اسلامي فقهې له انده

په دویم فصل کې د مهاجر راستنیدل په تفصیل سره مطالعه شول ، دلته به هغه احکام په تطبیقي ډول مطالعه شي ، کوم چې د افغان مهاجرینو د راستنیدلو پورې تړلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مخکې پراکراف کې د افغان مهاجرينو راستنيدلو اسباب په ګوته شول ، له هماغې اسبابو څخه کيدلی شي چې افغان مهاجرينو راستندل په دوه قسمه تقسيم شي ، لومړی هغه ډله راستنيدونکي چې وړاندې تر دې چې اشغال پای ته ورسيږي ، د دين ، نفس ، عرض او مال له اړخه فتنه له منځه لاړه شي او دويمه ډله هغه کسان دي چې د اشغال پای ته رسيدلو څخه وروسته ، کله چې د راستنيدونکو دين ، نفس ، عرض او مال خوندي شول.

د لومړۍ ډله اشخاص کوم چې وړاندې تر دې چې اشغال پای ته ورسيږي او فتنه له منځه لاړه شي راستنيدل چې روسي جنرال ګروموف ورته اشاره کړې ، دغه حالت کې راستنيدل جائز ندي ، ځکه لا هم فتنه باقي وه او دين ، نفس ، عرض او مال خوندي نه وه.

دويمه ډله هغه اشخاص چې د اشغال د پای ته رسيدلو وروسته او بيا په افغانستان کې د نوي اشغال د پيل سره جوخت ۱۳۸۱هـ ش څخه وروسته د افغان مهاجرينو راسنيدلو موضوع ده چې دغه موضوع يو ځه بحث ته ضرورت لري.

سره لدې چې اوس هم د عامو افغانانو ژوند په بشپړ ډول خوندي ندی ، که يو څو بيلګو ته اشاره وکړو ، نو په افغانستان کې د ( ۲۰۰۱ز کال د اکتوبر د ۷ مي ) د بمباريو له پيل سره چې هر څومره مرګ ژوبله شوې ده ، هغه د طالبانو د ځپلو په حساب د نوي نظام او نړيوالو بريا ثبت شوې ده ، په دې کې تر ټولو لويه بوږنوونکي غميزه د مزار د جنګي کلا پيښه ده چې پر کلابندو زرګونو طالبانو ، لومړی د بي ۵۲ الوتکو پنځه سوه کيلو يي بمونه وغوزورل او ورپسې چې ژوندي پاتي طالبان سمڅو ته ننوتل اوبه پرې ور پرېښودل شوې او ټول ځای پر ځای ووژل شول ، د ۲۰۰۲ کال په لومړيو کې د سکاتلينډ په ادنبرا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د افغانستان په اړه مستندو فلمونو په یوه فستیوال کې د ( مرگ کاروان ) په نامه یو پنځوس دقیقه يي فلم وښودل شو چې د ۲۰۰۱ کال د نومبر کې له کندز نه د جنرال دوستم او امریکایانو لخوا په کانتینرو کې د څلور زره طالبانو وړلو په اړه ؤ ، دغه طالبان څه د ساه له بندیدو او څه د دوستم د جگړه مارو په ډزو کې ټول ووژل شول ، همدغه رنگه په ۲۰۰۴ز کال کې د جنوري پر ۲۴ مه د شپي لخوا په چارچینو کې د یوه واده پر مراسمو بمباری کې ۴۸ تنه بي گناه افغانان شهیدان شول چې زوم او ناوې هم پکې شامل وه ، د هرات شینډنډ ولسوالۍ د عزیز اباد پرکلي د شپي پر ۲ بجو بمبار وشو چې ټول ټال ۹۲ تنه پکې شهیدان او ۷۰ تنه پکې ټپیان شوه دغه پښه په ۲۰۰۸ ز د اگست پر ۲۲ مه وشوه ، د ۲۰۰۸ ز کال د جولای په ٦ مه د ننگرهار په هسکه مینه ولسوالۍ کې د واده پر مراسمو هوایي برید وشو چې د زوم او ناوي په شمول ۷۲ تنه بي گناه هیواد وال پکې شهیدان شول ، د ۲۰۱۱ز کال د فبروري ۱۰ مه پر غازي اباد دویمه د مارچ په لومړۍ په پیچ دره او دریيمه د مارچ په ۱۵ مه وې چې ټول ۷۷ تنه پکې شهیدان شول پدې کې ۴۱ تنه ماشومان او ۲۳ تنه ښځې وې ، غرض دا چې د نوي اشغال پر مهال هم عام افغانان خوندي ندي[1].

دا نمونې پدې خاطر وړاندې شوې چې د نوي اشغال مظالم پټ پاتې نشي ، خو سره لدې هم اوس په عام ډول د عوامو پر وړاندې هغه تشدد ندی موجود کوم چې پخوا موجود ؤ .

اوپه کل کې هغه اوضاع چې د روس د اشغال پرمهال افغانان په کوم ډول په ډله ایز ډول وژل او ترور کیدل هغه اوضاع یو څه تغیر ده ، همدغه

[1] - شفیقي ، محمد زبیر ( ۱۳۹۴ل ـ ۲۰۱۵ز ): افغانستان د پردی جگړې په اور کې ، ص ۱۸۵ ـ ۱۸۷ په اختصار.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنگه د دین له لحاظ په افغانستان کې پوره پوره ازادي موجوده ده ، هغه مهال د کمونیستي نظریاتو ترویج ته په څرگنده کار کیدو ، هغه چې د دې نظریاتو مخالف وه وژل ، ترور او بندي کول یې لار وه ، چې دغه حالت په وسني نظام کې تر ډیره نه تر ستر گو کیږي ، که څه هم چې وسني نظام کې هم هغه اندازه اسلامي مقدسات په پام کې نه نیول کیږي چې پکار ده ونیول شي ، خو د نورې نړۍ په پرتله اوضاع ښه بریښي[1].

همدغه رنگه اوس په عام ډول باندې اسلامي بلونکو شمیر ښه په پراخه کچه په پوهنتونونو او نورو علمي مراکزو کې موجود دی او پروړاندې یې هیڅ څوک په برملا ډول خنډ کیدلی نشي ، د دیموکراتو او کمونستو عناصرو پروړاندې په ښه برملا ډول دعوت کیږی او د کمونستو او دیموکراتو عناصرو دعوتي پروگرامونه په خفیه ډول تر سره کیږی.

د دې تر څنگ که وکتل شي چې هغه وخت په ایران او پاکستان کې افغان مهاجرینو ته د اتلانو په سترگه کتل کیدل ، خو اوس ورباندې ځمکه سور اور گرځیدلې ، په پاکستان کې نیول کیږی ، په زور له هیواده شړل کیږی.

همدغه رنگه ایران کې له افغان مهاجرینو څخه د اسلام او مسلمانانو په خلاف استفاده کیږی ، چې سوریې او عراق ته د افغان مهاجرینو لیږل او هلته د مسلمانانو په خلاف جنگیدل یې ښه مثال دی.

نو دغې ټولو حالاتو ته په کتو سره ویلی شو چې اوس نو هغه وضعه چې په افغانستان کې حاکمه وه تر ډیره له منځه تله لې همدغه رنگه هغه

---

[1] - د هغې نظامونو مظالم او له دین سره د دښمنۍ مفکورهې په اړوند د غه کتابونه مطالعه کولی شئ : حکمتیار : اسلامي نهضت ، محمد یعقوب شرافت : سپیڅلی پاڅون ، پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ : د ثور کودتا او د هغې ژورې پایلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضرورت چې هجرت ته موجود ؤ هغه هم اوس نه تر سترګو کيږي همدارنګه په مهاجر منونکو هيوادونو کې هم اوضاع تغير شوی ، نو ځکه ويلی شو چې افغان مهاجرينو ته خپل هيواد ته راستنيدل جواز لري ، دغه خبره په درې دليلونو قوي ښکاري :

لومړی دليل : په يوه هيواد کې د استوګنې جواز او حرمت ، همدارنګه خپل هيواد ته راستنيدلو جواز او حرمت د فتني په موجود ديت باندې څرښي ، که فتنه موجوده وه نو هجرت واجب او راستنيدل ورته نا جايز دي او که فتنه نه وه موجوده هجرت واجب ندی او راستنيدل ورته جايز دي.

لکه په دويم فصل کې چې دا خبره څرګنده شوه چې د هجرت سبب د فتني موجوديت دی ، کله که فتنه موجوده وه هلته استوګنه حرامه او که فتنه نه وه موجوده نو استوګنه ورکې جائز ده ، همدغه رنګه که يوه ځای څخه هجرت صورت نيولی ؤ د فتني له کبله او هلته فتنه له منځه لاړه هلته راستنيدل جائز دي.

شيخ الباني رحمه الله د همدغه رنګه يوې استفتاء په مقابل کې وايي : رسول الله عليه السلام له دغه سوال څخه داسې جواب کوي ، يعني مقصد يې دا دی چې (لا هجرة بعد الفتح [1]) له فتح مکې څخه وروسته هجرت نشته ، هجرت له مکې او نورو ځايونو څخه واجب ؤ د رسالت او نبوت مقر او د اسلامي دولت مقام يعني مديني ته ، کله چې الله عزوجل خپل نبي باندې مکه فتحه کړه ، خپل لښکر يې عزتمند جوړ کړ ، خپل بنده مرسته يې وکړه او کفر او کافران يې ذليله کړل نو دغه وخت کې رسول الله وفرمايل (لا هجرة بعد

1 - مخکې تخريج شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



الفتح وإذا استنفرتم فانفروا [1]) د مکې له فتحي وروسته هجرت نشته ، کله چې درڅخه د عامو وتلو غوښتنه وشوه نو ووځئ ، لدې وروسته هر ځای ته راستنيدل جايز شول کله چې دغه هيوادونه اسلامي وه ، که چېرته به يو شخص د خپل ښار څخه په غوره ښار کې ؤ نو د جواز دروازه خلاصه وه ، تا ته جائز ده چې له يوه اسلامي هيواد څخه بل اسلامي هيواد ته ستون شې مګر تا ته جائز نده چې د کفر او ګمراهۍ هيوادونو ته سفر وکړې لکه اروپا او امريکا ....[2])

همدارنګه قرطبي رحمه الله وايي : [ کوم څوک چې ] د فتني له ويرې وتښتي تر څو دين يې سالم پاتې شي ايا دغه شخص بيرته خپل مسکن ته را ګرځيدلی شي !؟ کيدای شي داسې ووېل شي ، که چېرته يې الله لپاره پريښی وي ( ترکها لله ) لکه مکې څخه هجرت کوونکو چې پر ښې ؤ نو دوی ته جائز ندي چې راستون شي او که په دين کې د فتني له ويرې تښتيدلی وي تر څو دين يې سالم پاتې شي او د مسکن د ذات له کبله يې نه وي ترک کړی نو ده ته رجوع جائز ده[3].

او دا چې ولې له مکې څخه مديني ته هجرت کوونکي صحابه بيرته مکې ته راستانه نه شول ؟ نو دا حکم يواځې د مکې څخه مديني ته د هجرت کوونکو پورې خاص ؤ چې دغه د خصوصيت قول يې اسلام ويب انلاين دار

---

**1** - مخکې تخريج شوی

[2] - الالباني ، محمد ناصر الدين : تفريغات سلسلة الهدى والنور ،مسلسل نمبر ٦٤١. (**http://www.alalbany.net**)

**3** - لاشين ، موسى شاهين (ب.ت): فتح المنعم شرح صحيح مسلم ، دار الشروق ، ٥ / ٤١٩ ، او العسقلاني ، احمد بن علي بن حجر (١٤٢٤هـ ـ ٢٠٠٤م) : فتح الباري ، ٧ / ٣٠٧.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الافتاء نقل کړی : ( کله چې له یوه هېواد څخه هجرت واجب شي یعني چې مسلمان پکې په ځان وېرېږي او یا د دیني شعائرو د تر سره کیدو قدرت ونلري ، دغه هېواد چې تر څو په همدغه حالت باقي پاتې وي [ یعني په ځان ویریږي او یا دیني شعائر په څرګنده نشي تر سره کولی ] نو په خپله خوښه ورته راستنیدل جائز ندي ، ځکه اوس هم د حرمت علت موجود دی ، مګر که د هېواد وصف تغیر شو او د استوګنې د حرمت علت له منځه لاړو په دې ډول چې دار اسلام وګرځیدو او یا پکې د مسلمان نفس خوندي ؤ او دیني شعائر یې په علني ډول تر سه کولی شول نو دغه حالت کې راستنیدل حرام ندي ، اوس نو کله چې د هجرت باعث [ یعني په ځان ویره او یا دیني شعائر په څرګنده تر سره کیدو منع ] له منځه ولاړ د هجرت د صحت لپاره عدم راستنیدل شرط ندي.

کومه نهي چې د هجرت څخه د راستنیدو راغلی ده : هغه خاص ده هغه هجرت پورې کوم چې صحابه کرامو رسول الله ته مدیني ته کړی ؤ ، په دغه حالت کې علماء اخلاف لري چې دغه نهي په ابتدا د اسلام کې وه او که د رسول الله تر وفات ورسته هم باقي پاتې ؤ ؟

خو اصل دا دی چې کله د هجرت باعث له منځه ولاړ نو د مهاجرینو راستنیدل مباح دي[1].)

---

[1] - اسلام ویب : حکم رجوع المهاجر الى بلد الكفر التي هاجر مها ( **22**ربيع الأول 1437 - 2016-1-3) ، فتوی نمبر ( ۳۱۸۸۷۱ ) ( http://fatwa.islamweb.net/fatwa/index.php?page=showfatwa&Option=FatwaId&Id=318871 )

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنگه وايي : ( مسلمان مهاجر ته هيڅ مانع نشته کله چې د يوه معين سبب له کبله يې هجرت کړی وي لکه د کفر او يا د منکراتو د ظهور او يا د ديني شعائرو د تر سره کولو قدرت نه لرل ، کله چې سبب له منځه ولاړ ، ځکه حکم د علت سره څرخي د وجود او عدم په دواړو حالتونو کې ، دغه راستنيدل د خپلې کورنۍ د کتلو لپاره وي او که د استوگنې لپاره وي.

اگر که غوره خو دا ده چې د دايمي استوگنې لپاره راستون نشي ځکه سلفو به دا بده گڼله چې هغه ځه ته رجوع وکړي کوم څه چې يې د الله لپاره ترک کړی وه.

او په کومو رواياتو کې چې مهاجر ته خپل هېواد ته راستنيدل په صورت کې درې ورځې استوگنه جائز گڼل شوې ؛ دا د هغه صحابه کرامو پورې خاص دی چې رسول الله ته يې مديني ته هجرت کړی ؤ.

نو په همدې بناء مسلمان مهاجر ته جائز دي چې خپل هېواد ته راستون شي او استوگنه پکې اختيار کړي پرته لدې چې ځان ته څه ورځې مشخص کړي ، پدې شرط چې نفس او دين يې په امن کې وي[1].)

او د خصوصيت وجه يې ابن عبدالبر مالکي رحمه الله داسې په گوته کوي : (هجرت د وطن په ترک کولو کې مقتصر ندی او على الابد ورته رجوع حرامه نده مگر يوازې د مکې خلکو لپاره کومو چې ايمان قبول کړی او د رسول الله اتباع يې کړې په دوی باندې خاصتا هجرت فرض کړی شوی دی او په

---

[1] - - اسلام ويب : حکم رجوع المهاجر الى بلد الکفر التي هاجر مها ( **9**شوال 1428 - 21-10-2007) ، فتوى نمبر **(100150)** ( **http://fatwa.islamweb.net/fatwa/index.php?page=showfatwa&Option=FatwaId&Id=100150** )

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی باندې فرض ده چې چېرته رسول الله وي هلته به اوسيږي ، چېرته چې ځي هلته به ورسره ځي د ده مبارک د نصرت ، ساتنې ، صحبت او د دين د حفاظت لپاره او لده مبارک څخه د دين د رسولو لپاره تر څو پوره فضيلت ورته حاصل شي ، دوی يوه ته هم جائز نده چې خپل وطن ته رجوع وکړي او رسول الله صلى الله عليه وسلم پريږدي.[1])

يعني هغوی باندې دا فرض وه چې چېرته رسول الله استوګنه کوي دوی به ورسره هلته اوسيږي ، تر څو د ده مبارک نصرت ، ساتنه وکړي او لده مبارک څخه د دين زده کړه وکړي او فضيلت ورته حاصل شي.

دويم دليل : د امت مصالح په نظر کې نيول دي ، که د امت مصالح په نظر کې ونيول شي نو د امت مصلحت د افغان مهاجرينو په راستنيدو کې دی او خاص ډول باندې د افغانانو مصلحت د افغان مهاجرينو په راستنيدو کې پروت دی ، په لاندې دلائلو :

الف : په ايران کې له افغان مهاجرينو او پناه اخېستونکو سره ناوړه چلند او لدوی څخه غير شرعي او غير قانوني استفاده کول : دا چې په ايران کې له افغان کډوالو سره کوم ډول ناوړه چلند کيږي لدې ښه معلوميدلی شي چې افغان پناه اخېستونکي د پرديو جګړو ښکار ګرځول کيږي ، د پرديو ګټو لپاره استعماليږي ، ښه مثال يې د ايران لخوا د افغان مهاجرينو او پناه اخېستونکو د عراق او سوري جګړو ته ليږل دي ، له هماغه اوله سره افغان کډوال د د عراق جنګ ته ليږل کيدل ، د دغو کډولو عمرونه اکثرا د ١٦ او ١٨ کلونو په منځ کې وه ، لدې سره دوی ته چې کوم معاشونه ورکول کيدل هغه

---

1 - النمري ابن عبد البر ، أبو عمر يوسف بن عبد الله( ١٤١٤ هـ ـ ١٩٩٣ م ) : الاستذكار الجامع لمذاهب فقهاء الأمصار وعلماء الأقطار، ٢٣ / ٤٠.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ډېر ناچیزه او پر خپل وخت نه ورکول چې دغه خبرې سره له ثبوتو نو تاریخ لیکونکو راجمع کړي[1].

همدا اوس په ۲۰۱۶ او ۱۷ کلونو کې چې په سوریه او عراق کې کوم جنګونه روان دي ، دغلته هم افغان مهاجرینو او پناه اخېستونکي د مسلمانانو پروړاندې جنګول کیږی ، چې دا عمل هم د افغانانو او هم د نړۍ مسلمانانو د مصالحو خلاف دی.

ب : په ایران او پاکستان کې خاصتا او په ټوله نړۍ کې عموما له مهاجرینو او پناه اخېستونکو څخه په سیاسي لوبو او استخباراتي جګړو کې ترې ناروا ګټه اخستل کیږي او د مسلمانانو په خلاف استعمالیږي ، چې دا خپله د مسلمانانو او په خاص ډول د افغانانو د مصالحو په خلاف دی[2].

دریم دلیل : هغه وخت افغان مهاجرینو ته ایران او پاکستان په خپله خوښه او په قانوني ډول د استوګنې اجازه وکړی وه ، او اوس ورته د دایمي استوګنې اجازه نه ورکوي بلکې نیتې ورکوي تر څو خپل هیواد ه ستانه شي ، نو د هاغه معلومې نیټې څخه وروسته په ایران او پاکستان کې استوګنه جائز نده ، دکتور محمد بن موسی بن مصطفی الدالي وایي : د نړۍ د هیوادونو ترمنځ چې په کومو حدودو باندې اتفاق صورت نیولی دی او د یوه حکومت تر تسلط لاندې وي ، هیڅ هیواد او د هیڅ هیواد افرادو ته مناسبه نده چې لدغه حدودو څخه بغیر له قانوني اجازې څخه تیر شي او یا ورته داخل شي ، د دې خبرې

---

[1] - خیبري ، غوث ( ۱۳۸۹ل ۲۰۱۰م ) : په افغانستان کې توپان ، ص ۳۴۳ – ۳۵۴.

**2** - پدې اړوند وګوره : کول ، سټیو ( ۱۳۹۵هـ ش ـ ۲۰۱۶م ) : د پیریانو جګړې. پدغه کتاب کې د **CIA** پټ رازونو څخه یادونه شوې چې ګڼ شمیر مثالونه یي کتلی شو کوم چې د افغان مهاجرینو څخه په استخباراتي جګړو کې ګټه اخستل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پابندي کول د دولتونو سياسي قدرت ته درناوي کول دي د سيمي امن او امان خوندي کوي او دا د دې دليل دی چې يوه هيواد ته له ناقانونه لارو څخه داخليدل او هلته استوګنه کول مطلقا حرام دی د مؤقت وخت لپاره وي او که د دائم لپاره د سياسي ، ديني او يا نورو مقاصدو لپاره ، ځکه دغه عمل د فساد د خپريدو او نا امنۍ باعث جوړيږي او دا يو قسم اشغال ګڼل کيږي او ډير ځله جنګونو ته هم لاره حواره وي[1].

نو پور ته نظر ته په کتو سره ، کله چې افغان مهاجرينو ته د ميلمه هيواد لخوا وخت ورکول کيږي چې تر دغه معلوم وخت پورې بايد خپل هيواد ته ستانه شئ نو هلته بيا تر هغې وخت څخه وروسته استوګنه غير قانوني ده او غير قانوني ډول باندې د يوه هيواد څخه استفاده کول ، د هيوادونو ازادۍ تر سوال لاندې راځي ، د نا امنۍ سبب جوړيږي او يو قسم د اشغال او غصب يې ګڼلی شو.

نو کله چې په ناقانونه توګه په يوه هېواد کې استوګنه جائز نده او اشغال ګڼل کيږي نو په پاکستان او ايران کې کومې سيمي چې د مؤقت وخت لپاره افغان مهاجرينو په واک کې ورکړل شوې وی نو هلته ورته استوګنه جائز وه خو اوس چې د ايراني او پاکستاني حکومتونو لخوا ورته د بيرته تګ امر کيږي نو هلته استوګنه يې د هغو سيمو غصب ګڼل کيږي ، د مجلة الاحکام العدلية داسې وايي (کله چې رئس جمهور (سلطان) يا يې نائب کوم چاته کومه ځمکه يواځې د ګټې اخستنې لپاره ورکړي او د هغه ملکيت يې ونه ګرځوي دغه شخص پدې ځمکه کې تصرف کوي نو دا ورڅخه يواځې ګټه اخستلی شي

---

[1] - الدالي ، محمد بن موسى بن مصطفى (ب.ت): الوطن والاستيطان دراسة فقهية ، ٢ / ٤٧٧.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مالک یې نشي جوړیدلی[1].) کله چې د مهاجرینو کمپونه د مهاجرینو ملکیت ندی بلکې د ګټې اخستنې لپاره ورکړل شوي وه او اوس ورڅخه بیرته اخستل کیږي ، نو په دوی لازمه ده چې بیرته یې هماغو حکومتونو ته تسلیم کړي او که نه یې تسلیموي نو دا به غصب وي. والله اعلم.

همدغه رنګه افغان مهاجرین د داود خان په دور کې د زندان او شکنجې له ویرې هجرت کولو ته مجبور شوي وه چې دا خبره میر محمد صدیق فرهنګ په داسې ډول بیانوي : پرچمیان د اسلامي ډلو له منځه وړلو په هڅه کې شول او محمد دواود یې پدې قانع کړ یا یې مجبور کړ په دې وخت کې د اسلامي نهضت مشرتابه دنده د شرعیاتو د پوهنځي د رئس استاذ غلام محمد نیازي په غاړه وه د ۱۳۷۳ کال له کودتا وروسته استاذ نیازی پرته له کوم تور او دلیل څخه ونیول شو ، ورپسې پولیسو د جوانان اسلام نور غړي ځیني ونیول او ځیني په تیښته بریالي شول چې لدې جملې څخه استاد برهان الدین رباني په غرونو پاکستان ته واوښت او پوهنتون د محصلینو له جملې حکمتیار او مسعود هم پاکستان ته وتښتیدل[2].

او زرملوال وایي : د جوانان مسلمان ګوند په ۱۹۷۴ کال کې که څه هم د کمیت له خوا دومره پیا وړي نه وه د محمد داود خان د حکومت پرضد په یوه پاڅون کې برخه لرله خو مقاومت یې زر وځپل شو او د هماغه کال د جون تر میاشتي پورې د دې ګوند مشر پوهاند نیازی او څه نا څه دوه سوه نور غړي یې ونیول شول د برهان الدین رباني احمد شاه مسعود او ګلبدین حکمتیار په

[1] مجلة الاحكام العدلية ، مادة ١٢٧٢.

[2] - فرهنګ ، میر محمد صدیق : افغانستان په وروستیو پنځو پیړیو کې ، ۲ / ۹۳۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمول د هغې ځيني فعالين پاکستان ته وتښتيدل[1]. نو معلومه شوه چې هغه وخت دغه ډله چې وروسته مهاجر شوي په افغانستان کې خوندي نه وه او اوس خوندي دي.

او د روسانو د اشغال پرمهال هم د کمونستانو او د هغوی د بادارنو د ظلم څخه هجرت کولو ته مجبور شوي وه د افغانستان خلق ديموکراتيک گوند او د هغوی ديموکراتيک جمهوريت د افغاني ټولنې او افغاني ولس د مهار کولو او ولچک کولو هڅه وکړه او په همدې اساس په روحانيون ، ديني عالمان ، مذهبي مشران او نورو نيول کيدل پيل شول ، د ديني او مذهبي اعتقاداتو سره دښمني خودل کيدله ، همدې چال چلند او گوندي ديکتاتورۍ د بي کچه ځواک په نتيجه کې د هيواد له گوټ گوټ ، ښارونو او کليو څخه د خلکو د تېښتې ، فرار او مهاجرت بهير پيل شو ، د هېواد گڼ شمير روښانفکران ، پوهان ، استاذانو ، ډاکټرانو ، انجنيرانو ، پورفيسرانو ، ليکوالانو ، شاعرانو او داسې نورو چې د افغانستان د خلکو معنوي پانگه گڼل کيدله د مجبوريت او ويرې له کبله هيواد پريښود او ځيني خو يا ووژل شول او يا په زندانونو کې واچول شول[2]. نو ويلی شو چې په هغه وخت کې چې افغان مهاجرين ايران او پاکستان ته مهاجر شول د زندان ، ظلم او وژلو له ويرې مهاجر شول چې په هېواد کې وسنۍ اوضاع له هغې اوضاع سره تر ډېره توپير لري.

پورته دلائلو په کتو سره په لنډ ډول ويلو شو ، د افغان مهاجرينو او پناه اخېستونکو راستنيدل په هغه حالت کې چې هلته د فشار لاندې وي نه يواځې

---

[1] - زرملوال، غلام محمد ( ۱۳۸۳ل ـ ۲۰۰۴م ): افغانستان تر ورستي افغانه ، ۱ / ۳۲۷ – ۳۲۸.

[2] - خيبري ، غوث ( ۱۳۸۹ل ۲۰۱۰م ) : په افغانستان کې توپان ، ص ۱۲۹ ـ ۱۳۱ ، په اختصار سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داچې جائز دی بلکې غوره ګڼل کیږي ، خو که له فشار څخه خلاص شي او د میلمه هیواد له لوري ورته د دایمي استوګنې اجازه ورکړي نو بیا ورته هلته پاتې کیدل غوره دي ، تر څو هغه څه چې د الله لپاره یې ترک کړي دوباره ورته رجوع کولو ته مجبور نه شي.

**دویم پراګراف : له ایران او پاکستان څخه د افغان مهاجرینو راستنیدل د نړیوالو تړونونو له انده**

د افغان مهاجرینو او پناه اخېستونکو په داوطلبانه ډول راستنیدل له ایران او پاکستان څخه د نړیوالو تړونونو له انده یو قانوني عمل دی ، لکه چې مخکې هم پرې بحث شوی د نړیوالو تړونونو له انده هر څوک حق لري په ازادانه ډول خپل هیواد پریږدی او په ازادانه ډول خپل هیواد ته راستون شي ، چې د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه ۱۳ او ۱۴ ماده کې دا موضوع روښانه شوېده ، او د د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند ګنوانسیون ۴ ماده ( ج ) برخې ۴ بند داسې صراحت لري: [هر شخص حق لري چې ] داوطلبانه د استو ګنې لپاره هغۀ هېواد ته ستون شي چې د شکنجې له وېرې یې د مخه هغه ځای پرېښی ( خوشی کړی ) وي یا یې له هغۀ څخه په بهر کې ژوند کاوه[1].

مګر دلته باید دا خبره هم یاده شي چې ایران او پاکستان د افغان پناه غوښتونکو په جبري ډول اخراجول د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند ګنوانسیون له مخې غیر قانوني عمل دی په داسې حال کې چې افغان مهاجرین او پناه اخېستونکي نوموړو هیوادونو ملي امنیت ته کوم ګواښ هم

[1] - د عدلي وزارت رسمي جریده ، (د ۱۳۸۵هـ ش کال) د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسیون ( ۱۹۵۱ جولای ۲۸) پرله پسي نمبر (۹۰۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ندی چې پدې اړه ، دري ديرشمه ماده داسې صراحت لري : ۱ -له ژمنو دولتونو څخه هيڅ يو به په هيڅ ډول پناه وړونکی هغو خاورو ته چې امکان لري په توکم ( نژاد) ، مذهب ، مليت ، په خاصه ټولنيزه ډله کې په غړيتوب يا د سياسي عقيدو په لرلو پورې په ا ړوندو علتونو د هغهٔ ژوند يا آزادي تر ګواښ لاندې راشي ، و نه باسي ، يا به يې بېرته و نه ګر ځوي.

۲ -خو هغه پناه و ړونکی به چې د کافي دلايلو له مخې يې وجود هغهٔ هېواد ته چې هلته ژوند کوي ، خطرناك وي يا د محکمې د قطعي قضاوت له مخې د مهم جرم يا جنايت په ارتکاب محکوم شوی ، وي او دهېواد دټولنې حال ته مضر تشخيص شي ، نشي کولای پدې ماده کې له ذکر شوو مقرراتو څخه د ګټې اخستنې دعوي وکړي[1].

[1] - د عدلي وزارت رسمي جريده ، (د ۱۳۸۵هـ ش کال) د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسيون ( ۱۹۵۱ جولای ۲۸) پرله پسي نمبر (۹۰۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library


# څلورم فصل

## د مهاجر او پناه اخيستونکي حقوق او د هجرت او پناه اخيستنې تاثيرات

په دې فصل کې به د مهاجرينو او پناه اخېستونکو په حقوقو او همدارنگه په هغه اغيزو او تاثيراتو بحث وشي کوم چې د هجرت او پناه اخېستنې په نتيجه کې رامنځ ته کيږي او همدارنگه د مهاجرينو او پناه اخېستونکو د راستنيدلو په تاثيراتو به هم بحث وشي ، په همدې اساس دا فصل په درې مبحثونو مشتمل دی

لومړی مبحث : د مهاجر او پناه اخيستونکي حقوق

دويم مبحث : د هجرت او پناه اخيستنې تاثيرات

دريم مبحث : د مهاجرينو او پناه اخيستونکو د راستنيدلو تاثيرات

چې هر يو به يې په جلا جلا توگه وځيړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی مبحث : د مهاجرینو او پناه اخېستونکو حقوق

په دې مبحث کې به د مهاجرینو او پناه اخېستونکو حقوق په دوه مطلبونو کې تر بحث لاندې ونیول شي چې لومړی به د مهاجر او پناه اخېستونکي حقوق په اسلامي فقه او بیا به په نړیوالو تړونونو کې وڅېړل شي.

### لومړی مطلب : په اسلامي فقه کې د مهاجرینو او پناه اخېستونکو حقوق

لومړی : د ژوند حق

په اسلام کې لومړی تړون چې د مهاجرینو په اړوند تر سره شوی هغه د مدیني مسلمانانو او رسول الله ترمنځ تر سره شوی چې پدغه تړون کې د مهاجرینو د ژوند خوندیتوب حق ته خاصه پاملرنه شوی ، پدغه تړون کې راځي : («تبايعوني على السمع والطاعة في النشاط والكسل، والنفقة في العسر واليسر، وعلى الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر، وأن يقولها لا يبالي في الله لومة لائم، وعلى أن تنصروني، وتمنعوني إذا قدمت عليكم مما تمنعون منه أنفسكم وأزواجكم وأبناءكم، ولكم الجنة»[1])

ژباړه : ما سره به بیعت کوئ په اوریدلو او منلو باندې د ضعف او قوت په حالت کې ، په مالدارۍ او غریبي کې په خرچه کولو باندې ، په نیکیو

[1] - رواه ابن حبان في صحيحه ، كتاب التاريخ ، باب بداء الخلق ، الباني رحمه الله په صحيح ابن حبان باندې تعليق کې وايي : دا حديث صحيح دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امر کولو او له بدیو منعه کولو باندې ، او دا چې وائي به : د الله په لار کې د هیڅچا له ملامیتا څخه نه ویریږو ، زما نصرت او امداد به کوئ ، زما څخه به داسې دفاع کوئ لکه له خپلو ځانونو ، میرمنو او ماشومانو یې چې کوئ او د دې ټولو په بدل کې به تاسو ته جنت وي.

چې د دې تړون دغه الفاظ : (وعلى أن تنصروني، وتمنعوني إذا قدمت عليكم مما تمنعون منه أنفسكم وأزواجكم وأبناءكم [زما نصرت او امداد به کوئ ، زما څخه به داسې دفاع کوئ لکه له خپلو ځانونو ، میرمنو او ماشومانو یې چې کوئ]) پدې دلالت کوي چې د مهاجر یو حق دا دی چې ژوند یې خوندي شي.

همدغه رنګه هغه اشخاص چې اسلامي دولت ته پناه وړي او هلته ورسره معاهده یا تړون تر سره کیږي د هغوی وژل حرام دي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ قَتَلَ مُعَاهَدًا لَمْ يَرِحْ رَائِحَةَ الجَنَّةِ، وَإِنَّ رِيحَهَا تُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ أَرْبَعِينَ عَامًا»[1]

ژباړه : د عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله وفرمائل : چا چې معاهد وواژه ؛ د جنت بوی به بوئ نه کړئ او د جنت بوئ د څلوښت کلونو مزل په اندازه احساس کیدلی شي.

عطية بن محمد سالم رحمه الله وايي : ( هر [غیر مسلم ] چې اسلامي هیواد ته داخلیدو لپاره ویزه تر لاسه کړي ، دغه ویزه د معاهدې په معنی ده

1 - رواه البخاري ، كتاب الجزية ، باب اثم من قتل معاهدا بغير جرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د مسلمانانو په ذمة کې دخل شو د مسلمانو چارواکو په عهد سره د معلوم وخت لپاره.[1]) نو د دې اشخاصو ژوند باید خوندي شي .

له پورته دلائلو څخه څرګندیږي چې په اسلامي دولت کې د اسلامي فقهې په اساس د هرچا ژوند خوندي دی او د ژوند حق ورکړل شوی ، هغه مسلمان مهاجر وي او که غیر مسلم چې اسلامي دولت ورته پناه ورکړې وي.

دویم : د دیني شعائرو د ازادۍ حق

په اسلامي فقه کې ټول انسانان هغه مهاجر وي او که پناه اخېستونکي د دیني شعائرو د ازادۍ حق لري ، د مسلمان مهاجر په اړوند خو خبره بلکل څرګنده ده ، ځکه مسلمان چې کله اسلامي دولت ته پناه وړي نو د اسلامي مقدساتو موافق عمل تر سره کوي او دا نو ده ته خو هسې هم د خپلو دیني شعائرو د تر سره کولو ازادۍ ده.

همدارنګه په اسلامي فقه کې غیر مسلمانو پناه اخېستونکو ته په اسلامي دولت کې د خپلو دیني شعایرو تر سره کولو اجازه ورکول کیږي ، البته خپل دیني شعائر به د مسلمانانو په عامه ځایو نو کې نه ترسره کوي ، همدارنګه هغه څه چې په اسلامي فقه کې غیر شرعي ګڼل کیږي ، لکه شراب او نور څه د مسلمانانو له نظرونو پټ استعمالوي[2].

---

[1] - عطية بن محمد سالم : شرح بلوغ المرام (**http://www.islamweb.net**) ، ٢٢ / ٢٢٧.

[2] - الكاساني ، علاء الدين أبو بكر بن مسعود بن أحمد ( ١٤٠٦هـ ١٩٨٦م ) : بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ، ٩ / ٢٣٣٦ ، البهوتی ، منصور بن يونس بن صلاح الدين ابن حسن بن إدريس (ب.ت): كشاف القناع عن متن الإقناع ، ٣ / ١٣٣ ، الشربيني ، شمس الدين محمد بن أحمد الشافعي( ١٤١٥هـ ـ ١٩٩٤م ) : مغني المحتاج إلى معرفة معاني ألفاظ المنهاج ، ٤ / ٢٥٧.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اسلامي تاریخ کې د دغه حق ډیرې بیلگې شته : د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دور کې د نجران وفد کوم چې نصاری وه ، مدینې منورې ته راغلل او رسول الله ته د ماذیگر لمانځه څخه وروسته مسجد نبوي ته داخل شول ، د نصاراؤ د لمانځه وخت راغی ، دوی لمانځه ته ودرېدل ، څه خلکو منع کړل ، رسول الله ورته وفرمایل پرېښږدئ چې لمونځ وکړي ، دوی په مسجد نبوي کې خپل لمونځ ادا کړ[1].

دا هم پدې دلالت کوي چې د اسلامي دولت په حدودو کې د اسلامي فقهې په اساس هر شخص مسلمان مهاجر وي او که غیر مسلم پناه اخېستونکی د دیني مراسمو د تر سره کولو ازادي لري او هیڅ شخص یې د دین په بدلولو نشي مجبورولی.

دریم : د ملکیت حق

اسلامي فقه کې هر انسان مهاجر وي ، پناه اخستونکی وي او که هېواد وال ؛ د ملکیت لرلو حق لري ، د دې ترڅنگ د ملکیت د گټلو لپاره د کاروبار کولو حق لري.

دا چې مهاجرین د کار و کسب حق لري په اسلامي تاریخ کې د لومړنیو مهاجرینو قصه لولو : (عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَدِمَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ المَدِينَةَ فَآخَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ

[1] - الجوزية ، محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين ابن قيم: زاد المعاد في هدي خير العباد ٣ / ٥٤٩ ـ ٥٥٠.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الأَنْصَارِيِّ فَعَرَضَ عَلَيْهِ أَنْ يُنَاصِفَهُ أَهْلَهُ وَمَالَهُ، فَقَالَ: عَبْدُ الرَّحْمَنِ بَارَكَ اللَّهُ لَكَ فِي أَهْلِكَ وَمَالِكَ دُلَّنِي عَلَى السُّوقِ، فَرَبِحَ شَيْئًا مِنْ أَقِطٍ وَسَمْنٍ...الخ.[1])

ژباړه : له انس رضی الله عنه څخه روایت دی دا وایي : عبد الرحمن بن عوف مديني ته را مهاجر شو ؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم د ده او د سعد بن الربیع الانصاري ترمنځ ورور ګلوي وکړه ، سعد ورته خپل مال او اهل د نیمه ولو وړاندیز وکړ ، خو عبد الرحمن وویل : الله دی ستا په مال او اهل کې برکت کیږدي ؛ ماته بازار وښایه ، ( هغه ورته بازار وښود ) ده یو څه اندازه پنیر او غوړي وګټل.

دغه پورته دلائل په څرګنده بیانوي چې مهاجرین په اسلامي دولت کې د کار کولو حق لري.

څلورم : د مساوات حق

رسول الله صلی الله علیه وسلم د مهاجرینو قریش وه او که د نورو قبائلو څخه وه د مدیني منورې له اصلي استوګنو سره داسې علاقه جوړه کړه چې د هجرت په لومړنیو کلونو کې یې مدینه دار اسلام ونوموله ، دغه علاقه یې د مهاجرینو او انصارو ترمنځ د وروۍ پر بنسټ جوړه کړه او د مهاجرینو او انصارو ترمنځ یې د هیوادوالو په حقوقو کې او د مدیني منورې د چارو په سمبالولو کې کامل مساوات مراعت کړل دغه کار رسول الله یواځې د قریشو

---

**1** - رواه البخاري ، كتاب مناقب الانصارى ، باب: كيف آخى النبي صلى الله عليه وسلم بين أصحابه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهاجرينو لپاره ونکړ بلکې هغه بانده چيان چې مدينې ته مهاجر شوي وه هغه يې هم لدغه حقوق څخه برخمن کړل[1].

نو معلوميږی چې اسلام مهاجرينو ته د مساوات حق ورکړی دی.

## دويم مطلب : په نړيوالو تړونونو کې د پناه اخېستونکي او مهاجر حقوق

لومړی د ملکيت حق

هر انسان په فطري ډول ملکيت ته ضرورت لري له همدې کبله ده چې د بشريت د تاريخ له پيل څخه انسانان په اقتصادي چارو مصروف دي ، د ملکيت د لاسته راوړلو لپاره کار کوي او خپلو فطري غوښتنو ته جواب وايي ، د بشري حقوقو نړيوال اعلاميه ۱۷ ماده د ملکيت د حق په اړوند وايي : (۱ – هر وګړی د ځانګړي او يا ګډ ملکيت درلودلو حق لري.

۲ – هيڅوک د ملکيت درلودلو حق څخه محروم کولی نه شو.[2])

چې د بشري حقوقو د نړيواله اعلاميه دغه ماده په څرګنده بشر ته د ملکيت حق ورکوي او مهاجر او پناه اخېستونکی من حيث بشر لدغه حق څخه برخمن دي په همدې اساس د بهرنيانو د حقوقو نړيواله اعلاميه ( ۱۹۸۵م

---

[1] - صالح ، اماني (۱۴۲۷هـ ـ ۲۰۰٦م ) ، الشرعية فقه الخلافة الاسلامية وواقعها ، المعهد العالمي للفکر الاسلامي، ۱/ ۳۰۵.

[2] - ناصري ، صفي الله : نړيوال سندونه ( د ملګرو ملتونو منشور ، د بشري حقونو نړيواله اعلاميه ، د بشري حقونو اسلامي اعلاميه ) ، ص

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسمبر ۱۳ ) پنځمه ماده دویمه فقره [ د ] برخه کې وایي : بهرنیان د ځانته او مشترک ملکیت د لرلو حق لري خو د محلي قانون په رعایت سره[1].

دغه رنګه د کاګرو مهاجرینو په نړیوال تړون په ۱۵ ماده کې راځي : کارګر مهاجر او د هغه د کورنۍ غړي د ملکیت څخه په جبري توګه نه بې برخې کیږي ؛ برابره ده دا مکلیت یې فردي وي او که مشترک ، کله چې د کارګر مهاجر او د هغه د کورنۍ د کوم غړي مال په کلي او یا هم جزي ډول د کار د هیواد قانون په اساس مصادره شي نو د عادلانه او پوره عوض مستق ګرځي[2].

همدارنګه د پناه وړونکو د وضع پورې اړوند کنوانسیون پناه وړونکو ته مختلف حقوق ورکوي چې ټول یې د ملکیت د لاسته راوړلو لپاره دي د منقول او غیر منقول مالونو د لرلو حق (۱۳ ماده) ، له اجورې سره بوختیا او اشتغال حق ( ۱۷ ماده ) ، په ازادو کارونو کې بوختیدلو حق ( ۱۸ ماده ) ، ازادې علمي حرفې حق ( ۱۹ ماده ) په ګوته شوي.

چې دغه پورته ټول حقوق د ملکیت د لاسته راوړلو او ملکیت لرلو لپاره ورکړل شوي.

دویم : محکمو ته د رجوع حق

---

**1** فشار ، عطاء الله (۲۰۱۳) : حقوق الانسان من خلاف مواثیق الدولیة ، فلسطین ، دار الصداقة للنشر الالکتروني، ص ۳۵٦.

**2** -اتفاقیة لحقوق العمال المهاجرین(
(**httpwww.ohchr.orgDocumentsPublicationsFactSheet24Rev.1ar.pdf**
ص ۳۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محاکمو ته د رجوع د حق معنی دا ده چې : پناه وړونکی او مهاجر بغیر له کوم ډار او ترس څخه وکړای شي د خپل حق د ترلاسه کولو لپاره دعوی اقامه کړي او وکولی شي له خپل ځان څخه دفاع وکړي ، د بهرنیانو د حقوقو د تړون په پنځمه ماده لومړۍ فقره [ ج ] جز کې وایي : بهرنیان په مساوي ډول محاکمو ته او نورو ارګانونو ته کوم چې د عدل د قائمولو لپاره کار کوي د رجوع حق لري[1].

او کاګرو مهاجرینو نړیوال تړون په ۱۸ ماده کې کارګر مهاجر ته د محاکمو ته د رجوع حق ثابت کړی نوموړی ماده داسې صراحت لري : ( کارګر مهاجر او د کورنۍ غړي یې په مساوي ډول هر قسم محاکموته د رجوع حق لري او د هر قسم تور د اثبات لپاره کوم چې د دوی په ضد یې ادعا شوې او د خپلو حقوقو او التزاماتو د اندازې معلومولو لپاره د دوی حق دی چې د دوی خبره په عادلانه او علني ډول د ذي صلاح او مستقلو محاکمو پرورانديې په قانوني ډول واوریدل شي [2])

او د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند ګنوانسیون ( د ۱۹۵۱م د جولای ۲۸ ) ۱٦ ماده کې پناه وړونکو ته دغه حق ثابت کړی : (: ۱ – هر پناه وړونکی کولای شي د ژمنو دولتونو په خاوره کې قضائي محکموته ازادانه مراجعه وکړي.

۲ – هر پناه وړونکی به د هغه ژمن دولت په خاوره کې چې د هغهٔ د عادي استوګنې ځای دی ، محکمو ته له لاس رسۍ له هغې جملې له قضایي معاضدت څخه د ګټې اخستنې او دغورونې د لګښتونو د تضمین له سپارلو

---

[1] - فشار ، عطاء الله (۲۰۱۳) : حقوق الانسان من خلاف مواثیق الدولیة ، ۳۵٦.

[2] - میثاق حقوق للعمال المهاجرین وافراد اسرهم ، ص ۳۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه د معافیت په هکله له هم هغۀ چلند څخه چې د نومړي دولت د اتباعو په باره کې عملي کیږي برخمن شي.[1])

دريم : د اسوده ژوند لرلو حق

په غالب ډول هغه اشخاص چې په بل هیواد کې پناه اخلي او یا بل هیواد ته هجرت کوي د اسوده ژوند په لټه کې وي ، دا چې پناه وړونکی او مهاجر اسوده ژوند ولري نو نړیوالو تړنونو ورته د استوګن ځای د لرلو ، عمومي تعلیماتو او خیریه کارونو حقوق ورکړي دي.

الف : د استوګن ځای د لرلو حق

بشر د مناسب استوګن ځای لرلو ته په فطري ډول ضرورت لري تر څو وکولی شي اسوده ژوند ولري نو نړیوالو تړونونو مهاجر او پناه اخېستونکي ته دغه حق ورکړی

د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند ګنوانسیون ( د ۱۹۵۱م د جولای ۲۸ ) په ۲۱ ماده کې لدې حق څخه داسې یادونه کوي : (: د استوګنځي په هکله تر هغۀ ځایه چې دغه امر د قوانینو او مقرراتو مطابق تنظیم شوی یا د دولتي مقاماتو تر څارنې لاندې دی ، ژمن دولتونه به د پناه وړونکو په نسبت هغه چلند عملي کړي چې د امکان تر حده مساعد وي او په هر حال کې له هغۀ

---

[1] د عدلي وزارت رسمي جریده ، (د ۱۳۸۵هـ ش کال) د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسیون ( ۱۹۵۱ جولای ۲۸) پرله پسي نمبر (۹۰۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



چلند څخه چې په دغسې مواردو کې يې په کلي توګه د پرديو په نسبت عملي کوي ، زيات نامساعد نه وي.[1] )

ب : د عمومي تعليماتو حق

د اسوده ژوند تر لاسه کولو لپاره د تعليم ضرورت دی له همدې کبله د بشري حقوقو نړيواله اعلاميه په ۲٦ ماده کې بشر ته د تعليم حق ورکړی : (۱ – هر څوک حق لري چې د ښوونې او روزنې څخه برخمن شي ، ښوونه او روزنه بر سيره په لومړنيو او اساسي پړاوونو کې وړيا وي لومړني تعليمات بايد اجباري وي ، حرفوي او تخنيکي زده کړې ، عموميت وومي لوړې زده کړې بايد د برابرو شرايطو سره د ټولو پرمخ خلاصي وي او ټول د استعداد او وړتيا په بنسټ له هغه څخه ګټه پورته کړي.

۲ – ښوونه او روزنه بايد د انساني شخصيت د بشپړوالي او بشري حقوقو او بنسټيزو ازدايو ته د درناوي د زياتوالي په لوري و هڅول شي ، ښوونه ، روزنه بايد ټولو مليتونو ، توکمونو او ديني ډلو ترمنځ تفاهم ، زغم او دوستي پياوړي کړي او د ملګرو ملتونو هڅې د سولې د پياوړتيا لپاره پر مخ بوزي.

۳ – مېندې او پلرونه د خپلو ماشومانو د روزنې د ډول په غوره کولو کې د لومړيتوب حق لري.[2])

---

[1] د عدلي وزارت رسمي جريده ، (د ۱۳۸۵هـ ش کال) د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسيون ( ۱۹۵۱ جولای ۲۸) پرله پسې نمبر (۹۰۲)

[2] - ناصري ، صفي الله : نړيوال سندونه ( د ملګرو ملتونو منشور ، د بشري حقونو نړيواله اعلاميه ، د بشري حقونو اسلامي اعلاميه ) ، ص

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدغه رنگه د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند گنوانسیون ( د ۱۹۵۱م د جولای ۲۸ ) په ۲۲ ماده کې وايي:( ۱ – د لومړنیو تحصیلاتو په هکله به ، ژمن دولتونه د پناه وړونکو په نسبت د خپلو اتباعو په شان چلند وکړي.

۲ – د غیر لومړنیو تحصیلاتو په هلکه او په خاصه په تحصیل باندې د بوختېدو د حق په هکله او له بهرنیو مملکتونو څخه د صادرو شوو تحصیلي مدرکونو ، دیپلومونو او پوهنلیکونو د ارزښت د ټاکلو ، د اړوندو حقوقو او عوارضو د راکمولو ، د تحصیلي او تحصیلي بورس د لگښت د مرستو ورکولو په هکله به ، ژمن دولتونه د پناه وړونکو په نسبت هغه چلند عملي کړي چې د امکان تر حده پورې مساعد وي او په هر حال کې له هغهٔ چلند څخه چې په کلي توگه د پردیو په نسبت عملي کیږی ، زیات نامساعد نه وي. [1])

ج : د خیریه چارو څخه برخمن کیدل

د اسوده ژوند لپاره باید له انسانانو سره مرستې وشي په همدې اساس د پناه وړنکو په وضع پورې اړوند کنوانسیون ( د ۱۹۵۱ م د جولای ۲۸ ) لدغه حق څخه په ۲۳ ماده کې یادونه کړې (د عمومي مرستو او کومکونو په هکله ، ژمن دولتونه به د هغو پناه وړونکو په نسبت چې د قانون مطابق د هغو په خاوره کې ژوند کوي ، د خپلو اتباعو په څېر چلند وکړي.[2])

چې دغه ټول حقوق (د استوگن ځای د لرلو ، د عمومي تعلیماتو ، د خیریه چارو څخه د برخمن کیدلو حقوق ) د کارگرو مهاجرینو نړیوال تړون ۴۳

---

[1] د عدلي وزارت رسمي جریده ، (د ۱۳۸۵هـ ش کال) د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسیون ( ۱۹۵۱ جولای ۲۸) پرله پسي نمبر (۹۰۲)

[2] هماغه مرجع.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماده لومړي فقره کې داسې یاد شوي :۱ - کارگر مهاجر سره به لاندې مواردو کې د کار په هیواد کې د کار هیواد د اتباعو په څیر چلند کیږی :

الف : تعلیمي خدماتو او مؤسساتو ته لاس رسی ، د غوښتنو د قبول شرائطو په پوره کولو سره کوم چې دغه مؤسسات او معین خدمات یې لري.

ب : د متخصصینو تقرر ته لاس رسی.

ج : د متخصصینو د تربیې او تقرر پروگرامو ته لاس رسی.

د : په اجماعي ځایونو کې مسکن حاصلولو ته لاسرسی او ایجارې پورې تړلی گټې خوندي توب.

هـ : اجتماع او صحي خدماتو ته لاس رسی پدې شرط چې پدغه پروگرامونو کې د گډون شرائط یې پوره کړي وي.

و : بشري مرستو ته لاس رسی کوم چې د همدغې کار لپاره گمارل شوی مؤسسات یې وړاندې کوي او له دوی سره باید د مهاجر په شکل هیڅ تبعیض ونشي.

ز : ثقافي ژوند ته لاس رسی او پدې کې د اشتراک کولو حق[1].

همدغه رنگه دغه تړون د کارگر مهاجر کورنۍ ته هم دغه ټول حقوق چې په ۴۳ ماده کې ذکر شول کټ مټ د کارگر مهاجر د کورنۍ غړوته په ۴۵ ماده کې ورکوي[2].

څلورم : د ازادۍ حق

---

[1] - اتفاقیة لحقوق العمال المهاجرین وافراد اسرهم ، ص ۴۷.

[2] - هماغه مصدر ، ص ۴۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پناه وړونکی او مهاجر د ازاد ژوند د ترلاسه کولو لپاره هجرت او پناه اخېستلو ته مجبوریږي له همدې کبله نړیوالو تړونونو مهاجرینو او پناه وړونکو ته د دین ازادۍ او د گرځیدو راگرځیدو ازادۍ حقونه ورکړي.

الف : د دین ازادي

د دینونو ازادي هم یوه له هغه مهمو موضوعاتو څخه ده چې نړیوالو تړنونو په نظر کې نیولې ده ، د کاگرو مهاجرینو نړیوال تړون په ۱۲ ماده کې وایي : ۱ – کارگر مهاجر او د کورنۍ غړي یې د فکر ، ضمیر او دین ازادۍ حق لري دغه حق کې دا راځي چې یو شخص به دین او معتقدات لري کوم چې دا یې اختیاروي او ورته ژمن وي او د دین او عقیدې په څرگنده ولو کې ازاد دی په انفرادي ډول وي او که په ډله ایز ډول ؛ پټ وي او که ښکاره ؛ عبادت کوي او که شعائز څرگنده وي ؛ زده کول کوي او که ورزده کول.

۲ – کارگر مهاجر او د کورنۍ غړي باندې به یې اکراه ونشي چې له خپلو ازادیو او دیني شعائرو کې کمی وکړي هغه چې ده اختیار کړی دی او کوم چې دا ورته ژمن دی.

۳ – افراد به د خپل دین او معتقداتو په څرگندولو کې د هغه قیودو کوم چې قانون وضعه کوي او د ملي امنیت ؛ عام نظام ، عامه صحت ، عامه ادابو او د نورو د حقوقو او ازادیو غوښتنه وي.

۴ – د دې تړون امضاء کوونکي هیوادونه په دې عقیده دی چې که والدین او یا یو یې له کارگرو مهاجرینو څخه وي او یا یې قانوني اولیاء کارگر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهاجر وي نو دوی ته حق دی چې دوی خپلو اولادونو ته د خپلو ديني او اخلاقي معتقداتو د زده کړې زمينه برابره کړي[1].

د پناه وړونو په وضع پورې اړوند کنوانسيون په څلورمه ماده کې ليکي : ( ژمن دولتونه په خپل قلمرو کې ديني چارو په اجراء او خپلو کوچنيانو ته د مذهبي زدکړو په ورکولو کې د پناه وړونکو د ازادۍ په نسبت لږ تر لږهٔ د هغې رويې په حد کې چې د خپلو اتباعو په نسبت يې لري ، رويه وکړي.[2])

ب : د ګرځيدو راګرځيدو ازادي

د کارګرو مهاجرينو تړون په ۳۹ ماده کې کارګر مهاجر ته د انتقال د ازادۍ حق ورکړی : ( ۱ – کارګر مهاجر او د کورنۍ غړو ته يې د کار هيواد په حدودو کې د ګرځيدو راګرځيدو د ازادۍ حق او د استوګنې د اختيار حق ثابت دی.

۲ – د دې مادې په ۱ فقره کې ثابت حق هيڅ قيد نلري مګر هغه قيدونه چې قانون ورباندې صراحت کړی وي او د ملي امنيت ؛ عام نظام ؛ عامه ادابو او د نورو د حقوقو او ازاديو څخه پرته بل قيد نلري او هغه چې په دې تړون له نورو حقوقو سره په ټکر کې نه وي.[3])

د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسيون شپږ ويشتمه ماده پناه وړونکو ته د دغه حق په اړوند وايي : له ژمنو دولتونو څخه هر يو به هغو پناه

---

[1] - اتفاقية لحقوق العمال المهاجرين وافراد اسرهم ، ص ۳۴.

[2] - د عدلي وزارت رسمي جريده ، (د ۱۳۸۵هـ ش کال) د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسيون ( ۱۹۵۱ جولای ۲۸) پرله پسي نمبر (۹۰۲)

[3] - اتفاقية لحقوق العمال المهاجرين وافراد اسرهم ، ص ۴۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړونکو ته چې د هغوی په خاوره کې ژوند تیروي ، حق ورکړي چې د خپلې استوګنې ځای وټاکي او ازادانه د هغهٔ دولت په خاوره کې تګ راتګ وکړي ، د هغو مقرراتو له په پام کې نیولو باندې مشروط چې عموما پدغهٔ شان مواردو کې د بهرنیانو په هکله اجراء کیږي[1].

پنځم : د ایستلو یا اعادې منع حق

د نړیوالو تړونونو په اساس مهاجر او پناه اخېستونکی په زوره له هیواد څخه نشي شړل کیدلی ، مګر که مهاجر او پناه اخېستونکی ملي امنیت ته ګواښ وګڼل شي ، د کارګرو مهاجرینو نړیوال تړون په ٥٦ ماده ١ فقره کې همدغه خبره کوي : د کار له هیواد څخ به کارګر مهاجر او د کورنۍ غړي یې ونه شړل شي مګر د خاصو اسبابو له کبله کوم چې د هیواد قانون کې ورڅخه یادونه شوې وي پدې شرط چې هغه ضمانتونه موجود وي کوم چې پدې تړون کې په ګوته شوي[2].

د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسیون ( د ١٩٥١م د جولای ٢٨ ) په دري دیرشمه ماده کې لدغه حق څخه داسې یادونه شوې : ١ -له ژمنو دولتونو څخه هېڅ یو به په هېڅ ډول پناه وړونکی هغو خاورو ته چې امکان لري په توکم ( نژاد) ، مذهب ، ملیت ، په خاصه ټولنیزه ډله کې په غړیتوب یا د سیاسي عقیدو په لرلو پورې په ا ړوندو علتونو د هغهٔ ژوند یا آزادي تر ګواښ لاندې راشي ، و نه باسي ، یا به یې بېرته و نه ګر ځوي.

---

[1] - د عدلي وزارت رسمي جریده ، (د ١٣٨٥هـ ش کال) د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسیون ( ١٩٥١ جولای ٢٨) پرله پسي نمبر (٩٠٢)

[2] - اتفاقیة لحقوق العمال المهاجرین وافراد اسرهم ، ص ٥٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ -خو هغه پناه و ړونکی به چې د کافي دلایلو له مخې یې وجو دهغهٔ هېواد ته چې هلته ژوند کوي ، خطرناك وي یا د محکمې د قطعي قضاوت له مخې د کوم جرم یا جنایت په ارتکاب محکوم شوی وي او دهېواد دټولنې حال ته مضر تشخیص شي ، نشي کولای پدې ماده کې له ذکر شوو مقرراتو څخه د ګټې اخستنې دعوي وکړي[1]

شپږم :د نه تبعیض حق

بالاخره مهاجر او پناه وړنکی باید پورته ټول حقوق پرته له تبعیض څخه تر لاسه کړي په همدې اساس د کارګرو مهاجرینو نړیوال تړون په ۷ ماده کې له عدم تبعیض څخه داسې یادونه کوي : امضاء کونکي هیوادونه وعده کوي چې : د نړیولو اسنادو په اساس چې کوم حقوق بشر ته ورکړل شوی د هغې به رعایت کوي او دا ټول به کارګرو مهاجرینو او د کورنۍ غړو ته به یې ورکوي کوم چې د دوی په حدوداتو کې موجود وي پرته له هیڅ قسمه تبعیض مثلا د جنس ، عنصر ، رنګ ، ژبې ، دین او معتقداتو ، سیاسي راي او نور په اساس به هیڅ قسمه تبعیض ونکړي او نه به د قومي ، عنصري ، جنسي ، عمر ، اقتصاد ، ملکیت ، مدني حالت او هیڅ بل حالت په نظر کې نیولو سره تبعیض ونکړي[2].

د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسیون ( د ۱۹۵۱م د جولای ۲۸ ) لدې حق څخه په دریمه ماده کې یادونه کوي : ( ژمن دولتونه به د پناه

---

[1] د عدلي وزارت رسمي جریده ، (د ۱۳۸۵هـ ش کال) د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسیون ( ۱۹۵۱ جولای ۲۸) پرله پسي نمبر (۹۰۲)

[2] - اتفاقیة لحقوق العمال المهاجرین وافراد اسرهم ، ص ۳۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړونکو په هکله د دې کنوانسيون مقررات د توکم ( نژاد ) يا مذهب يا اصلي قلمرو له لحاظه له تبعيض پرته اجراء کړي.[1]

مقارنة :

اسلامي فقه او نړيوال تړونونه کې د مهاجرينو او پناه اخېستونکو د حقوقو په برخه کې کوم توپير نه تر سترګو کيږي ، البته اسلامي فقه لا له پخوا څخه مهاجرينو او پناه اخېستونکو ته هغه حقوق ورکړي چې ننۍ نړۍ يې مهاجرينو او پناه اخېستونکو ته د ورکولو ادعا لري.

---

[1] د عدلي وزارت رسمي جريده ، (د ۱۳۸۵هـ ش کال) د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسيون ( ۱۹۵۱ جولای ۲۸) پرله پسي نمبر (۹۰۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دويم مبحث : د هجرت او پناه اخيستنې تاثيرات

په دې مبحث کې به د هجرت او پناه اخېستنې ايجابي او سلبي تاثيرات اسلامي او غير اسلامي هيوادونو ته وڅېړل شي ، په همدې اساس دغه مبحث په دوه مطلبونو مشتمل دی:

لومړی مطلب : کفري هيوادونو ته د هجرت او پناه اخيستنې تاثيرات

دويم مطلب : اسلامي هيوادونو ته د هجرت او پناه اخيستنې تاثيرات

چې هر مطلب به په جلا جلا توگه وڅېړل شي.

## لومړی مطلب : کفري هيوادونو ته د هجرت او پناه اخيستنې تاثيرات

### لومړی پراگراف : سياسي تاثيرات

دا چې په دنيا کې هيڅ شی نه مطلق شر دی او نه هم مطلق خير په همدې اساس کفري هيوادونو ته د هجرت او هلته د پناه اخېستنې تاثيرات به په دوه عنوانونو کې مطالعه شي ، په لومړي عنوان کې به د هجرت او پناه اخېستنې ايجابي تاثيرات مطالعه شي او په دويم عنوان کې سلبي تاثيرات.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی جز : ایجابي تاثیرات

الف : مهاجر او پناه اخېستونکی په کفري هیوادونو کې د مسلمانانو استازی دی

د هجرت او پناه اخېستنې یو له سیاسي تاثیراتو څخه دا دی چې د کفري ملت او اسلامي امت ترمنځ د ارتباط نقطه ده ، په خاص ډول کله چې مهاجر او پناه اخېستونکی پدې ایمان ولري چې زه د مسلمان په حیث دا دنده په غاړه لرم چې د مسلمه امت سمه استازولي باید وکړم ، چې دغه حالت د اسلامي نړۍ او غیر اسلامي نړۍ ترمنځ څرګند سیاسي ارتباط پیدا کوي.

د مثال په ډول : حبشې ته د مسلمانانو او د حبشي د پاچا لخوا مسلمانو پناه غوښتونکو ته د پناه ورکولو تاثیر دا شو چې ، رسول الله او نجاشي د حبشي پاچا ترمنځ استازي او خطونه تبادله شول ، د اسلام بلنه یې ورکړه ، رسول الله بلنه ورکړه چې صحابه کرامو مدیني ته په راستنیدو کې ورسره مرسته وکړۀ ، هغه همداسې وکړل صحابه کرام یې راولیږل او خپل یو وفد یې هم ورسره راواسته ولو او د دواړو دولتونو ترمنځ یو بل ته احترام او عزت پیدا شو[1].

ب : مهاجر او پناه اخېستونکو له سیاسي ازادیو څخه ګټه اخستنه

په ډیری غیر اسلامي هیوادونو کې مهاجرین او پناه اخېستونکي له سیاسي ازادیو څخه برخمن دي لکه د سیاسي ډلو کې مشارکت کول ، سیاسي احزاب جوړول او همدارنګه نور سیاسي فعالتونه کول چې پدې سره مسلمان

---

[1] - أبوبکر ، أحمد (١٤١٣هـ ـ ١٩٩٣م) : معالم الهجرتین الی أرض الحبشة ، الریاض ، مکتبة التوبة، ص ٢٣٥ – ٢٣٧.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهاجر او پناه اخېستونکی له سیاسي ازادیو څخه برخمن جوړیږي ، چې دا یو له هغه ایجابیاتو څخه شمیرل کیدلی شي چې مهاجر او پناه اخېستونکی ترې په غیر اسلامي هیوادونو کې برخمن جوړیږي[1].

ج : سیاسي پوهه ترلاسه کول

یو له سیاسي ایجابیاتو څخه دا هم شمیرل کیدلی شي چې په غیر اسلامي هیوادونو کې مسلمان مهاجرین او پناه اخېستونکي سیاسي خبره او پوهه ترلاسه کولی شي ، چې له راستنیدلو څخه وروسته ترې په سمه توګه استفاده وکړي او په اسلامي هیوادونو کې سیاسي حرکات پیاوړي کړي ، اګر که بعضي وخت دا سلبي حالت هم غوره کولی شي ، پدې معنی چې له هغه سیاسي تجربو څخه استفاده کول کوم چې له اسلامي فقهي سره په ټکر کې وي[2].

دویم جز : غیر اسلامي هیوادونو ته د هجرت او پناه اخېستنې سیاسي سلبي تاثیرات

غیر اسلامي هیوادنو ته هجرت او هلته پناه اخېستنه سر تر پایه سلبي تاثیرات لري ، خاصتا په اسلامي سیاست باندې بده اغیزه کوي ، ډیری وخت اسلامي هیوادونه د هغه اشخاصو له لوري د غیر اسلامي هیوادونو په چوپړ کې د همدې پناه اخېستونکو او مهاجرینو په لاس غورزیدلي ، چې دلته به کوشش

[1] - دا چې په غیر اسلامي هیوادونو کې مهاجرین ، پناه اخېستونکي او په کل کې مسلمه اقلیات په سیاسي ژوند کې برخه اخستل څه حکم لري ؟ کولی شئ دا کتاب مطالعه کړئ : فلة زردومي : فقه السياسة الشرعية للاقليات المسلمة ، ص ۲۰۷ ـ ۳۲۶.

[2] - سلقيني ، ابراهيم عبدالله ( ۱۴۳۵هـ ـ ۲۰۱۴م ) : الهجرة واحكامها دراستة شرعية لواقع الهجرة العشوائية في عصر الحديث ، لنبان ـ بيروت ، دار النوادر اللبنانية، ص ۲۸۳ – ۲۸۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وشي کفري هيوادونو ته د هجرت او هلته د پناه اخېستنې سلبي تاثيرات په لنډ ډول په ګوته شي.

۱ : کفري نړۍ له مهاجرينو او پناه اخېستونکو څخه د اسلامي نړۍ په خلاف ګټه اخلي او په استخباراتي جګړو کې يې استعمالوي

۲ : مهاجرين او پناه اخېستونکي له کفري سياست څخه متاثره کيږي او فکر کوي چې کفري سياست د مشکلاتو د حل لار ده.

۳ : اسلام يواځې د عباداتو دين ګڼل او له سياسي پوهې څخه يې خالي ګڼل.

۴ : کفري نړۍ ته د اسلامي هيوادونو د سياست کمزوري په ډاګه کيدل.

مثلا په افغانستان کې د ثور کودتا د رامنځ ته کيدو او بريالیتوب له اسبابو څخه يو هم دا ؤ چې : د افغانستان دولت چې شوروي اتحاد ته خپل محصلين د نظامي زده کړي يا ملکي تحصيلاتو لپاره ليږل هغوی به په کمونستي مفکوری سمبال بيرته وطن ته راګرځيدل[1].

**دويم پراګراف : اقتصادي تاثيرات**

هجرت او پناه اخېستنه د مهاجر او پناه اخېستونکي په هيواد ، په خپله په مهاجر او پناه اخېستونکي ځيني سلبي او ځيني ايجابي اقتصادي تاثيرات لري ، چې په لاندې دوه عنوانو کې به تشريح شي.

---

[1] - فيضان ، عبدالمالک (۱۳۹۴هـ) : د افغانستان معاصر تاريخ ، جلال اباد ، حکمت خپرندويه ټولنه، ص ۱۱۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی جز : سلبي اقتصادي تاثيرات

له يوه هيواد څخه د ځوان نسل تېښته په اصل کې د يوې سترې معنوي سرمايې تېښته ده او هر هېواد هڅه کوي چې دغه ځوان کاري ځواک په خپله ګټه وکاروي او ځان ته يې جذب کړي ، انساني سرمايه د اقتصادي پرمختګ ستر لامل بلل کيږي او د دغې سرمايه نه تېښته انساني ځواک له تشې سره مخامخ کوي او په لنډ مهال او اوږد مهال کې د هېواد لپاره ناوړه پايلې رامنځ ته کوي[1].

همدغه رنګه ډيری خلک بهرنيو هيوادونو ته د تګ لپاره زيات مصارف کوي ، کله خو لوي قرضونه په خپله غاړه واخلي ؛ کله چې په اروپايي هيوادونو کې ورته پناه ورنه کړل شي او يا په کار پيدا کولو ونه توانيږي نو مجبور دی بيرته خپل هيواد ته راستون شي او خپل مصارف کوم چې اروپا ته په تګ کې يې کړي وه له لاسه ورکوي[2].

دويم جز : ايجابي اقتصادي تاثيرات

که څه هم د کډوالۍ ننګونې ډېرې دي خو ترڅنګ يې بيا يو شمير فرصتونه او ګټې هم لري يوه له هغو ګټو څخه د کډوالو له لوري خپلو هېوادونو ته د پيسو لېږد دی ، دغه کډوال خپلو هېوادونو لپاره يوه مهمه اقتصادي او د عايد سرچنې بلل کيږي ، په بهر کې کډوال کار کوي او د خپلو پيسو ډيره برخه په خپلو اصلي هيوادونو کې خپلو کورنيو ته استوي هر کال

---

[1] - حيدري ، زينت ( ١٣٩٥ ) : د کډوالۍ موکې ( فرصتونه ) او ننګونې ، عودت ، شماره سوم ، زمستان ١٣٩٥ ، د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت ، ص ٢١.

[2] - موحدي ، علي رضا (١٣٩٥هـ ش ) : اثرات مهاجرت برمهاجرين وخانواده انها ، عودت مجله ، دوهمه شماره ، ١٣٩٥هـ ، ص ٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دوی ملیاردونه ډالر خپلو اصلي هېوادونو ته لېږدوي ، چې یوازې په ۲۰۱۵ز کال کې د کډوالو لخوا ۴۴۰ ملیارده ډالر د دوی هېوادونو ته لېږدول شوي د یو شمېر پرمختللو هیوادونو له لوري مخ پرودې هېودونو ته د دغو پیسو لېږد کولای شي چې د مخ پرودو او وروسته پاتې هېوادونو په اقتصادي وده کې مهمه اغېزه ولري[1].

ډېری افغان مهاجرین په افغانستان کې یا خو دنده نه لرله او که لرله یې هم نو ډېر کم مزد او معاش یې تر لاسه کولو ؛ ولې په صنعتي او پیش رفته هیوادونو کې پس له هجرت څخه له ډېرو لاسته راوړنو څخه برخمن دي ؛ چې همدا کولی شي د دوی د ژوند په مختلفو برخو کې پرمختګ رامنځ ته کړي[2].

**دریم پراګراف : کفري هیوادونو ته د هجرت او پناه اخېستنی دیني تاثیرات**

غیر اسلامي هیوادونو ته هجرت دیني سلبي او ایجابي تاثیرات لري چې دلته به دواړه ډوله په لنډ ډول وڅېړل شي :

لومړی جز : ایجابي دیني تاثیرات

کفري هیوادونو ته هجرت او هلته پناه اخېستنه د دې سبب جوړیږي چې هلته د اسلام وړانګې خپرې شي ( هرکله چې د اسلام د ختمولو کوشش کیږي اسلام راڅرګندیږي او نوي ځایونه تر خپل اثر لاندې راولي نوي

[1] - حیدري ، زینت ( ۱۳۹۵ ) : د کډوالۍ موکې ( فرصتونه ) او ننګونې ، عودت مجله ، ص ۲۲.

[2] - موحدي ، علي رضا (۱۳۹۵هـ ش ) : اثرات مهاجرت برمهاجرین وخانواده انها، عودت مجله ، ص ۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیوادونه یې تر اثر لاندې راځي ، د مسلمانو تاتاریانو هجرت د دې سبب شو چې هغه ځایونو ته اسلام خپور شي چې دوی په هاغه ځای تیر شوي او هلته هم چې دوی هلته استوګنه اختیار کړې او هلته په زور سره ښځل شوي او د دې نتیجه دا شوه چې اسلام په بعضي کفري هیوادونو کې خپور شي او مسلمانان پدې وتوانیدل چې په دغه هیوادونو کې اسلام خپور کړي.[1])

افغانان په استرالیا کې د اسلام بنسټ ایښودونکي دي ، دوی هغه لومړني مسلمانان دي چې استرالیا ته راغلل او د محمدي اذان غږ یې په دې هېواد کې اوچت کړ ، له دوی څخه پخوا هغه ټول مهاجرین چې دې هېواد ته راغلي وو اروپایي عیسویان وو د هغو ترڅنګ لږ شمېر چینایان هم دې هېواد ته راغلي وو ، ځکه نو افغانان هغه لومړني مسلمانان دي چې د بسپنو په راغونډولو سره یې جوماتونه په دې هېواد کې ودان کړل چې له هغو څخه دوه لوی جوماتونه په ( ادیلاید ) او ( پرت ) کې همدا اوس هم د دې ښارونو تر ټولو لوي جوماتونه دي[2].

دویم جز : دیني سلبي تاثیرات

غیر اسلامي هیوادونو ته هجرت کول او هلته پناه اخېستنه ډېر زیات دینی سلبي تاثیرات لري ، مثلا :

الف : د ارتداد احتمال او د کفارو څخه تاثر : له کفارو سره د مسلمانانو اختلاط په هغه وخت کې چې مسلمانان ضعیف او کم وي او کفار

---

[1] - الشویمان ، عبدالله بن ابراهیم بن عبدالرحمن (۱۴۱۷هـ ) : الهجرة في ضوء الکتاب والسنة دراسة دعویة (**http://www.al-eman.com**)، ص ۲۸۵

[2] - امین ، حمید الله ، (۱۳۸۴ل / ۲۰۰٦م) : افغانان په استرالیا کې ، رڼا علمي مرکز، ص ۸۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوي او ډېر وي ، دا ډېر ځله د دې سبب جوړېږي چې مسلمانان له کفارو متاثره شي او له هغوی سره یوځای شي[1].

ب : اخلاقي انحراف : اسلامي ټولنه هغه ټولنه ده چې ثابت اصول لري چې یو یې اخلاقي او دین اصول دي ... لدغه قوانینو او ثابتو اصولو څخه د خلاصون او بې مهاره شهواني ټولنې ته داخلیدلو سره د تر تاثیر لاندې راځي او دا د اخلاقي انحراف باعث جوړیږي خاصتا کله چې دیني تربیه هم نه وي موجوده او ایماني قوت هم له منځه تله لی وي[2].

( برتانوی ورځپاڼې انډیپنډنټ د المان د کلیساو د چارواکو له خولې خبر ورکړی، چې هره ورځ هلته یو ستر شمېر مسلمان کډوال خپل دین پرېږدي او مسیحیت ته اوړي.

په دې اړه څو ځل مخکې هم راپورونه ورکول شوي وو او ځینې وېډیوګانې هم خپرې شوې وې، چې په کې څرګندېده چې مسلمانان له خپل دین څخه اوړي او مسیحیت کې داخلېږي. په دې وېډیوګانو کې د نویو مسیحي شویو کسانو مراسم ښودل شوي.

د المان د یوې کلیسا مشر ماتیاس لینک رسنیو ته ویلي، چې «ډېری دغه کډوال المان ته راځي او فکر کوي، چې کولی شي خپل دین غوره کړي او د ازادۍ دین قبلوي». خو بل پلو داسې راپورونه هم ورکول کېږي، چې المان

---

[1] - الرازي ، فخر الدین (۱۴۲۰ هـ ) : التفسیر الکبیر ، ۵ / ۵۱۸.

[2] - سلقیني ، ابراهیم عبدالله ( ۱۴۳۵هـ ـ ۲۰۱۴م ) : الهجرة واحکامها دراستة شرعیة لواقع الهجرة العشوائیة في عصر الحدیث ، ص ۳۰۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د دې کډوالو له ستونزمن حالته په ګټه اخیستو مسلمانان له اسلامه وتو ته اړویستل کېږي، چې لوږه، بې روزګاري او د پناه د غوښتنو نه منل کېدل په کې شامل دي.

د کلیسا یوه بل الماني راهب فیلیکس ګولډینګیر رسنیو ته ویلي، چې مسیحیت ته په نویو داخلېدونکو کډوالو کې ډېری یې له ایران، افغانستان، سوریې او اریتریا څخه دي، چې ټول مسلمان هېوادونه دي[1].)

( هغه کډوال چې پرته له پاسپورټ او ویزې څخه آلمان او ځینې نورو اروپایي هیوادونو ته داخلېږي، د پولیسو لخوا د نیول کیدو له ویرې کلیسا ګانو ته پناه وړي او کلیسا ګانې هم دوی ته خپلې دروازې پرانیستي دي .

هر دین ځانته دعوت کوونکي لري، د عیسویت د دین د دعوت محل کلیسا او داعي یې په کلیسا کې شته مذهبي مشران او کارکوونکي دي.

کله چې مسلمانان پخپله د دوی کلیسا ګانو ته پناه وړي بیا نو دوی ته ښه موقع په لاس ورځي تر څو د عیسویت د تبلیغ او عیسویت ته د اوښتلو لپاره په دوی باندې کار وکړي.

په ډېری مواردو کې پناه غوښتونکو کې ته دا هم ویل کیږي کېږي چې که چیرې دوی له خپل دین څخه واوړي نو دوی ته په مربوطه هیواد کې پناه

---

1 - باور : غربي رسنۍ: آلمان کې مسلمان کډوال عیسویان کېږي
http://zaalaand.af/fullstory.php?id=50523 وخت : I GMT 08:37
11.12.2016

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړ شي.

د آلماني رسنيو له قوله له (۲۰۰۸ ع) کال څخه را پدېخوا تر (۵۰۰) زيات افغان او ايراني پناه غوښتونکي مسيحيان شوی، چې د هغې جملې څخه ٪۷۵ يي ايرانيان او پاتې ٪۲۵ نور يي افغانان دی.

د پناه غوښتونکو د ويبپاڼې د راپور پر اساس ځينې وختونه داسې هم کيږي چې پناه غوښتونکي د يوه کال لپاره په دغه کليسا ګانو کې پاتې شي. يو کال ژوند کول په کليسا کې حتما خپل اثر لري او پر پناه غوښتونکو اثر پريباسي[1].)

ج : د ماشومانو انحراف او ارتداد : کله چې د مشرانو په اړوند ويره موجوده وي سره لدې چې مشران خو د غربي جراثيمو په اړوند معلومات هم لري او د دې ترڅنګ د ښه او خراب توپير هم کولی شي نو ماشومان خو په وچه بيديا کې خوشې شوي ؛ بلکې په داسې دښته کې خپاره شوي چې هلته مفاسد زرغونيږي ، کله چې بالغان شي نو د استقلال او خپلواکۍ غوښتونکي وي ، له سرکشۍ سره مخ کيږي ځکه پدغه ټولنه کې خو هيڅ کوم قيود وجود نلري[2].

1 - الهاشمی ، ياسر : په اروپا کې افغان او ايراني مسيحيان ، (**http://www.tolafghan.com/posts/30904**) د ۱۳۹٦ لمريز کال د کب ۲.

2 - الأزهري، عيساوي ، أبناء المسلمين في مجتمعات الهجرة ، مخاصر الواقع وهموم المستقبل ، ص ٦١.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په استراليا کې افغان مهاجرينو تر ډيره وخته خپل کلتور وساتلی شو خو د افغانانو بچيانو خپل زيات کلتوري خصوصيات لکه ژبه ، دين جامې او دودونه هر څه له لاسه ورکړي[1].

## دويم مطلب : اسلامي هيوادونو ته د هجرت او پناه اخيستنې تاثيرات

اسلامي هيوادونو ته هجرت او هلته پناه اخېستل يو صورت دا دی چې له يوه اسلامي هيواد څخه بل اسلامي هيواد ته هجرت وشي او بل دا چې له کفري نړۍ څخه اسلامي نړۍ ته هجرت صورت ونيسي ، چې هر يو يې جلا تاثيرات لري ، چې دلته به په دوه عنوانونو کې تشريح شي.

### لومړی پراګراف : له اسلامي هيوادونو څخه نورو اسلامي هيوادونو ته د هجرت او هلته د پناه اخېستنې تاثيرات

لومړی جز : سياسي تاثيرات

الف : اسلامي هيوادونو ته هجرت کول او هلته د پناه اخېستلو سلبي تاثيرات

دا چې اوس اسلامي نړۍ د ديني او اجتماعي ضعف ترڅنګ د سياسي ضعف سره هم لاس او ګريوان ده نو اسلامي هيوادونو ته د مهاجرينو هجرت کول او هلته يې پناه اخېستل ځينې سلبي تاثيرات هم لري مثلا : ډيری وخت ځيني اشخاص په اسلامي هيوادونو کې پناه اخلي او نوره نړۍ د هغه اشخاصو

---

[1] - امين ، حميد الله ، (۱۳۸۴ل / ۲۰۰٦م) : افغانان په استراليا کې ، ص ۲۰۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د استرداد غوښتنه کوي ، پدغه حالت کې اسلامي نړۍ له دوه ستونزو سره لاس او ګريوان کيږي يا به کفري نړۍ ته مسلمان سپاري ، چې دا خپله يوه لويه ستونزه ده او يا به هم د کفري نړۍ سره دښمنۍ ته غاړه ږدي ورځي چې دا بله ستونزه ده ، چې همدغه حالت سره مونږ افغانان په نژدې کلونو کې لاس او ګريوان شو ، کله چې په امريکا کې د پنټاګون حملې وشوې او تور يې په اسامه بن لادن پورې شو او نتيجه کې افغانستان له يوه لوی بحران سره لاس او ګريوان شو.

همدغه رنګه ډيری وخت اسلامي هيوادونه له مهاجرينو څخه د سياسي فشار په ډول استفاده کوي ، لکه کله چې له پاکستان سره د افغانستان اړيکې خرابيږي قرباني يې افغان کډوال ورکوي ، د تورخم له شخړې وروسته او په پاکستان کې له ترهګريزو بريدونو وروسته دغه ستونزې پيدا شوې دي ، چې د افغانستان ، پاکستان او ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې ترمنځ د کډوالو په تړاو دوه اړخيز او درې اړخيز ناستې وشوې او پدې کې له کډوالۍ څخه د سياسي فشار په توګه د نه استفادې پريکړه وشوه[1].

همدغه رنګه په ايران کې له افغان مهاجرينو څخه په استخباراتي جګړو کې استفاده کيږي ، ښه مثال يې د ايران لخوا د افغان مهاجرينو او پناه اخيستونکو د عراق او سوري جګړو ته ليږل دي ، له هماغه اوله سره افغان کډوال د د عراق جنګ ته ليږل کيدل ، د دغو کډوالو عمرونه اکثرا د ۱٦ او ۱۸ کلونو په منځ کې وه ، لدې سره دوی ته چې کوم معاشونه ورکول کيدل هغه

---

[1] - د کډوالو او راستنيدونکو چارو وزارت ، عودت درې مياشتنۍ مجله ، دريم وار اوړې ۱۳۹۵ ، ص ۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ډېر ناچیزه او پر خپل وخت نه ورکول چې دغه خبرې سره له ثبوتو نو تاریخ لیکونکو راجمع کړي[1].

کله چې په افغانستان کې د پخواني شوروي اتحاد لاس پوڅو ګوندونو ( د خلق او پرچم ) د ګودتا له لارې د کابل واکمني لاندې کړه ولس ورو ورو پر خلاف ودرید زیات افغانان پاکستان ته هجرت ته مجبور شول همدغه وضعه په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د دې سبب شوه چې پاکستان د افغانستان د ننه نفوذ وکړي او د جهاد د ملاتړ په نامه پاکستان د خپلو راتلونکو سترا تیژیکو اهدافو لپاره پانګونه پیل کړه ، د جهاد بیلا بیلو ډلو جوړېدلو او پر یوه زعامت نه راټولیدل ټول یوې ستاتیژۍ له مخې وو چې اسلام اباد نه غوښتل افغان ولس د یوه پیاوړي زعامت خاوند شي.[2]

ب : اسلامي هیوادونو ته هجرت کول او هلته د پناه اخېستلو ایجابي تاثیرات

له مهمو ایجابي سیاسي تاثیراتو څخه یې دا دی چې د نورې اسلامي نړۍ له دردونو او کړاوونو څخه معلومات ترلاسه کړي ، یا په معاصر تعبیر سره اسلامي فکر نړیوال شي او اسلامي فکر نړیوال کیدل د اسلامي نړۍ د وحدت مهمه وسیله ده[3].

---

[1] - خیبري ، غوث ( ۱۳۸۹ل ۲۰۱۰م ) : په افغانستان کې توپان ، ص ۳۴۳ – ۳۵۴.

[2] - محمد زبیر شفیقي : افغانستان د پردۍ جګړې په اور کې ، ص ۴۳.

[3] سلقیني ، ابراهیم عبدالله ( ۱۴۳۵هـ ـ ۲۰۱۴م ) : الهجرة واحکامها دراستة شرعیة لواقع الهجرة العشوائیة في عصر الحدیث ، ص ۲۶۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم جز : ديني تاثيرات

له اسلامي هيودونو څخه نورو اسلامي هيودونو ته هجرت يو سلسله ديني تاثيرات لري.

په ايجابي تاثيراتو کې يې کولی شو له لاندې تاثيراتو څخه يادونه وکړو :

الف : ديني پوهه تر لاسه کول : اسلامي هيوادونو ترمنځ هجرت په نتيجه کې ديني پوه قوت پيدا کوي.

ب : فقهي مدارسو قوت : پدې معنی چې نوي فقهي مسائل او نوي عرفونو په پيژندلو سره فقهي مدارس قوي کيږي.

او په سلبي تاثيراتو کې داسې کوم سلبي تاثيرات په نظر نه راځي غير لدې څخه چې فکري انحرافات او ديني تيروتنې له يوې سيمې څخه بلې سيمي ته انتقاليږي[1].

دريم جز : اقتصادي تاثيرات

په دې برخه کې اقتصادي تاثيرات له نورو هغه تاثيراتو سره کوم خاص توپير نلري کوم چې مخکې په کفري هيوادونو ته د هجرت او پناه اخېستنې اقتصادي تاثيرات ذکر شول.

څلورم جز : د زده کړو په برخه کې

---

[1] - سلقيني ، ابراهيم عبدالله ( ۱۴۳۵هـ ـ ۲۰۱۴م ) : الهجرة واحكامها دراسة شرعية لواقع الهجرة العشوائية في عصر الحديث ، ص ۲۷۷ ـ ۲۸۰ په اختصار سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان یو له هغه هېوادونو څخه دی چې ډېری کډوال یې په بهرنیو هېوادونو کې په بیلا بیلو برخو کې زده کړې او تجربې تر لاسه کړې د نورو هېوادونو ترڅنګ په پاکستان او ایران کې چې زمونږ ګڼ شمیر افغانان میشت دي ، دوی د دغو دوو هېوادونو په پوهنتونونو کې لوړې زده کړې کړي ، ځوانان دغلته پر نوي تکنالوژۍ سمبال شوي او دې ته ورته نورې زده کړې او تجربې یې ترلاسه کړي دي ، د پاکستان او ایران ترڅنګ په امریکا او اروپایي هیوادونو کې هم ګڼ شمیر افغانان له لوړو زده کړو او تجاربو برخمن شوي او ډېر ښه باظرفیته افغانان هلته میشت دي ؛ خو که چېرې د دوی د راستنولو لارې چارې برابرې شي پرته له شکه چې د افغانستان په بیارغونه او اقتصادي وده کې اغېزمن رول لوبولای شي[1].

همدغه رنګه ایران او پاکستان ته د افغان مهاجرینو هجرت سلبي تاثیرات هم لري لکه په ایران کې هغه افغان مهاجرین چې د مهاجرت قانوني اسناد په لاس نه لري د دوی ژوند په تعلیمي برخه کې منفي تاثیرات لري ، بلکې د دوی د اولادونو په ژوند هم ، ځکه دغه ډله افغان مهاجرین قانوني اسناد نه لري چې پر اساس یې خپل اولادونو ته د تحصیل زمینه برابره کړي ، همدا بعث جوړېږي چې ډېری هغه افغان کډوال چې د مهاجرت قانوني اسناد نلري له تعلیم او تحصیل څخه بې برخې پاتې کیږي.[2]

1 - حیدري ، زینت ( ۱۳۹۵ ) : د کډوالۍ موکې ( فرصتونه ) او ننګونې ، ص ۲۰

2 - خبر ګزاري میزان : اثار واسیب مهاجرت غیر قانوني افغاني ها به ایران ( ۱۳ / September / ۲۰۱۵ز) (http://www.mizanonline.com/fa)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دويم پراګراف : اسلامي نړۍ ته له کفري نړۍ د هجرت او هلته د پناه اخېستنې تاثيرات

له کفري نړۍ څخه اسلامي نړۍ ته هجرت کول او په اسلامي هيوادونو کې پناه اخېستل هم يو سلسله سياسي او ديني تاثيرات لري.

لومړى جز : سياسي تاثيرات

له کفري نړۍ څخه اسلامي نړۍ ته هجرت کول په عمومي ډول ايجابي تاثيرات لري ، لکه د کفري نړۍ د سياسي مظالمو او تيريو افشاء کيدل او همدارنګه د مسلمانو مهاجرينو او پناه اخېستونکو خلاصون له هغه غير اسلامى سياستونو څخه چې په کفري نړۍ کې حاکم دي[1].

خو که د ننۍ اسلامي نړۍ وضعيت ته وکتل شي ، په سياسي لحاظ باندې اسلامي نړۍ له سخت بحران سره لاس او ګريوان ده ؛ نشي کولى په سمه توګه له هغه مهاجرينو څخه چې اسلامي دولت ته هجرت کوي او په اسلامي هيوادونو کې پناه اخلي په سمه توګه استفاده وکړي او بالاخره مهاجرين او پناه اخېستونکي په نيابتي جګړو کې استعماليږي.

مثلا : په سلګونو مهاجرين ( عرب او عجم ) کوم چې عراق ته له مختلفو لارو راغلل ، يو قوي قوت شو د ( دولت اسلامي ) لپاره ، دا په اصل کې ځانګړى ځواک شو ، عراق د بغدادي لخوا د خلافت تر اعلان وروسته د مهاجرينو د راتلو لوى مرکز شو ، کوم چې له اروپا ، شرقي اسيا ، شمالي افريقا او خليج هيوادونو څخه راتلل ... حقيقت دا ؤ چې د بغدادي لخوا د خلافت د بيعت تر اعلان وروسته داسې فکر کيدو چې دغه مهاجرين به د ( خلافت او

[1] - هماغه مصدر ، ص ۳۰۷ – ۳۰۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنظيم ) حالت ښه کړي ، اسلام ته به يې نژدې کړي خو په حقيقت کې دا فکر تر حقيقت ډېر لرې ؤ[1].

دويم : ديني تاثيرات

السيد محمد الحسيني الشيرازي په خپل کتاب کيف و لماذا اسلموا کې د لسگونه هغه مسيحيانو قصې او محورات ذکر کړي چې له غير اسلامي هيوادونو څخه عراق ته راغلي او په نتيجه کې د اسلام په مقدس دين باندې مشرف شوي[2].

محمد الغزالي د الاسلام والغرب په نوم کتاب کې کڼ شمير واقعات د هغه اشخاصو نقل کوي چې اسلامي نړۍ ته له هجرت کولو څخه وروسته په اسلام مشرف شوي او خپلو هيوادونو ته تر گرځيدو وروسته ورڅخه لوی بلونکی جوړ شوي او د دوی په لاسونو الله عزوجل اسلامي شريعت د اسلامی نړۍ څخه بهر هم خپور کړ[3].

---

**1** - الهاشمي ، هشام : عالم داعش تنظيم الدولة الاسلامية في العراق والشام ، لندن ، دار اللحكمة او بغداد ، دار بابل للطباعة والنشر والتوزيع ، (**www.iqraapdf.net** )ص ٢٦٧.

**2** - الشيرازي ، السيد محمد الحسيني ( ١٤٢١هـ ـ ٢٠٠١م ) : كيف ولماذا اسلموا ، بيروت ، دار الصادق ص ٧.

[3] - الغزالي ، محمد (ب.ت) : مستقبل الاسلام خارج ارضه كيف نفكر فيه ؟ ، دار الشروق، ص ١٣ – ٢٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دریم مبحث : د مهاجرینو او پناه اخیستونکو د راستنیدلو تاثیرات

په دې مبحث کې به د مهاجرینو او پناه اخېستونکو د راستنیدلو تاثیرات وڅېړل شي ، لومړی به د اسلامي هیوادونو څخه د راستنیدونکو تاثیرات او بیا د کفري هیوادونو څخه د راستنیدونکو تاثیرات و څېړل شي ، که څه هم په اقتصادي لحاظ دغه تاثیرات تر ډېره سره ورته وي ، خو په سیاسي او دیني لحاظ ډېر متفاوت تاثیرات لري ، چې هر یو یې په جلا جلا مطلب کې څېړل کیږي.

## لومړی مطلب : له اسلامي هیوادونو څخه د مهاجرینو او پناه اخېستونکو د راستنیدلو تاثیرات

### لومړی پراګراف : اقتصادي تاثیرات

د مهاجرینو د را ستنیدل د هیواد په اقتصادي حالت یو لړ تاثیرات لري چې په لاندې ډول ورته اشاره کیږي:

الف : د کډوالو راستنیدل د هېواد بشري پانګه ده

له راستنیدنو وروسته د کډوالۍ له ظرفیتونو او د دوی له نویو تجربو ، مهارتونو او نوښتونو څخه چې دوی په کډوالۍ کې تر لاسه کړي د کډوالۍ د اقتصادي فرستونو په توګه کار اخستل کیږي ، ګڼ شمیر کډوال په یو شمیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرمختللو هېوادونو کې په لوړو زده کړو بوخت دي ، له فني او حرفوي زده کړو برخمن شوي ، بېلابېلې تجربې یې تر لاسه کړي دي ، په نوې تکنالوژۍ سمبال شوي او نويو فکرونو خاوندان دي دغه ځوانان د افغانستان لپاره یوه ستره بشري پانګه بلل کیږي ، یو شمیر هېوادونه هڅه کوي چې کډوالۍ له دا ډول ظرفیتونو ګټه پورته کړي او د دوی د بېرته ستنولو لارې چارې برابرې او له دغه انساني ځواک څخه د هېواد د بیارغونې او پرمختګ په ګټه کار واخلي ... افغانستان هم یو له هغه هېوادونو څخه دی چې ډیری کډوال یې په بهرنیو هېوادونو کې په بیلا بیلو برخو کې زده کړې او تجربې تر لاسه کړي د نورو هېوادونو ترڅنګ په پاکستان او ایران کې چې زمونږ ګڼ شمیر افغانان میشت دي ، دوی د دغو دوو هېوادونو په پوهنتونونو کې لوړې زده کړې کړي ، ځوانان دغلته پر نوي تکنالوژۍ سمبال شوي او دې ته ورته نورې زده کړې او تجربې یې ترلاسه کړي دي ، د ۲۰۰۱ کال راهېسې د ٦ میلیونه راستنو شویو کډوالو له ډلې څخه اکثرا یې په دولتي ادارو کې په لوړو پوستونو کې په دندو بوخت دي او د دولت خصوصي سکتور د کار کوونکو یوه عمده برخه په ځانګړې ډول د تکنالوژۍ او ای ټي په برخه کې هغه ځوانان دي چې په پاکستان او ایران کې یې زده کړې کړي ، د دوی له راتګ سره تر یوه حده د ظرفیتونو تشه ډکه شوې او ډېر ښه ظرفیتونه د افغانستان په دولتي خصوصي ارادو کې په دندو بوخت دي ، د پاکستان او ایران ترڅنګ په امریکا او اروپايي هیوادونو کې هم ګڼ شمیر افغانان له لوړو زده کړو او تجاربو برخمن شوي او ډېر ښه باظرفیته افغانان هلته میشت دي ؛ خو که چېرې د دوی د راستنولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارې چارې برابرې شي پرته له شکه چې د افغانستان په بیارغونه او اقتصادي وده کې اغېزمن رول لوبولای شي[1].

ب : عام راستنیدونکي مهاجرین او پناه اخېستونکي د ملک په ابادۍ کې ونډه لري

راستنیدونکي مهاجرین او پناه اخېستونکي د ملک په اقتصادي پرمختګ او ابادۍ کې پراخه ونډه لري ، هغه افغان راستنیدونکي چې له ګاونډیو هیوادونو څخه راستنیږي د ملک په اقتصادي پرمختګ کې ونډه لري ، د ملک د ابادۍ باعث ګرځیدلي ، مثلا : د ۱۳۹۵ هـ ش کال د ( ۱۰۴ ) نمبر فرمان په اساس په مرکز او ولایاتو کې هغه راتستنیدونکو ته چې د راستنیدلو اسناد په لاس لرل ( ۴۳۱۴۰۴ ) عریضي د مهاجرینو او راستنیدونکو ریاستونو ته وړاندې شوي چې لدې جملې څخه ( ۱۲۰۳۰۰ ) کورنیو د نمرو د ویش کمیسون لخوا د نمرو مستحق ګڼل شوي او ( ۷۹۰۵۸ ) کورنیو د نمرو قیمت د دولت خزانې ته تحویل کړی دی[2].

نو د پورته راپور په اساس ملي خزانې ته د ( ۷۹۰۵۸ ) نمرو قیمت تحویل شوی ، همداغه رنګه د شاړو دشتو د ابادۍ باعث ګرځیدلی.

نو ویلی شو چې د مهاجرینو او پناه اخېستونکو راستنیدل د هیواد په ابادۍ او اقتصادي پرمختګ کې څرګنده ونډه لري.

ج : د پانګې لیږد

1 - حیدري ، زینت ( ۱۳۹۵ ) : د کډوالۍ موکې ( فرصتونه ) او ننګونې ، ص ۲۰

2 - د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت : دست اوردهای عمده ، ۱۳۹۵ لمریز کال کالنۍ ، ص ۳٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تېرو څلور لسیزو د هجرت په دوران کې افغانان د ګاونډیو هېوادونو ترڅنګ په یو شمېر پرمختللو هېوادونو کې د زده کړو ترڅنګ په کاروبار او سوداګرۍ پیل وکړ او اوس درېوئ د عمده سرمایو خاوندان شوي دغه افغان پانګوالو په بهرنیو هېوادونو کې پانګونه کړې فابریکي لري او خپل تجارت پرمخ بیایي یوازې په پاکستان کې له ۱۰۰ څخه ډېر افغان ملیاردران ژوند کوي ، شاوخوا ۴۵۰ فابریکې او سلګونه کارخانې او دوکانونه د دوی په پیسو چلیږي چې سلګونه زره کسانو ته یې د کار زمینې برابرې کړی ، د دې ترڅنګ په عربي هیوادونو کې ګڼ افغان پانګوالو پانګونه کړې او په بیلا بیلو برخو کې د دوی سوداګري روانه ده[1]. .

چې دغه پانګوالو او تجارانو راستنیدل د ملک اقتصاد ته نوی روح ورکوي او نوې پانګه ور اضافه کیږي.

**دویم پراګراف : سیاسي تاثیرات**

له اسلامي هیوادونو څخه د مهاجرینو رساتنیدل هم په سیاسي لحاظ ډېر څرګند رول لري ، هغه محصلین چې مصر ته د تحصیل لپاره مهاجر شوي وه ، او خپل هیواد ته راستانه شول نو د دغه پورته یادو کسانو په وړاندې یې په مبارزه کې څرګند رول درلود او د همدغه اشخاصو تاثیر ؤ چې په افغانستان کې د شوروي اتحاد کمونستي مفکوره ناکامه شوه او ونه توانیدل چې په افغانستان کې یو کمونستي نظام رامنځ ته کړي.

دریم پراګراف : اجتماعي تاثیرات :

---

**1** - حیدري ، زینت ( ۱۳۹۵ ) : د کډوالۍ موکې ( فرصتونه ) او ننګونې ، ص ۲۱ – ۲۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ایران او پاکستان څخه د افغان مهاجرینو راستنیدلو په افغانانو یو سلسله اجتماعي سلبي تاثیرات وکړل ، مثلا : د بي بي سي د یوه راپور په اساس د افغانستان حکومت وایي په هېواد کې په نشو د روږدو کسانو شمېر په بې ساري توګه لوړ شوی دی .د نشه یې توکو ضد وزارت وایي اوس په افغانستان کې نژدې یونیم ملیونه کسان په نشه یي توکو روږدي دي.

په دوی کې ډېری له ایران او پاکستان څخه راستانه شوي کډوال دي .

په کابل ښار کې د افغان پارلمان ودانۍ په څو سوه متری کې د پخواني شوروي د علم او فرهنګ ړنکه ودانۍ د نشیانو یو ستر مرکز بلل کیږي .

ددغو نشیانو له ډلې څخه یو هم عبدالجلیل دی.

دی ٤٠ کاله عمر لري او وایي له نژدې ٢٠ کلونو راهیسې دغه عمل کوي او د لومړي ځل لپاره یې په ایران کې پوډر وڅکول.

تیره اوونۍ د افغانستان د نشه یې توکو ضد وزارت اعلان وکړ چې په دغه هیواد کې شاوخوا یو نیم میلون وګړي په نشو روږدي شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چارواکو په وينا په دغو کسانو کې ډيری هغه افغان کډوال دي چې په دې وروستيو کې له ګاونډيو هېوادونو ايران او پاکستان څخه هيواد ته راستانه شوي دي.[1]

## دويم مطلب : له کفري هيوادونو څخه د مهاجرينو او پناه اخېستونکو د راستنيدلو تاثيرات

مخکې مو د اسلامي هيوادونو څخه د مهاجرينو او پناه اخېستونکو د راستنيدلو تاثيرات څيړلي وه اوس به له کفري هيوادونو څخه د مهاجرينو او پناه اخېستونکو د راستنيدلو تاثيراتو باندې بحث وشي.

### لومړی پراګراف : اقتصادي تاثيرات

لکه مخکې چې و ويل شول د کفري او اسلامي هيوادونو څخه د راستنيدونکو مهاجرينو او پناه اخېستونکو اقتصادي تاثيرات سره ورته دي او هلته مو د اسلامي او کفري دواړو هيوادونو څخه د راستنيدونکو تاثيرات وڅيړل.

---

**1** جعفر هاند : بي بي سي پشتو ، 'يونيم مليون افغانان په نشه يي توکو روږدي دي ' ( **2008** **,25**جون)

)

**http://www.bbc.com/pashto/news/story/2008/06/printable/080625_hf-afghan-addict-rise.shtml** )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دويم پراګراف : سياسي تاثيرات

کفري هيوادونو ته د هجرت او پناه اخېستنې په سبب مهاجر او پناه اخېستونکی د استخباراتو په جال کې نخلي ، هغوی د مهاجرينو او پناه اخېستونکو د ضعف نقطې په ډاګه کوي او له هماغې څخه د مهاجر په هيواد کې استفاده کوي او کله چې مهاجر او پناه اخېستونکی خپل هيواد ته راستنيږي نو دوی باندې لازموي چې د دوی د استخباراتي جال غړی شي ، تر څو د خپلو مسلمانو ورونو تجسس ورته وکړي[1].

داسې معلوميږي چې په افغانستان کې غربي قوتونه افغانان په قصدي ډول مجبوره وي چې غربي هېوادونو ته پناه يو سي او هلته د غربيانو له کلتور او سياسي نظرياتو متاثره شي ، په غرب کې ورته د کار او زده کړې زمينه برابره کړي او بالاخره هغه ځوانان چې د اسلامي روزنو څخه بې خبره او د وطن پالنې حس يې کمزوری دی د خپلو اهدافو د تر لاسه کولو لپاره يې افغانستان ته راليږي ، پرته له شکه تحصيل کرده ځوانان کوم چې د اسلامي او وطن پالني حس څخه لرې روزل شوي د غربيانو منفي او استعماري مفکورې له ځان سره راوړي ، پداسې حال کې چې له دوی سره د غربيانو قوي ملاتړ هم ملګری وي ، په لنډ ډول ويلی شو چې غربي هېوادونو ته د افغانانو پناه وړل د دې باعث جوړيږي چې د هغوی له استعماري مفکورو څخه متاثره شي او په نتيجه کې له افغانستان ته له راستنيدو څخه وروسته د هغوی مفکورو ته کار وکړي[2].

---

[1] - الشوکي ، مصطفى ( ١٣٢١هـ ـ ٢٠٠٠م ) : تحديات المهجر بين الاصالة والمعاصرة ، بيروت ـ لبنان ، دار الملاک لطباعة والنشر والتوزيع، ص ٧٧.

[2] - مشرق : مهاجرت افغان ها به غرب و تاثيرات ان ، (١۴ / ابان / ١٣٩٣هـ ش ٢٢: ١٣) (https://www.mashreghnews.ir)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دريم پراګراف : ديني تاثيرات**

غير اسلامي هيوادونو څخه د مهاجرينو او پناه اخېستونکو راستنيدل ډېر خطر ناک ديني تاثيرات لري ، په اسلامي هيوادونو کې د الحاد نظريه له همدغې لارې خپره شوې : کله چې له اسلامي هيوادونو څخه غربي او شرقي هيوادونو ته د تعليم لپاره محصلين ځي او هلته د طب ، تربيه ، علم الاجتماع او نورو علومو کې تخصصات تر لاسه کوي او هغه اشخاص چې له ديني لحاضه خالي الذهن وي نو د غربي او شرقي فکر څخه متاثر کيږي او په نتيجه کې د هغوی طبيعت خپلوي ، د هغوی په اخلاقو ملبس کيږي او له ټولو اسلامي اخلاقو څخه خالي کيږي ، کله چې خپل وطن ته راستنيږي نو شرقي او غربي ورڅخه جوړ شوی وي ، شرق او غرب ته تر شرقيانو او غربيانو ډېر ژمن وي ، د ده دغه انحراف د ټولنې د انحراف باعث جوړيږي ، مونږ هغه محصلين نشو هيرولی چې کمونستي هيوادونو ته تللي او کله چې راستانه شوي نو د خپل دين او اسلامي مقدساتو په خلاف يې توره را استلې او کمونستي افکارو ته يې دعوت شروع کړی او د اديانو په خلاف يې اواز اوچت کړی ، د الله جل جلاله له ذات څخه يې انکار کړی ، د مالکيت د لمنځه وړلو لپاره يې دعوت شروع کړی...[1].

---

[1] - علوان ، عبدالله ناصح ( ۱۴۲۷هـ ـ ۲۰۰٦م ): الشاب المسلم في مواجهة التحديات ، القاهرة ـ الاسكندرية ، دار السلام للطباعة والنشر والتوزيع والترجمة ، ص ۱۳۴ ـ ۱۳۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پایله

په پورته بحث کې کوشش شوی چې د افراط او تفریط څخه پکې ځان وساتل شي او په بې پرې ډول موضوعات تجزیه او تحلیل شوي او په اخر کې یې لنډ نتایج چې باحث ورته د خپل بحث په نتیجه کې رسیدلی دی په لاندې ډول په ګوته کیږي:

۱ - هجرت یوه عربي کلمة ده چې د جلا والي او له یوه ځای څخه بل ځای ته د انتقال په معنی استعمالیږي او پناه اخیستنه چې په عربي ژبه کې ور څخه په اللجوء باندې تعبیر کیږي او د پناه او امان په معنی استعمالیږي.

۲ – هجرت یوه شرعي اصطلاح ده او پناه اخېستنه سیاسي اصطلاح ده ، د پناه اخېستنې اصطلاح چې یوه نوي اصطلاح ده په بعضي حالاتو کې د اسلامي فقهي د هجرت او بعضي حالاتو کې د امان د عقد له اصطلاح سره مشابهت لري.

۳ - په نړیوالو تړونونو کې د پناه اخېستنې اسباب د نژاد ، دین ، اجتماعي ډلې ، سیاسي نظریې او نورو له کبله ډار دی خو په اسلامي فقه کې بیا هر هغه څه چې د ډار باعث جوړیږي او له دې پرته نور اسباب هم لري لکه د قرانکریم اوریدل او داسې نور هم دي نو له کدې کبله اسلامي فقه د نړیوالو تړونونو په نسبت سره د پناه اخېستنې ډیر اسباب په نظر کې نیولي.

۴ - که څوک په کفري هیواد کې نشي کولی چې دیني احکام تر سره کړي یا د دین اظهار وکړي او په هجرت قادر وي ؛ نو هجرت پرې واجب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵ - کله چې ټولو هیوادونو کې د دین اظهار ممکن نه وي نو هجرت فرضیت ساقطیږي همدارنګه که چا سره د هجرت طاقت نه وي هم هجرت وجوب ساقطیږي.

٦ – نن ورځ کفري هېوادونو ته پناه وړل د ضرورت په اساس جائز دی ، خو په دې شرط چې دومره علم ولري چې شبهات پرې دفعه کړي او دیني جنبه یې دومره قوي وي چې شبهات پرې دفع کړای شي.

۷ - غیر اسلامي هیوادونو ته دتحصیل او سوداګرۍ لپاره هجرت جائز دی ، خو د ښه ژوند لپاره او بغیر له کوم شرعي ضرورته کفري هېوادونو ته هجرت جائز ندی.

۸ - په قاچاقي لارو اروپایي هېوادونو ته هجرت کول جائز ندي ، له یوطرفه د انسان نفس په خطر کې لویږي او له بله طرفه بیا د نړۍ امنیت له کډوډۍ سره مخامخ کوي.

۹ - په ناقانونه توګه په پردي هېواد کې استوګنه هم شرعا جائز نده ځکه دا کار د هېوادونو خپلواکي او داخلي امنیت له منځه وړي.

۱۰ - په نړیوالو تړونونو کې هجرت د بشر یو له اساسي حقوقو څخه یو حق ګڼل شوی البته دغه هجرت باید د مهاجر د مبتوع هېواد او د مهاجر قبلونکي هیواد په موافقه تر سره شي او بشر ته وېرې له کبله د پناه اخېستنې حق ورکړل شوی خو چې دغه ویره د جنائي جرمونو له کبله نه وي رامنځ ته شوی.

۱۱ - د مهاجرینو او پناه اخېستونکو راستنیدل هلته مشروع دي چې کله فتنه له منځه لاړه شي او مسلمان باور ولري چې که خپل هېواد ته راستون

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي نو دين او نفس يې په خطر کې ندي او نړيوال تړونونه هم بشر ته حق ورکوي چې هر کله وغواړي خپل هېواد ته راستون شي ، البته ميلمه هېواد به پناه اخېستونکی په زور له خپله هيواد څخه نه شړي.

۱۲ - افغانان د شوروي اتحاد د اشغال څخه وروسته مهاجرت ته مجبور شول چې هغه مهال په دوی لازم وه چې د نفس او دين د محفوظ ساتلو لپاره هجرت وکړي ، خو اوس متاسفانه چې لا هم د هېواد امنتي وضعه د ډاډ وړ نده نو افغان مهاجرين تر څو چې تر فشار لاندې نه وي نو دوئ ته مشروع نده چې خپل هېواد ته راستانه شي خو که د کوربه هېوادونو لخوا ورته د وتلو امر کيږي او په جبري ډول ستنېدلو ته مجبورول کيږي د کوربه هېواد دغه کړنه د نړيوالو اصولو سره په ټکر کې ده او بيا نو افغان مهاجرينو ته شرعا جائز ده چې خپل هېواد ته راستانه شي.

۱۳ - اسلامي فقې او نړيوالو تړونونو مهاجرينو او پناه اخېستونکو ته يو سلسله حقوق ورکړي ، لکه د ژوند حق ، د ديني شعائرو د تر سره کولو د ازادۍ حق ، د ملکيت لرلو حق او همدارنگه د مساوات حق او داسې نور ...، البته په نړيواله سطحه هېوادونه په خپلو قوانينو کې دغه حقوقو باندې يو سلسله محدوديتونه لږه وي

۱۴- کفري هېوادونو ته هجرت او پناه اخېستنه يو سلسله سلبي او ايجابي تاثيرات لري ، چې دغه تاثيرات د مهاجر او پناه اخېستونکي د پوهې پورې اړه لري ، چې څنگه وکولی شي د هجرت له سلبي تاثيراتو څخه ځان وژغوري او له ايجابي تاثيراتو يې د ځان په گټه کار واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پایلې مناقشه

په پورته ډول سره د هجرت او پناه اخېستنې تر لانامه لاندې تحقیقي رساله تحکمیل شوه او د پایله یې په خلص ډول لوستونکو ته وړاندې شوې ، په پایله باندې ځینې نیوکې او اعراضات واقع کیږي ، د اعراض ذکر ورسره جواب هم وړاندې کیږي:

لومړی اعتراض : په نتیجه کې ذکر شوي چې افغان مهاجرینو ته جائز ندي چې پرته د فشار له موجودیته خپل هېواد ته راستانه شي ، پداسې حال کې چې اوس هېواد کې په دیني مقدساتو هیڅ کوم بندیز نشته ؟

جواب : د هجرت علت په دین او نفس کې فتنه ده ، پدې معنی چې له هغه ځایه هجرت کول واجب دي چې هلته د یوه مسلمان دین او یا نفس په خطر کې وي ، کله چې دغه علت له منځه ځي نو د هجرت د وجوب حکم هم له منځه ځي او له بله اړخه افغانانو هم هجرت د نفس او دین د خوندي ساتلو لپاره کړی ؤ ، خو متاسفانه اوس هم د افغانستان امنتي وضعه د ډاډ وړ نده نو په همدې لحاظ افغانان د نفس ه لحاظه خوندي ندي نو مهاجرینو ته راستنېدل جائز ندي خو البته که کوربه هېواد لخوا په جبر سره ستنېدو ته مجبوریږي نو بیا ورته شرعا راستنیدل جائز دي.

دویم اعتراض : کفري هیوادونو ته د تحصیل او تجارت لپاره هجرت کول مشورع شمیرل شوي او د ښه ژوند د تیرولو لپاره نامشروع ، توپیر په څه کې دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوب : کم هېواد کې چې د مسلمان دین ته ضرر متوجه وي نو له هغې ځای څخه هجرت واجب ګڼل کیږي او په طبعي ډول په کفري هیوادونو کې ژوند کول له اضرارو څخه خالي نه وي ، له همدې کبله معاصرو علماؤ یو سلسله شرطونه وړاندې کړل چې له یوه طرفه د انسانانو ضرورتونه په نظر کې ونیول شي او له بله طرفه له اضرارو څخه خوندي شي نو په دغه سلسله کې یې وویل چې : هجرت به د ضرورت په اساس وي او د مؤقت وخت لپاره به وي ، چې د ښه ژوند تیرولو لپاره هجرت کول نه ضرورت دی او نه هم د مؤقت وخت لپاره کیږي.

دریم اعتراض : په نتیجه کې ذکر شوي چې کله فتنه له منځه لاړه شي نو خپل هېواد ته له مهاجرت څخه وروسته راستنیدل مشروع دي ، خو له مکې څخه هجرت کوونکي صحابه د مکې له فتحي څخه وروسته مکې ته د استوګنې لپاره نه دي راستانه شوي؟

جواب : دغه حکم د هغه صحابه ؤ ځانګړنه وه ، ځکه هاغو صحابه کرامو ته امر شوی ؤ چې ، چېر ته رسول الله صلی الله علیه وسلم ژوند کوي تاسو به له هغه سره هماغلته اوسېږئ او دا چې دغه حکم یواځې د مکې مهاجرینو پورې خاص ؤ دلیل یې د هغو صحابه کرامو واقعات دي چې له مکې څخه غیر نورو ځایونو څخه رسول الله ته رامهاجر شوی نو هغوی ته خپل هېواد ته د ستنېدو اجازه شوې او همدارنګه حبشې ته هجرت کوونکو صحابه ؤ د راستېدلو جواز ورکړل شوی ، نو که فتنه له منځه لاړه راستنېدل جائز دي خو که د نفس یا دین په لحاظ فتنه موجوده وي نو راستنېدل جائز ندي او د مکې څخه هجرت کوونکو صحابه ؤ ته که مکه کې فتنه هم وي نو راستنېدل ورته جائز نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وړاندېزونه

لومړی :د کډوالو او راستنيدونکو چارو وزارت بايد د اطلاعاتو او فرهنګ د وزارت په مرسته د غير قانوني هجرتونو او غېر اسلامي هېوادونو ته د مهاجرتونو او هلته د پناه اخېستنې له بدو عواقبو څخه د عامو خلکو د خبريدلو لپاره يو ميکانيزم جوړ کړي تر څو هېوادوال له دغه ډول مهاجرتونو څخه ځان وساتي.

دويم : دا چې افغانستان د کار لپاره زيات شمېر ځوانان لري او په هېواد کې د بې کارۍ کچه ډيره ده نو د کار ، ټولنيزو چارو او شهېداو وزارت بايد د اسلامي هيوادونو سره د کارګرانو د ليږد تړونونه د لاسليک کولو زمينه برابره کړي ، تر څو له يوه طرفه د غېر قانوني مهاجرتونو څخه مخنيوی وشي او له بله پلوه په قانوني ډول افغان کارګران ته په اسلامي هېوادونو کې د کاروبار زمينه مساعده شي.

دريم : کوم محصلين چې له هېواد څخه بهرته د لوړو زده کړو وزارت له طريقه تحصيل لپاره ليږل کيږي ، پکاره ده چې دوی ته د ارشاد حج او اوقاتو د وزارت په مرسته لنډ سيمنار ورکړل شي تر څو دومره ديني پوهه تر لاسه کړي چې د غير مسلمو تبليغاتو ته پرې جواب ورکړای شي.

څلورم : د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت بايد د اړونده وزارتونو په مرسته د افغان راستنېدونکو په اړوند يوه بشپړه طرحه جوړه کړي او د راستنېدونکو ژوند ته خاصه پاملرنه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم : د هېواد په پوهنتونونو او ښوونځیو کې د لوړوزده کړو او د ښوونې او روزنې وزارتونه په ابتکار محصلین او متعلمین ته د مهاجرتونو د عواقبو او تاثیراتو باندې د پوهېدو لپاره لنډ سمنارونه دایر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مصادر او مراجع


1) قرانكريم

2) ال الشيخ ، عبداللطيف بن عبدالرحمن بن حسن بن محمد بن عبدالوهاب (ب.ت) ، عيون الرسائل والأجوبة على المسائل ، المحقق : حسين محمد بوا ، الرياض ، مكتبة الرشد

3) أبو الفرج ، جمال الدين عبد الرحمن بن علي بن محمد الجوزي (١٤٢٢هـ ) : زاد المسير في علم التفسير ، المحقق : عبدالرزاق المهدي ، بيروت ، دار الكتاب العربي

4) أبو الوفا ، أحمد( ١٤٣٠هـ ـ ٢٠٠٩م ): حق اللجوء بين الشريعة والقانون الدولي للاجئين، الرياض ـ المملكة العربية السعودية ، جامعة نايف العربية للعلوم الامنية

5) ابو زهرة ، محمد ( ١٤٢٩هـ ـ ٢٠٠٨م) : نظرية الحرب في الاسلام ، قاهرة ـ مصر ، جمهوريت مصر العربية وزارة الاوقاف المجلس الاعلى للشؤن الاسلامية ، العدد ١٦٠

6) أبوبكر ، أحمد (١٤١٣هـ ـ ١٩٩٣م) : معالم الهجرتين الى أرض الحبشة ، الرياض ، مكتبة التوبة

7) ابوعيانة ، فتحي محمد ( ١٩٨٩م): د راسات في الجغرافيا البشرية ، دار المعرفة الجامعية الاسكندرية

(c) ketabton.com: The Digital Library



8) ابوليان ، عبدالله يوسف (١٤٣٢هـ ـ ٢٠٠١م): الهجرة الى غير بلاد المسلمين وحكمها واثارها المعاصرة في الشريعة الاسلامية ، غزة ، جامعة الاسلامية

9) الابي ، صالح عبدالسميع (ب.ت) : جواهر الأكليل ، بيروت ، دار الفكر

10) اتفاقية لحقوق العمال المهاجرين
(
**httpwww.ohchr.orgDocumentsPublicationsFactSheet24Rev.1ar.pdf)**

11) اتفاقيه منظمة الوحدة الافريقية التي تحكم المظاهر الخاصة بمشكلات اللاجئين في افريقيا
(
**http://www.palmonitor.org/UpLoad/uploads/dce4f24c2c.pdf).**

12) الأرمي ، محمد الأمين بن عبد الله (١٤٣٠ هـ ٢٠٠٩م) : الكوكب الوهاج شرح صحيح مسلم ، دار المنهاج دار طوق النجاة

13) الأزهري ، عيساوي ، أبناء المسلمين في مجتعات الهجرة ، مخاصر الواقع وهموم المستقبل

14) الأصبهاني ، أحمد بن عبد الله بن أحمد أبو نعيم: معرفة الصحابة ، تحقيق: عادل بن يوسف العزازي ، دار الوطن للنشر، الرياض ، لومړی چاپ ، ( ١٤١٩ هـ ١٩٩٨ م )

(c) ketabton.com: The Digital Library



15) الإفريقى ، محمد بن مكرم ، جمال الدين ابن منظور ( ۱۴۱۹هـ ـ ۱۹۹۹م ) : لسان العرب : تصحيح امين محمد عبدالوهاب و محمد الصادق العبيدي ، بيروت ـ لبنان ، دار احياء التراث العربي موسسة التاريخ العربي

16) الالباني ، محمد ناصر الدين : تفريغات سلسلة الهدى والنور ،مسلسل نمبر ٦۴۱. (**http://www.alalbany.net**)

17) الألوسي ، شهاب الدين محمود ابن عبد الله الحسيني (۱۴۱۵هـ ق) : رح المعاني في تفسير القران العظيم والسبع المثاني ، بيروت ، دار الكتب العلمية

18) امين ، حميد الله ، (۱۳۸۴ل / ۲۰۰٦م) : افغانان په استراليا کې ، رڼا علمي مرکز

19) الأندلسي ، علي بن أحمد بن سعيد بن حزم (ب.ت) : المحلى بالاثار ، بيروت ، دار الفكر

20) الأنصاري ، محمد بن قاسم (1350هـ) : شرح حدود ابن عرفة للانصاري ، المكتبة العلمية

21) ب. گروموف(۱۳۷۵هـ ش ـ ۱۹۹۷م ) : سرې لښکرې په افغانستان کې ، ژباړن : داود جنبش ، پيښور ، دانش خپرندويه ټولنه

22) باور : غربي رسنۍ: آلمان کې مسلمان کډوال عيسويان کيږي ( **http://zalaand.af**) وخت: **11.12.2016 | 08:37 GMT**

(c) ketabton.com: The Digital Library



23)البخاري ، محمد بن إسماعيل أبو عبد الله (١٤٢٢هـ) :صحيح البخاري ، المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر ، دار طوق النجاة

24)البستي ، محمد بن حبان بن أحمد بن حبان بن معاذ بن معبد (١٤١٤هـ ـ ١٩٩٣م) : صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان ، المحقق: شعيب الأرنؤوط ، بيروت ، مؤسسة الرسالة.

25)البصيصي ، صلاح (ب.ت) : المعاهدة الدولية والرقابة عليها في ظل الدستور العراقي الجديد ، جامعة كربلاء كلية القانون

26)البغوي ، الحسين بن مسعود بن محمد بن الفراء (١٤٠٣هـ ١٩٨٣م) : شرح السنة ، تحقيق: شعيب الأرنؤوط محمد زهير الشاويش ، دمشق، بيروت ، المكتب الإسلامي

27)البهوتى ، منصور بن يونس بن صلاح الدين (ب.ت) : كشاف القناع عن متن الإقناع ، دار الكتب العلمية

28)البيهقي ، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى ، (١٤١٤ هـ ١٩٩٤ م): أحكام القرآن للشافعي ، القاهرة ، مكتبة الخانجي

29)تانير ، ستيوېن ( ١٣٩٣) : افغانستان د جگړو تاريخ ، ژباړن : گل شريف هڅاند ، خيبر خپرندويه ټولنه

30) الترمذي ، محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، (١٣٩٥هـ ـ ١٩٩٥م):سنن الترمذي ، مصر ، شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



31) توبولياك ، سليمان محمد ( ١٤١٨ه ـ ١٩٩٧م ) : الاحكام السياسة للاقليات المسلمة في الفقه الاسلامي ، عمان ، دار البيارق

32) التونسي ، محمد الطاهر بن محمد بن محمد الطاهر بن عاشور (ب.ت ): التحرير والتنوير ، بيروت ـ لبنان ، مؤسسة التاريخ

33) الجوزية ، محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين ابن قيم (١٤١٥هـ /١٩٩۴م) : زاد المعاد في هدي خير العباد ، بيروت ، مؤسسة الرسالة ، الكويت ، مكتبة المنار الإسلامية

34) الحاكم ، أبو عبد الله محمد بن عبد الله (١۴١١هـ ١٩٩٠م) : المستدرك على الصحيحين ، تحقيق: مصطفى عبد القادر عطا ، بيروت ، دار الكتب العلمية

35) الحليبة ، محمد بن عبدالله ( ١۴٢٢ه ـ ٢٠٠١م ) : حق اللجوء السياسي بين الشريعة الاسلامية والأنظمة الوضعية، الرياض ، اكاديمية نايف العربية للعلوم الأمنية

36) حليمة ، عبد المنعم مصطفى (ب.ت):الهجرة مسائل وأحكام (http://www.abubaseer.bizland.com/books.htm)

37) حنا ، عيسى: هجرة المسيحين الفلسطينيين ، موقع الهيئة الاسلامية المسيحية لنصرة الأقصى والمقدسات

38) حيدري ، زينت ( ١٣٩٥ ) : د کډوالۍ موکې ( فرصتونه ) او ننګونې ، عودت ، شماره سوم ، زمستان ١٣٩٥

(c) ketabton.com: The Digital Library



39)خيبري ، غوث ( ۱۳۸۹ل ۲۰۱۰م ) : په افغانستان کې توپان ، دانش خپرندويه ټولنه

40) د عدلي وزارت رسمي جريده ، (۱۳۸۵هـ ش کال) د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند پروتوکول ( ۱۹٦۷ د جولای ۳۱) ، پرله پسي نمبر (۹۰۲).

41)د عدلي وزارت رسمي جريده ، (د ۱۳۸۵هـ ش کال) د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسيون ( ۱۹۵۱ جولای ۲۸) پرله پسي نمبر (۹۰۲).

42)د کډوالو او راستنيدونکو چارو وزارت : دست اوردهای عمده ، ۱۳۹۵ لمريز کال کالنۍ

43)د کډوالو او راستنيدونکو چارو وزارت : عودت ، څلورمه ګڼه ، پسرلی ۱۳۹٦ ،

44) الدارمي ، محمد بن حبان بن أحمد بن حبان بن معاذ بن مَعْبدَ : صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان ، المحقق: شعيب الأرنؤوط ، بيروت ، مؤسسة الرسالة

45)الدالي ، محمد بن موسى بن مصطفى : الوطن والاستيطان دراسة فقهية ، مكتبة الراشد ناشرون

46) الدمشقي ، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين( ۱۴۲۸هـ ـ ۲۰۰۷م ) : رد المحتار على الدر المختار ، تحقيق : عبدالمجيد طعمه حلبي ، بيروت ـ لبنان ، دار المعرفة

(c) ketabton.com: The Digital Library



47)الذهبي ، شمس الدين أبو عبد الله (١٤٢٧هـ ـ ٢٠٠٦م) : سير أعلام النبلاء ، القاهرة ، دار الحديث

48) الرازي ، فخر الدين (١٤٢٠ هـ ) : التفسير الكبير ، بيروت ، دار إحياء التراث العربي

49) رضاء ، محمد رشيد (١٣٢٨هـ ) : تفسير القران الحكيم ، مصر ، مطبعة المنار

50) الرئاسة العامة لإدارات البحوث العلمية والإفتاء والدعوة والإرشاد : مجلة البحوث الاسلامية ، گڼه ٦٠

51)الزحيلي ، وهبه ( ١٣٩٥ل ـ ٢٠١٦ز) : نړيوالې اړيکې د اسلام او نړيوالو حقوقو پرتليزه لوستنه ، ژباړن : معراج الدين امينزى ، جلال اباد افغانستان ، يار خپرندويه ټولنه

52)زركلي ، خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس (٢٠٠٢م) : الأعلام ، داراالعلم للملايين

53)زرملوال ، غلام محمد ( ١٣٨٣ل ـ ٢٠٠٤م ) : افغانستان تر ورستي افغانه ، قصه خواني بازار ـ پيښور ، دانش خپرندويه ټولنه

54)ستيز ، ملک : بې ځايه شوي کډوال او پناه اخيستونکي ، ژباړن : سيد محي الدين هاشمي ، کابل : د مدني ټولني او بشر حقوقو شبکه

55)السجستاني ، أبو داود سليمان بن الأشعث : سنن أبي داود ، تحقيق : محمد محيي الدين عبد الحميد، صيدا – بيروت ، المكتبة العصرية

(c) ketabton.com: The Digital Library



56)السرخسي ، محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة (ب.ت) : أصول السرخسي ، بيروت ، دار المعرفة

57)السعدي ، عبد الرحمن بن ناصر بن عبد الله (١٤٢٠هـ ٢٠٠٠ م) : تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان ، تحقق: عبد الرحمن بن معلا اللويحق ، مؤسسة الرسالة

58)سعيد ، ابراهيم (١٤١٨ه ـ ١٩٩٧م ) : أسس الجغرافية البشرية والاقتصادية ، حلب ـ سوريه ، منشورات جامعة حلب كلية الأدب والعلوم الانسانية ، (**www.esraahussein.wordpress.com**)

59)سلقيني ، ابراهيم عبدالله ( ١٤٣٥هـ ـ ٢٠١٤م ) : الهجرة واحكامها دراستة شرعية لواقع الهجرة العشوائية في عصر الحديث ، لنبان ـ بيروت ، دار النوادر اللبنانية

60) السندي ، محمد بن عبد الهادي التتوي (١٤٠٦هـ ١٩٨٦م) : حاشية السندي على سنن النسائي ، حلب ، مكتب المطبوعات الإسلامية.

61)السيواسي ، كمال الدين محمد بن عبد الواحد ابن الهمام : فتح القدير ، دار الفكر ، بيروت

62)السيوطي ، جلال الدين(١٤٢٢ه ـ ٢٠٠١م) : حاشية السيوطي والسندي على السنن ، بيروت ـ لبنان ، دار المعرفة للطباعة والنشر والتوزيع

63)الشاطبي ابو اسحاق ، إبراهيم بن موسى اللخمي الغرناطي المالكي (ب.ت): الموافقات في اصول الشريعة ، دار الفكر العربي

(c) ketabton.com: The Digital Library



64) الشربيني ، شمس الدين محمد بن أحمد الشافعي( ١٤١٥هـ ـ ١٩٩٤م ) : مغني المحتاج إلى معرفة معاني ألفاظ المنهاج ، دار الكتب العلمية

65)شفيقي ، محمد زبير ( ١٣٩٤ل ـ ٢٠١٥ز ): افغانستان د پردۍ جګړې په اور کې ، اكسوس كتابپلورنځی

66) شكري ، محمد عزيز: القانون الدولي العام ، دمشق ، دار الفكر

67)الشوكاني ، محمد بن علي بن محمد بن عبد الله (١٤١٣هـ ـ ١٩٩٣م) : نيل الاوطار ، تحقيق : عصام الدين الطبابطي ، مصر ، دار الحديث

68) الشوكاني ، محمد بن علي بن محمد بن عبد الله (١٤١٤هـ) : فتح القدير ، دار ابن كثير ، دمشق ـ بيروت ، دار الكلم الطيب.

69) الشوكي ، مصطفى ( ١٣٢١هـ ـ ٢٠٠٠م ) : تحديات المهجر بين الاصالة والمعاصرة ، بيروت ـ لبنان ، دار الملاک لطباعة والنشر والتوزيع

70)الشوكاني ، محمد بن علي بن محمد بن عبد الله (ب.ت) : السيل الجرار المتدفق على حدائق الأزهار ، دار ابن حزم

71) الشويمان ، عبدالله بن ابراهيم بن عبدالرحمن (١٤١٧هـ ) : الهجرة في ضوء الكتاب والسنة دراسة دعوية (**http://www.al-eman.com**)

(c) ketabton.com: The Digital Library



72)الشيباني ، أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد ( ١٤١٦هـ ـ ١٩٩٥م ): مسند احمد ، المحقق: أحمد محمد شاكر، القاهره ، دار الحديث

73)الشيباني ، علي بن أبي الكرم محمد بن محمد بن عبد الكريم ، ابن الأثير ( ١٣٩٨هـ ) : الكامل في التاريخ ، بيروت ـ لبنان ، دار الفكر

74)الشيرازي ، السيد محمد الحسيني ( ١٤٢١هـ ـ ٢٠٠١م ) : كيف ولماذا اسلموا ، بيروت ، دار الصادق

75)صافی ، رحمت الله ( ١٣٧٤هـ ش ـ ١٩٩٦ ع ) : افغانستان څنګه تباه شو ؟ ، قصه خواني پشاور ، سبا کتابخانه

76)صالح ، اماني (١٤٢٧هـ ـ ٢٠٠٦م ) ، الشرعية فقه الخلافة الاسلامية وواقعها ، المعهد العالمي للفكر الاسلامي

77)الصفي ، عبدالفتاح ( ١٤١٥هـ ـ ١٩٩٥م ): الأحكام العامة للنظام الجزائي ، نشر عمادة شؤون المكتبات ، الرياض ـ سعودي ، جامعة الملک سعود

78)الصنعاني ،السيد محمد بن اسماعيل (ب.ت) : سبل السلام شرح بلوغ المرام من ادلة الاحكام ، دار الحديث

79)الطبري ، سليمان بن أحمد بن أيوب (ب.ت) : المعجم الكبير ، المحقق: حمدي بن عبد المجيد السلفي ، القاهرة ، مكتبة ابن تيمية

80) الطبري ، محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآَملي (١٤٢٢هـ ـ ٢٠٠١م) : جامع البيان في تأويل القرآن ، تحقيق: الدكتور عبد

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله بن عبد المحسن التركي ، دار هجر للطباعة والنشر والتوزيع والإعلان

81)الطبري ، محمد بن جريرى بن يزيد بن كثير (١٣٨٧هـ ) : تاريخ الطبري ، بيروت ، دار التراث

82)طنطاوي ، محمد سيد: التفسير الوسيط للقران الكريم ، الفجالة – القاهرة ، دار نهضة مصر للطباعة والنشر والتوزيع

83)عبدالله ، نظام الدين ( ١٣٩١هـ ش ) : حقوق بين المللي خصوصي ، كابل ـ افغانستان ، انتشارات سعيد

84) عتلم ، شريف او عبدالواحد ، محمد ماهر ( ٢٠٠٢م ) : موسوعة اتفاقيات القانوني الدولي الانساني ( النصوص الرسمية للاتفاقيات والدول المصدقة والموقعه ) القاهره ، اصدار بعثة اللجنة الدولية للصليب الاحمر

85)العثيمين ، محمد بن صالح (ب.ت) : شرح الأصول الثلاثة ، اسكندرية ، دار الايمان للطبع والنشر والتوزيع

86) عدلي وزارت رسمي جريده ، (١٣٩٥هـ ش كال) د انسان له قاچاق او مهاجرانو له قاچاق سره د مبارزې قانون ، پرله پسې نمبر (١٢۴۴)

87)العسقلاني ، احمد بن علي بن حجر (١۴٢۴هـ ـ ٢٠٠۴م) : فتح الباري ، القاهرة ، دار الحديث

(c) ketabton.com: The Digital Library



88)العطية عصام (۱۹۹۲م) : القانون الدولي العام ، طبع على نفقه جامعة بغداد

89)العظيم آبادي ، محمد أشرف بن أمير بن علي بن حيدر ( ۱۴۱۵هـ ) : عون المعبود شرح سنن أبي داود ، بيروت ، دار الكتب العلمية

90) علوان ، عبدالله ناصح ( ۱۴۲۷هـ ـ ۲۰۰۶م ): الشاب المسلم في مواجهة التحديات ، القاهرة ـ الاسكندرية ، دار السلام للطباعة والنشر والتوزيع والترجمة

91)العيني ، بدر الدين (ب.ت) : عمدة القاري ، بيروت ، دار إحياء التراث العربي

92)الغزالي ، محمد (ب.ت) : مستقبل الاسلام خارج ارضه كيف نفكر فيه ؟ ، دار الشروق

93)فرهنگ ، مير محمد صديق : افغانستان په وروستيو پنځو پيړيو کې ، ژباړن : سيد عبدالله پاچا

94) فشار ، عطاء الله (۲۰۱۳) : حقوق الانسان من خلاف مواثيق الدولية ، فلسطين ، دار الصداقة للنشر الالكتروني

95)الفوزان ، صالح بن فوزان بن عبدالله : المنتقي من فتاوى ، ( **http://www.alfawzan.af.org.sa/node/3071** )

96) فيضان ، عبدالمالک (۱۳۹۴هـ) : د افغانستان معاصر تاريخ ، جلال اباد ، حکمت خپرندويه ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



97)القرشي ، إسماعيل بن عمر بن كثير (١٤٠٨هـ ـ ١٩٨٨م ) : البداية والنهاية ، المحقق : علي شيري ، دار احياء التراث العربي

98)القرشي ، إسماعيل بن عمر بن كثير (١٤٢٠هـ ١٩٩٩م ) : تفسير القرآن العظيم ، المحقق : سامي بن محمد سلامة ، دار طيبة للنشر والتوزيع

99) القرطبي ، محمد بن أحمد ابن رشد ، (١٤٠٨ هـ ١٩٨٨ م) : المقدمات المهدات ، دار الغرب الإسلامي

100) القرطبي ، محمد بن أحمد بن أبي بكر (١٣٨٤هـ ـ ١٩٦٤م ): الجامع لاحكام القران ، تحقيق : أحمد البردوني او ابراهيم أطفيش ، القاهرة ، دار الكتب المصرية

101) القزويني ، أحمد بن فارس بن زكريا ( ١٣٩٩هـ ـ ١٩٧٩م ) : معجم مقاييسُ اللّغة : تحقيق: عبدالسلام محمد هارون ، بيروت ـ لبنان، دار الفكر لطباعة والنشر والتوزيع

102) القزويني ، محمد بن يزيد ابن ماجة (ب.ت): سنن ابن ماجه ، تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي ، دار إحياء الكتب العربية.

103) القشيري ، مسلم بن الحجاج أبو الحسن (ب.ت) : صحيح مسلم ، المحقق: محمد فؤاد عبد الباقي ، بيروت ، دار إحياء التراث العربي.

104) كول ، ستېو ( ١٣٩٥هـ ش ـ ٢٠١٦م ) : د پیریانو جګړې ، ژباړه : غلام محمد زرملوال ، دانش خپرندویه ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



105) الكاساني ، علاء الدين أبو بكر بن مسعود بن أحمد ( ١٤٠٦هـ ١٩٨٦م ) : بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ، دار الكتب العلمية

106) ګيلر ، آرمنډو او ايم لاټک ، ماسيج (٢٠١٤) : د ايران څخه راستنيدل ، د اجباري مهاجرت بيا ليدنه ، پرلپسې ګڼه ۴٦

107) لاشين ، موسى شاهين (ب.ت): فتح المنعم شرح صحيح مسلم ، دار الشروق

108) ماوردي ، علي بن محمد بن محمد بن حبيب البصري البغدادي(١٤١٩ هـ ١٩٩٩ م) : الحاوي الكبير في فقه مذهب الإمام الشافعي وهو شرح مختصر المزني ، بيروت – لبنان ، دار الكتب العلمية

109) المباركفوري ، صفي الرحمن (ب.ت) : اتحاف الكرام شرح بلوغ المرام ، لاهور ، دار السلام

110) المباركفوري ، محمد عبد الرحمن ابن عبد الرحيم : تحفة الاحوذي

111) محمد الطاهر بن محمد بن محمد الطاهر بن عاشور التونسي : التحرير والتنوير

112) المراغي ، أحمد بن مصطفى (١٣٦٥ هـ ١٩٤٦ م) : تفسير المراغي ، مصر ، شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابى الحلبي وأولاده

113) المرداوي ، علاء الدين : الإنصاف في معرفة الراجح من الخلاف ، ار إحياء التراث العربي

(c) ketabton.com: The Digital Library



114) المشوخي ، زياد بن عابد ( ۱۴۳۳هـ ـ ۲۰۱۲م ) :الاستضعاف واحكامه في الفقه الاسلامي ، الرياض ، دار كنوز اشبيليا للنشر والتوزيع

115) مصداق ، نبي ( ۱۳۸۹ش ـ ۲۰۱۱ع ) : افغانستان سياسي كمزوري او بهرنۍ مداخله ، مترجم : ډاكټر نثار حمد صمد ، كندهار ـ افغانستان ، علامه رشاد خپرندويه ټولنه

116) المعافري ، عبد الملك بن هشام بن أيوب الحميري (۱۴۱۱هـ ) : السيرة النبوية لابن هشام ، تحقيق طه عبد الرءوف سعد ، بيروت ، دار الجيل

117) المعافري ، محمد بن عبد الله ، أبو بكر ابن العربي المالكي (ب.ت): عارضة الاحوذي في شرح الترمذي ،، بيروت ـ لبنان الكتب العلمية

118) المعافري ، محمد بن عبدالله ابوبكر ابن العربي المالكي ( ۱۴۲۵هـ ۲۰۰۴م ): احكام القران ، تحقيق و تخريج عبدالرازق المهدي ، بيروت ـ لبنان ، دار الكتاب العربي

119) المقدسي ابن قدامة ، أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد(ب.ت): المغني ، القاهرة ، مكتبة

120) موحدي ، علي رضا (۱۳۹۵هـ ش ) : اثرات مهاجرت برمهاجرين وخانواده انها ، عودت مجله ، دوهمه شماره ، ۱۳۹۵هـ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



121) موسی زاده ، رضا ( ۱۳۹۳هـ ش ) : سازمان های بین المللي ، بنیاد حقوقي میزان

122) ناصري ، صفي الله ( ۱۳۹۵ل ـ ۲۰۰٦ز ): نړیوال سندونه ( د ملګرو ملتونو منشور ، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه ، د بشر حقونو اسلامي اعلامیه ) ، کابل ـ افغانستان ، میهن خپرندویه ټولنه

123) النمري ابن عبد البر ، أبو عمر يوسف بن عبد الله( ۱۴۱۴ هـ ـ ۱۹۹۳ م ) : الاستذكار الجامع لمذاهب فقهاء الأمصار وعلماء الأقطار ، تحقيق: عبدالمعطي امين قلعجي ، دمشق ، دار قتيبة

124) نمین ، سپیده غفاري( ۱۳۹۰هـ ش ) : حقوق مهاجرت ، تهران ـ ایران ، انتشارات جنګل جاودانه

125) نور ، عثمان الحسن محمد او المبارک ، یاسر عوض الكريم( ۱۴۲۹هـ ؛ ۲۰۰۸م ) : الهجرة غير المشروعة والجريمة ، رياض ، جامعة نايف العربية للعلوم الأمنية

126) النووي ، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف ( ۱۳۹۲هـ ) : المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج ، بيروت ، دار إحياء التراث العربي

127) النووي ، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف (۱۴۱۲هـ / ۱۹۹۱م) : روضة الطالبين وعمدة المفتين ، تحقيق: زهير الشاويش ، بيروت دمشق عمان ، المكتب الإسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



128) النووي ، محيي الدين يحيى بن شرف أبو زكريا (ب.ت) : المجموع شرح المهذب ، تحقيق : محمد نجيب المطيعي ، جدة ـ المملكة العربية السعودية ، مكتبة الارشاد

129) نیازی ، محمد مصطفی ( ۱۳۹۰المریز ) : د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه د اسلام په رڼا کې ، جلال اباد ـ افغانستان ، حکمت خپرندویه ټولنه

130) نیازی ، محمد مصطفی ( ١٣٩٦هـ ش ) : معاصر فقهي قضایا ، کابل ـ افغانستان ، نوی مستقبل خپرندویه ټولنه

131) نیازی ، مستعلي( ۱۳۹۴ل ـ ۲۰۱۵ز ) : پر افغانستان د شوروي اتحاد یرغل او شوری کمونستي رژیم پر سقوط یې اغېز، ننګرهار ، ګودر کتاب خپرنځی

132) الوزاني ، سيدي المهدي (١٤١٧هـ ـ ١٩٩٦م): النوازل الجديدة الكبرى ، المغرب ، وزارة الأوقاف والشؤون الإسلامية

133) الونشريسي ، احمد بن يحيى ( ١٤٠١هـ ): المعيار المعرب والجامع المغرب عن فتاوى علماء أفريقية والأندلس والمغرب ، بيروت ، دار المغرب الاسلامي

134) الهاشمي ، محمد بن سعد بن منيع (١٤٠٨هـ ) : الطبقات الكبرى ، المحقق : زياد محمد منصور ، المدينة المنورة ، مكتبة العلوم والحكم

(c) ketabton.com: The Digital Library



135) الهاشمي ، هشام : عالم داعش تنظيم الدولة الاسلامية في العراق والشام ، لندن ، دار اللحكمة او بغداد ، دار بابل للطباعة والنشر والتوزيع ، (**www.iqraapdf.net** )

136) الهاشمی ، یاسر : په اروپا کې افغان او ایراني مسیحیان ، (**http://www.tolafghan.com**) د ۱۳۹٦ لمریز کال د کب ۲

137) الهيئة العامة لشئون المطابع الآميرية ( ۱۴۲۰هـ ـ ۱۹۹۹م) : معجم القانون ، القاهرة ، مجمعة اللغة العربية

138) اليحصبي ، عياض بن موسى بن عياض (۱۴۱۹ هـ - ۱۹۹۸ م) : إِكمَالُ المُعْلِمِ بفَوَائِدِ مُسْلِم ، المحقق: الدكتور يحْيَى إِسْمَاعِيل ، مصر ، دار الوفاء للطباعة والنشر والتوزيع

139) اليميه ، سنا (۲۰۱۴م) : زور زياتۍ او آسيب پذيرۍ افغانان په پاکستان کې ، د اجباري مهاجرت بيا ليدنه ، پرلپسې ګڼه ۴٦

(c) ketabton.com: The Digital Library


## انټرنيټي منابع

1. http://tabyincenter.ir
2. http://www.fikr.com
3. http://www.mawsoah.net
4. الموسوعة العربية العالمية http://www.mawsoah.net
5. http://www.ahlalhadeeth.com
6. http://www.awda.com
7. http://www.tolafghan.com
8. http://fatwa.islamweb.ne

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library